# ديني څېړنې

ژباړه: محمد رحيم درانی

بسم الله الرحمن الرحيم

# د خپرندويي خبرې

له کله چې انسان پيدا دے پوښتنه هم ورسره تړلې ده همدې پوښتنې په خپلو شنو وزرو پربشتې کښېنولې، په زيړو پاڼو يې شيطان ريژولې او د انسان اصلي مقام يې روښانه کړے دے.

د وينا امير څه ښکلې ويلې :

«من احسن السؤال علم» و «من علم احسن السؤال»

هم سوال له علمه زيږي هم ځواب

لکه وي چې ګل ازغے له خاک وآب

د فقې د لوړو زده کړو د څېړنيزې څانګې د ديني شبهو د ځواب برخې چې له مونږ سره يې د ديني پوښتونو او ځوابونو د دغه ټولګې په برابرولو کې لاس کړے دے، خپله دنده ګڼو چې د دغو ټولو ښاغليو په تيره بيا د فلسفې او کلام د علمي ډلې او د اسلامي کلام د علمي ټولنې له غړيو مننه او قدرونه وکړو. له لوے باداره يې د توفيقاتو د زياتيدو لپاره لاس په دعا يوو.

غواړو چې د خداي تعالی په مهربانۍ او د حضرت ولي عصر (عج) په عنايت سره تدريجا دد غه ټولګې دوام تاسو خوبانو ته وړاندې کړو. ستاسو رغنده وړانديزونو او نيوکو ته سترګې په لاره يوو چې دا ټولګه ورځ تر بلې ښه شي.

و من الله التوفيق

د فقې د لوړو زده کړو د ټولنې څېړنيزه څانګه

# فهرست


د خپرندويي خبرې ........ ۳
فهرست ........ ۴
دين ته د مفسر او متولي ضرورت ........ ۱۰
له فکري انديښنو د ځوانانو د ژغوريدو لارې چارې ........ ۱۵
۱. د ځوانانو او زلمکيانو ........ ۱۷
۲. تفکر ........ ۱۸
۳. ايمان ........ ۱۸
۴.عمل ........ ۱۸
په دين کې د ډير تر ډيره او لږ تر لږه نظر ........ ۲۰
۱. د دين له داخله د دې پوښتنې ځواب: ........ ۲۰
۲. د لږ ترلږه او ډير تر ډيره تفسير (له دينه په بهر ليدتوګې سره) ........ ۲۳
په اسلام کې د عقيدې ازادي او د مرتد والي حکم ........ ۲۸
په انسانانو کې د اختلاف علت ........ ۳۲
۱. د قران له نظره د انسانانو اختلاف ........ ۳۷
۲. د انساني اختلافاتو نور عوامل ........ ۴۰
د انسان په راتلونکي د خداي علم او د اختيار مسئله ........ ۴۴
د جبر او اختيار د مسئلې په هکله مختلف نظرونه ........ ۴۶

په دغه استدلال نیوکه ۴۹
له قضا او قدر او برخلیک (تقدیر) سره د انسان رابطه ۵۳
۱. د قضا او قدر د مسلې اهمیت ۵۴
الف) په مسلمانانو کې د قضا او قدر د مسلې د اهمیت مخینه ۵۴
ب) قضا او قدر په لغت کې ۵۲
ج) قضا په اصطلاح کې ۵۲
۲. د مسئلې د مبهم والي علت ۵۷
۳. دماده پالو جبري پالنه ۵۸
د دغه نظریې پایلې ۵۹
۴. د ځینو الهیونو د جبري والي دلایل ۵۹
د دغه نظریې نیمګړتیا ۲۰
۵. تفویض او انسان ته د هر څه پرېښودل ۲۰
د دې نظریې پایله ۲۱
۲. دریمه لاره: نه جبر او نه تفویض بلکه (الامر بین الامرین) ۲۲
د انسان اختیار او جنیټک اثر ۲۸
۱. د جبر او اختیار مفهوم ۷۰
۲. چاپیریال او وراثت: ۷۱
۱. د مصلحانو او پیغمبرانو کوشش ۷۳
۲. په ځینو کارونو کې د وراثت او چاپیریال اثر ۷۴
۳. چاپیریال او وراثت نیمګړے علت ۷۵
د قدر شپه او د انسان اختیار ۷۷
۱. د جبر او اختیار په هکله مختلف نظرونه ۷۸
۲. ځانګړي ځواب ۸۱
د حضرت آدم علیه السلام عصیان او له جنته د هغه د زوزات وتل ۸۴
د پیغمبر عصمت او د توبې سورې ۴۳ ایت ۸۹
ایا د کهف سورې ۱۱۰ ایت د پیغمبر له مطلق عصمت سره سمون خوري؟ ۹۳

۱. د عصمت او عدالت فرق ۹۵
۲. عصمت له انسانوالي سره منافات او تضاد نه لري ۹۵
۳. د عصمت ډولونه ۹۷
۴. د عصمت پړاوونه ۹۷
الف) له ګناه عصمت ۹۷
ب) د وحي په اخستلو پوهيدلو او رسولو يا تبليغ کې عصمت ۹۸
ج) د شريعت په تطبيق او د ژوند په ورځنيو چارو کې له خطا معصوموالي: ۹۸
۵. د انبياوو د عصمت دليلونه ۱۰۰
الف) عقلي دليل ۱۰۰
ب) نقلي دليل ۱۰۰
۶. د انا بشر مثلکم د ايت مفاد ۱۰۴
شفاعت د قرآن له نظره ۱۰۷
۱. د شفاعت معنی ۱۰۸
۲. د شفاعت ډولونه ۱۰۸
۳. په قران کښې شفاعت ۱۰۹
د اسلام د ځينې عالمانو نظر ۱۱۲
ايا شفاعت د خدای وحدانيت سره ټکر لري ۱۱۵
۱. د شفاعت مطلقا نفي کول ۱۱۶
۲. د يهوديانو په نظر کښې شفاعت نفي کول ۱۱۷
۳. له کافرانو د شفاعت نفي کول ۱۱۷
۴. له بتانو شفيع په جوړونکو باندې نيوکه ۱۱۷
۵. له خدای سره خاص شفاعت ۱۱۸
۶. د خدای په حکم شفاعت ۱۱۸
۷. د شفاعت کوونکيو خصوصيات ۱۱۸
۸. واقعي او غير واقعي شفاعت ۱۲۰
۹. له وحدانيت سره د شفاعت د غوښتلو رابطه ۱۲۱

۱۰. شفاعت عین وحدانیت ۱۲۲
د توحید ډولونه ۱۲۲
د خدای له نه بدلیدونکو سنتونو سره د شفاعت رابطه ۱۲۲
معراج او نوي علمونه ۱۳۰
۱. د معراج مطلب ۱۳۰
۲. د معراج کیسه ۱۳۱
۳. معراج بدني که روحاني؟ ۱۳۵
۴. د جسماني معراج دلیلونه ۱۳۸
د معراج د آسمان مطلب ۱۴۵
۱. د اسمان مطلب ۱۴۲
۲. اووه اسمانونه ۱۴۸
په نبیانو باندې د معصومو امامانو(ع) لوړاوي ۱۵۴
۱. د امامانو په لوړاوي باندې قراني دلیلونه ۱۵۵
الف) د ابراهیم(ع) د امامت ایت ۱۵۵
ب) د مباهله ایت ۱۵۷
د دلیل سبب ۱۵۷
۲. روایي دلیلونه ۱۵۸
الف) لومړۍ برخه په خلکو باندې د امام علي علیه السلام د لوړاوي دلیلونه ۱۵۸
ب) دویمه برخه: په خلکو باندې د نورو امامانو(ع) د لوړاوي دلیلونه ۱۲۱
۳. په نبیانو باندې د امامانو د لوړاوي په هکله د عالمانو لیدتوګې ۱۲۳
الف) د علامه حلي نظر ۱۲۳
ب) د نراقي لیدتوګه ۱۲۴
ج) په احتجاج کتاب کښې د احمد طبرسي لیدتوګه ۱۲۴
د) په بحار کښې د علامه مجلسي لیدتوګه ۱۲۵
هـ) په شواهد التنزیل کښې د حسکاني لیدتوګه ۱۲۲
د امام علي علیه السلام عصمت او په خطا باندې د اعتراف مسله ۱۲۸

۱. خطا او د ګناه مرتبې ........ ۱۶۹
۲. د محبت په مقام کښې ګناه ........ ۱۷۰
د پیغمبر(ص) له خوا د ځای ناستي په توګه د علی(ع) ټاکل ........ ۱۷۴
۱. د یو وړتیا لرونکي او غوره کس په توګه د امام علی(ع) معرفي کول ........ ۱۷۵
الف) امام علی تر ټولو ښه انسان ........ ۱۷۵
ب) امام علي(ع) تر ټولو عالم کس ........ ۱۷۶
ج) حق له علی(ع) سره ........ ۱۷۶
د) قرآن له علي(ع) سره ........ ۱۷۶
هـ) د علی(ع) مینه د پیژندګلو معیار او تله ........ ۱۷۷
و) علي(ع) په علم کښې ........ ۱۷۷
ز) علی د فضیلتونو لرونکے ........ ۱۷۸
ح) د حضرت علی(ع) بې شمیره صفتونه ........ ۱۷۸
۲. د ځای ناستي په توګه د امام علی(ع) ټاکل ........ ۱۷۸
الف) علي(ع) وارث او ځای ناستې ........ ۱۷۸
ب) په مدینه کښې علی(ع) د پیغمبر(ص) ځای ناستې ........ ۱۷۹
ج) په غدیر کښې علی(ع) د پیغمبر(ص) ځای ناستې ........ ۱۸۰
د لمر راګرځول او د امام علی(ع) فضیلت ........ ۱۸۴
۱. د تکامل د قانون مقتضی او غوښته ........ ۱۸۷
۲. د حکمت غوښتنه (اقتضاء) ........ ۱۸۸
۳. د لومړیتوب غوښتنه ........ ۱۸۸
۴. د آیتونو او روایتونو غوښتنه ........ ۱۸۸
الف) د حضرت یوسف(ع) د پلار په نظر راوستلو کښې تصرف ........ ۱۸۹
ب) د حضرت عیسی تصرف: ........ ۱۸۹
ج) د سپوږمۍ د دوه ټوټې کولو معجزه: ........ ۱۸۹
نړیوال عدالت د امام مهدی(عج) په انتظار ........ ۱۹۴
۱. ټولنیز چمتوالے ........ ۱۹۶

۲. فکري او کلتوري چمتووالے: ........ ۱۹۷
۳. صنعتي او علمي چمتووالې: ........ ۱۹۸
۴. د علم او پوهې پراختیا ........ ۱۹۹
۵. د عقلونو بشپړتیا: ........ ۲۰۰
۶. اخلاقي او معنوي بشپړتیا: ........ ۲۰۱
د اروا پېژندنې له نظره په ژوند کښې د انتظار رول ........ ۲۰۴
۱. د برې هیله ........ ۲۰۴
۲. د استکبار د هیبت او شان ماتېدل ........ ۲۰۵
۳. د منتظرانو درناوې او د مستکبرانو سپکاوې ........ ۲۰۸
۴. د ټولنیزو بې لاریو په وړاندې ولاړتیا ........ ۲۰۹
۵. د هیلې او نهیلۍ تله ........ ۲۱۰
د صحیح انتظار ضرورتونه ........ ۲۱۲
۱. د حرکت عامل ........ ۲۱۲
۲. اصلاح غوښتل او له ظلم سره مقابله ........ ۲۱۴
۳. د ایمان څوکیدار ........ ۲۱۵
۴. د شیعه و د باقي پاتې کیدو او ولاړتیا سبب ........ ۲۱۶
۵. عدالت سره پسلیدل ........ ۲۱۷
د انتظار ښنبه ........ ۲۱۸
۱. د نفس اصلاح ........ ۲۱۸
۲. د ټولنې اصلاح ........ ۲۱۹
۳. دعا او راز و نیاز ........ ۲۲۰
۴. د حضرت ولي عصر(عج) سره د منسوبو ځایونو درناوے ........ ۲۲۲

## دین ته د مفسر او متولي ضرورت[۱]

پوښتنه: ولې دين سپړونکي (مفسر) او متولي ته اړتيا لري.

د پوښتنې وضاحت: ځينې نظريه ورکوونکي دا نظر لري چې دين او ديني معارف او ښوونې رسما ديني مفسر ته اړتيا نه لري بلکه هر کس کولے شي دين او تعليمات يې تفسير کړي او خپل اخستون ترې ولري. او پر اساس يې خپلې ديني دندې او فرايض ترسره کړي. ددغه نظر خاوندانو اصلي مقصد دا دے چې دوي د دين تفسير او ديندارې يوه شخصي او ذاتي چاره ګڼي او او دهغه په اساس هر ډول چې يې خوښه وي د ديني اوامرو او احکامو تفسير وکړي او د عمل په مقام کې يې لاس پرانستے وي او که دخپلې خوښې کارونه کوي نو وايي چې دين داسې ويلې دي

ځواب:

ددغه نظريې چې دين مفسر ته اړمن نه ګڼي په ځواب کې بايد ووايو چې :

لومړے،د دغه نظريې له وړاندې کولو دهغوي مقصد غير مقدس او د ديني احکامو له قيد او بنده د خلاصيدو په غرض دے. دوهمه دا چې د دوي دا نظريه ډير اعتراضات او اشکالات لري چې لاندې ورته اشاره کوو:

---

۱. محسن غرويان، پرسش هاي فکري و دني جوانان، قم موسسه يمن خپرندويه ټولنه،دريم، ۱۳۸۰، حميد رضا شاکرين او د (نشر معارف) په پوهنتون کې د ولي فقيه د استازندويه دفتر، او د محصلينو انتخاب شوې پوښتنې او ځوابونه يې، او د يو شمير محققانو په ملګرتيا.

۱. دا ادعا چې دين او ديني معارف مفسر او عالم ته چې په دين کې تخصص ولري، اړمن نه دے په ديني احکامو او معارفو کې له نسبيت سره برابر دے ځکه چې په دې بڼه کې هر کس کولے شي له دينه د خپلې خوښې تفسير او مطلب واخلي او عقيده ولري چې دا د ده لپاره حجيت هم لري. او بل کس هم خپل تفسير حجت وګڼي د دې نظريې نتيجه دا کيږي چې په دين او ديني احکامو کې کوم ثابت او محکم څيز وجود ونه لرے او هر يو کس چې له ديني احکامو څنګه اخستون وکړي دهغه لپاره دين حسابيږي.په دين او ديني احکامو کې دا ډول نسبيت مردود دے ځکه چې اخري نتيجه يې تناقض ته وځي.ځکه چې که د هر کس برداشت او اخستون سم وګڼو نو کيدے شي يو کس د ځينو خاصو فرضيو له مخې يو شان تفسير وړاندې کړے وي او بل بلکل دهغه اپوټه تفسير ولري نو د دې پايله دا ده چې له يوه دين او حکمه دوه له يو بل سره بيخي اپوټه او متضاد تفسيرونه ولرو او زمونږ د فرضيې مطابق دواړه هم د خپلو خاوندانو لپاره حجت او دليل دي په عين حال کې هر يو يې بل ردوي.

۲. د انسان عقل حکم کوي چې لکه څرنګه چې په نورو علمونو او تخصصونو لکه طب، فيزيک، تاريخ او نورو په زرګونو علمي څانګو کې ځانته مفسر او بيانوونکے ضروري دے دين هم چې د الهي احکامو او ديني تعليماتو ټولګه ده يو عالم او مفسر او متخصص ته اړتيا لري چې په دغه احکامو کې يې تخصص کړے وي.

۳. ديني معارف درې سويې لري.يو: ساده ديني معارف، دوه :متوسط ديني معارف او دريم هم پيچلې او سخت ديني معارف،که فرضا ووايو چې عام خلک په ساده او اساني ديني تعليماتو پوهيږي خو کوم معارف چې د متوسطې سويې يا د سختې او پيچلې سويې دي د عامو خلکو له پوهې بهر او لوړ دي او دلته ده چې د هغو د بيان لپاره يو مفسر او متخصص ته ضرورت دے. په دې خبره زمونږ شاهد او دليل دا دے چې د قران او ديني معارفو په تفسير کې له معصومو

امامانو په زرګونو حدیثونه نقل شوې دي.[1]

۴. د قـران ځينـې ایتونـه پـه دې دلالـت کـوي چـې دینـي تعلیمـات د خاصـو مفسـرانو لـه خوا تفسـیر او بیـان تـه اړتیا لـري. پـه دغـو کـې یـو ایت دا د ے :[2] ا ے پیغمبره ! مونږ قران پر تا نازل کړ چې خلکو ته يې بیان او تفسیر کړې.

په د غه ایت کې په خپله رسول الله مبارک تـه خطاب شـو ے د ے او د هغـه یـوه دنده د قراني معارفو تفسیر او سپړنه بیان شوې ده.

که وویل شي چې د خدا ے رسول (ص) له دې امله چې معصوم د ے د مفسـري شان لري خو له پیغمبره او امامانو پرته نور کسان لـه دې املـه چـې عصـمت نـه لـري نو د دین مفسران نه شي کیدلے. د دې پوښتنې ځواب دا د ے چې نـو دا خبـره چـې د ین یو خاص مفسر ته اړتیا لري تاسو منئ او په دې ایت سره ثـابتیږي خـو دا چـې د غیبت په زمانه کې د دیني معارفو د تفسیر او بیـان دنـده د عـالمـانو او فقیهـانو پـه غاړه اچول سوې ده یو بل دلیل غواړي. چې مونږ يې لـرو. زمـونږ ادعـا دا ده چـې لـه رسول الله مبارک او معصومو امامانو د ډیرو روایتونو په اساس د امام زمان علیـه السلام د غیبت په زمانه کې د دین تفسیر او بیان او د الهي احکـامو اجرا د دیـن د عالمانو او فقیهانو په غاړه ده. لکه دا روایت چې فرمایي:«مـن کـان منکم قـد روي حدیثنا و نظر في حلالنا و حرامنا و عرف احکامنا فاني قد کعلته علیکم حاکمـا»[3] پـه تاسـو کـې هـر یـو چـې زمـونږ د حدیثونو راوي او د حلالـو او حرامـو پـه شـان پـه شرعي احکامو بلد او عـالم وي داسې کس زما له خوا د دین واکمـن حسـابیږي او د حاکمیت لازمه دا ده چې دیني احکام اجرا کړي. هم ځکه باید داسې عـارف او عـالم کس د دین د احکامو مفسر وي.

دوهم ایت: وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ إِلَّا رِجَالًا نُوحِي إِلَيْهِمْ فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ[4] دا چې د اهل ذکر مصداق څوک د ے پـه دې کـې ډیـرې خبـرې

---

۱. محسن غرویان، هماغه ماخذ.

۲. نحل ۴۴ ایت.

۳. حر عاملي وسائل الشیعه ایت ۴۳.

۴. نحل ایت ۴۳.

شته دي ددغو بحثونو نتیجه دا ده چې د معصومو امامانو په شتون کې اهل ذکر په خپله هغوي دي او د غیبت په زمانه کې دا دنده د دین په عالمانو او فقیهانو اچول شوې ده. لکه څرنګه چې په یوه روایت کې راغلي دي چې امام زمان (عج) د اسحاق کندي د دې پوښتنې په ځواب کې چې خلک وایي د غیبت په زمانه کې په نویو پیښو او موضوعاتو کې چاته مراجعه وکړو چې احکام ترې واخلو، وفرمایل: و اما الحوادث الواقع فارجعوا فیها ال رواة حدیثنا فانهم حجتي علیکم و انا حجت الله علیهم.»[1] په نویو موضوعاتو او پیښو کې زمونږ د روایتونو عالمانو او راویانو ته مراجعه وکړئ ځکه چې دوي پر تاسو زما حجت دي او زه پر دي د خداي حجت یم.

یقینا عام خلک چې په عربۍ نه پوهیږي او د اصولو، فقې تفسیر او داسې نورو علمونو پوهه نه لري د اهل ذکر مصداق نه شي ګرځیدلی، دا خبره روښانه ده چې دغه کسان د دیني متونو د تفسیر او بیان توان نه لري.

نکته:

دلته کیدے شي ځینې کسان دا پوښتنه وکړي چې د غیبت په زمانه کې ممکنه ده ددین عالمان د د ین د مفسر په توګه غلطي وکړي او دیني احکام اپوټه او غلط خلکو ته ورسوي او خلک بې لارې کړي او دا په خپله د دې دلیل دے چې دین او دیني احکام مفسر ته ضرورت نه لري.

ځواب، لومړے خو دا چې که عام خلک له دینه کوم اخستون کوي یقینا د هغوي غلطۍ دعالمانو او فقیهانو په پرتله څو چنده زیاتې وي نو عاقلانه نه ده چې په دې پلمه چې د دین یو متخصص او مفسر ښایي غلطي وکړي مونږ ټولې دیني چارې عامو خلکو ته وسپارو. دوهمه دا چې: په ټولو علومو او فنونو کې ممکنه ده چې یو کس او متخصص یې غلطي وکړي ایا ډاکټران په علاج کې غلطي نه شي کولے، نو که یو ډاکټر غلطي وکړي انسان بایه هیڅ ډاکټر ته ورنه شي؟ دا عاقلانه خبره نه ده.

---

۱. الصدوق کمال الدین و تمام النعمه ۲ ټوک ۴۸۴ مخ.

دریمه دا چې: ډیر اهل سنت او شیعه عالمان په دې خبره ټینګار لري چې که یو فقیه د دیني احکامو د تفسیر او استنباط لپاره ضروري پوهه او علم ولري او د دین د احکامو د دسمې اجرا او تفسیر په لاره کې خپل ټول توان وکاروي خو په عین حال کې بیا هم ددیني احکامو په استنباط کې په خطا اخته شي داسې فقیه معذور دے. لکه څرنګه چې علامه سید شرف الدین په الفصول المهمه کتاب کې د اسلام د ځینو عالمانو له قوله نقلوي: «هر مجتهد چې په دیني چارو کې اجتهاد وکړي او په خپله عقیده دهغه حقانیت ته رسیدلے وي دغه شان مجتهد ته په هر حال اجر ورکول کیږي که اجتهاد یې صحیح وي دوه ثوابه لري او که خطا وي یو ثواب» [1]

## د لا ډیرې مطالعې لپاره

محسن غرویان، پرسش هاي فکري و دیني جوانان، قم موسسه یمن خپرندویه ټولنه،دریم، ۱۳۸۰ ، حمید رضا شاکرین او د (نشر معارف) په پوهنتون کې د ولي فیقه د استازندویه دفتر، او د محصلینو انتخاب شوې پوښتنې او ځوابونه یې، او د یو شمیر محققانو په ملګرتیا. دوهم ځل چاپ ۱۳۸۴

## وروستے حدیث

امام علي فرمایي: کله چې بلا نازله شي نو مالونه مو د ځان ډال وګرځوئ او که کومه پیښه درپیښه شي ځانونه په دین قربان کړئ او پوه شئ چې هغه کس تباه دے چې دین یې تابه شوے وي او تالان شوے هغه کس دے چې دین یې تالان شوے وي.[2]

---

۱. الفصول المهمه في تالیف الامه ۱۵۵ مخ بیروت اوم چاپ.

۲. محمد ري شهري، منتخب میزان الحکمه، ترجمه حمید رضا شیخي قم، دار الحدیث ۳۲۵ ۲۱۱ مخ.

# له فکري اندېښنو د ځوانانو د ژغورېدو لارې چارې

پوښتنه: ولې کله کله مومن ځوانان د ديني لارښوونکو په خبرو شک کوي؟

ځواب:

تر ځوابه مخکې لازمه ده چې د ځوانۍ د پړاو د پيل په هکله يو څه ووايو. د جسمي ودې تر څنګ، يو لړ انديښنې، د تجسس او تلوسې احساس، د کارونو او اعتقاداتو، کردارونو او ژوند ته د نظر په هکله تفکر او تدبر هغه بدلونونه دي چې د يو زلمي شوي انسان په باور او عقل کې پيدا کيږي. د هلکوانۍ يا ځوانۍ پړاو ډير حساس او هيجاني دے او په څنګ کې يې نوې بدني او فکري بدلونونه او تجربې پيل کيږي. دا له نورو د ليرې کيدو او استقلال غوښتنې او شناخت منښې پړاو دے د هغو کسانو لپاره چې غواړي ځان وپيژني او خپل باورونه د تقليد له حالته په پخو او ريښه دارو باورونو بدل کړي شک کول وسوسه او انتقاد کول او د ژوند په حساسو مسايلو کې پوښتنه او تلوسه لرل کومه غير فطري او حيرانوونکې خبره نه ده.

د ځوانۍ د پړاوونو په هکله په روزنيزو چارو کې ضروري ده چې لاندينيو مسلو ته پام وشي چې ځوانان خپل اصلي هويت او شناخت ومومي:

۱. اروا پيژاندي د ځوانۍ د مرحلې په هکله وايي: د ځوانۍ او هلکوانۍ پړ او د دوه دورو يعنې د لوے والي او ماشوموالي په مينځ کې يو پړاو دے په دې ډول چې نه دغه کس پرونے ماشوم وي چې هر څه له لويو ومني او نه پوره لوے

شو ے وي. په دغه عمر کې ځوان هر یو شے په خپل او د خپلو معلوماتو او عقلي تحلیلونو په وسیله لاسته راوړل غواړي.

۲. د اروا پیژاندو په وینا تازه ځوان شو ے کس له شناختي نظره کولے شي ځینې انتزاعي مسایل لکه مذهب، اخلاق او د ژوند مختلفې رودې وجاجوي په منظمه توګه یې تحلیل کړي. دغه په ذهن کې یو منظم استدلال جوړیږي چې د مختلفو حل لارو د پرتله کولو او د ښه ځواب د ترلاسه کولو امکان برابروي. په دې کار سره د فکر محتوا ژورتیا او پراختیا پیدا کوي[1] خو له ټولو فکري پرمختګ او د تحلیل او قضاوت سره سره ځوان لا د فکري قدرت او ثبات له اړخه د ماشوموالي له پړاوه د لو ے والي پړاو ته د تیریدو په حال کې وي دغه د درک او قضاوت طاقت دومره پراختیا او ژورتیا نه مومي چې انعطاف منونکے، هر اړخیز، او له نویو لارو چارو سره غړمله وي. په بله ژبه یو ځوان پوخوالي ته نه رسیږي مګر دا چې خپلو استدلالونو ته شخصي او اختصاصي اړخ ورکړي او د مبهمو او پیچلو مسایلو د حل لپاره له شخصي تجربو او له خپل ټول اروا پیژندونکي سستمه (منطق، ارښتونه، محرکونه او ټولنیز کلتوري او تاریخي معلوماتو) مرسته واخلي. نو د ژوند په ځینو اصولو کې شک کول د لا ډیر او ژورې شناخت او پوهې سریزه ده او داندیښنې خبره نه ده.

۳. نوجواني او زلمکتوب یا پیغلتوب د هویت منلو او دځان د پیژندلو پړاو دے. د ځوانۍ پیل له دې اړخه ډیر اهمیت لري. همدا وخت وي چې دانسان په ذهن کې د خپل هویت په هکله لومړۍ پوښتنه پیدا کیږي (زه څوک یم) او باید ځواب یې معلوم کړي. په دغه پړاو کې انسان باید معنا داره شناخت پیدا کړي چې له تیر وخت سره د ارتباط تر څنګ د راتلونکي لپاره دریځ نیونه هم ولري اریکسن په دې هکله وایي: «د یو کس د هویت جوړیدل او منل کیدل ډیره سخته او اضطراب پیدا کوونکې مرحله ده چې په دې کې باید ځوان تر ټولو د مناسب رول او ایډیالوجۍ د معلومولو لپاره مختلف رولونه او ایډیالوجې تجربه کړي او

---

۱. حسین لطف آبادي، د لوییدو اروا پیژاندي، (۲) ځواني هلکواني او لوي والي ۲۲ مخ.

وي ازمايي. کوم کسان چې له دغه پړاوه د هويت د پيژندلو له يوه قوي احساس سره راوځي دې ته چمتو وي چې په ځان د باور او اعتماد په يوه قوي احساس سره له لوي والي سره مخامخ شي په دې پړاو کې ټولنيزې ډلې چې انسان ځان د هغو په شان جوړوي، ډېراغيز لري دا ډلې بايد د انسان د هويت په ښه رشد او ودې اغيزه وکړي.[1]

په دې اساس د ديني دوست او يا ديني بيلګو يا غير ديني بيلګو او دوستانو غوره کول په انسان په لاشعوري ډول ډېر اغيز لري او د هغه کردار او کړه تر تاثير لاندې راولي.

۴. نوي زلمي او پيغلې ته چې څنګه د ودې او ترقۍ زمينې برابرې وي او د ځان پيژندنې او خداي پيژندنې په لاره کې روانيږي، د ژوند پوړۍ ښه په کراره اسانه او د ځوانۍ په انرجۍ سره وهي د زړه سواندو، مهربانه او پوهو کسانو له مشورې استفادې ته اړتيا لري چې د لارې په وهلو کې له انحراف سره مخامخ نه شي.

له فکري بندونه د وتلو لارې چارې.

د دې لپاره چې ځوانان د ځان او حقيقت پيژندلو په سمه لاره کې راشي او دهغه په وجود کې اساسي عقيدې پخې شي او له روزنيز نظره سم انسان وبلل شي بايد په لاندې ډول عمل وکړي:

## ۱. د ځوانانو او زلمکيانو

اصلي دنده د علم حاصلول دي د علم او پوهې زياتول تر ټولو ارزښتناک ګوهر دے چې يو انسان يې حاصلولے او دوژند په لاره کې کارولے شي. په دې اساس د ديني کتابونو لوستل د عقيدو په لاره کې د علم د زياتولو يوه لاره ده. ناپوهه انسان خپلې الهي دندې نه شي پيژندلے او په سمه توګه په هغو عمل نه شي کولے او په نتيجه کې د ژوند په معنا نه شي پوهيدلے.

---

۱. دوان شولتر، د شخصيت نظريې، ژباړه: يوسف کريمي او ملګري يې، ۲۲۲ مخ.

## ۲. تفکر

د علم حاصلول د نورو له فکره استفاده کول دي چې د کتابونو په مخونو کې د لیکونو په توګه وي. خو دا د دوژند په مختلفو موقعیتونو کې تفکر دے چې انسان ته حل لارې وړاندې کولے ششي. او په بله ژبه دا علم دے چې دانسان د فکر قدرت زیاتوي او هغه په اسانۍ سره ستونزې تحلیلولے او ورسره مقابله کولے شي.

## ۳. ایمان

له ایمانه مطلب د نړۍ په پنځونکي له زړه ایمان او دخداي په وړاندې له تسیلم سره یو ځاي دهغه په اوامرو باور ساتل دي. هر څومره چې ایمان پیاوړے وي د انسان په مختلفو اړخونو کې یې څرګندیدل زیات وي.[1] په دې اساس څوک چې د خپل ژوند په چارو کې خداي په نظر کې ونیسي په خپل ځان یې باور لوړیږي او یو داسې ځواک پیدا کوي چې همیشه ورسره وي.

## ۴.عمل

د مثبت عمل کول تل د انسان د دریځ د پیاوړتیا او اسانتیا سبب کیږي په دې ډول چې په قران کې نیک عملونه د مومنانو د پټو وړتیاو د غوړیدو او تکامل سبب بلل شوے دے : وَلَمَّا رَأَى الْمُؤْمِنُونَ الْأَحْزَابَ قَالُوا هَـٰذَا مَا وَعَدَنَا اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَصَدَقَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَمَا زَادَهُمْ إِلَّا إِيمَانًا وَتَسْلِيمًا ۲ خو مومنانو چې کله د کفارو لښکر او طاقت په سترګو ولیده نو وې ویل دا هماغه جنګ دے چې خداے او رسول یې رښتیا وویل او بې له ایمان او اطاعته یې پرهغوي بل څه زیات نه کړل.

البته د اسلام د تعلیم په اساس عمل په علم او ایمان کې ډیره اغیزه لري. ایمان سبب کیږي چې انسان زیاتره انتخاب او عمل ته مخه کړي. همدا راز صالح

---

۱. کرباسي، منیزه، او کلیان منوچهر، مسایل جوانان و نوجوانان ۱۷۲ مخ.
۲. ایه ۲۲ احزاب.

عمل په انسان کې علم او ایمان زیاتوي او د ارمنو د مناسبې او معقولې ارضا لپاره زمینه برابروي. پر دې اساس تر ټولو غوره عمل دا دے چې دیني دندې ترسره کړو او نور خلک هم ښه عمل ته وهڅوو. او له بدو کارونو ډډه وکړو او نور هم ترې منعې کړو په الهي فرایضو عمل د دې په ترخ کې چې په انسان کې د ترقۍ محرک پیاوړے کوي او په ژوند کې د خداي د وجود احساس تجربه کېږي په خپله ایمان او دیني ژمنه او تفکر هم زیاتیږي. او همداراز د انسان بصیرت هم زیاتوي او سبب کېږي چې انسان د ژوند په سختو شیبو کې سمه لاره انتخاب کړي او خپلو موخو ته ورسیږي.

په ټول کې نیتجه اخلو چې که څه هم د ځوانۍ دوران د افکارو او سوچونو د راخوټیدو دوران دے ځکه چې لا یې اساسي بنیادونه نه وي مزبوت شوې او بې شمیره اعتراضان په انسان یرغل کوي او که ځوان د علم زیاتولو، فکر کولو او نیکو کارونو ته مخه کړي او په خپلو کارونو کې تل خداي یاد وساتي د دیني، عقلاني، اخلاقي، ټولنیزو او نورو پرمختګونو لاره په کامیابۍ سره وهلے او خپلو موخو ته رسیدلے شي.

**د لا ډیرې مطالعې سرچینه.**

۱.روان شناسي نوجوانان، دکتر اسماعیلي بیابانګرد.

۲.روان شناسي رشد(۲) نوجواني، جواني و بزرګ سالي، دکتر حسین لطف آبادي.

**وروستے حدیث**

امام علي وفرمایل:«څوک چې خپل باطن سم کړي خداي یې ظاهرښکلے کوي. او څوک چې د خپل دین په چارو لګیا شي خداي یې د دنیا کارونه سموي او څوک چې د ځان او خداي په مینځ کې چارې سمې کړي خداي د هغه او دخلکو ترمینځ معاملې سموي.»[1]

---

۱. نهج البلاغه، ترجمه سید جعفر شهیدي، کلمه ۴۲۳. ۴۳۷ مخ «من اصلح سریرته الح الله علانیته و من عمل لدینه کفاه الله امر دنیاه و من احسن فیما بینه و بین الله کفاره الله ما بینه و بین الناس».

# ۳

# په دین کې د ډیر تر ډیره او لږ تر لږه نظر

پوښتنه: په دین کې د لږ تر لږه او ډیر تر ډیره نظریې مطلب څه دے یا په بله ژبه د لږ تر لږه دین او ډیر تر ډیره دین معنا څه ده؟[1]

دا پوښتنه په دوو شکلونو سپړل کیدے شي:

۱. له دینه بهر تفسیر

۲. په دین کې دننه تفسیر

## ۱. د دین له داخله د دې پوښتنې ځواب:

د دین دننه د نظر، مطلب دا دے چې باید د یوه دین مثلا د اسلام په تعلیماتو کې دننه ښه فکر وشي چې د انسان د ژوند په هکله څه سپارښتنې لرې ایا دا اوامر او احکام د انسان د ژوند ټولو اړخونو ته شاملیږي یا یوازې دځینو مواردو لپاره دي مثلا ایا دیني تعلیمات د یو انسان د ټولو وګړنیزو، ټولنیزو، اعتقادي،اخلاقي او عملي احکامو لپاره دستور العمل او کړنلاره لري؟ او که په

۱. رک : الف: محسن غرویان، برسشهاي فکري و دیني جوانان قم، موسسه فرهنګي یمین، چاب سوم، ۱۳۸۰.

ب: محمد امین احمدي، انتظارات بشر از دین، قم پژوهشګاه علوم و فرهنګ اسلامي (وابسته به دفتر تبلیغات اسلامي، اول ۱۳۸۴).

ج: محمد تقي جعفري، فلسفه دین، قم، پژوهشګاه فرهنګ و اندیشه اسلامي دریم چاپ ۱۳۸۲.

د: محمد تقي مصباح یزدي مجموعه اثار (مشکاة) پرسش و پاسخها، ۱تر ۵ټوک، قم، موسسه آموزشي و پژوهشي امام خمیني، لومړي چاپ ۱۳۸۵.

ځینو خاصو اړخونو لکه اخلاقواو احکامو او په شخصي او وګړنیزو ډګرونو کې احکام او دستور العمل لري.

د لړترلړه د اعتراض اندیالو، دین ته له دننه په کتنې سره د اسلام په هکله خپل اعتراضونه په دوو ډولونو مطرح کړې دي:

۱. هغوي په سیاسي او حکومتي چارو کې د دین د لاسلرو په هکله وایي چې اسلام په دې موضوع کې د لږ ترلږه قایل دے او ادعا یې کړې ده چې دین او دیني تعلیمات یوازې فردي او شخصي اړخ لري. په بله ژبه هغوي له سیاسته د دین د جدایی د نظریې قایل دي.

د لومړي نظر مطابق د اعتراض ځواب:

زیاتره پوهان او د نظر خاوندان په دې خبره یوه خوله دي چې د اسلام ګران پیغمبر(ص) له هغو الهي پیغمبرانو دے چې په مدینې کې یې د داسې سیاسي واکمنۍ چې الهي مشروعیت یې درلود بنیاد کیښوده. په دې خبره چې پیغمبر او اسلام سیاسي او حاکمیتي اړخ لري د شیعه او اهلسنتو زیاتره اسلامي اندیال په دې متفق دي. او یوازې یو جزیي اعتراض ځینو اسلامي روڼ اندو کړے دے او د رسول الله مبارک په سیاسي شان کې یې شک ښکاره کړے دے دوي له سیاسته د دین د جدایی او د سیکولارستي نظریو تر اغیز لاندې قائل شوې دي چې د اسلام پیغمبر سیاسي او حکومتي شان نه درلود او په دې باور دي چې که فرضا په مدینه کې یې د حاکمیت او واکمنۍ د جوړولو اقدام کړے دے دا یوه ټولنیزه دنده وه؛ نه دا چې په دې مسله کې یې دخداي له لورې دنده لرلې وي.[1]

خو د دغه نظریې په کره کتنه کې ویلے شو چې: یـا أَیهَا الَّـذِینَ آمَنُـوا أَطِیعُوا اللَّهَ وَأَطِیعُوا الرَّسُولَ وَأُولِی الْأَمْرِ مِنْكُمْ فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِی شَیءٍ فَـرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّـهِ وَالْیـوْمِ الْـآخِرِ ذَلِـكَ خَیـرٌ وَأَحْسَـنُ تَأْوِیلًا[2]

---

۱. په دې بحث د ښه پوهیدلو لپاره د نظریه هاي دولت در فقه شیعن کتاب ته مراجع وکړئ چې محسن کدیور لیکلي دي او همداراز کتاب الاسلام او اصول الحکم ته چې علي عبدالرزاق لیکلي دي.

۲. نساء ۵۹ ایت.

اوله دا چې اکثرو اسلامي عالمانو دا خبره منلې ده چې پیغمبر امامت او سیاسي حاکمیت درلود او په دې ډول یوه خوله دي. د قران نصوص هم په دې خبره صفا دلالت کوي لکه دا ایت چې فرمايي: او همداراز دا ایت شریف چې: لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَیِنَاتِ وَأَنْزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ وَالْمِیزَانَ لِیقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ وَأَنْزَلْنَا الْحَدِیدَ فِیهِ بَأْسٌ شَدِیدٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَلِیعْلَمَ اللَّهُ مَنْ ینْصُرُهُ وَرُسُلَهُ بِالْغَیبِ إِنَّ اللَّهَ قَوِی عَزِیزٌ[1]

دوهمه دا چې تاریخي شواهد هم دا خبره تاییدوي چې د اسلام پیغمبر په مدینه کې د سیاسي واکمنۍ بنیاد کېښود چې دهغه په اساس یې حکومتي اوامر لرلي دي. لکه دا چې دوي به مختلفو سیمو ته واليان استول او له هغوي به یې غوښتل چې خپلې ټولنیزې دندې چې ورسپارل شوې سمې ترسره کړي خو په دې خبره کې چې د پیغمبر(ص) سیاسي حاکمیت د دین له متنه اخستل شوے وے باید ووایو چې د اسلام د دین بشپړتیا او جامعیت سبب شوے دے چې اسلام ځینې چارې او دندې ولري چې بې دسیاسي حاکمیته یې د اجرا کولو امکان نیشته. لکه د حدودو او احکامو اجرا او دنورو دیني چارو اجرا. لکه د خمس او زکات اخستل او دغنایمو او ولجو ویش چې بې د دیني حکومت له لرلو دا ځیزونه د اجرا وړ نه دي.

دریم دا چې دقران ځینې ایتونه هم په دې ټکي دلالت کوي چې کوم حاکمیت چې رسول الله مبارک په خلکو کې ټینګ کړے و هغه الهي سرچینه لرله. هلته چې فرمايي: النَّبِی أَوْلَی بِالْمُؤْمِنِینَ مِنْ أَنْفُسِهِمْ وَأَزْوَاجُهُ أُمَّهَاتُهُمْ وَأُولُو الْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَی بِبَعْضٍ فِی كِتَابِ اللَّهِ مِنَ الْمُؤْمِنِینَ وَالْمُهَاجِرِینَ إِلَّا أَنْ تَفْعَلُوا إِلَی أَوْلِیائِكُمْ مَعْرُوفًا كَانَ ذَلِكَ فِی الْكِتَابِ مَسْطُورًا[2]

۲: په دین کې له داخلي نظره د لړ تر لړه، د نظریې ځینو پلویانو له دې امله چې د دین جامعیت ته یې پام لرلے او د اسلامي احکامو په پراختیا یې چې د انسان د ژوند د ټولو اړخونو په هکله احکام لري اعتراض نه شو کولے نو خپل

---

۱. حدید ۲۵ ایت.

۲. احزاب ۶ ایت

اعتراض يې په يوه بل ډول مطرح کړ دوي وايي چې: د اسلامي ټولنې اړتياوو ته د ځواب لپاره د دين تعليمات او احکام په يوه خاص وخت کې وړاندې شوې دي او دا احکام د مسلمانانو د لومړيو ټولنو لپاره چې پيچلې زماني او ټولنيز شرايط يې نه لرل مناسب وو خو د دين اکثره احکام د نن سبا د زمانې په پيچلو او پرمختللو زماني، مکاني او ټولنيزو حالاتو کې ځواب نه شي ويلی او د ټولنې اړتياوې نه شي پوره کولی.

ځواب:د دې شبهې او اعتراض څو ځوابونه ورکولی شو:

۱. د اسلام د پيغمبر او دهغه د شريعت خاتميت او اخري والی چې د اسلام له ضروري احکامو ګڼل کيږي او ټولې اسلامي فرقې اومذهبونه او عالمان پرې يوه خوله دي، ددين د احکامو له دغه تفسير سره په ټکر کې دی. په بله ژبه، هغه پياوړې او محکم دليلونه چې د پيغمبر د خاتميت او په دې هکله موجود دي چې اسلام يو هميشنی دين دی دا اشکال او شبهه باطلوي ځکه چې د خاتميت د دليلونو له مخې اسلام يو تل پاتې دين دی چې احکام او شرايط يې په هره زمانه او ځاي کې د اجرا وړتيا لري او په کوم خاص وخت، ځاي يا قوم پورې محدود نه دي.

۲. د اسلام له پيغمبره ډير روايتونه راغلي دي چې اسلامي احکام له زماني اړخه تل پاتې دي او د قيامت تر ورځې اعتبار لري.«حلال محمد حلال الي يوم القيامه و حرام محمد حرام الي يوم القيامه»[1] او په يقين سره ويلی شو چې هغه احکام د قيامت تر ورځې معتبر کيدلی شي چې د مختلفو زمانو او ځايونو لپاره کارندوالی ولري.

## ۲. د لږ ترلږه او ډير تر ډيره تفسير (له دينه په بهر ليدتوګې سره)

له دينه بهر د لږترلږه او ډير تر ډيره د موضوع مطلب دا دی چې له دې ورتير چې په يوه خاص دين کې د انسان د ژوند په هکله څه سپارښتنې موجود دې، دا پوښتنه مطرح ده چې اساسا په کومو مسايلو کې بايد له دينه د لارښوونې او

۱. رک: اصول کافي ۱ ټوک ۵۷ مخ، بحار الانوار ۲ ټوک ۲۲۰ مخ وسائل الشيعه ۱۸ ټوک ۱۲۴ مخ.

تفسیر او تبیین تمه ولرو؟ په بله ژبه له دینه د انسان تمه په کوم حد کې ده ایا دین د انسان ټولو ضرورتونو ته ځواب ویلے شي یا نه دین یوازې د انسان د ژوند په ځینو خاصو مسایلو کې ځواب ویلے شي؟

ځواب:

دې پوښتنې ته درې ډوله ځواب ورکړل شوے دے:

۱. یوه ځواب افراطي دے،

۲. دوهم ځواب تفریطي دے،

۳. دریم ځواب چې زمونږ له نظره اعتدالي ځواب دے.[۱]

۱. افراطي نظر: دغه کسان وایي چې انسان د ژوند په ټولو ډګرونو کې حتی د خوراک څښاک، جامې اغوندلو، کور جوړولو، په لاره تګ ځملاستلو، معاشرت، او همدارازد حکومت، د واکمنانو د دندې د ترسره کولو، او په هر ډول علمي مسلو حتی د ژوند په ټولو چارو کې دیني احکامو او اوامرو ته اړتیا لري. په بله ژبه،دا د انسان حق دے چې بې له تحقیق او د مطالعې او سختۍ له لیدلو،دین ورته په بیلا بیلو ډګرونو کې کامیابي ورکړي.دا تفکر چې وایي دین باید په ټولو چارو کې د انسان ضرورتونه پوره کړي او هغه کامیاب کړي دې ته د دین په هکله «د ډیر تر ډیره نظر» ویل کیږي.

د دغه نظر جاج او څیړنه

یو اساسي اعتراض چې په دې نظر کیږي دا دے چې د دغه نظر په اساس دین د انسان د ټولو ضرورتونو او تمو ځوابګوے دے نو د دغه نظر مطابق انسانان د خپلو عقلونو او خداي ورکړو وړتیاوو غوړولو او ترقي ورکولو ته اړتیا نه لري. په داسې حال کې چې له دینه دغه تفکر او اخستون په غلط ډول د انسان د عقل او تکفر د ختمولو او تعطیلولو په معنا او له حقیقته لیرې دے ځکه چې یو هم داسې حق دین نیشته چې انسان ته ووایي چې له عقل او فکره کار مه اخله او دین په یوازې سره دانسان ټولې اړتیاوې پوره کړے شي.

---

۱. رک: محمد تقي مصباح یزدي، مجموعه اثار( مشکات) پرسش و پاسخ ها، ۱ ټوک تر پینځم،قم، موسسه آموزشي و پژوهشي امام خمیني، لومړي چاپ.

۲. د لږ تر لږه نظر: په ژوند کې د دين د ډير تر ډيره رول د نظر له ردولو او د دين د حدودو په سر د لويديځ د سياستمدارانو او د کليسا د خاوندانو تر مينځ له کلونو کلونو کشمکشه وروسته اخر يو نظر پيدا شو چې هغه ته يې « سيکولرزم» وايه،دد غه نظر اصلي ځانګړتيا او بنياد په دې خبره دے چې د ين له سياسته او ټولنيزو چارو جدا دے. د دغه نظر په بيان کې به ووايو چې دوے وايي د انسان ژوند دوه برخې دے يوه دنيا او بل اخرت، او دا دوه برخې له يوه بله بلکل جدا دي. د دوي په نظر په دې دنيا کې د انسان کړه او کارونه د هغه له اخرت سره هيڅ اړه نه لري نو انسان د اخرت په چارو او د ځان او دخداي په مينځ کې په معاملو کې له دينه استفاده کولے شي خو په دنيايي چارو کې انسان ازاد دے چې هر څنګه يې زړه غواړي عمل وکړي او په دنياوي چارو کې لازمه نه ده چې د دين او دخداي د اوامرو تابع وي.

د لږ تر لږه په ليدتوګې کره کتنه

دا نظر هم له ډيرو اعتراضونو او نيمګړتياوو سره مخ دے، تر ټولو لوے اعتراض دا دے چې په دې نظر سره د انسان د دنيا او اخرت ژوند له يوه بله جدا کيږي ځکه چې که څه هم د انسان ژوند په دوو برخو يعنې په دنيا او اخرت ويشل کيږي چې د دنيا حصه يې د انسان له زوکړې پيل او په مرګ ختميږي او د اخرت ژوند يې په مرګ پيل کيږي او تر بې نهايته دوام لري او هر يو يې ځانته خپله ځانګړتيا لري خو د دې تقسيم معنا دا ده چې د انسان دنيايي ژوند او په دنيا کې د هغه کړه او عملونه هم په دوو برخو يعنې دنيايي او اخرت ويشل کيږي او بايد د دغو دوو په مينځ کې هيڅ ډول ارتباط نه وي. په نتيجه کې د انسان دنيايي عملونه هم د هغه د اخرت په ژوند هيڅ ډول اغيزه نه لري. د دغه نظر مطابق د دين او دنياوي تعليماتو کار په فردي او ډله ايزو لمنځونو او دعاګانو پورې محدوديږي چې په کليسا ګانو او جوماتونو کې ترسره کيږي. همداراز ديني تعليمات له خداي سره د انسان په رابطې پورې محدوديږي او د هغه له ټولنيز ژوند سره هيڅ اړه نه لري. اول خو دا چې دين ته دا ډول نظر يوه بې دليله ادعا ده او کوم سم او معتبر دليل نه لري، دوهم دا چې دا نظر د الهي دينونو له محتوا او

تعلیماتو سره سمون نه خوري. تاسو ته پته ده چې هر حق دین ادعا کوي چې انسان باید خپل ټول وګړنیز او ټولنیز اعمال د دین د اوامرو په اساس ترسره کړي او انسان په خپل سر او په خپله مخه په دنیا کې هر څه نه شي کولے. او داسې نه ده چې دهغه کړنې دهغه په اخرت هیڅ اغیزه او ارتباط ونه لري. که د اسماني دینونو په تیره بیا د اسلام تعلیماتو ته وګورو نو په دې خبره ښه پوهیدلے شو.

۳. اعتدالي نظر

دا چې دانسان ژوند په دوو برخو یعنې دنیایي او د اخرت په ژوند ویشل کیږي دا خبره د منلو ده خو د انسان د ژوند د دغو دوو برخو ارتباط له دوهم نظر سره متفاوت دے. ځکه چې د دغه نظر له مخې د انسان د اخرت ژوند دقیقا په دې دنیا کې د انسان د کړو وړو پایله ده یعنې دلته یې چې څه کرلې وي هلته به یې ریبي په بله ژبه، د انسان د دې دنیا عمل دهغه په هغه دنیا نیغ په نیغه تاثیر لري له دې امله انسان په دې دنیا کې خپل ژوند داسې تیرولے شي چې د اخرت په ګټه یې وي او داسې یې هم تیرولے شي چې د اخرت په تاوان یې وي.

انسان یو اختیار لرونکے مخلوق دے چې په خپله باید د خپل اخرت برخلیک وټاکي که غواړي ابدي نیکمرغي لاسته راوړي باید په خپلو کارونو او کړو کې د دین احکام پلې کړي او خیال یې وساتي نو د اخرت ژوند یې نیکمرغه کیږي. دا نظر له سوچه اسلامي تفکر سره موافق دے ځکه چې زمونږ له نظره یو اعتدالي نظر دے چې نه دافراطي نظر اعتراضونه لرے او نه د افراطي نظرونو اعتراضونه او اشکالات.

د دغه نظر له مخې اول دا چې دین د انسان د دنیا او اخرت د ژوند د نیکمرغۍ لپاره جامع او بشپړ پروګرام لري او د انسان د وګړنیز، ټولنیز، اقتصادي، سیاسي او و اکمنۍ په ټولو اړخونو کې یې کلي اصول وړاندې کړې دي.

دوهمه دا چې د دغه نظر مطابق له دینه زمونږ تمه دا نه ده چې د انسان په ټولو جزیي چارو حتی په ورځنیو چارو کې دې هم دستور العمل او پروګرام ولري. که څه هم دغه جزیي امور له کلي اصولو راوځي.

د دغه نظر مطابق هر هغه کار چې د انسان په نیکمرغۍ نیغ په نیغه اثر لري په یقین سره یې کلي اصول په دین او دیني تعلیماتو کې بیان شوې دي. البته ځینې نور عملونه هم شته دي چې دین ورسره تعلق نه لري او د هغه د کولو په هکله فیصله د انسان عقل او فکر ته پرېښودل شوې ده. په دې اساس د اسلام سپیڅلی دین په عین حال کې چې د انسان د کړو او افکارو لپاره جامع پروګرام لري او حتی خاص حکم ورپاره بیان شوی دی.او دا کره د اسلام د منسجمو ارزښتونو په لړ کې سنجول کېږي خو اسلام هیڅکله د عقل او تفکر د څراغ په مړ کولو پسې نه دی بلکه په بیلا بیلو ډولو نو او بیانونو سره یې انسان د علم زده کړې او د خپل فکر او عقل زیاتولو او دنورو له علمه استفاده کولو ته بللی دی. لکه هلته چې فرمایي:« اطلبوا العلم من المهد الي اللهد»[1] یا په یوه بل حدیث کې فرمایي:«طلب العلم فریصة علي کل مسلم و مسلمة»[2]

د لا ډیرې مطالعې لپاره دغو منابعو ته مراجعه وکړئ:

۱. محمد تقي مصباح یزدي، مجموعه اثار (مشکات) پرسش و پاسخها، ۱ تر ۵ ټوک.

۲. محسن غرویان، پرسشهاي فکري و دیني جوانان،

۳. محمد امین احمدي، انتظار بشر از دین.

وروستی حدیث:

امام صادق علیه السلام فرمایي: څوک چې خپل دین د خداي د کتاب له لارې وپیژني که غرونه له خپل ځایه وخوځېږي هغه به په دین کې لړزانه نه شي او څوک چې همداسې او بې له مطالعې یوه عقیده ومني همداسې په ناپوهۍ به یې پرې هم ږدي.[3]

---

۱. مجلسي، بهار الانوار، ۱ ټوک ۱۸۰ مخ.

۲. صحیح بخاري اول ټوک ۱۲ مخ.

۳. بحارالانوار ۲۳ ټوک ۱۰۳ مخ.

# په اسلام کې د عقيدې ازادي او د مرتد والي حکم

پوښتنه:

په اسلام کې د عقيدې د ازادۍ او مرتدوالي حکم څرنګه له يو بل سره جمع کيدے شي.

ځواب:

د دغه ځواب لپاره اول بايد د عقيدې د ازادۍ او مرتدوالي په معنا او شرايطو ځان پوه کړو.

د عقيدې ازادي په دې معنا ده چې انسان وکولے شي بې له څه بهرني دباو او په خپله خوښه يوه ليدتوګه او فکر ومني دهغه په هکله بحث او خبرې وکړي او تبليغ يې وکاندي.[1]

د ارتداد او مرتدوالي مطلب دا دے چې انسان د يوه دين له منلو وروسته چې دلته ترې زمونږ مطلب اسلام دے، له هغه وګرځي او د هغه عقيدې د سموالي انکاروکړي[2]

اسلام د عقيدې ازادي په خاصو شرايطوسره مني. دا چې د عقيدې ازادي يو ښه او منل شوے کار دے په دې هيڅ شک نيشته ځکه چې د الهي پيغمبرانو د بلنې منل په ازادۍ ولاړ دي که انسانان د خپلې عقيدې په منلو کې ازاد نه وئ

---

۱. رک مصباح يزدي، محمد تقي، نظريه حقوقي اسلام ۱۷۸ مخ.

۲. رک جواد املي عبدالله، ارتداد و آزادي، پاسدار اسلام، ۲۲ کال، **۲۲۵** شميره ۷ مخ.

هیچا به له خپلو تیرو عقیدو لاس نه شو اخستلی او د پیغمبرانو بلنې ته به یې مثبت ځواب نه شو ورکولی. د پیغمبرانو د بلنې حجیت یوازې د عقیدې د ازادۍ په منلو سره منطقي توجیه مومي.[1]

پر دې سربیره په لږ شان دقت او ځیرتیا سره معلومیږي چې اساسا عقیده چې یو باطني او قلبي مسله ده یوه تکویني چاره ده چې هیڅ جبر او زور پکې نیشته. د «لا اکراه في الدین» ایت د عقیدې د همدغه تکویني اړخ بیانونه کوي.[2] نو هیڅوک په ګواښ یا لالچ سره نه شو مجبورولی چې په یو ځیز ایمان راوړي داسې کس کیدی شي په ظاهره په دغه خبره اقرار وکړي خو هغه وخت په دې خبره قلبي ایمان پیدا کوي چې هغه صحیح وګڼي او له زړه او د اختیار له مخې یې و مني.

باید پام ولرو چې في الجمله ازادي که د عقیدې په مسله کې وي او که په نورو مسلو کې که څه هم ښه او مطلوب ځیز دی خو مطلقه ازادي نه ممکنه ده او نه مطلوبه، ځکه چې په ټولنه کې د ظلم، ازادۍ ګډوډۍ او ګمراهۍ سبب کیږي نو هیڅ یو عاقل کس د مطلقې او بې قید او شرطه ازادۍ دفاع نه کوي. اسلام هم د ازادۍ لپاره پولې ټاکي چې اسلامي ټولنه له عقیدتي ګډوډیو او د دښمنانو له سازشونو په امن کې پاتې شي.

دلویدیځ په تفکر[3] او اسلامي تفکر کې د ازادۍ فرق په دې کې دی چې

---

۱. رک: جعفر سبحاني، آزادي و مردم سالاري، ۹۱ مخ.

۲. رک: مصباح یزدي هماغه ۳۸۱ مخ.

۳. البته هغه څه چې د لویدیځ له خوا د ازادۍ په نامه تبلیغیږي او د اسلام د کلتور په خلاف د یوې حربې په خلاف ترې د لویدیځ مخالفان استفاده کوي یوازې یو شعار دی او نن سبا د تبلیغاتي او نورو دوکو په وسیله د دغو ازادیو په غیر مستقیمې خلاف ورزۍ سربیره د هغوي په اقداماتو کې د دغه ادعا ښکاره خلاف ورزۍ هم لیدلي شو. له مسلمانو جینکو او محصلاتو سره د لویدیځ توکم پاله سلوک یې چې له تعلیمه د هغوي د محرومۍ سبب کیږي یوازې یوه بیلګه ده. د فرانسې لوي مورخ او فیلسوف روژې ګارودي د خپل کتاب د لیکلو به وجه چې پکې یې د تحقیقاتو په اساس په نړیوال جنګ کې د میلیونونو یهودیانو عامله وژله (هولوکاسټ) دروغ بللې ده محاکمه او په درنو مالي سزاګانو محکوم شو. دهغه د کتاب په خپریدو بندیز ولګیده او هغه خپرندویه ټولنه چې دهغه کتاب یې چاپ کړي و بنده کړي شوه. دا په داسې حال کې دي چې د سلمان رشدي لخوا د شیطاني ایتونو کتاب د لویدیځو ټولنو او دولتونو په مرسته په لسګونو ژبو وژباړل شو او د انګلستان دولت هره ورځ ددغه لیکوال د سر د ساتلو لپاره ډیرې پسې لګوي او د سلمان رشدي

لویدیځه ازادي په خپلو ټولو حدودو او حوزو کې په دې مقیده ده چې د ټولنې دنورو وګړیو ازادي خرابه نه شي او د دولت له سیاستونو سره مخالفه نه وي.خو اسلامي ازادي د دیني شرایطو او حددودو په رعایتولو مقیده ده. [1] په اسلام کې د عقیدې دبیان ازادي تر دې حده ده چې د ټولنې د کسانو د ګمراهۍ او نیکمرغۍ ته د خطر د پیدا کیدو سبب نه شي.. هر کس کولی شي په یوه عقیده – که غلطه هم وي – باور ولري او تر هغه وخته چې ښکاره یې نه کړي له فقهي او حقوقي نظره کوم حکم نه لري. که څه ممکنه ده یو کس په دغه غلط باور او عقیدې حقیقي کمال ته له رسیدلو پاتې شي یا د اخرت د عذاب مستحق شي.[2] د دیني عقایدو په هکله تحقیق او پوښتنه نه یوازې بده خبره نه ده بلکه په اسلام کې مطلوبه هم ده.د اسلام مقدس دین د حق غوارې بحث او څېړنې هرکلی کوي او هغه خپله تبلیغي روده ګڼي: ادْعُ إِلَى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيلِهِ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ[3]

خلک په حکمت او ښه پند سره د خپل پالونکي لارې ته وبله! او له هغوي سره په ډېره ښه طریقه بحث وکړه بې له شکه چې ستا پالونکی له هغه چا چې د هغه له لارې بې لارې شوې دے او په هغو کسانو چې هدایت یې موندلی دے له ټولو خبر دے.

قران مجید د راانده تقلید غندنه کوي او فرمايي: وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّبِعُوا مَا أَنْزَلَ اللَّهُ قَالُوا بَلْ نَتَّبِعُ مَا أَلْفَيْنَا عَلَيْهِ آبَاءَنَا أَوَلَوْ كَانَ آبَاؤُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ شَيْئًا وَلَا يَهْتَدُونَ.[4]

---

لپاره د سزا د حکم ختمولو له اسلامي هیوادونو سره د اړیکو د ښه کولو لپاره د ورامخکې شرط په توګه ټاکلي دي. په دې اساس هغه څه چې د لویدیځو ټولنو له خوا په اسلامي هیوادونو کې د د بیان د ازادۍ د فاع په توګه تبلیغیږي یو علمي بحث نه دي بلکه هغوي له دغو شعارونو په خپلو موخو پسې دي.

۱. رک، هماغه ۳۷۵، او جعفري سبحاني آزادي و مردم سالاري ۸۹.

۲. رک مصباح یزدي، هماغه ۳۸۱ مخ.

۳. نحل ۱۲۵ ایت.

۴. بقره ۱۷۰ ایت.

«او کله چې هغوي ته وويل شي: د هغه څه چې خداي نازل کړې دي پيروي وکړئ، وايي:نه، مونږ دهغه څه چې خپل پلاران اونيکونه مو پرې موندلې دي پيروي کوو، ايا که دهغوي پلاران په څه نه پوهيدل او هدايت يې نه واي موندلي؟] بيا به يې هم دوي پيروي کوله]

خداي تعالی په خپل پيغمبر ټينګار کوي چې په خپله هم اګاه وي او پيروانو ته هم اګاهانه بلنه ورکړي هلته چې فرمايي: قُلْ هَذِهِ سَبِيلِي أَدْعُو إِلَى اللَّهِ عَلَى بَصِيرَةٍ أَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِي وَسُبْحَانَ اللَّهِ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ[١]

او ووايه دا زما لاره ده زه او پيروان مې په پوره بصيرت سره، خلک د خداي لور ته بلي، پاک دے خداي پاک او زه له مشرکانو نه يم.

د هغو شبهاتو په هکله بحث او خبرې چې کله کله د انسان په افکارو يرغل کوي حتی که د دين د ښکاره او جوتو احکامو او معارفو په خلاف هم وي بيا هم باک نه لري او يوه عادي خبره ده ځوک چې د حقيقت په لټه کې وي خپلې پوښتنه او شکونه حقيقت ته د رسيدلو او تحقيق سريزه ګرځوي. داسې کس مرتد نه ګڼل کيږي.[٢]

يوازې په هغه بڼه کې په يو کس د مرتد نوم لاګو کيږي چې دځينو شرايطو لکه، بلوغ، عقل او اخيتار پر لرلو سربيره لانديني شرايط هم ولري[٣].

١. ښه په اګاه اوخبره توګه د دين د يو ضروري او بديهي چارې انکار وکړي.

د دين ضروريات هغو چارو ته وايي چې دهغو په ديني والي کې هيڅ شک نيشته. لکه دلمانځه روژې او حج واجبوالي يا په توحيد، قيامت، دوزخ او جنت او داسې نورې عقيدې. [٤]

٢. په دې خبره هم پوه وي چې که ددين د ضرورياتو انکار وکړي نو دې دمطلب دا دے چې د پيغمبر د نبوت او د دين د اساس انکار يې کړے دے.

---

١. يوسف ١٠٨ ايت.

٢. الانصاري، محمد علي، الموسوعه الفقهيه، الميسره٢ ټوک ١٩ مخ.

٣. رک : صراحي، سيف الله، احکام مرتد از ديدګاه اسلام و حقوق بشر ٣٣۴.

۴. الانصاري، محمد علي هماغه ماخذ، ٢ ټوک ١٢ مخ.

که یو کس په دغو شرایطو سره د دین د ضروریاتو انکار وکړي که د علمي بحثونو له لارې هغه ته رسیدلی وي او که دنیاوي هدف ته د رسیدلو لپاره یې دغه عقیده ښکاره کړې وي په حقیقت کې له اسلامه وتلی دی او د مرتد حکم په هغو لاګو کیږي.[1]

البته که یو کس بې له بد نیتۍ او یوازې د علمي شبهاتو په نتیجه کې د دین انکار وکړي د خداي په نزد معذور دی او د اخرت په عذاب نه اخته کیږي. په دې اساس که یو کس له ناپوهۍ د دین دیوې مسلې انکار وکړي یا د یوې غیر ضروري او بدیهي چارې انکار وکاندي یا د خپلو خبرو په لوازماتو یعنې دا چې د ده دغه خبره د قران او د معصومینو دخبرې[2] د تکذیب سبب کیږي نه وي خبر. دا سې کس مرتد نه ګڼل کیږي.روښانه خبره ده چې دوو شرطونو یعنې، «پوهې» او «د خپلې کفري خبرې التزام» دا حکم هغه کس ته نه شاملیږي چې د خپلو دیني عقیدو په هکله په شک او تردید اخته شوی وي نو یوازې هغه کسان مرتد شمیرل کیږي چې په جدي او قطعي ډول د دین انکار وکړي.

دارتداد په بحث کې ډیر ظرافتونه موجود دي چې باید توجه ورته وشي. یو دا چې باید پوه شو چې دا حکم د اسلام د ختمولو او کمزورې کولو د سازشونو او توطئو په وړاندې یو دفاعي تدبیر دی. نه دا چې د اسلامي عقیدو د جاج او کره کتنې د مخ نیوې لپاره وي.[3]حقیقت دا دی چې اسلام تر بل هر دینه زیات په اګاهانه ایمان او عقل او فکر کولو ټینګار لري او له ړانده تقلیده خلک منعې کوي او له خرافاتي او چټي عقیدو سره مبارزه کوي. په دې اساس د هغه کس لپاره چې له اسلامي معارفو سره لږه شان اشنایي هم لري دا وهم او شک نه پیدا کیږي چې ګوندې اسلام د ارتداد په حکم سره غواړي د علم او ازاد فکرۍ مخه ونیسي ځکه چې د اسلام یو لوی ویاړ دا دی چې د علم او پوهې په ترلاسه کولو او تحقیق ټینګار کوي. قران کریم د ځینو اهل کتابو د د توطئې په ښکاره کولو

---

۱. هماغه ۱۵ مخ.
۲. رک جواد املي، هماغه، ۲۲۵ ګڼه ۷ مخ.
۳. رک سبحاني جعفر، هماغه ماخذ ۱۰۹ او ۱۱۷ مخونه.

سره د ارتداد د حکم فلسفه او حکمت ښه په ډاګه بیان کړے دے او فرمایي:
وَقَالَتْ طَائِفَةٌ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ آمِنُوا بِالَّذِي أُنْزِلَ عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَجْهَ النَّهَارِ وَاكْفُرُوا آخِرَهُ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ[1]

ځینو اهل کتابو وویل: سهار په هغه څه چې په مومنانو نازل شوي ایمان راوړئ او ماښام له اسلامه لاس واخلئ ؛ښایي مسلمانان له خپل ایمانه ستانه شي.

دغو کسانو غوښتل په ایمان راوړلو او بیا کافریدلو سره په خلکو کې د اسلام د عقایدو په هکله شکونه پیدا کړي. اروابښاد علامه طباطبایي د دغه ایت په تفسیر کې فرمایي: هغوي په مومنانو کې د شک پیدا کولو او د خپل کار د توجیه لپاره ویل: مونږ فکر کاوه چې اسلام په خپل حقانیت او سموالي دلیلونه لري خو کله چې مسلمان شو وموليدله چې داسې نه ده او د دغه دین د باطلوالي شواهد مونږ ته ښکاره شول له همدې امله مو له اسلامه لاس واخسته.[2]

په هغو شرایطو کې په ځیرنې سره چې اسلام د ارتداد د ثابتولو لپاره ټاکلې دي دا ټکے ښه تایدیږي. یعنې د مرتد لپاره د سختې سزا له ټاکلو د اسلام مقصد دا وه چې د فتنې او په اسلامي عقیدو د لوبو کولو مخه ونیول شي او د خداي او انسان د ډیرو لویو ارزښتونو یعنې صحیح اسلامي عقیدو او ایمان ساتنه وشي. او په دې اساس په تحقیقي، نه تقلیدي ایمان په ضرورت په ټینګار سره د دښمنانو د توطئو او د اسلامي عقیدو د کمزورۍ کولو لاره بنده شي.

لکه څرنګه چې اشاره وشوه، که د یو مسلمان ارتداد یوازې دهغه په باطني عقیدو پورې رالنډیږي که څه هم هغه د خپل ښه اخروي کماله پاتې کیږي خو دهغه په حق کې د مرتد سزا او نور فقهي احکام نه اجرا کیږي. خو که دغه عقیده ښکاره کړے شي او دغه کس خپل ارتدادي افکار ټولنې ته وغځوي. نو له دې امله چې دا یو بهرنے عمل دے حقوقي او فقهي پایلې هم لري په دې بڼه کې که دهغې ښکاره کول په دې ډول وي چې په اسلامي ټولنه کې دغلطو افکارو د خپریدو سبب شي، اسلامي دولت او ټولنه د نهي عن المنکر له مخې او د ګمراهوونکو عقیدو د

---

۱. آل عمران ۷۲ ایت.

۲. رک: طباطبایي محم حسین، المیزان في تفسیر القران، قم ۲۵۷مخ.

خپریدو د مخ نیوي لپاره له هغې سره مخالفت کوي او دا ډول ازادي محدودوي.دا یوه بالکل منطقي او معقوله خبره ده.[1]

په دې اساس لکه څرنګه چې دولتونه او خلک د یوې خطرناکې ناروغۍ د مخنیوي لپاره مخنیوونکې او احتیاطي تابیاوې کوي باید د معنوي او روحي ناروغیو دمخنیوي لپاره هم چاره وکړي ځکه چې د انسان د دې او هغې دنیا نیکمرغي په صحیح عقیدو پورې تړلې ده. نو لکه څرنګه چې یو کس د غل او یا د نشه ایزو توکو دخرڅوونکي په سزا کولو کې شک نه کوي همداراز د صحیح عقیدو د غلا کوونکي او دغلطو عقیدو د نشه ایزو توکو او هلاکوونکو او ګمراهو نظریود خپروونکي په سزا کې هم باید شک ونه شي. په دې وجه اسلام چې تر ټولو لوے ارزښت صحیح ایمان او عقیده ګڼي په ډیر حساسیت سره د الهي او صحیح عقیدو د سلامتیا په فکر کې د ے. له همدې امله د عقیدې ازادي او ښکاره کول او د هغې تبلیغ په هغه بڼه کې صحیح ګڼي چې د ټولنې د وګړو د دنیا او اخرت سلامتیا ونه ګواښي.

یو ځل بیا یادونه کوو چې که څه هم عقیده لرو چې د اسلام اساسات د نړۍ له حقایقو سره برابر دي او هر کس په صحیح او منطقي رودې سره په هغه کې تحقیق کولے شي او که دا کار وکړي نو د اسلام په صحیح والي په ایمان راوړي خو که څوک د علمي شبهو او په وجه د دین د ضروریاتو انکار وکړي او په نتیجه کې د دین د اصل دسموالي منکر شي نو مرتد ګڼل کیږي. که څه هم معذور وي او داخرت عذاب ونه لري.

په دې اساس په اسلامي کلتور کې د تحقیق او پوښتنې لپاره لاره خلاصه ده خو که څوک د ناسالمو او د اسلام د مخالفو افکارو تبلیغ غواړي په ټولنه کې هغه ته دتوطئې او ورانکارۍ اجازه نه ورکول کیږي.

**د لا ډیرې مطالعې لپاره لاندینیو سرچینو ته مراجعه وکړئ:**

**١. عبدالله جوادي آملي، ارتداد و آزادي، پاسداري اسلام، ٢٢ کال، ٢٢٥**

---

١ . د لاډیرو معلوماتو لپآره مراجعه وکړئ. حقیقت، سید صادق و میر موسیوي، سید علي، مباني حقوق بشر از دیدګاه اسلام و دیګر مکاتب، تهران، ٢٢١ مخ.

شمیره ۷ مخ

۲. سيف الله صرامي، احکام مرتد از دیدگاه اسلام و حقوق بشر، ۳۳۴مخ.

۲. محمد تقي مصباح يزدي، نظریه حقوق اسلام. ۳۷۵ مخ.

## وروستے حدیث

امام علي (ع) فرمايي: اي خدايه! مونږ تاته پناه دروړو له دې چې ستا له اوامرو ووځو، يا ستا له دينه بهر شو. یا نفساني غوښتنې پر مونږ پرله پسې يرغلونه وکړي چې ستا له خوا له راغلې هدايته وغړيږو.[1]

---

۱. نهج البلاغه خطبه ۲۱۵.

# په انسانانو کې د اختلاف علت

پوښتنه:

په انسانانو کې د اختلاف علت څه دے او کومه نظریه د منلو وړ ده؟

سریزه:

په انسانانو کې یو موجود حقیقت په هغوي کې د قومي، پرګنیزو، توکمیزو، ژبنیزو، جنسي او عقیدتي او د اسې نورو اختلافاتو شتون دے. د دغه اختلافونو اصلي سرچینه څه ده؟ ایا دا مادي دلایل لري[1] یا د خلقت نظام داسې دے؟ که علت یې مادي عوامل وي، ولې تر اوسه په دې لړ کې چا څه کړې نه دي؟ او که علت د خلقت نظام وي نو په دغو اختلافاتو کې څه حکمت پټ دے چې بشر یې له معلومولو عاجز دے. او د انسان په ژوند کې د دغو اختلافاتو فایده څه ده؟

د دغو پوښتنو ځواب به درته په دې ځېړنه کې وړاندې کړو. باید ووایو چې د پوښتنو له ظاهره داسې معلومیږي چې د پوښتنه کوونکي مقصد ظاهري اختلافونه دي هغه اختلافونه چې د قومي، ژبني یا توکمیزو شکلونو کې موجو

---

۱. لکه جغرافیایي اختلافات چې د اعتباري پولو د کښلو له امله پیدا کیږي په داسې حال کې چې د نړۍ پنځګر یو دی او ټول انسانان د هغه مخلوق دي او خداي تعالي په قران پا په نورو کتابونو کې نه دي ویلې چې پلانکي خلک یا د پلانکي ځاي خلک د ژوند کولو حق لري او نور یې نه لري خو د دغو پولو او سرحدونو جوړوونکي د خپلو کسانو لپاره د ځینو حقوقو قایل دي او نورو ته هغه حقوق نه ورکوي او دد غه پولو د ختمولو لپاره هم څه کار نه کیږي.

دي او کله کله سبب کيږي چې ځينې کسان پر ځينو نورو ځان لوړ وګڼي. په دې اساس هغه څه چې په دې لړ کې مونږ ته لاره پرانستلې شي قران کريم ته مراجعه ده.

## ۱. د قران له نظره د انسانانو اختلاف

تر ټولو ښکاره ايت چې د اختلافونو د پيدا کيدو علتونه بيانوي او دا کار د خداي تعالی کار ګڼي دا مبارک ايت دي چې فرمايي: يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ.[1]

[اي خلکو مونږ تاسو له يوه سړي او ښځې وپنځولئ او تاسو مو ډلې ډلې او قبيلې قبيلې کړئ چې يو بل وپيژنئ(دا د امتياز او لوړاوي سبب نه دي) په تاسو کې په خداي تر ټول ګران او نزدې کس هغه دے چې تر نورو زيات متقي وي. او خداي تعالی پوه او خبر دے]

د دغه ايت په تفسير کې راغلې دے چې شعوب د شعب جمع ده چې د شين په زبر سره دے. او له قبيلې اعم او لوے دے (اعم من القبيله و قبائل جمع قبيله، فلاالنسب و لا الشعب و القبيله موجبة لرفع الانسان وکرامته)[2] او قبايل د قبيلې جمع ده چې په عربو کې د تمايز او لوړاوي معيار ټولنيز طبقاتي نظام و. او البته، نسب، شعب او قبيله، د انسان د لوړاوي او لوے والي سبب نه ده. په مفردات راغب کې راغلي دي: هغه قبيله چې له يوې لويې طايفې او واحده جدا کيږي جمع يې «شعوب» ده. دا کلمه د وادي په معنا هم کارول کيږي چې مطلب يې د دوو غرونو په مينځ کې فاصله او دره ده چې يوې خوا ته يې لوړ غرونه او بل لورې ته يې خواره واره او ټيټ غرونه وي نو کله چې له هغې خوا چې غرونه ټيټ دي نظر وشي نو ګمان کيږي چې يو غر دے خو خور وور، او کله چې له مقابل لورې وکتل شي نو داسې ښکاري چې دوه غرونه يو ځاے شوي دي[3]

---

۱. حجرات ۱۳ ايت

۲. سيد محمد حسيني شيرازي، تبيين القرآن، دارالعلوم بيروت لبنان، دوهم چاپ ۱۴۲۳ هـ ق، ۵۳۰ مخ.

۳. حسين بن محمد راغب اصفهاني، المفردات في غريب القرآن، دارالعلم الدار الشامية. دمشق،

دا استعمال د خاص مقصد لپاره شوے دے چې د ایت په ذیل کې ورته اشاره شوې ده. پخوا په عربو کې دغه تقسیمونه موجود وو، او دعربو ځینې مشهور طبقات او پرګنې دا وې: شعب، قبیله، عماره، بطن، فخذ او فصیله، د عربو شعوب بیا په دې ډول وو: ربیعه ومضر، ځینو مفسرانو لیکلي دي چې شعب بیا په مختلفو قبایلو تقسیمیږي لکه له ربیعه بکر، له مضر تمیم، قبیله بیا په عمایر، عماره بیا په بطون، او بطن په افخاذ او فخذ په فضایلو تقسیمیږي.[1]

د دغه ایت د دلالت تر ټولو مشهور مورد د انسان د خلقت د پیل او د خلقت بیان دے. دا ایت په حقیقت کې د داروین په شان د ځینو مادي پالو د نظریې رد دے چې باوري و انسان په جوړښت کې د بدلون له امله هویت بدل کړے او د بیزو په شان له یوه مخلوقه یې اوسني شکل ته تکامل موندلے دے. د دغه ایت له نظره انسان د بل مخلوق بشپړ شوے شکل نه دے بلکه یو مستقل نوع دے چې خداي تعالی بې له څه بیلګې د ځمکې له موادو پیدا کړے دے.[2]

هغه اختلافات چې د انسان په ذات یا د ټولنې په ظاهر کې په پام کې نیول شوې د خاصو موخو لپاره دي. د دین د مخکښانو او نظر خاوندانو په اند «په انسانانو کې د ژوند د ځانګړتیاوو په لاسته راوړولو کې د سلیقې او استعدادونو اختلاف هغه څیز دے چې طبیعي اوتکویني جرړو ته ورګرځي. داسې څه نه دي چې بدلون پکې راوستل شي یا د ژوند په مختلفو درجو کې د دغه اختلاف مخه ونیول شي. تر کومه چې تاریخ ښیي بشري ټولنو تر ننه چې مونږ ژوند کوو دغه اختلافونه لرلې دي»[3]نو دغه ډول اختلافونه د انسانانو په ارزښت څه نه ورزیاتوي او د لوړاوي او ویاړ سبب نه ګرځي.حال دا چې مفسرانو ویلې دي چې ایت شریف غواړي د نسبي ویاړونو جرړه وچه کړي په دې اساس د )من ذکر و انثي( د جملې

بیروت لومړي چاپ ۱۴۱۲ ه ق، ۴۵۵مخ.

۱ . سید امیر ابوالفتوح حسیني جرجاني، آیات الاحکام،(الجرجاني) انتشارات نوید ،تهران، لومړي چاپ،۱۴۰۴ ، هق، ۲ټوک ۳۷۲ مخونه.

۲ . سید محمد حسین طباطبایي، المیزان في التفسیر القرآن، ترجمه سید محمد باقر موسوي همداني، قم د اسلامي انتشاراتو دفتر. ۵ چاپ ۱۳۷۴.

۳. هماغه ۴ټوک ۵۳۷ مخ.

مطلب به آدم او حوا وي او ددغه ايت معنا به داسې شي چې مونږ تاسو له يوه پلار او موره پيدا کړئ تاسو ټول له دغو دوو تنو زيات او خپاره شوې يئ که سپين يئ او که تور که عرب يئ او که عجم..[1]

يو بل مفسر ددغه ايت په لمنه کې ليکلې دي: دلته خداي تعالی انسانان په نسبونو سره له وياړ کولو منع کړي دي. عکرمه له ابن عباسه نقل کړې ده چې د خداي رسول وفرمايل:تاسو له يوه سړي او ښځې زيږول شوې يئ.....، هيڅ يو پر بل لوړاوی نه لري مګر په تقوا سره... ويلی شو چې په دغه ايت کې ټولې انساني ټولنې ته خطاب دی او تر ټولو مهم اصل چې د نظم او کراري ضامن دی بيانوي. او د دروغو ارزښتونو په وړاندې د انسان اصلي ارزښتونه په ګوته کوي. [2]

اوس دا پوښتنه کولی شو چې په انسانانو کې د اختلاف د لحاظ او خيال ساتلو علت څه دی؟ په ځواب کې بايد ووايو: له نيکه مرغه په خپله قران مجيد دغه پوښتنې ته ځواب وايي او د دې چارې سبب يې ښه صفا بيان کړی دی. قران مجيد فرمايي [لتعارفوا] يعنې ما تاسو داسې وګرځولئ چې يو بل وپيژنئ او خپل نسب او قوم قبيله و او پلار نيکونه له يوه بله وپيژنئ. لوی مفسر علامه طبرسي په مجمع البيان کې وايي: که داسې نه وای معاملې او راکړې ورکړې به فاسدې شوې وې او دنيا به خرابه شوې وه او د حديثونو نقلول به ممکن نه وو »[3]

نور پوهان هم له دغه ايته په همدې علت پوه شوې دي ا و په ډاګه يې ليکلې دي چې:

« که فرض کړو چې خلک ټول يو شان او د يو شکل وي نو يو بل به نه پيژني د ټولنی لړۍ به وشليږي او انسانيت به ختم شي نو له دغه ايته چې خلک يې ځانګې ځانګې او قبيله قبيله کړي مقصد دا دی نه دا چې په يو بل وياړ او فخر وکړي په نسبونو او په پلرونو او ميندو وياړ.[4]

---

۱. هماغه ۱۸ ټوک ۴۸۸ مخ.
۲. تفسير نمونه ۲۲ وک ۱۹۲ مخ.
۳. ترجمه مجمع البيان في تفسير القرآن ۲۳ ټوک ۲۲۳ مخ.
۴. ترجمه الميزان، ۱۸ ټوک ۴۸۸ مخ.

د دغو توپیرونو شتون نه یوازې مشکل نه جوړوي بلکه ربښتیني ارزښتونه یې مطرح کړې دي او دروغ ارزښتونه ورځینې لیرې کوي په دې علت چې بې له شکه هر انسان د دې غوښتونکے دے چې ارزښتناک او ویاړمن وي له همدې امله په خپل ټول وجود او طاقت سره هڅه کوي چې ارزښت او مقام لاسته راوړي خو د ارزښت د معیار پیژندل د کلتورونو له تفاوت سره بشپړ توپیر لري او کله کله داسې کیږي چې دروغجن ارزښتونه د ربښتینو ارزښتونو ځاے نیسي.[1]

## ۲. د انساني اختلافاتو نور عوامل

ځینې کسان هڅه کوي ثابته کړي چې د انسانانو د اختلافاتو اصلي علتونه جنیټک د وراثت، ژواک چاپیریال او د اسې نور مسایل دي. د میکرولوجۍ په څانګه کې لومړے کس چې دا نظریه یې وړاندې کړه فرانسوي ډاکټر سزار لومبرزو و. هغه د انسان په کوپړۍ ډیرې څیړنې وکړې او د مجرمو کسانو د کوپړیو له څیړنې یې د خپل نظریې بنسټ کیښوده هغه دا نظریه وړاندې کړه چې ځینې کسان فطرتا مجرمان وي او وې ویل چې انسان جرم او جنایت په میراث وړي.نو مجرمان هغه کسان دي چې په اتاویزم اخته کیږي او قهقرایي یا شاته تګ پیلوي. هغه باوري و چې دغه ژن له پیشو انسان ته منتقل شوي دے. اول یې داخبره کلي وکړه او بیا دتجزیې قایل شو. زمونږ ټول جسمي صفتونه له دغو ژنونو متاثره دي لکه ونه، مخ، پوزه او داسې نور او دا نظر منل شوے هم و خو خبره دا ده چې ایا زمونږ اکتسابي او اخلاقي ځانګړتیاوې جنټیک[2] جوړه او سرچینه لرلے شي؟ تر اوسه دا خبره چا نه ده کړې او یوازې د اوریدلو په حد کې ده.

ځکه چې د دغه نظریې د منلو لازمه دا ده چې د انسان اختیار تر پوښتنې لاندې راشي که د ژن یا وراثت عامل د جرمونو یا د انسانانو په کړنو کې د اختلافتونو سبب شي نو بیا به د انسان د اختیار د مسئلې څه کیږي؟ که انسان د کوم خاص ژن له امله جرم کوي یا اخلاقي بدۍ کوي نو بیا یې محاکمه او ورته

---

۱. تفسیر نمونه ۲۲ ټوک ۱۹۸ مخ.

۲. ژان بنایي، جرم شناسي ترجمه رضا علومي.

سزا ورکول منطقي توجیه نه لري ځکه چې انسان مجبور دی او مجبوره انسان معذرو دی. نو دا دومره محکمې او قضایي اداري بیا د څه لپاره دي ؟ په دې اساس د ژن یا وراثت عامل د انسانانو د اختلافاتو اصلي دلیل نه دی او د لومبرزو نظریه نن سبا یوه متروکه نظر یه ده[1]. له بلې خوا آب وهوا او ژواک چاپیریال د انسان په خلقیاتو اغیزه لري. د انسان ښه ظاهر په ښې آب وهوا کې د اوسیدو له امله دی ښه خواړه او صفایي او روغتیا هم په دې چاره کې دخیل دي او د انسان روحیات تاند او پیاوړې کوي. لکه څرنګه چې له خپلو خپلوانو سره نژدې روحي ارتباطات هم د انسان د کړو په ښه کولو کې رول لري. خو دا ټول په انسان کې هغه اختلافونه چې مونږ پرې بحث کوو نه پیدا کوي او نه شو ویلی چې ژواک چاپیریال سبب کیږي چې انسانان له یو بل سره ژور او اوږده اختلافونه ولري.

پایله:

که څه هم په انساني ټولنو کې موجود اختلافات یوه طبیعي چاره ده خو دا تفاوتونه د طبیعي عواملو په وجه نه دي د انسانانو د اختلافونو او فرقونو اصلي لاملونه اعتقادي، علمي او د مختلفو ګټو او سلیقو ټکر دی خو په دوي کې هیڅ یو اختلاف موجه دلیل نه لري نو په دې برخه کې صحیح خبره نه شو موندلی. خو هغه څه چې لوی خداي په قران کې راوړې دي یوه ډیره منطقي او دمنلو وړ خبره ده.

نو خداي تعالی د دغه ظاهري اختلافونو پیدا کوونکی او اصلي علت دی. د ځینو خاصو انګیزو او محرکاتو لپاره د دغو اختلافاتو شتون ضروري و هغه محرکات چې په قران کې ورته اشاره شوې ده؛ یعنې حقیقي هدف دا دی چې انسانان له یو بله وپیژندل شي چې انساني اړیکي په منظم ډول ترسره شي او د ژوند په چارو کې کومه ستونزه پیدا نه شي ځکه چې د انسان جوړښت او خلقت په دې ډول دی چې وجودي استقلال نه لري او په ټولو چارو کې انسانان یو بل ته

---

۱. مهدي کي نیا، روان شناسي جنایي، انتشارات رشد، تهران، پینځم چاپ ۱۳۸۳ لومړي ټوک ۴۷ مخ.

محتاج دي که مونږ یو بل ته د انسان اړتیاوې د هغه له مطلقې یو رنګۍ سره یو ځاے په نظر کې ونیسو نو ډیرو لویو ستونزو ته به متوجې شو چې حتی د انسان د ژوند په نظام کې د ګډ وډۍ سبب کیږي. له دغو ستونزو سره د نه مخامخیدو لپاره په انساني ټولنو کې دغه ډول مصلحت په نظر کې نیول شوے دے چې د انسانانو اړیکي اسانه شي

د لاډیرې مطالعې لپاره مراجعه وکړئ:


۱. سید محمد حسیني شیرازي، تبیین القرآن، دار العلوم بیروت لبنان، دوهم چاپ ۱۴۲۳ ه ق،

۲. سید امیر الفتوح حسیني جرجاني، آیات الاحکام (الجرجاني) ه ق، انتشارات نوید، تهران، لومړي چاپ، ۱۴۰۴ دوهم ټوک.

۳. سید محمد حسین طباطبایي، سید محمد باقر، ترجمه موسوي همداني، المیزان في التفسیر القرآن، دفتر انتشارات اسلامي قم، پینځم چاپ، ۱۳۷۴، دوهم ټوک.

۴. مترجمان، ترجمه مجمع البیان في تفسیر القرآن، انتشارات فراهاني، تهران لومړي چاپ، ۱۳۶۰، هـ لمریز کال ۲۳ ټوک.

۵. ناصر مکارم شیرازي تفسیر نمونه، دارالکتب الاسلامیه تهران، لومړے چاپ، ۱۳۷۴ کال ۲۲ ټوک.

۶. مهدي کي نیا، روان شناسي جنایي، انتشارات رشد، تهران، پینځم ټوک، ۱۳۸۴ کال ۱ ټوک.


وروستے حدیث:

امام علي علیه السلام فرمایي: په خلکو کې د تفاوتونو او فرقونو علت د هغوي د برخلیک ډول ډول والے دے، ځکه چې انسانان په پیل کې د تروې، خوږې، سختې او نرمې خټې ترکیب و، نو بیا د خټې د نزدې والي په اندازه یو بل ته نزدې او د خټې د لیرې والي په اندازې له یوه بله لیرې د ي. یو ښکلے او کم عقله، بل لوړ قده خو کم همته، یو بدرنګ خو نیک او بل لنډے، ښه فکري دے، یو د پاکې خټې خاوند خو بد اخلاقه دے او بل د ښه زړه خاوند دے خو عقل یې

ګڼه وړ دے او بل هم سترګور او د خبر زړه وينا وال د ے.[1]

---

۱. نهج البلاغه ۲۳۴ خطبه.

# د انسان په راتلونکي د خداي علم او د اختيار مسئله

پوښتنه:

ايا زمونږ په راتلونکې او مستقبل د خداي د علم معنا دا ده چې مونږ خپل اختيار نه لرو او زمونږ برخليک له هماغه اوله ليکل شوے دے؟

سپړنه:

دا پوښتنه د جبر او اختيار د بحثونو له ټولګې څخه ده. مسلمانو متکلمانو د جبر شبهې ته دځواب په ترڅ کې دې شبهې ته هم ځواب ويلے دے. هغه څه چې د دغه شبهې د مطرح کيدو سبب کيږي ځينې قراني آيتونه او روايتونه دي چې په هغوي کې خداي تعالى داسې خالق معرفي شوے چې د انسان له هر څه، تير، حال راتلونکي او او دا نسان له ډيرو وړو وړو حالاتو او جزييـاتو خبر دے. دا خبريدل او علم هم ازلي دے په دې معنا چې تر دې ډير مخکې چې حتى د زمان او وخت مفهوم پيدا شي او نړۍ جوړه شي دا علم موجود و. له هغو ډيرو ايتونو چې په دې معنا دلالت کوي لاندينيو ايتونو ته اشاره کولے شو:

۱. جَعَلَ اللَّهُ الْكَعْبَةَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ قِيَامًا لِلنَّاسِ وَالشَّهْرَ الْحَرَامَ وَالْهَدْيَ وَالْقَلَائِدَ ذَٰلِكَ لِتَعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَأَنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ[1]

«خداي تعالى له هغه څه چې په اسمانونو کې دي او هغه څه چې په ځمکه کې

---

۱. مائده ۹۷ آيت.

دي خبر دے او خداي په هر څه پوه دے»

۲. وَهُوَ اللَّهُ فِي السَّمَاوَاتِ وَفِي الْأَرْضِ یَعْلَمُ سِرَّکُمْ وَجَهْرَکُمْ وَیَعْلَمُ مَا تَکْسِبُونَ[1]

«هغه په اسمانونو او ځمکه کې خداي دے ستاسو له ښکاره و او پټو خبر دے او په دې هم خبر دے چې څه کار کوئ»

۳.أَلَا یَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ وَهُوَ اللَّطِیفُ الْخَبِیرُ[2]

«ایا هغه ذات چې مخلوق یې پیدا کړے دے د خپل مخلوق له برخلیکه خبر نه دے.په داسې حال کې چې لطیف او پوه دے»

له بل پلوه اسلام انسان داسې مخلوق پیدا کړے دے چې په خپله انتخاب کولے شي او خپله اراده او اختیار لري او خپل برخلیک باید په خپله وټاکي هغه ا یتونه چې د انسان د اختیار ښودنه کوي ځینې یې دا دي:

۱.إِنَّا هَدَیْنَاهُ السَّبِیلَ إِمَّا شَاکِرًا وَإِمَّا کَفُورًا[3]

«مونږ انسان ته لاره وښودله اوس دهغه خپل کار دے چې د خداي د شکر لاره خپلوي او که د کفران»

۲.وَهَدَیْنَاهُ النَّجْدَیْنِ[4]

«مونږ انسان ته دوه لارې وښودلې د نیکمرغۍ او بدمرغۍ لاره»

اصولا که یو کس ته اختیار ورنه کړے شي په هغه تکلیف او ذمه واري اچول بې معنا دے دا چې اسلام مونږ ته یو لړ فرایض راکړې دي د دې ښودنه کوي چې خداي انسان د اختیار او ارادې خاوند ګڼي.ځکه چې که داسې نه وه نو بیا خو له انسانه د یو کار غوښتل او دغه عمل بې فایدې کیږي اوخداي تعالی چې ځان حکیم ګڼلے دے حکیم کس بې فایدې او لغوه کار نه کوي.

که دا دوه مطلبه د یوه بل په څنګ کې کیږدو ظاهرا تناقض او ټکر پکې

---

۱. انعام دریم ایت.
۲. ملک ۱۴ آیت.
۳. انسان دریم ایت.
۴. بلد ۱۰ ایت.

ښکاري چې مونږ يې د يوې داسې قضيې په شکل چې دوه اړخونه لري بيانولے شو: که لومړے خبره صحيح وي يعنې خداي تعالى له هر څه خبر وي او حتى د انسانانو له برخليکه هم له ازله خبر وي نو بايد دوهمه خبره غلطه وي يعنې دا چې انسان د خپل راتلونکے جوړوونکے او مختار نه دے. خو که دا دوهمه خبره صحيح وي نو بيا به لومړے خبره غلطه وي. ځکه چې که خداي له هر څه خبر وي نو قطعا په دې به هم خبر وي چې مونږ به په راتلونکے کې څه عملونه کوو او زمونږ انجام به دوزخ وي که جنت، که دا قضيه سمه وي معنا يې دا ده چې په ژوند کې زماهڅې او کوشش بې فايدې دے ځکه چې له هماغه ورځې معلومه ده چې زه به څه کوم او زه ددغه تقدير د بدلولو وس نه لرم ځکه چې که خپل تقدير بدل کړے شم نو دخداي علم به تر پوښتنې او شک لاندې شاري او مونږ خو دخداي علم نه شو بدلولے. عمر خيام دغه مطلب ته په يو شعر کې اشاره کړې ده:

من مي خورم و هر که چو من اهل بود مي خوردن من به نزد او سهل بود.
مي خوردن من حق از ازل مي دانست گر مي نخورم علم خدا جهل بود

د دې بيان منطقي نتيجه جبر دے او په خپله د جبر مفهم هغه څه دے چې د اسلام په مکتب کې رد ګڼل شوے دے.

ځواب:

په دغه ژورې فلسفي پوښتنې[1] د لا زيات پوهيدو لپاره لازمه ده چې يوه سريزه وړاندې کړو:

## د جبر او اختيار د مسئلې په هکله مختلف نظرونه

د اسلامي کلام په تاريخ کې دا پوښتنه د جبر او اختيار يا د قضا او قدر د مشهورې پوښتنې يوه برخه ده. د دې پوښتنې په وړاندې ځينو کلامي مکتبونو لکه اشاعره د تفريط لاره خپله کړې ده او ورته تسليم شوې دي. او د انسان دا ختيار انکار يې کړے دے او ځينو نورو بيا لکه معتزله و، د تفريط لاره خپله کړې ده او د دې لپاره چې د انسان اختيار ثابت کړي د انسان په کارونو کې يې د

---

۱. مرتضي مطهري، مجموعه آثار ۱ ټوک ۳۲۷مخ.

الهي قضا او قدر انکار کړے دے. ځینو نورو بیا لکه د اشاعره متکلمانو، بیا د مینځ لاره غوره کړې ده چې د کسب په نظریې مشهوره ده خو شیعه مکتب د اهل بیتو د علم په رڼا کې د الامر بین الامرین نظریه وړاندې کړې ده یعنې نه پوره جبر او نه پوره اختیار بلکه یوه متوسطه او مینځ لاره چې سمه لاره هم ده. که دا مسئله حل کړو نو زمونږ دا پوښتنه هم خپل په خپله حل کیږي او د خبرې خپریدو ته اړتیا نیشته.[1]

دې پوښتنې ته د ځواب لپاره دوه اصلي لارې وړاندې شوې دي چې په لنډه توګه یې بیانوو:

لومړۍ حل لاره: د علت او معلول له نظام سره د خدای تعلق

دا حل لاره د شهید مطهري په شان ځینو نورو فلسفیانو وړاندې کړې ده او د روښانیدو لپاره یوې سریزې ته اړتیا لري:

الف: فیلسوفان په دې باور دي چې د علیت اصل یو داسې اصل دے چې په هرې نړۍ که وو که په دې دنیا کې او که په اخرت کې، که په مادي عالم کې او که په مجرداتو کې. او په هر حالت کې چې وو له دغه علمه بهر عمل نه شو کولے. او هر کار باید یو سبب ولري.

ب: د علیت اصل یو طولي اصل دے په دې معنا چې معلول د وجودي مرتبې له نظره تر علته وروسته دے.

ج: خدای تعالی یا د فلسفې د اصطلاح مطابق واجب الوجود د دغه لړۍ په سر کې دے او ټول علتونه په اخره کې د خدای حق ته رسیږي.

خدای تعالی ټاکلې ده چې انسان یو مختار او اختیار لرونکے مخلوق وي یعنې علم ولري اراده ولري، او هغه ته مختلف انتخابونه مخې ته شي او هغه د خپل عقل او علم په اساس دغه انتخابونه وجاجوي او کوم یې چې په ګټه وي هغه وکړي او څه یې چې په تاوان وي هغه پریږدي.

---

١. رک، شیخ الصدوق التوحید، باب الجبر و التفویض علي رباني ګلپایګاني، الکلام المقارن، پینځم څپرکي، هري اوستریس و السین، فلسفه علم کلام، ترجمه احمد آرام، د جبر او اختیار بحث.

دغه سریزې ته په پام سره دغه پوښتنې ته د فلسفیانو ځواب په دې ډول دے چې خداي تعالی یوازې په ځان او په خپل کار علم لري د هغه د علم مطلب دے د علیت او معلولیت نظام؛ هغه نظام چې د انسان په هکله يې تقاضا دا ده چې د هغه کارونه په خپل اختیار او انتخاب سره وشي. په دې اساس خداي تعالی د انسان په کړو او ټاکنو نيغ په نيغه علم نه لري بلکه په هغه نظام علم لري چې پیدا کړے يې دے. هغه نظام چې يو جوړوونکے جز يې د انسان اختيار دے. له دې امله انسان په خپله د خپل برخليک جوړوونکے دے. او خداي هم د انسان په برخليک همداسې علم لري چې هغه په خپل اختيار خپل راتلونکے جوړ کړي. او هيڅ داسې برخليک چې له مخکې ټاکل شوے وي او خداي ته پرې علم وي موجود نه دے؛ ځکه چې د خداي علم په معدومو څيزونو نه وي. او کوم کارونه چې انسان يې د خپل راتلونکي لپاره انتخابوي په ازل کې معدوم دي؛ ځکه چې د علت وروستے جز يې چې د انسان انتخاب دے معدوم دے.

شهيد مطهري د دغه نظريې په وضاحت کې فرمايي:

په بله ژبه د خداي ازلي علم په نظام علم دے؛ يعنې له خاصو علتونو د معلولاتو په صادريدو علم. په عيني خارجي نظام کې علتونه او فاعلونه له يو بل سره فرق کوي. ځينې طبيعي دي او ځينې شعوري. ځينې مختار او ځينې مجبور، په علمي نظام کې هم خبره داسې ده.يعنې هر فاعل لکه څرنګه چې په عيني عالم کې دے په علمي عالم او نړۍ کې هم دے. بلکه بايد ووايو لکه څرنګه چې په علمي عالم کې دے په عيني عالم کې دے. هغه څه چې دخداي د علم اقتضا ده دا ده چې د مختار فاعل فعل له مختار فاعله او د مجبور فاعل فعل له مجبور فاعله ترسره شي نه دا چې دخداي د علم تقاضا وي چې يو مختار فاعل مجبور شي او يا مجبور فاعل مختار شي. نو هغه ازلي علم چې د انسانانو په اعمالو او کړو موجود دے په دې معنا دے چې خداي له ازله پوهيږي چې څوک به په خپل اختيار او ازادۍ سره اطاعت کوي يا ګناه او سرکښي، دا د هغو کسانو د خبرې مطلب دے چې ويلي يې دي «انسان يو بالاجبار مختار دے» نو ازلي علم د هغه د هغه ازادۍ او اختيار په ختمولو کې دخالت نه لري چې په علمي او عيني نظام کې

ورته مقرر شوے دے چې هغه به ازاد او مختار وي.[1]

## په دغه استدلال نیوکه

خو دا ځواب په پوره توګه د دغه پوښتنې ابهام نه شي لیرې کولے ځکه چې په نهایت کې دې ځاي ته رسیږي چې د خداي تعالی علم دانسان د افعالو په جزئیاتو نه دے بلکه په نظام دے او دا نظام د انسان په معامله کې په دې ډول دے چې انسان دخپلو کارونو جزئیات په خپله ټاکي د دے بیان مطلب دا کیږي چې مونږ دخدا ے علم محدود کړو علامه مجلسي د حکماوو د بیان له دغه لازمې خبر و او له همدې امله فرمایي چې:

«پوه شه چې دا زمونږ د مذهب له ضروریاتو او بدیهیاتو دے چې خداي تعالی ابدا او ازلا له ټولو څیزونو خبر دے که هغه جزئیات وي که کلیات بې له دې چې په علم کې یې کوم بدلون راشي او له دې مسئلې سره ټولو فلسفیانو مخالفت کړے دے نو ځکه یې په جزئیاتو دخداي علم نفي کړے دے[2] له همدې امله باید دوهم ځواب ورکړل شي.

**دوهمه حل لاره**

**د ذات په مقام او د فعل په مقام کې د علم تفکیک (جدا والے)**

ځینو فیلسوفانو او عارفانو ویلې دي چې خداي تعالی دوه ډوله علم لري. یو د ذات په مقام کې علم دے او بل د فعل په مقام کې. د ذات په مقام کې دهغه علم ایجابي علم دے خو د فعل په مقام کې د هغه علم تبعي دے. تصور وکړئ چې خداي تعالی مخکې له دې چې مخلوق او کائنات وپنځوي دیو انجنیر په توګه (لکه څرنګه چې په روایتونو کې راغلې دي)[3] د نړۍ کلي نقشه یې په خپل ازلي او

---

۱. شهید مطهري، مجموعه اثار، ۲ ټوک ۴۳۵ مخ (همدا نظریه ښاغلي ایت الله جعفر سبحاني هم منلې ده. رک، جعفر سبحاني، فرهنګ عقائد و مذاهب اسلامي ۱ ټوک ۲۲۳ مخ جعفر سبحاني، الالهیات علي هدي الکتاب و السنة ۱ ټوک ۱۱۳ مخ).

۲. علامه باقر مجلسي بحار الانوار ۴ ټوک ۸۷ مخ.

۳. مثلا د نج البلاغې په ۱۹۱ خطبې کې حضرت علي فرمايیة«متبدع الخلق بعلمه» یعنې مخلوق یې دخپل علم په اساس وپنځاوه، یا په یو بل رواي کې له امام صادق علیه السلام راغلې دي چې « د

ابدي علم کې لرله. دا علم هماغه په احسن نظام علم دے. يعنې هغه ته له ازله معلومه وه چې د نړۍ د خلقت لپاره په مختلفو انتخابونو کې دا ډول خلقت تر ټولو غوره دے او تر ټولو ښه کمال به ولري. د خداي دا علم ايجابي دي؛ يعنې د دې په اساس مخلوق وپنځول شو. د موجودو مخلوقاتو ټولې ځانګړنې او خصوصيات دخداي په علم کې ټاکل شوې او معلوم دي او همدا ځانګړنې دي چې په ګوته کوي چې کوم څيز د کوم کار لپاره پيدا کړے شي. په دې مينځ کې همدا علم دے چې ټاکي چې انسان بايد يو مختار مخلوق وي چې په خپل عقل ارادې او خبرتيا سره حرکت وکړي او خپل راتلونکے جوړ کړي.

له دې امله چې په هر څيز علم حاصلول د هغو په لوازماتو هم د علم حاصليدل دے خداي تعالی په ازل کې د خپلو مخلوقاتو په ټولو آثارو او لوازماتو چې لا يې نه دي پيدا کړي هم علم لري )خو د فعل په مقام کې نه د ذات په مقام کې؛ ځکه چې د خداي فعل هم ازلي دے( نو هغه د فعل په مقام کې خبر دے چې پلانکے انسان به په خپل اختيار او اراده پلانکے کار کوي او خپل برخليک به په دغه ډول ټاکي. خو دا علم که څه هم تبعي دے او ماهيت ته له نظره په وروسته مرحلې کې پروت دے او يا د عارفانو په وينا په عين څيزونو مقرر دے نو هيڅکله انفعالي نه دے په دې ډول چې مثلا تر څو هغه کار ونه شي او معلوم نه شي خداي پرې نه وي خبر.[1] په دې اساس خداي تعالی زمونږ د کارونو په ټولو جزئياتو علم لري او له همدې امله حتی په جنت او دوزخ کې د انسانانو له انجامه خبر دے خو دا علم جبر له ځان سره نه لري ځکه چې د انسان خصوصياتو ته په نظر سره هغه ذات ته معلوم دے.

تاسو تصور وکړئ چې که مثلا د يو انسان جنتيکي نقشه په کامل ډول او بې

---

خداي علم تل و او دهغه علم د هغه عين ذات دي هغه و په داسې حال کې چې هيڅ معلنوم علم نه، اوريدل دهغه عين ذات دي په داسې حال کې جې هيڅ مسموع او اوريدل کيدونکي څيز موجود نه او کله چې څيزونه خلق شول او معلوم شول د خداي علم په دغو معلوماتو تعلق وموند.)اصول کافي ١ټوک ١٠٧ مخ، ح١.

١. د ذاتي، فعلي، انفعالي او تبعي علم په مينځ کې په فرق د پوهيدلو لپاره مراجعه وکړئ: سيد کمال حيدري، التوحيد ١ټوک ٢١۴ مخ.

له کمي او زياتي ساينس پوهانو او ډاکټرانو ته ورکړل شي او هغوي د يوه انسان د جنونو په مطالعې سره له هماغه اوله ووايي چې دا ماشوم يا انسان به په راتلونکي کې دژوند ، نفسياتو او حتی فکر له اړخه څه خصوصيات لري. نو په دغو خصوصياتو د ډاکټرانو او پوهانو علم د دغه خصوصياتو په وجود کې څه دخالت نه لري. اوس که له دغو يو خصوصيت دا وي چې دا کس به په خپله اراده په پلانکي وخت کې پلانکے کار کوي دا علم د دې سبب نه کيږي چې له انسانه اراده او اختيار واخستل شي. همدا خبره د انسان د افعالو او کارونو په جزئياتو دخداي په علم هم صادقه راځي. خداي تعالی زمونږ د کارونو په ټولو جزئياتو خبر دے او په حقيقت کې په يوه ډول صحيح هم ده چې زمونږ برخليک له اوله خداي ته معلوم وي او مونږ به اخر هماغه انجام ته رسيږو. خو کومه لاره چې مونږ وهو زمونږ په خپل اختيار ده.مونږ د دغه لارې په وهلو کې له خپل اختيار او ارادې کار اخلو او ددغه برخليک د بدلولو لپاره هيڅ کار نه کوو. نه دا چې مونږ ته د دې کار امکانات نه دي راکړل شوي. د دې خبرې تر ټولو ښه دليل ضمير او وجدان ته مراجعه کول دي. که مونږ په يو داسې دوه لاره کې ګير شو چې يو طرف ته د ګناه کول او بل طرف ته يې پرېښودل وي نو خپل ضمير ته مراجعه کوو او دغلته وينو چې مونږ د دغه ګناه د نه کولو طاقت هم لرو. خو خداي ته له ازله معلومه ده چې بلاخره مونږ به د دغه ګناه کول يا نه کول انتخابوو. له همدې امله خداي تعالی زمونږ پر برخليک له ازله خبر دے بې له دې چې له مونږ اختيار واخستل شي.

د لا ډيرې څيړنې لپاره وګورئ:

۱. مرتضي مطهري، مجموعه آثار، ۱ ټوک ۳۲۸مخ.

۲. جعفر سبحاني، فرهنګ عقايد و مذاهب اسلامي، ۱ ټوک ۲۲۳ مخ.

وروستے حديث:

امام باقر عليه السلام فرمايي: خداي تعالی په هغه څه چې خلق کوي يې هميشه خبر و، نو د څيزونو او مخلوقاتو له پيدا کيدو مخکې پر هغو د خداي

علم هماغه شان دے لکه څرنګه چې پرې له پیدا کیدو روسته علم لري.[1]

1. منتخب ري شهري، منتخب میزان الحکمه، پیشین، ۳۲۹ مخ.

# له قضا او قدر او برخليک (تقدير) سره د انسان رابطه

پوښتنه:

د انسان آزادي څرنګه د هغه له قضا او قدر يا د برخليک له مسلې سره سمون خوري؟ او که تقدير ليکل شوے وي نو د انسان د ازادۍ مطلب څه دے؟

ځواب:

يوه مسله چې دانسان پام يې ځانته اړولے او په په الهي دينونو منجمله اسلام کې د خداي پيژندنې په زمينه کې مطرح ده او فلسفيانو او متکلمانو د الهياتو په بحث کې هغه څيړلې دا ده چې ايا د نړۍ نظام او چارې د يو مخکې جوړ شوې پروګرام په اساس جوړې شوې چې نه بدليدونکے دي او يو پټ په عين حال کې بې نهايت او ځواکمن قدرت چې برخليک يا تقدير او قضا و قدر ورته وايي د نړۍ په ټولو چارو واکمني کوي او هغه څه چې په حال او راتلونکي کې کيږي پخوا ټاکل شوې او قطعي شوې دي منجمله دا چې انسان به کله دنيا ته راځي او کله به ځي او کوم کارونه چې کوي د هغو په کولو مجبوره دے؟ ايا واقعا دا خبره شته؟ او يا د نړۍ کارونه منجمله د انسان کردار مخکې له مخکې او په مخکينې پروګرام سره ترسره کيږي.

په انسان او نړۍ کې هيڅ ډول زور او جبر واکمن نه دے او نسان پوره پوره ازاد دے او په خپل تقدير او چارو پوره واک لري. دريم فرض هم شته دے او هغه دا چې قضا او قدر په ډير قدرت سره په درسته نړۍ او دهغې په پيښو واکمن دے

خو په عين حال کې دا نه بدليدونکے نفوذ د انسان ازادۍ ته هيڅ تاوان نه رسوي له دې همدې ځايه ده چې:

۱. ځينو کسانو د انسان په اختيارے کارونو کې د خدا ے د قضا و قدر عنصر منلے دے خو د انسان حقيقي اختيار يې نفي کړے دے.

۲. ځينو کسانو ويلې دي چې د قضا و قدر دايره يوازې د انسان په غير اختياري چارو پورې محدوده ده او د انسان اختياري کارونه د قضا او قدر له دايرې بهر دي.

۳. دريمه ډله بيا راغلې ده او هڅه يې کړې چې د انسان په اختياري افعالو کې قضا او قدر ثابت کړي خو په عين حال کې د انسان اختيار او انتخاب هم ثابت کړي او ووايي چې انسان د خپل برخليک د ټاکلو اختيار لري.

## ۱. د قضا او قدر د مسلې اهميت

د قضا او قدر او جبر او اختيار مسله هم يوه کلامي او فلسفي مسله ده هم علمي او ټولنيزه او هم د هغو بحثونو په ليکه کې راځي چې مخالفانو ورته بدې ويلې دي. له دې امله ددې بحث څيړل ډير ضروري دي او بايد روښانه شي چې صحيح نظريه چې د ايتونو او روايتونو او د عقل له نظره سمه ده روښانه شي.

### الف) په مسلمانانو کې د قضا او قدر د مسلې د اهميت مخينه

تاريخ وايي چې کلاسيک بحثونه د لومړۍ هجرۍ پيړۍ له لومړۍ نيمې پيل شول. داسې ښکاري چې په کلامي بحثونو کې تر ټولو زړه مسله د انسان د جبر او اختيار مسله ده. په دې اساس د اسلام د لومړيو وختونو په مسلمانانو کې د دې مسلې مطرحيدل يوه طبيعي چاره ده؛ ځکه چې دا مسله د انسان له برخليک سره اړه لري. نو هر کس غواړي چې دا مسله وڅيړي.[1]

ښايي داسې کوم انسان ونه موندل شي چې لږ شان علمي او فلسفي فکر

---

۱. جعفر سبحاني، القضاء والقدر في العلم و الفلسفة الاسلاميهة،مترجم محمد هادي اليوسفي، ۲۲ مخ.

ولري خو دا مسله ورته مطرح نه شي او داسې ټولنه نه پیدا کیږي چې د فکر یوې مرحلې ته داخل شوې وي او دا مسله ورته نه وي پیدا شوې. اسلامي ټولنه هم له دغه کلي قانونه مستثني نه ده. په قران او د پیغمبر په ویناوو کې د برخلیک او قضا و قدر په هکله پرله پسې او په ښکاره ډول مطرح شوې ده ډیر داسې روایتونه او ایتونه شته چې د انسان د ازادۍ او اختیار خبره پکې راغلې ده. خو کوم نه جبرانیدونکې تاوان چې ځینو فلسفي مکتبونو د قضا او قدر او دانسان د برخلیک مسلې ته رسولې دې ډیر د پام وړ دې. ځینو لویدیځو لیکوالانو چې له دینه په تیره بیا له اسلامه نه دي خبر ویلې دي چې دینونو د قضا اوقدر مسله د خپل اساسي پروګرام برخه ګرځولې ده په دې اساس دینونه انسانان له هر ډول کوشش او فعالیته منعې کوي او د وګړیو او ټولنو د پیښو نیکې او بدې پیښې یې د قضا او قدر یعنې تقدیر په غاړه اچولې دي. له دې امله دینونه په ځای د دې چې د انسانانو د تحرک او خوځندوالي سبب شي د جمود او رکود سبب یې ګڼلې دې. ختیځوال هم په دې معامله کې له خپلو لویدیځوالو ورونو شاته نه دي پاتې او همدا پوچ تصور او ګمان یې په مغزو کې پاللې چې دینونه حتی د اسلام دین چې د بشریت تر ټولو نوې دین دې په قضا او قدر عقیده لري او د وګړي او ټولنې د اصلاح په لاره کې د فعالیت مخه نیسي.

د دې عقیدې علت په دې کې دې چې لویدیځوال له اسماني دینونو په تیره بیا د اسلام له متین دینه سمه اطلاع نه لري په داسې حال کې چې په ختیځوالو کې د دې خبرې علت پر بې خبرۍ سربیره د هغوي په ټولنو خورې بې وزلۍ او بدبختۍ ته هم ورګرځي.دا خبره له تاریخي اړخه تقریبا ثابته شوې ده چې هغه قامونه چې نه دي توانیدلي یا یې نه دي غوښتې چې خپلو مادي او معنوي ارمانونو او ایډیالونو ته ورسیږي خپل ځان ته د قضا او قدر تقدیر برخلیک چانس قسمت او داسې نورو شیزونو سره دلاسه ورکوي همدا خبره رسول الله مبارک (ص) داسې فرمایلې ده:

"سیکون في آخرهذ الامة قوم یعملون بالمعاصي ثم یقولون هي من الله قضاء و قدر افإذا لقیتموها فأعلموهم اني بريءمنهم".

په دې امت به داسې وخت راشي چې ګناهانې او تباهۍ به کوي او د د غه تباهۍ او ځوړتیا د توجیه لپاره به وايي چې دا خو د خداي تقدیر او خوښه داسې وه. که داسې کسان مو ولیدل هغوي ته ووایئ چې زه له هغوي بیزاره یم.[1]

نو هغه څه چې له تاریخي روایتونو او ایتونو استفاده کیږي دا دي چې د قضا او قدر بحث هماغه د اسلام په لومړیو وختونو کې هم مطرح و. په دې اساس ضرورت نیشته چې مونږ د دې مسئلې لپاره نور دلایل او سرچینه ولټوو. که څه هم یو شمیر مستشرقانو د دې لپاره چې د اسلامي معارفو ا صل نفي کړي هڅه کړې په هر ډول چې وي د هغو ټولو علومو لپاره چې په مسلمانانو کې موجود دي له اسلامي نړۍ بهر جرړه ولټوي. په تیره بیا په مسیحیت کې ورته جرړه ولټوي.

## ب) قضا او قدر په لغت کې

۱. د قضا مطلب د ے فیصله ورکول، که هغه فعلي وي او که قولي، که خداي ته یې نسبت ورکړل شے او که غیر خدا ته. د قدر معنا ده اندازه کول، یعنې یو څیز په اندازې او مقدار سره او په هغه مخصوص ډول چې دخداي حکمت یې اقتضا کوي وټاکې.[2]

۲. د قضا معنا ده حکم کول او فیصله کول. قاضي ته له دې امله قاضي وایي چې دخلکو په شخړو کې فیصلې کوي او دهغوي کار فیصله کوي. د قدر معنا ده اندازه کول او ټاکل او وړل.[3]

## ج) قضا په اصطلاح کې

«قضا د نړۍ او هستۍ قانونمنیدل دي چې د خداي په قدرت پیدا شوې دي او دا قضا د انسان له اختیاري کارونو سره هیڅ اړه نه لري که څه هم نیتجې یې په یوې غړمله ټولګې کې انعکاس مومي»

---

۱. علي بیاضي، صراې المستقیم کتابخانه حیدریه، نجف ۱۳۸۷ لومړي ټوک ۲۲ مخ.
۲. راغب اصفهاي المفردات في غریب القرآن کتاب فروشي مرتضوي، ۱۳۲۲ دوهم چاپ ۲۲۳ او ۳۰۲ مخونه.
۳. مرتضي مطهري، مجموعه آثار، انتشارات دیارلسم چاپ، ۱۳۸۵ صدرا، ۱ ټوک ۲۸۱ مخ.

د قدر مطلب د ے د هستۍ او کائناتو قانونمن اړخ. په دې[1] اساس له قدر سره د قضا نسبت داسې د ے لکه د کار او نتيجې نسبت چې وي؛ يعنې د خداي فعل قضا و د کائناتو او هستۍ د جريان شکل قدر د ے؛ ځکه چې قضا د خداي خالقيت د ے، يعنې دخداي قضا دې ته اشاره ده چې خداي تعالی د يوې قانونمنې او منظمې نړۍ او کائناتو پيدا کوونکے د ے او قدر دهغه د خالقيت نتيجه ده. چې په ټولو مخلوقاتو او موجوداتو پلې شوې ده. او همدا د دغه ايت معنا ده چې فرمايي: [و کل شئ عنده] يعنې هر يو ځيې د هغه په نزد په انداز او مقدار سره د ے.: اللَّهُ یعْلَمُ مَا تَحْمِلُ كُلُّ أُنْثَى وَمَا تَغِیضُ الْأَرْحَامُ وَمَا تَزْدَادُ وَكُلُّ شَیءٍ عِنْدَهُ بِمِقْدَارٍ[2]

## ۲. د مسئلې د مبهم والي علت

د مسئلې د ابهام او پيچلوالي علت د اد ے چې انسان له يوې خوا په خپله د جبر نښې ويني او له بلې خوا په ځان کې اختيار او خپلواکے هم احساسوي. په دې ډول چې له يوې خوا هغه ويني چې هيڅکله په خپل اختيار دې دنيا ته نه د ے راغلے بلکه په زوره راغلے د ے او په ناغوښتې توګه په يو خاص نظام کې لو ے شو ے د ے. او د وراثت، کلتور چاپيريال او ټولنې په شان عواملو د هغه په روح او نفسياتو اثر پرېښے د ے او هغه تر يوه حده تر دغو عواملو لاندې هم له پيدا کيدو مخکې يا وروسته او هم تر مرګه پورې ديو مجبور او لاس تړلې مخلوق په شکل کې راغلے د ے چې په يوې خاصې لارې او بهير کې حرکت کوي او که ازاد وا ے اوا ختيار يې لرلے بايد له بهره پر ي دا عوامل نه وې اغيزمن شوې، او هغه يې بايد په يوې خاصې لارې کې نه وا ے بوتللے. له بل پلوه، هغه له بلوغ او لوييدو وروسته په ځان کې يو ډول اختيار او ازادي محسوسوي او ويني چې په کارونو کې مجبوره نه د ے که څه هم په خپل اختيار دې دنيا ته نه د ے راغلے او په

---

۱. محمد تقي جعفري جبر و اختيار موسسه تدوين و نشر اثار علامه جعفري دريم چاپ، ۱۳۸۵، ۲۷۳ مخ.
۲. رعد ۸ ايت.

دې خاص نظام کې لوې شوې دې خو اوس يې هر څه په خپل لاس کې دي او د ژوند له خنډونو او مشکلاتو سره مبارزه کولې شي. او هر کار چې او فيصله چې په ژوند کې کوي څوک يې نه شي مجبورولې.

انسان چې کله په خپل ژوند کې دغه پيچلتيا ويني نو ځينې انسانان مجبورا د جبر قايل شي او د انسان په ژوند کې په اختيار او ازادۍ سترګې پټې کړي. ځينې نور بيا د پوره اختيا ر قايل شوې دي او د هغوي عقيده د تفويض ده چې ګوندې انسان په هر کار کې ازاد دې. په نتيجه کې د فلسفې او کلام په ډګر کې دوه متضاد قطبونه پيدا شوې دي. دا په داسې حال کې دي چې يوه بله ډله هم شته چې دريمه لاره يې خپله کړې ده او د دغو دواړو لورو نزاع يې ختمه کړې ده. دا دريمه لاره هماغه د جبر او تفويض د مينځ لاره ده چې په قران او سنتو کې پرې تصريح شوې دې او عقلي او فلسفي برهان هم تاييد کړې ده.

اوس غواړو چې دغه درې لارې درته وڅيړو او په لاملونو او او پايلو يې هم وغږيږو.

## ۳. دماده پالو جبري پالنه

دماده پالو لخوا که هغه اعتقادي وي او که اخلاقي ماده پال جبر ته د ګروهنې سببونه دوه ځيزونه دي.

۱. يوه انګيزه او لامل فلسفي دې چې هماغه د عليت او معلوليت قانون دې؛ يعنې هره مادي چاره ځانته علت لري. د انسان کار هم يوه مادي چاره ده چې د انسان په ژوند کې رامينځته کيږي او علت ته ضرورت لري او د دې نهايي علت هماغه د انسان خپل اختيار او اراده ده. دا غوښتنه او اراده د يو لړ نورو پټو او ښکاره عواملو معلول ده او هغه عوامل د انسان احساسات، غرايز، وراثت، تربيت، ټولنه، اوبه، هوا، خاوره او داسې نور داخلي او خارجي عوامل دي چې د انسان په ختہ کې اراده او غوښتنه پيدا کوي او انسان په غوښتې يا ناغوښتې ډول يو عمل او کار ته کښ کول کيږي او په خپله اراده دغه کار کوي.[1]

---

۱. جعفر سبحاني منشور جاويد ۴ ټوک ۳۴۴مخ.

۲. بله انګیزه او محرک یو نفسیاتي محرک دی، په دې معنا چې په ازادۍ عقیده په انسان کې مسئولیت او د دندې او فرض احساس پیدا کوي خو کوم کسان چې د اخلاقو او کړچار له اړخه ماده پال دي د هر ډول وګړنیز او ټولنیز مسئولیت د لیرې کولو او د خپلو غریزو او جذباتو د سړولو په غرض د لا زیاتې آزادۍ د لاسته راوړلو لپاره د جبر او بې اختیارۍ مسئله مطرح کړې او هغه یې دخپلو غلطو کړو لپاره یو قانوني ډال ګرځولی او د جبر لاره یې خپله کړې ده.

## د دغه نظریې پایلې

۱. دا نظریه له انسانه اراده سلب کوي او انسان د نورو حیواناتو په لیکه کې راولي چې ټول کارونه یې د غریزې او احساساتو له کبله دي او په خپله هیڅ اختیار نه لري.

۲. که انسان په خپلې ارادې او اختیار کې د یو لړ بهرنیو مادي عواملو تر اغیز لاندې راشي چې په حقیقت کې همدغه بهرني عوامل د انسان برخلیک ټاکي، نو بیا خو د یو وګړي او ټولنې د اصلاح لپاره کوشش او ا خلاقي او رغنده ارزښتونو ته د هغوي بلل بې فایدې دي ځکه چې تربیت، بدلون او سمې لارې ته راړول خو په هغه مخلوق کې معنا لري چې هغه خپله اراده او اختیار خو ولري نه دا چې یو مجبور او بې اختیاره مخلوق وي. نو نتیجه دا کیږي چې په جبر عقیده دوه پایلې لر ي: یو دا چې انسان په خپل ژوند کې هیڅ ډول دنده او مسوولیت نه لر ي او له هر ډول ژمنې او تعهده برې دی. ځکه چې اختیا ر نه لري او دوهمه دا چې جبر د هر ډول بدو کارونو او بدماشۍ توجیهوونکې کیدلی شي ځکه چې انسان هر بد کار وکړي وایي به چې دا خو تقدیر هم داسې و.

## ۴. د ځینو الهیونو د جبري والي دلایل

هغه څه چې د ځینو الهي انسانانو په عقیدې کې د جبري توب د عقیدې سبب شوې دوه خبره دې دي: لومړی په خالقیت کې توحید دی چې ایجابوي مونږ تر یوه موثره (اغیزشیندونکي) په زیاتو موثرو عقیده ولرو او ووایو چې ټول اثرونه او موثرونه مستند دي خداي تعالی یعنې د ټولو شیزونو خالق ته.

دوهم: په دې معنا تقدير او برخليک چې ټول اسماني شريعتونه په يوه نظر دي چې دهر کس د ژوند لاره له مخکې تاکل شوې ده، ځينې شاعرانو، په ژوند کې ناکامه کسانو او په فساد کې ډوبو کسانو هڅه کړې ده چې خپلې ټولنيزې ماتې او ککړتياوې له دې لارې توجيه کړي او داسې وبريښوي چې قران مجيد فرمايي: قُلِ اللَّهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ وَهُوَ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ[1] وو ايه خداي تعالى د ټولو شيزونو پيدا کوونکے دے يوازينے او غالب دے او همداراز انعام سورې د ۱۰۲، ۱۰۱ ايتونو او د زمر سورې ۲۲ ايتونو او د غافر سورې ۴۳ ايتونو مضمون همدا معنا لري؛ يعنې که په خالقيت کې د توحيد اصلي يو ثابت او نه بدليدونکے اصل وي او خداي تعالى د ټولو شيزونو پيدا کوونکے دے، نو د انسان کارونه هم د خداي يو شيز او يو کار دے او د دغه کار پيدا کوونکے هم خداي دے او انسان يې په کولو کې مجبوره دے.

## د دغه نظريې نيمګړتيا

پر تيرو دوو مفسدو سربيره، لومړے دا چې د انسان د آزادۍ او اختيار انکار د ټولو ارزښتونو د ختميدو سبب کيږي. په نتيجه کې به په نيکو او بدو کسانو کې هيڅ فرق نه وي؛ ځکه چې هيڅ يو په ښه او بد عمل کې مختار او ازاد نه و بلکه يو ډول مرموزو او ليدونکو يا ناليدلو عواملو انسان ښو يا بدو عملونو ته کاږلے دے.

دوهمه دا چې ګناهکار انسان له يوې مودې وروسته له خپل کاره پښيمانه کيږي او که انسان ازاد نه وي نو بيا خو پښيماني معنا نه لري.[2]

## ۵. تفويض او انسان ته د هر څه پريښودل

د تفويض د عقيدې لرونکې ډله د انسان د ازادۍ په مسله کې د« الهي عدالت» د ساتلو لپآره تر دې حده مخکې تللې ده چې خداي ته د انسان د فعل او

---

۱. رعد ۱۲ ايت.

۲. جعفر سبحاني منشور جاويد، چاپ ۱۳۲۴، ۳۲۹ مخ.

د ټولو موثرونو د اثر د رسيدو يې انکار کړے دے بلکه انسانان يې د مخلوقاتو په خلق او په ايجاب او تاثير کې مستقل ګڼلے دے. ابن سينا او علامه حلي وايي: دوي له دې نه ويرېږي چې ووايي که فرضا خداي نه وي هم نړۍ خپل کار جاري ساتلے شي؛ ځکه چې نړۍ او مخلوقاتو په پيدا کيدو کې خداي ته ضرورت درلود او کله چې دا پيدا ايښت راغي نو اوس دغه اړتيا ليرې شوه او کاينات په بقا او فعاليت کې خداي ته اړتيا نه لري. دې ډلې د کايناتو په نسبت د خداي پوزيشن داسې ګڼلے دے لکه د يوې ودانۍ په نسبت چې د جوړوونکي موقعيت وي يعنې لکه څرنګه چې ودانۍ په جوړيدو کې او اصل هستۍ کې جوړيدونکي ته اړتيا لري او په بقا کې ورته نه ده محتاج بلکه په دوانۍ کې موجودې طبيعي قواوې د هغې په بقا کې کافي دے. همدا راز نړۍ او انسان هم دي چې يوازې په پيدا کيدو کې خداي ته محتاج وو او په بقا او فعاليت کې ورته احتياج نه لري.[1]

## د دې نظريې پايله

الف) «دخداي لپاره د شريک جوړول» په دې معنا چې که انسان طبيعي علتونو ته د اصالت ورکولو لپاره تر دې حده پر مخ لاړ شي چې ووايي انسان او جهان په بقا او هستۍ کې له هر علته بې نيازه دے او د کارونو په تاثير او د کار په کولو کې په پوره ډول خپلواکه او اصيل وي د دې مطلب شرک دے ځکه چې د دې خبرې لازمه دا ده چې نظام د خداي له خوا له جوړيدو وروسته په خپله د خداي په شان او واجب الوجود کيږي او د خداي په شان په مبدې له تکيې پرته خپل کارونه کوي.

ب) «د خداي د قدرت او وجود تحديد» په دې معنا چې که د انسان افعال په خپله په هغه پورې اړوند وي او په دې کې د خداي قدرت رول ونه لري مجبورا د خداي له ارادې او مشيته بهر وځي په دې بڼه کې دخداي د قدرت د عموميت او پراختيا انکار کيږي بلکه دخداي ذات هم محدوديږي.

---

۱. ابن سينا شرح اشارات تاريخ، نشر البلاغه ۱۳۷۵ شميره، دريم ټوک، ۲۸مخ، حسن حلي کشف المراد، بحث مکان ۲۹، ۴۴مسلې، په ۷۷ او ۱۱۷مخونو.

ج) «بدې تربيتي پايلې لري» ځکه چې انسان به ځان له خدايه بې نيازه ګڼي، او دخداي قوانينو او اوامرو ته له پامه پرته به يوازې د خپلو غوښتنو او خوندونو په پوره کولو پسې وي. كَلَّا إِنَّ الْإِنْسَانَ لَيَطْغَى أَنْ رَآهُ اسْتَغْنَى كله چې انسان د غنا او بې نيازۍ احساس وکړي سرکښي کوي[1] خو که انسان ځان د خداي د لايزال قدرت محتاج وويني نو بيا هر څه له خدايه ګڼي او د هغه د رضا او په اوامرو د عمل کولو هڅه کوي. يَا أَيُّهَا النَّاسُ أَنْتُمُ الْفُقَرَاءُ إِلَى اللَّهِ وَاللَّهُ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيدُ[2]

اے خلکو !تاسو خداي ته اړمن يئ او خداي بې نيازه او ستايلے دے.

## ۲. دريمه لاره: نه جبر او نه تفويض بلکه (الامر بين الامرين)

دا لاره د امامانو له نوښتونو ده او د دغه ډلې حکيمانو او متکلمانو هميشه هڅه کړې ده چې دا لاره پخه کړي او دا لاره د کلام د علم په تاريخ کې د امامانو تر ټولو لوے نوښت ګڼي. په دې نظريې کې انسان د نباتاتو او حيواناتو په اپوټه چې د حيواني غريزې او طبيعي قواوو په منګولو کې ښخ دي او دهغه نظر په خلاف چې انسان خپلې مخې ته پريښودے ګڼي او د هغه کارونه د خداي د قدرت او ارادې او علمه بهر ګڼي، باور لري چې انسان کولے شي له خپلو ټولو داخلي، بهرنيو او غرايزو په معقولانه ډول کار واخلي. او کار او زيار وکاندي او په عين حال کې له خپل خدايه چې ټول وجود يې بلکه د نړۍ ټول وجود په هغه پورې تړلے دے غافله نه شي.

د دې نظريې د سپړنې لپاره بايد دڅو ټکيو يادونه وکړو:

لومړے دا چې: علت ته د معلول اړتيا يوازې په حدوث او تحقق يعنې د جوړيدو په حد پورې محدوده نه ده ځکه چې د نړۍ نظام په تيره بيا انسان يو امکاني نظام دے او امکاني نظام بالذات هيڅه نه لري په دې اساس په ټول عمر کې علت ته محتاج دے. نه دا چې يوازې په پيدا کيدو کې محتاج وي بلکه په بقا

---

۱. علق ۲ او ۷ ايت.
۲. فاطر ۱۵ آيت.

کې هم محتاج دے د مثال په توګه: یوه تیاره کوټه د بلب د لګیدلو له امله رڼا کیږي. اوس دغه بلب د هغه برېښنا له امله روښانه دے چې په تارونو کې موجوده ده او دغه برېښنا له مرکزه اخلي. دا اړتیا یوه آني او د یوه مختصر وخت اړتیا نه ده بلکه یوه مستمره او همیشنۍ اړتیا ده او که یوه شیبه هم د برېښنا ارتباط غوڅ شي کوټه به بیا تیاره وي خداي تعالی ته د انسان او د دې نظام او نړۍ اړتیا هم همداسې ده.

دوهمه دا چې په داسې حال کې چې نړۍ او انسان یو امکاني نظام دے چې له هر اړخه په لایزالي مبدا پورې تړلے دے او په خپل ذات کې هیڅ استقلال او خپلواکي نه لري. خو په عین حال کې د دغه نظام په وجود کې ځینې مرتبې او درجې دي چې ځینې یې د ځینو نورو علتونه دي او ځینې یې معلولونه. او بیا دا ټول نظام په یوه علت پورې تړلے دے چې علت العلل ورته وایي او نظام د اسبابو او مسبباتو نظام دے او داسې نه ده چې هر یو شے دې د خداي د فعل نیغ په نیغه اثر وي او د ټولو اسبابو او علتونو جانشین وي.[1]

لکه څرنګه چې امام صادق علیه السلام فرمایي: «ابي الله ان یجري الاشیاء الاّ باسباب فجعل لکل شيء سببا»،

یعنې دخداي ارادې په دې پورې تعلق پیدا کړے دے چې هر کار د خپل سبب په وسیله وشي او هغه کارونه د خپلو اسبابو په وسیله کړې دي له دې امله یې هر یو څیز ته خپل سبب ټاکلے دے.[2]

دریمه دا چې انسان یوه فیصله کوونکے او د ارادې او اختیار خاوند مخلوق پنځول شوے دے چې د خپلو غوښتنو د تحقق لپاره د تشخیص او تمیز له ځواکه استفاده کوي په ډیر اختیار او پوهې او بصیرت سره یو شے انتخابوي یعنې دا مخلوق په عین حال کې چې په یو لوړ ذات پورې تړلے دے په خپله هم عالم او قادر او حسابګر او فیصله کوونکے دے. بې له دې چې په دغو مراحلو کې کوم داخلي یا بهرني عوامل هغه تر فشار لاندې راولي. یا یې د یوه کار کولو ته

---

۱. منشور جاوید ۴ ټوک ۳۷۳ مخ.
۲. اصول کافي، دارالکتب الاسلامیه تهران، ۱۳۶۵، لومړي ټوک ۱۸۱ مخ.

مجبوره کړي.

نو دغه چارو ته په پام سره د «الامر بين الامرين» حقيقت روښانه کيږي په دې ډول چې په لومړي حکم کې خدا ے ته د انسان اړتيا يوه پرله پسې اړتيا ده چې په دې چارې سره په خالقيت کې توحيد تحقق مومي ځکه چې په يوه کار کې د هر ممکن فاعل تاثير او اغيز شيندنه په خپله دخدا ے د قدرت يوه جلوه ده. او يو ممکن موجود او مخلوق د خپل وجود په دوام او تاثير اچولو کې لومړے مبدا او لو ے خدا ے ته محتاجه د ے. دوهمه چاره، امکاني نظام د علت او معلول يو نظام معرفي کوي يعنې دا چې هر علت د يوې چارې په کولو او تحقق کې خپل رول لري او دا خبره سمه نه ده چې مونږ د هر کار مستقيم او نيغ په نيغه اثر په خدا ے پورې وتړو. بلکه خدا ے اصلي او خپلواکه علت د ے چې د ټولو قدرتونو سرچينه ده او د نورو عواملو خلاقيت د خداي د خلاقيت په دوام کې راځي. خو د دې خبرې هم انکار نه شي کيد ے چې هر يو طبيعي شے په خپل ځا ے تاثير او اغيزه لري، مثلا د اور له تاثير او سوزولو هيڅوک انکار نه کوي. او دريمه خبره هم د انسان حساب له نورو فاعلونو جدا کوي؛ ځکه چې په نورو فاعلونو کې يوازې انتساب د ے، مثلا دا چې اور سوزول کوي خو له دې امله چې اور خپل اختيار نه لري نو هغه د خپل کار مسوول نه شو ګڼلے خو انسان له دې امله چې اختيار لري، ازادي لري او حساب کتاب کولے شي له دې امله د خپلو کارونو مسوول د ے او د اخلاقو او ټولنې په چوکاټ کې دهغه هر کار د هغه په خپله ذمه اچول کيږي په دې طريقې سره دخدا ے د عدالت مسله هم رعايت کيږي.

خو له فلسفي نظره:

دا فعل دوه نسبته لري، يو نسبت يې خدا ے ته د ے ځکه چې هغه د نړۍ او انسان پنځګر او د ټولو ځواکونو لو ے ځواک د ے او بل نسبت مخلوق ته لري، ځکه چې دا انسان د ے چې په خپل اختيار او حساب او ازادۍ سره يو کار کوي او خپل مقصد پوره کوي سره له دې چې دا فعل او کار دواړو ته منسوب د ے په عمل کې په خپلو شرايطو او مقتضياتو سره دوه ډوله نسبته لري يو نسبت هغه د ے چې د دغه کار او د هغه د تامه علت په مينځ کې موجود د ے يعنې له هغو

ټولو څيزونو سره چې د دغه شي يا کار په پيدا کيدو کې اغيز من دي له هغو سره نسبت لري. لکه اراده او د کولو ضروري سامان او وسايل او هغه غړي چې دا عمل کوي او هغه مادي موجود چې د دغه کار د کولو قابليت ولري. او همداراز د زمان او مکان دشرايطو برابرے او د خنډونو ليرې والے، کله چې دا ټول عوامل سره يو ځاے شي نو د عمل ثبوت او کيدل ضروري او واجب کيږي. دې نسبت ته د وجوب نسبت وايي: او يو بل هغه نسبت دے چې د علت هر يو جز يې له عمل سره لري. چې دې ته د امکان نسبت وايي ځکه چې د علت د يوه جز په راتللو سره هغه عمل او معلول تحقق نه مومي، مثلا يوازې د ارادې په کولو سره يو کار نه کيږي بلکه دغه کار به تر هغې ممکن الوجود وي تر څو يې نور علتونه نه وي پوره شوې. نو کله چې علت تامه محقق شي يو عمل د خپل تام علت په نسبت ضرورت او وجوب پيدا کوي. په عين حال کې د علت له اجزاوو سره هم نسبت لري. مثلا د انسان اراده چې دا يو امکاني نسبت دے. او وجوبيه نسبت چې د عمل او علت تام په مينځ کې موجود دے امکانيه نسبت چې د انسان د ارادې او عمل په مينځ کې موجود دے نه خرابوي او نه يې باطلوي. او هغه له امکانه وجوب ته نه بدلوي. بلکه تل د انسان د عمل په نسبت امکان موجود دے. يعنې د عمل دواړه لورې يعنې د کار کول يانه کول د انسان لپاره برابر دي.

د دغه دواړو لورو د برابرۍ نتيجه داده چې هر کار که څه هم د تامه علت له وجوده چې هغه واجبوي خالي نه دے خو په عين حال کې د انسان لپاره اختياري دے او الهي قضا او قدر هغه د انسان له اختياره نه وباسي. ځکه چې دخداي حتمي قضا د خداي له فعليه صفاتو ده چې د خداي د فعل له مقامه اخستل کيږي او دخداي فعل هماغه د نظام او هستۍ لپاره د يو لړ علتونو سلسله ده.. مثلا: که دخداي علم په دې خبرې پورې متعلق شي چې پلانکے سړے د خپل اختياري کفر په وجه بد بخته شي، نو دا کار د هغه انسان د شقاوت او بدبختۍ سبب کيږي خو هغه بدبختي چې د يوه خاص کفر په وجه وي چې دغه انسان په خپل اختيار او ازادۍ سره خپل کړے وي نه مطلقه بدبختي او شقاوت. په دې اساس د انسان په يوه علم د خداي علم له انسانه دهغه اختيار نه اخلي او هيڅ جبر نه رامينځته

کوي.[1]

له حضرت امام رضا روایت لرو چې د جبر او تفویض په هکله له هغوي پوښتنه وشوه دوي وفرمایل: که غواړئ په دې مسلې کې به درته کلي اصل بیان کړم چې په ټولو مواردو کې به ورته مراجعه کوئ چې نه به پکې په خپله اختلاف کوئ او نه به دهغه په سر له تاسو سره څوک مخاصمه او شخړه کوي او که څوک هر څومره ځواکمن وي په دغه قاعدې سره به یې ځواک ختم شي.

وې ویل: هو ووایه، هغه حضرت وفرمایل:

که انسان دخداي اطاعت وکړي نو په زوره یې اطاعت نه کیږي « یعنې هر مطیع په خپل اختیار سره د هغه اطاعت کوي» او که دهغه گناه او عصیان وکړي نو نه مغلوب کیږي « یعنې د هغه څه په اپوټه چې تفویضیانو ویلې دي د دغه کار اصل د خداي له قدرته وتلی نه دی» او خداي خپل بندگان په خپل ملکیت کې خوشې نه دي پریښې چې انسان هر څه وغواړي په خپل سر یې وکړی شي، بلکه خداي چې هر څه بندگانو ته ورکړې دي په خپله یې هم په ولکه کې دي په دې اساس که بندگان یې اطاعت وکړي او امر یې ومني هغه یې د اطاعت مخه نه نیسي او د اطاعت لاره پرې نه بندوي او که څوک یې نافرماني وکړي نو که نافرماني یې وکړي او که ویې نه کړي په هره بڼه کې خداي انسانان نافرمانۍ ته نه دي مجبوره کړې. بیا یې وفرمایل: «څوک چې د دغه قاعدې حدود وساتي په خپلې غوسې غلبه کوي»[2]

د لاډیرې مطالعې لپاره:

۱. مرتضي مطهري، مجموعه آثار، قم، انتشارات صدرا، چاپ ۱۳۸۵، ۱۳ لومړي ټوک

۲. محمد مهدي گرجیان، قضا و قدر، جبر و اختیار، انتشارات اسلامي جامعه مدرسین سره تړلې، ۱۳۷۴

وروستی حدیث:

---

۱. سید محمد باقر موسوي همداني ترجمه المیزان جامعه مدرسین، ۱۳۷۴، ۱۱ټوک ۲۵مخ.

۲. عیون اخبار الرضا، ۱ ټوک ۱۲۹ مخ توحید صدوق، ۳۶۲، ح ۷.

رسول الله مبارک (ص) وفرمايل:

خداي تعالى فرمايي څوک چې زما په قضا خوشاله نه دي او زما په تقدير ايمان نه لري نو (لاړ دې شي او) بل معبود دې ځانته ولټوي.[1]

---

۱. ری شهري، منتخب ميزان الحکمه ۴۲۸ مخ.

# د انسان اختیار او جنیټک اثر

که انسان په خپلو عملونو کې پوره پوره اختیار لري نو د جنیټک عواملو او چاپېریال اغیزه په انسان څه ده؟

سریزه:

یو بحث چې همیشه جنجالي پاتې شوی دی او په تاریخ کې پرې ډېرې خبرې شوې دي د انسان د جبر او اختیار مسله ده که انسان عقیده ولري چې په خپله خوښه اراده کوي او عمل کوي نو عمل به یې یو شان وي خو که په جبر باور ولري نو عمل به یې بل شان وي. دا بحثونه کلامي او فلسفي رنګ لري خو نن سبا د وراثت او چاپېریال مسله زیاتره په اروا پېژندنې او تربیتي علومو کې مطرح کیږي. د اروپېژندنې ځینې مکتبونه لکه عمل ګروهان او اروا پوهان وغیره انسان د چاپېریال او وراثت تر بشپړ اثر لاندې ګڼي او هغه د یو مشین په شان فرض کوي چې له ځانه هیڅ اراده او اختیار نه لري او هر څه چې د ازل استاد وویل چې ووایه وایې یې. د دوی په باور فیزیولیژیکي او چاپېریالي عوامل چې هر لور ته وغواړي انسان بوځي او انسان له ځانه هیڅ اراده نه لري اوس دا پوښتنه پېدا کیږي چې حقیقت څه دی او د چاپېریال او وراثت عوامل په انسان تر کومه حده اثر لري.؟

منل شوې خبره ده چې لکه څرنګه چې ډېرو کسانو منلې ده د چاپیریال او وراثت اثر په انسان ډېر حیرانوونکی دی. خو حقیقت هماغه دی چې په شیعي

کلام کې راغلې دي چې د وراثت او چاپېریال پر اثر سربېره انسان خپل اختیار هم لري.[1]

مخینه:

د دغه بحث اصل له فلسفې راغلی دی خو د تجربي او ساینسي علومو وده او په بل تعبیر د ژوند د علم وده سبب شوه چې انسان د یو مشین په شان وګڼل شي چې له ځانه هیڅ اختیار نه لري بلکه د چاپېریال او وراثت عوامل هغه چې هر خواته وغواړي بوځي يې، په دې اساس د دغه بحث تاریخچه په کلام او فلسفې کې هم پیدا کیږي او هم یې د اروا پیژندنې په علم کې موندلی شو.

شهید مرتضی مطهري د کلام په برخه کې داسې وایي:

کلامي بحثونه لکه څرنګه چې له تاریخونو معلومیږي، د هجرت د لومړۍ پېړۍ له نیمایي پیل شول. په کلامي بحثونو کې ظاهرا تر ټولو زړو بحثونو د جبر او اختیار بحث دی. د جبر او اختیا مسله په لومړي پړاو کې یوه انساني مسله ده او په دوهمه درجه کې یو الهی او یا طبیعي مسله. له دې امله چې د بحث موضوع په هر حال کې انسان دی چې یا مختار دی یا مجبور، دا انساني مسله ده او له دې اړخه چې د مسلې بل لوری یا خدای دی یا طبیعت چې ایا د خدای ارادې او قضا او قدر او یا جبري عواملو او د علت او معلول اصولو انسان ازاد پریښی دی او که نه مجبور کړی یې دی، دې مسلې ته یوه الهي یا طبیعي رنګ ورکړی دی.[2]

دا بحث د هر یو انسان لپاره مطرح دی که هغه مادي فکر کوي او که الهی، څوک چې خدای نه مني نور عوامل لکه طبیعت، وراثت، چاپېریال ماحول او داسې نور څیزونه یې د خدای په ځای راوستې دي. فرق نه کوي چې دغه عوامل د انسان له دننه سرچینه واخلي لکه د بدن کیمیایي فعل او انفعالات او که له بهر ه په انسان وتپل شي. په علم کلام کې له دې امله چې فیصله کوونکی او اراده کوونکی خدای دی نو په انسان د خدای د اثر او ارادې بحث کیږي خو په

۱. جعفر سبحاني، الالهیات علي هدي الکتاب والسنة والعقل، ۲ټوک، ۳۱۷مخ.
۲. مرتضي، مطهري، مجموعه آثار، ۱ټوک، ۴۱ او ۴۳مخ.

ساینسي عالمانو او ماده پالو کې بیا د وراثت او چاپیریال مسله مطرح ده.

## ۱. د جبر او اختیار مفهوم

جبر: جبر په لغت کې یو داسې کار ته د چا مجبورول دي چې هغه کار نه غواړي او یا ورسره مینه نه لري [۱] هم دا راز د قضا او قدر د حتمي والي په معنا [۲] او اصلاح کولو یا مات تړلو په معنا هم راغلې دے.[۳]

اختیار: اختیار په لغت کې د غوره کولو او انتخاب کولو او..... [٤] لپاره استعمالیږي. همداراز د دوو کارونو په مینځ کې د ښه اړخ د انتخابولو او کولو په معنا او کله چې انسان مختار شي چې له دوو څیزونو یو غوره او خوښ کړي، نو که څوک د یوه کار د کولو او نه کولو اختیار او توان لري نو دغه شان کس ته مختار ویل کیږي. د مولانا په تعبیر:

این که فردا این کنم یا آن کنم　　　این دلیل اختیار است اے صنم[۵]

خو مجبور داسې نه دے او له عالم بالا، چاپیریال، وراثت او داسې نورو څیزونو له خوا په هغه باندې کارونه تپل کیږي.

د اروپیژندنې په اصطلاح کې جبر او اختیار: هغه څه چې د جبر او اختیار په هکله بیان شول لغوي معنا یې وه، خو د اروا پیژندنې په اصطلاح کې په نورو علومو کې د مطرحو بحثونو په شان خبره دا ده چې ایا انسان د خپلو کارونو په کولو کې د فیصلې او ارادې اختیار لري او که نه ؟ په بله ژبه « دلته له اختیاره مطلب، په یو ډول د انسان روحي وړتیا او توان دے چې انسان د هغه په اساس په یو خاص چوکاټ او حدودو کې د چاپیریال او ماحول او معاشرې اثرات تر خپلې ولکې لاندې راولي او په خپله خوښه آګاهانه خپله لاره وټاکي او غوره یې کړي»[٦]

---

۱. خلیل بن احمد فراهیدي، کتاب‌العین، څیړنه: مهدي المخزومي او ابراهیم السامرائي.
۲. ابن منظور، لسان‌العرب.
۳. علي‌اکبر دهخدا، فرهنګ دهخدا، د جبر د مادې لاندې.
۴. هماغه، د اختیار ماده.
۵. فخرالدین طریحي، مجمع‌البحرین، څیړنه: سید احمد حسیني.
٦. د لیکوال ډله، روان‌شناسي رشد (۱) با نګرش به منابع اسلامي، ۲۴۵مخ.

دلته جبر د معنې له نظره د اختیار په مقابله کې راځي.

په بله ژبه، د جبر او اختیا په مسله کې د انسان ماهیت څنګه دی «یوه اساسي موضوع چې د انسان له ماهیته تصور روښانه او څرګندوي د ازادۍ ارادې او جبر پالنې تر مینځ په پخوانۍ مجادلې پورې مربوطیږي، د دواړو لورو نظریه ورکوونکو او انډیالو لاندینۍ پوښتنې کړې دي:

ایا مونږ په آګاهانه توګه او هوشیارانه خپل عملونه کنټرولوو؟

ایا مونږ په خپله خوښه خپل افکار او کردان انتخابولی شو او په منطقي توګه له موجودو لارو چارو هغه خوښولی شو؟

ایا مونږ په خپله د چلولو درجه لرو او آګاهي لرو؟

ایا مونږ په خپل برخلیک واکمن یوو او که نه د تېرو تجربو، د چاپیریال د عواملو، بهرنیو محرکاتو او ناهشیارو ځواکونو قرباني یوو؟ هغه عوامل چې مونږ پرې هوشیارانه کنټرول نه لرو؟

آیا بهرنیو پېښو زمونږ شخصیت داسې جوړ کړې دی چې مونږ د خپلو کړو او کردار د بدلولو وس نه لرو؟[1]

دا هغه پوښتنې دي چې تر څو په جبر یا اختیار د انسان عقیده مشخصه نه شي نو ځواب یې ګران دی.

## ۲. چاپیریال او وراثت:

### د چاپیریال او ماحول تعریف:

هر هغه څه چې له انسانه بهر دي او په انسان ولکه او احاطه لري د انسان محیط او چاپیریال ګڼل کیږي. د چاپیریال یا محیط په تعریف کې وایي چې: «چاپیریال.... د انسان له وجوده بهر ټولو بدلونونو ته ویل کیږي چې د انسان غوټه کیدو او د نطفې له وخته تر زوکړې او بیا تر مرګه پورې په انسان راځي او په هغه اثر کوي یا له هغه اثر اخلي»[2]

---

۱. شولتز و شولتز، دوان و سیدني الن، نظرّیه‌هاي شخصیت، د یحیي سید محمدي ژباړه، ۴۱مخ.
۲. ناصر بي‌ریا او نور، روان‌شناسي رشد (۱)، ۲۱۹مخ.

د وراثت تعریف:

وراثت هغه صفتونه دي چې له مور او پلاره په کروموزوم کې د موجود ژن په وسیله انسان ته منتقل کیږي. او د هغه شخصیت جوړوي.[1]

په انسان یو ډیر اغیزمن عامل چاپیریال او وراثت دے. په ظاهري نظر کې انسان خیال کوي چې هر څه چې لري له وراثت او چاپیریاله دي ځکه چې ډیر کم کس پیدا کیدے شي چې د واکمن ماحول په خلاف وده وکړي او لوے شي. په ځینو مواردو کې انسان چاره نه لري بې له دې چې هغه څه چې چاپیریال یې ورباندي تپي ومني. چاپیریال هم د مور له خیټې پیل کیږي او ټولنه، ښوونځے، او حتی آب وهوا او موسم او ځای هم پکې شاملیږي.

**حل لاره:**

دا عقیده چې د انسان د شخصیت رغوونکے، چاپیریال، واکمن کلتور او وراثت دے په علم کلام او اروا پیژندنه کې مطرح وه او دا داسې بحث دے چې له خیټځه تر لویدیځه یې لمن پراخه ده او ډیرو کسانو منلې ده چې انسان د چاپیریال ماحول او وراثت پالل شوے دے.

روسو وایي:

«ټول هغه څه چې د پیدا ایښت په وخت یې نه لرو او په لوی والي کې به ورته حاجت پیدا کوو د تربیت او روزنې په وسیله یې لاسته راړو. دا تربیت یا له طبیعت او ماحول یا له انسانانو او ځیزونو اخستلے شو. د بدني غړیو او قواوو داخلي لوے والے هغه روزنه ده چې مونږ یې له طبیعته اخلو. د انسانانو تربیت مونږ ته راښیي چې څرنګه مونږ د دغه قواوو له پراختیا او لوے والي استفاده وکړو. هغه څه چې پر مونږ د واکمن ماحول د تجربې له مخې یې زده کوو او پر مونږ اثر لري هغه تربیت دے چې ځیزونه یې مونږ ته راکوي. په دې اساس مونږ هر یو انسان د دریو ځیزونو په وسیله تربیت کیږو....»[2]

په دې کې شک نیشته چې لکه څرنګه چې آب و هوا او موسم د ونود میوو په

١. لورا اي برک، روان‌شناسي رشد ‹از لقاح تا کودکي›، د یحیي سید محمدي ژباړه، ١ټوک، ٧٣مخ.
٢. ژان ژاک روسو، امیل یا آموزش و پرورش، د غلام حسین زیرک زاده ژباړه، ٧ او٨مخونه.

رنګ او خوند اثر لري زمونږ په اخلاقو ادابو او تربيت هم اغيره شيندي. په ښکاره ليدل کيږي چې وراثت او چاپيريال په انسان ژور اثر لري او هغه په ماحول او چاپيريال واکمنو دودونو او لارې ته بوځي. ماشوم له درې کلنۍ د شخصيت تر مزبوتيدو پورې زياتره د ژواک له هرې دورې اثر اخلي لکه څرنګه چې د هغه په ژبه، لهجه عاداتو رسومو او کړچار کې ليدلے شو. په دې اساس روغ چاپيريال او ماحول انسان روغ او ښه تربيت کوي لکه څرنګه چې لوے خداى فرمايي: ﴿أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ الله وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُوا فِيهَا﴾[1]؛ ايا دخداى ځمکه لويه نه وه چې هجرت مو پکې کړے وَاے؟ په يوه ډول دا په انسان د چاپيريال د اثر قبلول دي. خو سره له دغو ټولو چاپيريال او وراثت د دے ميدان يوازې غږي نه دي او د انسان انجام د هغه په خپلو عملونو پورې تړلے دے او هغه خپل برخليک په خپلو لاسو ټاکي. دخپلې دغې ادعا لپاره ځينې دليلونه ذکر کوو:

## ۱. د مصلحانو او پيغمبرانو کوشش

خداى تعالى د انسان د هدايت لپاره په هره زمانه کې پيغمبران راليږلې دي او قران هم فرمايي: وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ حَتَّى نَبْعَثَ رَسُولاً[2]؛ او مونږ چې تر څو يو پيغمبر ونه ليږو هسې څوک نه عذابوو.

که چاپيريال او وراثت انسان د مجبورتيا تر حده راوسته نو بيا خو د خداى د دغه خبرې هيڅ معنا نه وه او په عين حال کې د پيغمبرانو راليږلو هم څه فايده نه لرله. په اسلامي کلام کې د جبر او اختيار په بحث کې دا مسله راغلې ده چې چاپيريال او وراثت تر کومه حده په انسان اثر لري. ايت الله سبحاني په خپل کتاب الهيات کې ليکي:

«په دې کې شک نيشته چې دا عوامل يعنې چاپيريال، وراثت او کلتور د انسان د شخصيت په جوړښت کې اثر لري خو دا اثر تر دې حده نه دے چې له انسانه اختيار واخلي ځکه چې که داسې وي نو بيا به د مصلحانو او پيغمبرانو

---

۱. نساء، ۹۷ آية.

۲. اسراء، ۱۵ آية.

هځې چتې وي»[1]

له دې امله د انسان اختيار پر وراثت او چاپيرال برې انسان په خپل اختيار سره کولے شي رذيله او بد صفتونه له ځانه ليرې کړي که څه هم دا کار ډېر بدني او روحي مشکلات لري.

## ۲. په ځينو کارونو کې د وراثت او چاپيريال اثر

انسان ډول ډول کارونه او افعال لري خو په ځينو کارونو او جوړښتونو کې د انسان اراده هيڅ دخالت نه لري بلکه يا د وراثت تابع دي يا د چاپيريال. له دې امله، ځينې کسانو د انسان روحي او جسمي صفات په دوو برخو يعنې بدليدونکو او نه بدليدونکو صفاتو ويشلې دي. هغوي نه بدليدونکي صفتونه لکه د سترګو رنګ روحي خصوصيات، لکه ليونتوب کم عقل توب، او داسې نور د وراثت له امله ګڼلې دي چې نه بدليږي، خو انسان په ډيرو صفتونو کې اختيار لري لکه ميړانه، سخاوت، کنجوسي، ويره او داسې نور، دا صفتونه تر يوه حده د انسان په خپل لاس کې دي او انسان پکې مختار دے نه مجبور.

له دې امله د وراثت اصل د برخليک په ټاکلو کې د انسان له اختيار سره تر يوه حده غړملتيا لري.[2] هغه څه چې د انسان د اختيار له حدودو بهر دي نه د امتياز او لوړاوي سبب کيږي او نه هم خدای تعالی د هغو په وجه انسان ته ثواب يا عذاب ورکوي بلکه په اسلام کې د لوړاوي معيار تقوا ده چې يوه اختياري چاره ده. خدای تعالی د لوړاوي د معيار په هکله فرمايي: ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَ أُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوباً وَ قَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَاللهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ﴾[3]

«ای خلکو مونږ تاسو له يوه سړي او يوه ښځې پيدا کړئ او تاسو مو قامونه قامونه او خيلونه خيلونه وګرځولئ چې يو بل وپيژنئ بې له شکه په تاسو کې

---

۱. الالهيات علي هدي الكتاب و السنة و العقل، ۲ټوک، ۳۱۷مخ.
۲. علي رباني ګلپايګاني، جبر و اختيار، ۲۲۸مخ.
۳. حجرات، ۱۳ آية.

خدای ته تر ټولو نږدې هغه کس دے چې تر ټولو پرهیزګار وي، بې شکه خدای پوه خبر دے»

د تقوا او نیک عمل لرل یا نه لرل د انسان په خپل لاس او اختیار کې دي که څه هم معاشره او چاپیریال هم پکې ځینې اثرات او رول لري خو د دغو څیزونو په انتخاب کې هیڅ رول نه لري دا په خپله انسان دے چې په ارادې سره دا څیزونه غوره کوي نه چاپیریال او وراثت.

## ۳. چاپیریال او وراثت نیمګړے علت

نن سبا د اروا پیژندنې په علم کې چاپیریال او وراثت په یوه بل ډول مطرح کوي او وایي: «په حقیقت کې نفسیاتي خصوصیات د وراثت او چاپیریال د متقابل عمل نتیجه ده. نن سبا نور څوک د چاپیریال او ماحول په وړاندې د وراثت د پخواني اختلاف او شخړې خبره نه کوي او د هغې په ځای څېړاندي دا پوښتنه کوي چې: وراثت څرنګه د یو انسان توانمنۍ او وړتیاوې محدودوي؟ او یا د چاپیریال او ماحول برابر یا نابرابر حالات څومره د انسان وراثتي تواتمنۍ بدلولې شي؟»[1]

لکه څرنګه چې د ماحول او وراثت عوامل له یوه بل سره په تعامل کې دي او د یوه بل لپاره د معده عواملو په توګه منل کیږي نه د بشپړو او تامه علت په توګه، د انسان د شخصیت په جوړېدو کې هم چاپیریال او وراثت معده علتونه دي نه تامه، بلکه تامه علت د انسان خپله اراده ده. په دې اساس د چاپیریال او وراثت تاثیر د تامه علت په حد کې نه دي. او یوازې ناقصه او نیمګړے علت ورته ویلے شو.[2] په دې بڼه کې هم د انسان اختیار نه سلب کیږي.

نتیجه:

نتیجه داده چې انسان د چاپیریال ا وراثت تر اغیز لاندې راځي خو د انسان اداره کوونکے او چلوونکے هماغه د هغه خپله اراده ده نه چاپیریال یا وراثت، او

---

۱. محمدرضا سالاري، مسعود آذربایجاني، روانشناسي عمومي، ۲۸مخ.

۲. علي رباني ګلپایګاني، جبر و اختیار، ۲۳۱مخ.

وراثت یا چاپیریال معده علت دے نه تامه، پر دې سربېره که انسان مجبوره وي نو بیا د پیغمبرانو او مصلحانو راستول او کوشش هم بې فایدې دے.

**د لا ډېرې مطالعې لپاره دغو کتابونوته مراجعه کولې شئ:**

**١. علي رباني گلپایگاني، جبر و اختیار، ص ٢٢٨.**

**٢. مرتضي مطهري، مجموعه آثار، ج١، ص ٤١-٤٣.**

**٣. محمدرضا، مسعود آذربایجاني، روانشناسي عمومي، ص ٢٨.**

**حدیث:**

رسول الله مبارک(ص) فرمایي: له نیک ملگري او هم نشین سره ناسته پاسته له عطار سره د ناستې پاستې په شان ده چې که په تا عطر خرڅ نه کړي بیا یې هم خوشبوے له تا سره پاتې کیږي او د بد ملگري او بد همنشین کیسه هم د پښ په شان ده چې که د بټ اور یې تا ونه سوزوي بیا هم بد بوی یې تا ځوروي. [1]

١. نهج‌البلاغة، د ابراهیم احمدیان ترجمه، قم، د شهاب‌الدین خپرندویه، **١٣٨٥**، **٥٧٢**مخ.

# د قدر شپه او د انسان اختيار

که د قدر په شپه د انسان تقدير ليکل کيږي نو بيا د انسان د اختيار او هلوځلو څه معنا پاتې کيږي؟

د دغه پوښتنې د لا وضاحت لپاره دوو ټکيو ته پام ضروري دے:

۱. د انسان له اختيار سره د قدر په شپې د انسان د برخليک د ټاکل کيدو د منافاتو او ټکر شبهه يا اعتراض له کومه ځايه سرچينه اخلي؟

۲. د تقدير او د قدر په شپې د خدا ے تعالی له خوا د انسان د تقدير او برخليک د ټاکل کيدو مطلب څه دے؟

د پوښتنې وضاحت: دا چې د قدر په شپې د انسان د برخليک ټاکل کيدل د انسان له اختيار سره منافات لري دا خيال او توهم له هغه ځايه پيدا کيږي چې له يوې خوا داسې روايتونه لرو چې د قدر په شپه د انسان د ټول کال برخليک ټاکل کيږي او د زمانې د ولي په اختيار کې راځي او له بلې خوا همدا تقدير او تعيين د خداي په علم پورې اړه لري، په دې اساس که انسان د دغه تقدير چې د خداي له خوا ټاکل شوے او معلوم دے د بدلون وس ولري له دې هم دا لازميږي چې توبه نعوذ بالله د خدا ے علم جهل وي او هم يې دغه ټاکل کيدل بې معنا کيږي. او د دې لپاره چې له دغو دوو خبرو ځان خلاص کړو بايد له دې خبرې انکار وکړو چې انسان د خپل برخليک د ټاکلو او ليکلو وس لري، د دې معنا هم جبر دے نو څه کول پکار دي؟

### ۱. د جبر او اختیار په هکله مختلف نظرونه

د دې لپاره چې د دغې پوښتنې ځواب ښه معلوم شي ضروري ده دې ټکي ته پام وکړو چې د جبر او اختیار بحث په علم کلام کې ډیر پخوانے بحث دے چې په ټولو دیني مکاتب فکر کې موجود و. په اسلام کې په دې اړه درې نظرونه موجود دي چې په دې ډول دي د مطلق جبر نظر چې دا د اشاعره مکتب نظر دے، دوهم د مطلقه ازادي او اختیار چې دا د معتزله مکتب نظر دے او ورته تفویض وایي. او دریم نظرچې «الامر بین الامرین» چې د تشیع د مکتب نظر دے.د اهل بیتو دمکتب پیروان منونکي هم د معصومو امامانو په پیروی او هم په عقلي دلیلونو سره ثابتوي چې د مینځ لاره سمه ده.یعنې د انسان افعال او کارونه نه بلکل دهغه خپل او ازاد دي چې ګوندې خدا ے پکې هیڅ نه شي کولے او نه پوره د خدا ے له خوا دي چې ګوندې د خدا ے له خوا د ثواب او عذاب ورکول بې معنا شي.

د دغه دریم نظر په چوکاټ کې مسلمانو عالمانو د جبر شبهې ته دوه ځوابونه ورکړې دي چې د انسان له اختیار سره د قدر په شپې د انسانانو د برخلیک د ټاکل کیدو د تضاد او ټکر شبهه هم ورسره حل کیدے شي. البته په اخره کې به دغه شبهې او اعتراض ته جدا ځواب هم ورکړو.

لومړے ځواب: خدا ے تعالی دا نړۍ د یو نظام په توګه پیدا کړې ده چې پکې د علیت قانون جاري دے. بې له لومړي مخلوقه چې بې له واسطې او نیغ په نیغه پیدا شوے نور ټول مخلوقات له هغو علتونو صادر شوې دي چې خدا ے تعالی ورپاره ټاکلې دي د مثال په توګه د طبیعت او پنځون نظام په دې ډول برابر شوے دے چې که دانه په خاصو شرایطو کې په خاورې کې کیږدول شي په بوټي بدلیږي. همداراز که نطفه په رحم کې راشي نو که وغواړو او که ونه غواړو جنین او بچے ترې جوړیږي. خو ټول علتونه دومره اسان او واضح نه دي. د ځینو ښکارندو او چارو علتونه پیچلې دي او په هغه کې داسې عناصر لاس لري چې په اسانۍ سره پرې مونږ نه شو پوهیدلے. د انسان اختیاري افعال هم همداسې دي په انسان کې د علیت نظام په دې ډول عمل کوي چې د انسان اختیار او اراده پکې رول لري په دې اساس د انسان اختیار د دغه نظام یوه برخه ده چې خداي تعالی

جوړ کړے دے.

د دغه پوښتنې کره کتنه او اعتراض

د دغه تحليل مطابق د برخليک د ټاکل کيدو مطلب دا دے چې خداي تعالی د انسان تقدير هم هغه ته وړپريښے دے. د دې خبرې معنا همدا کيدے شي چې خداي تعالی د انسان په تقدير کې هيڅ دخالت نه لري. دا معنا که څه هم د دريم نظر په چوکاټ کې وړاندې شوې ده خو په عمل کې هماغه تفويض دے چې معتزله يې وايي. او همداراز د دغه تحليل مطابق بايد ومنو چې د انسان په اختياري افعالو د خداے تعالی علم يوازې په دې نظام د خداي د علم په حد کې دے او د انسان د کارونو له جزيياتو نه دے خبر[1] دا هماغه خبره ده چې د ځينو قديمو فيلسوفانو له کلامه يې استنباط کولے شو او علامه مجلسي له قران او سنته د خپلې دقيقې پوهې مطابق هغه د دين د ضرورت په خلاف ګڼلې ده.[2]

دوهم ځواب:د برخليک د ټاکل کيدو د معنا دوهم تحليل دا دے چې خداي تعالی په عين حال کې چې دا نظام پيدا کړے او هغه يې د عليت په قانون برابر کړے دے داسې نه ده چې په دغه نظام کې د تصرف توان ونه لري. له همدې امله يې ويلې دي چې خداي تعالی په هماغه اندازه چې اسباب جوړوونکے دے اسباب ختموونکے هم دے. د مثال په توګه لکه څرنګه يې چې اور د سوزولو لپاره جوړ کړے دے کولے شي چې هغه مخالف اثر هم ولري يعنې په ګلستان بدل کړي. په بله ژبه، سمه ده چې خداي د عليت قانون وضع کړے خو خاص علتونه يې هم وضع کړې او جوړ کړې دي.خداي تعالی دے چې اور يې د سوزولو علت ګرځولے دے. په دې اساس هم هغه دے چې د د غه علت عليت ختمولے شي يا يې د بل څه علت ګرځولے شي.

د دغه تحليل له مخې، د برخليک د ټاکلو مطلب دے د ټاکل شويو معلولونو په لاره کې د علتونو ګرځول؛ په بله ژبه، خداي تعالی په دقيق ډول د انسان برخليک ټاکي حتی د قدر تر شپې مخکې دا برخليک د ختې او فطرت په عالم

---

۱. مرتضي مطهري مجموعه اثار ۱ ټوک ۴۵۳ مخ.

۲. محمد باقر مجلسي بحارالانوار ۴ټوک ۸۷ مخ.

کې ټاکلې وي بلکه تر دې لوړ د خداي په ازلي او ابدي علم کې هم دا خبره معلومه او معينه ده چې کوم کسان د نيکمرغۍ او کوم د بدمرغۍ خاوندان دي.او د عارفانو په تعبير، د هر کس په عين ثابت کې معلومه ده چې له نيکمرغۍ او شقاوت سره څه نسبت لري خو سره له دې دا چاره د انسان له اختيار سره منافات نه لري ځکه چې د اتقدير او ټاکنه د خداي تعالی له ازلي علمه سرچينه اخلي او د خداي ازلي علم د انسان د اختيار او ارادې تابع دے په بله ژبه خداي تعالی ته علم دي چې پلانکي کس به په پلانکي وخت او په پلانکي حالت کې څه اراده او کار کوي او د همدغه اختيار په اساس په خپله خپل برخليک ټاکي.

روايتونو ته په مراجعې سره پوهيږو چې د خداي تعالی له خوا د تقدير د ټاکل کيدو د حقيقت او معنا په باب همدا تحليل د منلو وړ دي:

۱. امام صادق عليه السلام فرمايي:«... له دې امله چې خداي تعالی ته علم و چې دا کار به هغوي کوي [يعنې د هغوي اراده په دې استواريږي] نو خداي ورته د دغه کار وسايل ورکړل نو کله چې دغه کار کوي توان يې لري»[1]

خداي تعالی انسان ته د کار وسيله او سبب ورکوي او هغه هم له ده سببه استفاده کوي او کار ترسره کوي. خو د يو ټاکلي کار د سبب ورکول مثلا د معصيت او ګناه د اسبابو وربرابرول په دې دليل دي چې خداي تعالی پوهيږي چې دغه کس به اخر په خپله اراده دا کار کوي.

۲. ابي بصير له امام صادق عليه السلام روايتوي چې: زه ناست وم چې يو کس له امامه د ګناهګارو د عذاب په هکله د خداي د حکم په باب پوښتنه وکړه..... امام ځواب ورکړ: خداي تعالی دا حکم وکړ او بيا يې خپل مخلوق ته په دغه حکم د پوهيدو درک او پوهه ورکړه او د هغه کار چې وړتيا يې لرله مشقت او سختي له هغو اوچته کړه او ګناهکارو ته يې د ګناه کولو توان ورکړ، ځکه چې له مخکې خبر و چې هغوي به ګناه کوي [2]معروف الحسيني د دغه حديث په لمنه کې وايي:په دې اساس په دوي د خداي حکم، په دې خبره د خداي له حکمه

۱. هماغه ۵ټوک ۴۲ مخ.

۲. هاشم معروف الحسيني، دراسات في الحديث و المحدثين، ۱۳۹۸ سپوږميز کال ۲۲۹ مخ.

سرچینه اخلي چې هغوي به د بدمرغۍ او ګناه لاره خپلوي.[1]

دغو دوو روايتونوته په پام سره په کلي توګه ويلي شو چې په ازل کې دخداي تعالی له خوا د برخليک ټاکل کيدل د خداي ازلي علم ته په پام سره، په دې خبره تقدير جوړ شوي چې انسان به په خپل اختيار کوم يو کار کوي. نو هيڅ ډول جبر او زبردستي پکې نيشته. دا خبره بالکل داشان ده چې مثلا يو کس د انسان په ارادې له ټولو اغيز اچوونکو عواملو خبر وي او په يقين سره پوهيږي چې دغه کس به په کوم وخت کې کوم کار کوي. سمه ده چې په دې مورد کې دغه کس کولي شي د يو کس د برخليک فهرست جوړ کړي او دا هم ووايي چې دغه کس به په پلانکي وخت کې دا کار کوي. خو دلته هيڅ جبر او زور نيشته ځکه چې دغه کس هر څه په خپل اختيار کوي.او څه ورباندې تپل شوي نه دي.

د قدر د شپې په هکله هم ويلي شو چې هماغه ازلي او الهي علم او فهرست چې د انسان د يوه کال د کارونو په هکله د خداي د علم په خزانو کې پروت دي نازليږي نو هيڅ جبر پکې نيشته.

## ۲. ځانګړي ځواب

په دغه ځواب کې د جبر او اختيار له معمولو ځوابونو وراوړو او د يو موضوعي اصل په توګه منو چې د قدر په شپې يوازې د خداي له ازلي علمه د تنزل مسله مطرح نه ده بلکه په يو ډول د انسانانو لپاره د برخليک ټاکل او ليکل دي. په دې فرض سره وايوو هغه تقدير چې د قدر په شپې ټاکل کيږي هغه تقدير نه دي چې بدليدونکي نه وي په دې اساس په روايتونو کې راغلي دي چې که څوک د قدر په شپه ونه بخښل شو نو هڅه دې وکړي چې د عرفې په ورځ وبخښل شي[2] د دې خبرې مطلب دا دي چې د قدر د شپې تقدير د عرفې په ورځ يا د کال په نورو ورځو کې بدليدلي شي. له دې معلوميږي چې د قدر د شپې تقدير اساسا يو حتمي

---

۱. هماغه حواله ۲۲۹ مخ.

۲. رضي الدين علي بن موسي، سيد جعفر بن طاووس، اقبال الاعمال. ۱۴۱۴ ق، ۲۸ مخ، د من لا يحضره الفقيه په حواله. ۲ټوک او کافي څلورم ټوک ۲۲ مخ.

او ارو مرو تقدير نه دي او هغه علم چې د يو کامل انسان او د زماني د ولي په زړه د قدر په شپې نازلیږي يو تام او حتمي تقدير نه دي؛ په بله ژبه، هغه علم چې د قدر په شپې له پټ او اثبات لوحه نازلیږي لږ ترلږه په دغه تحليل کې، د لوح محفوظ علم چې د ازلي الهي علم کاپي ده د زمانې ولي ته نه ورکول کیږي. ځکه چې که داسې شوې واي نو بيا به بدليدونکي نه و. له دې امله د قدر په شپې د چارو تقدير د يوه قانون د مسودې په شان دي چې انسان په خپل کوشش او زيار سرههر هغه څه چې دهغه په تاوان دي دهغه په نهايي متن کې په خپله ګټه بدلولي شي.
روايتونو ته په مراجعې سره معلوميږي چې هغه چارې چې د قدر په شپه په امامانو نازلیږي حتمي نه دي او بدلون په کې راتللي شي. د مثال په توګه په تفسير عياشي کې له امام صادق عليه السلام روايت لرو چې يو کس د شب قدر په هکله له امامه پوښتنه وکړه؛ امام ځواب ورکړ:
په دې شپه پرښتې او ليکوالان د دنيا په اسمان نازلیږي او څه چې ټاکل شوې وي چې په دغه کال کې وشي او په بندګانو نازل شي ليکي. خو ځينې چارې د خداي په مشيت او ارادې پورې تړلې دي نو خداي تعالی په هغو چارو کې هر څه چې وغواړي مخکې کوي يا يې وروسته کوي او څه چې وغواړي هغه پاکوي يا يې ثابت پاتې کوي او ام الکتاب د خداي په نزد دي[1] د امامانو له بياناتو هم استفاده کيږي چې دوي د خداي هغه علم نه درلود چې قطعي او نه بدليدونکي دي، په دې ډول چې د خداي مشيت ورباندې واکمن نه وي. مثلا په يوه معتبر حديث کې له امام صادق عليه السلام روايت دي چې فرمايي:
امام زين العابدين علي ابن الحسين(ع) تل ويل: که په قران کې يو ايت نه و نو تاسو به مې له هغو پيښو چې د قيامت تر ورځې کيدونکي دي خبر کړې واي؛ عرض يې وکړ کوم يو ايت؟ وې فرمايل: د خداي تعالی دا فرمايش چې «يمحوا الله ما يشاء و يثبت و عنده ام الکتاب» خداي تعالی چې هر څه وغواړي محو او

---

۱. نضر بن مسعود بن عياش سمرقندي، التفسير العياشي، تحقيق سيد هاشم رسول محلاتي، بي تا، ۲ ټوک ۲۱۵ مخ.

ختموي او هر څه چې وغواړي ثابت پاتې کوي او ام الکتاب له هغه سره دي»[1] روايتونه په دې هکله ډېر دي.

نتيجه دا چې اول: خو د جبر او اختيار په متعارفو ځوابونو سره د قدر په شپې د جبر شبهه او اعتراض حل کولي شو. په دې بڼه کې، د برخليک د ټاکلو معنا بې د الهي علم له تنزله بل څه نه ده چې هغه هم په خپله د انسان د ارادې او اختيار تابع دي.

دوهمه دا چې: که وهم منو چې هغه څه چې د قدر په شپې پيښيږي «تعيين او ټاکنه» ده نه د علم تنزل. په دې دليل چې حتمي نه دي. او انسان يې د بدليدو وس لري نو د جبر سبب نه کيږي. په اخره کې هم ضروري ده دا ټکي زيات کړو چې د قدر په شپه چې کومه مسوده ليکل کيږي هغه هم چټي او هسې نه ليکل کيږي بلکه تيرو عملونو، اوسني حالت او نورو په زرګونو عواملو ته په پام سره چې له مونږ پټ دي ترسره کيږي.هغه عوامل چې مونږ په خپل ژوند کې په خپلې ارادې او اختيار سره کړې دي او کيدي شي بيخي مو هير وي خو دخداي په عمل کې ذخيره شوې دي.

د لا ډيرې څيړنې لپاره لاندينيو سرچينو ته مراجعه کولې شئ:

۱. د مولفانو ډله، پرسش هاي و پاسخ هاي دانشجويي (د روژې سره خاصه ګڼه) **۲۵** مخ

۲. تفسير نمونه، **۳۰** ټوک د ليلة القدر سورې په لمنه کې.

وروستے حديث:

امام رضا عليه السلام فرمايي: اميرا لمومنين (ع) به درې شپې نه اوده کيده: د روژې په درې ويشتمه، د وړوکي اختر په شپه او د شعبان د پينځلسمې په شپه. په دغوشپو کې د عمر موده ويشل کيږي او هغه څه بيانيږ ي چې په دغه کال کيدونکي دي.[2]

---

۱. هماغه.

۲. بحارالانوار **۹۷** ټوک **۸۸** مخ.

# د حضرت آدم علیه السلام عصیان
# او له جنته د هغه د زوزات وتل

ولې د حضرت آدم علیه السلام په ګناه د هغه نسل له جنته وویستل شو؟

د پوښتنې سپړنه: خدای تعالی چې حضرت ادم ته وفرمایل چې ته دې له میرمنې سره په جنت کې هستوګن شه او د هغه له نعمتونو په هرځای کې چې مو زړه غواړي خورئ خو دغه ونې ته مه نږدې کیږئ ګني له ظالمانو به وئ» [1]

خو شیطان هغه وسوسه کړ او وې ویل: «ای ادمه! ایا غواړې چې د تل پاتې ژوند او بې زواله ملک ونه درته وښیم؟» [2]«که له هغې وخورئ پرښتې به شئ» [3] دغو خبرو ادم په فکر او سوچ کې یوړه او شیطان له دغه فرصته استفاده وکړه او په سختو قسمونو سره یې ادم ته وویل چې زه ستاسو خیر غواړم او هغه یې تر خپل اغیز لاندې راوسته. [4] له هغې ونې یې وخوړل او خدای تعالی وفرمایل: ﴿وَعَصَى آدَمُ رَبَّهُ فَغَوَى﴾[5]او له جنته وویستل شول. د دې خبرې دلیل دا وه چې حضرت ادم شیطان پوره نه پیژنده او د هغه د دورغو او دوکې تجربه یې هم نه

1. بقره ۳۵ ایت.
2. طه ۱۲۰ ایت.
3. اعراف ۲۰ ایت.
4. اعراف ۲۱ ایت.
5. طه ۱۲۱ ایت.

درلوده.[1]

امام صادق علیه السلام فرمایي: کله چې جبراییل له حضرت ادمه د غولیدلو سبب وپوښته نو ادم ځواب ورکړ چې شیطان د خداي په نامه قسم وخوړ چې زما خیر خواه دي او ما ګمان نه کاوه چې مخلوقات به د خداي په نامه دروغ قسم خوري.[2]

دا چې د حضرت ادم دا کار ګناه ګڼل کیږي او که نه د دې له ځوابه مخکې ضروري ده چې د څوټکیو یادونه وکړو:

سریزه:

الف: د خداي حکمونه که هغه اوامر وي او که نواهي په دوه ډوله دي یا مولوي دي یا ارشادي.

مولوي حکمونه هغه دي چې د انسان په غاړه دنده او فرض اچوي او خداي تعالی د دغو اوامرو لپاره انعام یا سزا هم ټاکلې ده.

خو په دوهم ډول یعنې ارشادي حکمونو کې دخداي له خوا تکلیف او دنده نیشته او خداي تعالی یوازې د عمل سپارښتنه کوي او دغه ډول حکمونه یوازې د انسان د لارښوونې او د دې لپاره دي چې انسان په کړاو او ضرر اخته نه شي.

ب: د «عصیان» کلمه په لغوي معناکې او د اطاعت او پیروۍ په مقابل کې ده. عرب د څاروي بچي ته چې له موره جدا شوي وي او په مور پسې لاړ نه شي عاصي وایي [3]، او کله چې وایو بنده د خپل رب عصیان وکړ یعنې له هغه یې سر وغړاوه. په اصطلاح کې عصیان هغه وخت جرم او ګناه ګڼل کیږي چې له مولوي حکمونو د مخالفت او سرغړونې سبب شي په دې اساس له ارشادي اوامرو سرغړونه ګناه نه ده.[4]

د ذنب د کلمې اصلي معنا ده د حیوان یا بل څه د لکۍ نیول او هر هغه کار ته

---

۱. تفسیر نمونه ۱۳ ټوک ۳۲۳ مخ.
۲. الحویزي تفسیر نور الثقلین، نشر اسماعیلیان، ۲ ټوک ۱۳ او ۱۴ مخ.
۳. لسان العرب، بیروت دار احیاء التراث ۹ ټوک ۲۵۱ مخ.
۴. د ایت الله جعفر سبحاني په حواله منشور جاوید ۵ ټوک ۸۲ مخ.

ویل کیږي چې نتیجه یې بده وي. له دې امله ګناه ته ذنب وایي چې په اخرت کې دعذاب سبب کیږي په دې اساس هغه کار چې د کړاو سبب شي هغه ته ذنب ویل کیدي شي[1] او قران همدې معنا ته اشاره کوي ﴿فَلَا يُخْرِجَنَّكُمَا مِنَ الْجَنَّةِ فَتَشْقَى﴾[2] داسې نه وي چې تاسو له جنته وباسي او په کړاو اخته شئ.

ځواب:

هغه جنت چې حضرت ادم پکې استوګن و تر تکلیف او تشریعه مخکې مرحله وه یعنې لا کوم شریعت نه و نازل شوي چې حضرت آدم ونې ته له نژدې کیدو منع شوي وي او دا تکلیف او فرض ورته سپارل شوي وي او په اصل کې حضرت آدم له جنته له ویستل کیدو او ځمکې ته له کوزیدو وروسته د تکلیف او تشریع نړۍ ته داخل شوي دي نو په دې اساس حضرت ادم هیڅ ګناه نه ده کړې.

له بل پلوه دا نهي او منع کول ارشادي وو چې د حضرت آدم کار ګناه ونه ګڼل شي او قران مجید هم دې خبرې ته اشاره کوي. حضرت ادم ته یادونه شوې وه چې د دغه ونې د میوې خوړل له جنته د وتلو او ځمکې ته د کوزیدلو سبب کیږي. د دغه مدعا شاهد د طه سورې ۱۱۷ تر ۱۱۹ ایتونه دي چې له جنته د آدم د ویستلو پایلو او هغو سختیو ته اشاره کوي چې د دغه ونې د میوې له خوړلو وروسته ورسره حضرت ادم مخامخیږي.

حضرت امام رضا علیه السلام هم د دغه ایت په هکله د مامون د پوښتنې په ځواب کې فرمایي: تر دغه وخته حضرت ادم په خداي د دروغو قسم نه و اوریدلي او ګمان یې نه کاوه چې څوک دروغ هم ویلي او ددروغو قسم هم خوړلي شي نو ځکه یې دغه کار وکړ. نو د دغه میوې خوړل یوازې له دې امله وو چې هغوي د شیطان په قسم باور وکړ بله دا چې دا کار حضرت ادم ته د نبوت له ورکولو مخکې و او دا هغه وړه تیروتنه ده چې د وحې له نازلیدلو مخکې که انبیاء دغه ډول تیروتنه وکړي نو د معافۍ قابله ده. او د نبوت له راتللو وروسته بیا ددغه ډول

۱. المفردات، بیروت دارالشامیه، ۱ ټوک ۳۳۱ مخ.
۲. طه ۱۱۷ ایت.

تیروتنې کول جایز نه دي.[1]

یو بل دلیل چې د حضرت آدم عصیان د ګناه په حد کې نه و دا دي چې خدای تعالی هیڅکله دهغه په وړاندې د عذاب وعده نه وه کړې او یوازې د دنیا کړاو او سختۍ ته یې اشاره کړې وه.

**نتیجه**

په دې اساس حضرت آدم هیڅ ګناه نه ده کړې او هغه عصیان چې په د غه ایت کې راغلي دي د ګناه په معنا نه دي. بلکه د ارشادي نهي په وړاندې تیروتنه او ښوییدنه ده. هیڅکله ښوییدنه له ګناه سره تړلې نه ده. حضرت ایت الله سبحاني فرمایي:«که یو انسان د یو مشفق نصحیت کوونکي خبرې ته غوږ کې نه ږدي او په ژوند کې په کړاو اخته شي دې ته ښوییدنه وایي» [2]نو حضرت ادم ارشادي ښویېدنه کړې ده او دهمدغه ارشادي لغزش له امله په خپله او نسل یې د دنیا د ژوند په کړاو اخته شو.

**د نورې مطالعې لپاره وګورئ**

۱. جعفر سبحاني، منشور جاوید. **۵** ټوک **۷۵** مخ.

۲. یوسف عزیزي داستان پیامبران، **۳۸**مخ

۳. محمد هادي معرفت، تنزه الانبیاء.

**وروستے حدیث**

امام علي علیه السلام فرمایي:

اي د خدای بندګانو! د خدای له دښمنه ځان وساتئ داسې نه وي چې په خپلې بیمارۍ مو اخته کړي او په خپل غږ مو روان کړي او په خپلو پلو او سپرو لښکرو پر تا سو برید وکړي. په ځان مې قسم شیطان ستاسو لپاره ډیر خطرناک غشي په لینده کې ایښي دي او تر خپله زروه یې راکاږلي دي او له ډیر نزدې یې تاسو په

---

۱. یوسف عزیزي داستان پیامبران، تهران لومړي چاپ هادی خپرندویه ټولنه. ۱۳۸۰، هجري لمریز کال **۳۸** مخ.

۲. حضرت آیت الله سبحاني منشور جاوید **۵** ټوک **۷۵** مخ قم اسلامي خپرندویه ټولنه، بي تا.

نښنه کړې يئ.[1]

---

۱. نهج البلاغه ۱۹۲ خطبه/۴.

# د پیغمبر عصمت او د توبې سورې ۴۳ ایت

پوښتنه:

خداي تعالی په توبې سورې کې فرمایلې دي: ﴿عَفَا اللَّهُ عَنْكَ لِمَ أَذِنْتَ لَهُمْ حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكَ الَّذينَ صَدَقُوا وَ تَعْلَمَ الْكاذِبين﴾[1]

«خداي تعالی ته وبخښلې ولې دې مخکې له دې چې رښتیني او دروغجن وپیژنې هغوي ته اجازه ورکړه؟ (ښه وه چې صبر دې کړي وي چې دغو دواړو ډلو ځانونه ښودلې واي) دا ایت څرنګه د پیغمبر له عصمت سره سمون خوري شي؟

د پوښتنې وضاحت:

دا ایت د منافقانو په هکله نازل شوي چې نه یې غوښتل د تبوک په غزا کې برخه واخلي، نو د خداي رسول ته ورغلل او ډ ول ډول پلمې یې راوړې او په جهاد کې د شرکت نه کولو اجازه یې وغوښتله پیغمبر هم هغوي پیژندل او د هغوي له بې اعتقادۍ او د ایمان له سستۍ خبر و نو هغوي ته یې په ښار کې د پاتې کېدو اجازه ورکړه.

خداي تعالی په دې ایت کې خپل پیغمبر ملامتوي او فرمایي چې خداي تعالی ته وبخښلې؛ ولې دې هغوي ته اجازه ورکړه چې جهاد ته له تللو ډډه وکړي شي؟! [عفا الله عنک لم اذنت لهم] ولې دې پرې نښودله چې هغه کسان چې دروغ وایي او هغه کسان چې رښتیا وایي و پیژندل شي او ته یې په ماهیت خبر شې؟

---

۱. توبه ۴۳ ایت.

[حتی یتبین لک الذین صدقوا و تعلم الکاذبین]

ځینو کسانو ویلي دي چې دا غندنه او ورسره یو ځاي بخښنه له دې امله ده چې نعوذ بالله د پیغمبر له خوا هغوي ته اجازه ورکول خلاف او غلط کار و او د پیغمبر له عصمت سره سمون نه لري! زمخشري په تفسیر کشاف کې ویلې دي «خداي تعالی په دغه ایت کې په پیغمبر اعتراض کړي دي او دهغه په کار یې خپگان څرگند کړي دي او د دې مطلب دا دي چې پیغمبر یوه داسې گناه کړې ده چې بخښنې ته اړتیا لري»[1]

ځواب:

دا ایت دوه ډوله د توجیه او وضاحت وړ ده:

۱. په دغه ایت کې د پیغمبر له خوا د کوم خلاف کار او گناه د کیدو هیڅ دلیل نیشته. حتی په ظاهره کې داسې کوم لفظ نیشته چې د گناه معنا ولري، ځکه چې ټولې نښې وایي چې پیغمبر ښه پوهیده چې که دوي ته اجازه ورنه کړي او غوښتنه یې ونه مني بیا هم دوي په جهاد کې برخه نه اخلي. پر دې سربیره په همدې ایت کې وروسته راغلیو ایتونو ته په پام سره خداي تعالی نه خوښوله چې دغه کسان دې په جهاد کې برخه واخلي ځکه چې د دوي جهاد ته تلل د نورو جنگیالیو د روحیې د کمزورې کیدو سبب کیدل. خداي تعالی فرمایي: ﴿لَوْ خَرَجُوا فيكُمْ ما زادُوكُمْ إِلاَّ خَبالاً وَ لَأَوْضَعُوا خِلالَكُمْ يَبْغُونَكُمُ الْفِتْنَةَ وَ فيكُمْ سَمَّاعُونَ لَهُمْ وَ اللَّهُ عَليمٌ بِالظَّالِمين﴾[2]

که هغوي له تاسو سره (د جهاد په لور) وتلې واي؛ بې له پریشانۍ او دوه زړه توبه یې بل څه پر تاسو نه زیاتول او ډیر زر به یې په تاسو کې فتنه جوړه کړې وه او په تاسو کې (داسې سست ایمانه) کسان شته دي چې دهغوي خبرې اوري او خداي تعالی ظالمان پیژني.

علامه طباطبایي فرمایي: «ټولو مصلحتونو او مفاسدو ته په پام سره د

---

۱. الکشاف ۲ ټوک ۲۴۷مخ.

۲. توبه ۴۷ ایت.

پیغمبر سیاست تر ټول مناسب ممکن کار و»[1]

بله دا چې د پیغمبر په دغه اجازې کې د مسلمانانو هیڅ مصلحت نه دي خراب شوي او یوازې دا خبره ده چې که پیغمبر هغوي ته اجازه ورکړې واي نو د هغوي څېره به لا زر ښکاره شوې وه او خلکو به زر منافقان پیژندلي واي. نو پیغمبر هیڅ ګناه نه ده کړې او دا ایت د پیغمبر له عصمت سره هیڅ ټکر نه لري.

۲. خداي تعالی په دغه ایت کې فتنه پالي په ډیر لطیف او کنایه وزمه بیان سره معرفي کوي په دې بیان سره چې اي پیغمبره که اجازه دې نه وې ورکړې دهغوي د نفاق څېره به لا ښه او زر روښانه شوې وه. په حقیقت کې د «عفي الله عنک» جمله د خداي تعالی د مهربانۍ کنایه ده لکه څرنګه چې «رحمک الله» او «ساعدک الله» په فارسۍ او پښتو کې دود ده. او مونږ وایوو چې خداي دې خیر درکړي دا دې څه وکړل؟ دا جمله د ترحم او شفقت او د مینې د ښکاره کولو لپاره استعمالیږي. مثلا یو شاعر هغه وخت چې متوکل عباسي د هغه د جلاوطنۍ حکم وکړ نو وې ویل: «عفا الله عنک الاخر تعود بعفوک ان ابعدا» د خداي رحمت او عفو دې و ي پر تا یا که ستا عفوه له ما لیرې شوه نو زما او ستا په مینځ کې کوم حرمت نیشته چې هغه راستنه کړي»[2]

۳. روښانه ده چې شاعر نه غواړي د عفا الله په جملې سره په متوکل کومه ګناه ثابته کړي ځکه چې که داسې واي نو متوکل به لا خپه شوي و.

۴. امام رضا د دغه ایت په هکله د متوکل د پوښتنې په ځواب کې داسې وفرمایل: دا ایت د هغه مشهور متل په شان دي چې وایي: [ایاک اعني و اسمعي یا جاره] [3]یعنې دلته خداي تعالی پیغمبر ته په خطاب کې په اصل کې دهغه امت په نظر کې نیولي دي. په قران کې نور ایتونه هم شته چې په دغه سیاق او سباق سره نازل شوي دي لکه ﴿لَئِنْ أَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ وَ لَتَكُونَنَّ مِنَ

---

۱. تفسر المیزان ۹ ټوک ۲۸۵ مخ.
۲. تفسیر فخر رازي ۱۲ ټوک ۷۴ مخ.
۳. دا یو متل دي چې د کنایې په ډول راغلي دي او په دې ویونکي یو لفظ استعمالوي خو معنا ترې بله اخلي.

الْخاسِرِين﴾[21]

نو د «عفاالله عنک» جمله د خداي په رسول دخداي د ډيرې مهرباني او رحمت ښودونه کوي نه دا چې پيغمبر دې کومه ګناه کړې وي.

**نتيجه**

دا ايت په هيڅ ډول د پيغمبر ذات ته کومه ګناه يا د مصلحت فوت کيدل نه متوجې کوي بلکه سره له دې چې خداي تعالی په پيغمبر ډير لطف او مهرباني لري د «عفاالله عنک» په جملې سره خداي غوښتې دي چې له پيغمبر سره نوره مينه هم وښيي نو دا ايت د پيغمبر له عصمت سره هيڅ ټکر نه لري.

**د لاډيرې ځيړنې لپاره وګورئ:**

۱. **جعفر سبحاني، منشور جاويد ، ۵ ټوک ۸۳ مخ**

۲. **محمد هادي معرفت، تنزيه الانبياء**

**وروستي حديث:**

قال رسول الله:« ان اتقاکم و اعلمکم بالله انا»[3]

په تاسو کې تر ټولو تقوا لرونکي او خداي پيژندونکي کس زه يم» يوسف عزيزي،داستان پيامبران يا قصه هاي قران از آدم تا خاتم.

---

۱. زمر ۲۵ ايت..

۲. يوسف عزيزي داستان پيامبران يا قصه هاي قران از آدم تا ختم، تهران، انتشارات هاد ، لومړي چاپ ۱۳۸۰ ۴۹ مخ.

۳. محمد تقي هندي، کنز العمال حديث شماره ۳۱۹۹۱.

# ایا د کهف سورې ۱۱۰ ایت د پیغمبر له مطلق عصمت سره سمون خوري؟

پوښتنه: د دغه ایت مطابق:

﴿وَ ما آتاکُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَ ما نَهاکُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا﴾[1] و آیهٔ ﴿وَ ما یَنْطِقُ عَنِ الْهَوی * إِنْ هُوَ إِلاَّ وَحْيٌ یُوحی﴾[2]

مونږ د پیغمبر له پاره د مطلق عصمت قایل وو که هغه په احکامو کې وي او که په موضوعاتو کې. ایا د ﴿أَنَا بَشَرٌ مِثْلُکُم﴾[3]

ایت د نورو ایتونو مخصص او تخصیصوونکي دي او که نه؟ که مخصص وي ایا پورتني آیت یوازې د احکامو په عصمت دلالت کوي؟

له نبوت سره په اړوندو بحثونو کې یهو موضوع چې په کلامي کتابونو کې پرې بحث شوي دي د انبیاوو د عصمت مسله ده. په تفسیرونو کې هم د بحث په تناسب د هغې په هکله خبرې راغلي دي. د انبیاوو عصمت د مختلفو فرقو د علماوو په نزدې یو لږ تفاوتونه او فرقونه لري. یوازینۍ فرقه چې د عصمت په هکله له نور جدا نظر لري امامیه فرقه ده. لکه څرنګه چې شیخ مفید فرمایي:

«لیس في الفرق الاسلامیة من یوجب لهم العصمة مطلقاً... الا الشیعة

---

۱. حشر، آیهٔ ۷.

۲. نجم، آیهٔ ۳ و ۴.

۳. کهف، آیهٔ ۱۱۰.

الامامية»؛[1]

په اسلامي فرقو کې يوازې اماميه شيعه فرقه د پيغمبرانو لپاره د مطلق عصمت قايله ده. په دې اساس هڅه کوو د مناسب ځواب لپاره اول د مطلقه عصمت په ثابتولو تمرکز وکړو او بيا د دغه ايت {أَنَا بَشَرٌ مِثْلُكُم} مطلب روښانوو.

ځواب:

د ځواب د وضاحت لپاره ضروري ده چې د عصمت معنا او مفهوم ته لنډه شان کتنه وکړو.

عصمت په لغت کې: مقاييس اللغه د «عصم» تر کلمې لاندې ليکي: دا يو داسې اصل دي چې د ځان په ساتلو او ملازمې دلالت کوي او عصمت هم له دې اخستل شوي دي..[2]

عصمت په اصطلاح کې:

ځينو د عصمت په اصطلاحي تعريف کې هغه د لطف په معنا ګڼلي دي. شيخ مفيد وايي: دمتکلمينو په اصطلاح کې عصمت له هغه چا سره مختص دي چې د خداي په مهربانۍ او په خپل اختيار سره له ګناه او قبيحو کارونو ډډه وکړي.[3]

خو ځينو عالمانو عصمت يوه نفساني ملکه بللې ده. ايت الله جوادي آملي ليکي: عصمت يوه پياوړې نفساني ملکه او مهارت دي چې تل د معصوم انسان په وجود کې حضور او ظهور لري او هيڅ ځواک (لکه غضب او شهوت) د هغه د ختميدو سبب نه ګرځي.[4]

---

۱. محمد بن نعمان (شيخ مفيد) اوايل‌المقالات، ټوک۴، مخ۱۲۵، بيروت، دارالمفيد، چاپ دوم، ۱۴۱۴ق.

۲. احمد بن فارس بن زکريا، مقاييس‌اللغة، ټوک۴، مخ۱۳۳، قم، اسماعيليان.

۳. هماغه، مخ۱۲۴.

۴. تفسير موضوعي قرآن کريم، وحي و نبوت در قرآن، ۳ټوک، ۱۹۷مخ، قم، مرکز نشر اسراء، چاپ اول، ۱۳۸۱.

## ۱. د عصمت او عدالت فرق

د عصمت په تعریف کې مو عصمت ته نفساني ملکه او مهارت ووایه، دلته دا پوښتنه پیداکیږي چې د عدالت او عصمت په مینځ کې څه فرق دي؛ ځکه چې د عدالت په تفسیر او تعریف کې هم همدا د نفساني ملکې نوم راغلي دي اوهغه ته هم یوه نفساني ملکه او مهارت ویل شوې دي؟

په یوې اجمالي اشارې کې د دغو دوو په فرق پوهیدلي شو: په وجودي مرتبې کې عدالت تر عصمته کمزوري دي. له بلې خوا سهو او نسیان هیره او غفلت له عدالت سره ټکر نه لري حال دا چې له عصمت سره منافات او ټکر لري؛ بله دا چې عدالت یوه عملي ملکه ده نه علمي.

## ۲. عصمت له انسانوالي سره منافات او تضاد نه لري.

دخداي په مخلوقاتو کې د انسان یو ځانګړي حالت لري. حکیم جوړوونکي د انسان وجود له متضادو ځواکونو او مختلفو قواوو جوړ کړي دي او دا متضاد ځواکونه یې داسې له یو بل سره اخښلې دي چې د هغه د تکامل راز په همدغه پیچلتیا کې دي.

انسان په خپلو باطني قواوو کې د تعادل او انډول په پیدا کولو سره کمال ته د رسیدلو لاره هوارولي او د خداي د عبادت او تقرب په سیوري کې د عصمت مقام ته رسیدلي شي. زمونږ لپاره چې د نفساني غوښتنې او حجابونو په کلا کې یوو په دغه حقیقت پوهیدل که څه هم ګران دي خو دغه د کمال لوړې څوکې ته رسیدل ناممکن او ممتنع نه دي او د عصمت د مقام او د انسانوالي په مینځ کې هیڅ تناقض او ټکر نیشته دي ځکه چې هر انسان د خپل وجودي ظر فیت او وړتیا په اندازه نسبي عصمت لري. خو هغه مطلقه عصمت یوازې له انبیاوو سره خاص دي او عقلي او نقلي دلیلونه په دې خبره دلالت کوي. که ځینې قراني دلیلونه د پیغمبرانو لپاره عام او هر اړخیز عصمت ثابتوي؛ له ځینو نورو ایتونو سره چې فرمایي:

﴿قل انما أَنَا بَشَرٌ مِثْلُ﴾:[1] منافات او ټکر نه لري. ځکه چې په دې خبره هيڅ دليل نيشته چې د انسان معصوم والي ناممکن او ممتنع دي. نو په هغو ايتونو کې چې په عصمت دلالت لري او په دغه ايت کې د عموم او خصوص رابطه نيشته چې په دغه ايت په تمسک سره په عصمت کې د تبعيض او يا د عصمت د دايرې د محدودولو قايل شي.

د عقلي او نقلي دليلونو له مخې چې وروسته به بيان شي نبيان بايد معصوم وي او هم دا راز نبي او رسول بايد انسان وي؛ځکه چې د پيغمبرانو د بعثت دايره په انساني ټولنو کې ده. قران د مشرکانو په منطق نيوکه کوي هلته چې کافرانو وويل:

﴿ما لِهذَا الرَّسُولِ يَأْكُلُ الطَّعامَ وَ يَمْشي فِي الْأَسْواقِ لَوْ لا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مَلَكٌ فَيَكُونَ مَعَهُ نَذيرا﴾؛[2]

ولې دا پيغمبر ډوډۍ خوري او په بازارونو کې ګرځي.؟! (نه د پرښتو دودونه لري او نه د پاچايانو طريقه) ولې له هغه سره يوه پرښته نه ده نازله شوې چې له هغه سره يو ځاي خلک وويروي + انتشارات هاد (او دهغه د ادعا تصديقوونکې وي)؟!

په انعام سوره کې هم د هغوي له ژبې داسې حکايت شوي دي: ﴿لَوْ لا أُنْزِلَ عَلَيْهِ مَلَك﴾[3]

په الميزان تفسير کې د دغه ايت لاندې دهغوي د غوښتنې لپاره دوه احتماله ذکر شوې دي: يا مقصد دا دي چې ملايکې راشي او هغه څه چې پيغمبر يې د عذاب وعده ورکړې ده راوړي يا دا چې يوه پرښته په خپله د رسالت او پيغمبرۍ دنده په غاړه واخلي او د پيغمبر پر ځاي هغه دوي ته بلنه ورکړي..[4]

قران د مشرکانو په ځواب کې فرمايي:{وَ لَوْ جَعَلْناهُ مَلَكاً لَجَعَلْناهُ رَجُلا}[5].

---

۱. کهف، آيهٔ ۱۱۰.
۲. فرقان، آيهٔ ۷.
۳. انعام، آيهٔ ۸.
۴. تفسير الميزان، ټوک۷، ۲۰ ـ ۲۲ مخ ، قم، مؤسسهٔ اسماعليان.
۵. انعام، آيهٔ ۹.

که فرضا خپل رسول مو پرښته ټاکلې واي، بیا هم ضروري وه چې د انسانانو ټول صفتونه پکې راوړو او هغه د انسان په شکل جوړه کړو؛ یعنې له ظاهري او باطني اړخه هغه د انسان په سیرت سره راولو.[1]

نو په دواړو بڼو کې فرق نه کوي او څوک چې د نبي او رسول په توګه استول کیږي باید د انسان له جنسه وي نه دهغه له مخالف جنسه. علامه بیا داسې نتیجه اخلي:

«فإنزال الملك رسولا لا يترتب عليه من النفع و الأثر أكثر مما يترتب علي إرسال الرسول البشري»؛[2]

«که پرښته هم نازله شي نو تر هغه څه چې پیغمبر د انسان په شکل کې نازل شوي دي زیاته ګټه نه لري»

نو قران د رسول په توګه د انسان راستول چې ضروري شرایط ولري منجمله عصمت یوه عادي خبره ګڼي. په دې اساس لازمه ده چې اول د عصمت ډولونه بیان شي او بیا یې دلیلونه وجاجول شي.

## ۳. د عصمت ډولونه

عصمت په دوو ډولونو عملي او علمي تقسیمیږي. دا دوه ډولونه له یوه بله جدا کیدي شي. د انبیاوو عصمت دا دواړه لري یعنې پیغمبران هم په علومو کې معصوم دي او هم د عمل او کردار په ډګر کې..[3]

## ۴. د عصمت پړاوونه

### الف) له ګناه عصمت

د انبیاوو د عصمت یو مورد دا دي چې هغوي باید له هر ډول ګناه پاک وي. هغه انسان چې د نورو هدایتوونکي او د هغوي دتربیت یوه بیلګه او خلکو ته د

---

۱. تفسیر نمونه، **۵**ټوک، ۱۲۰ ـ ۱۲۲ مخ.
۲. تفسیر المیزان، **۷**ټوک، **۲۳**مخ، قم، مؤسسهٔ السماعلیان.
۳. تفسیر موضوعي قرآن کریم، هماغه، ۱۹۷ ـ ۱۹۹مخونه.

الهي وحي د پيغام رسوونکي دي په خپله بايد دطهارت او پاکۍ د کمال په درجه کې وي او هغه څه چې له عقلي او نقلي دليلونو يې استفاده کيږي د انبياوو مطلق عصمت دي چې په سر کې يې رسول الله مبارک (ص) دي يعنې پاک پيغمبران بايد له هر ډول ګناهونو او ککړتياوو پاک وي.

ب) د وحي په اخستلو پوهيدلو او رسولو يا تبليغ کې عصمت.

د پيغمبرانو د عصمت دوهم ډګر د وحي په اخستلو، پوهيدلو، ساتلو او رسولو کې عصمت او معصوم والي دي چې هغه غرض او مقصد چې په بعثت کې نغښتي دي تحقق ومومي او تاوان ورته ونه رسيږي. ځکه چې که په دغه يوې چارې کې هم د غلطۍ او خطا احتمال مطرح شي نو دخلکو اعتماد ختميږي.

ج) د شريعت په تطبيق او د ژوند په ورځنيو چارو کې له خطا معصوموالي:

يوه بله چاره او ځاي چې له هر ډول خطا او تيروتنې د پيغمبرانو عصمت پکې ضروري دي د شريعت په تطبيق کې مثلا د لمانځه د رکعتونو او د حدود په اجرا او د ژوند په ورځينو چارو کې کې له هر ډول خطا پاکوالي دي د پيغمبرانو د ژوند دا برخه هم بايد له هر ډول خطا او نسيانه پاکه وي او دا هم د هغوي د عصمت په پراخې ساحې کې شامليږي. د هغو پخو عقلي او نقلي دليلونو له مخې چې ذکر به شي انبياء او په سر کې يې زمونږ ګران نبي (ص) په دغو دريو ساحو کې عصمت لري. شيخ مفيد د قران کريم د دې ايت په ذيل کې:

﴿وَ النَّجْمِ إِذا هَوى* ما ضَلَّ صاحِبُكُمْ وَ ما غَوى﴾[1] فرمايي: «فنفي بذالك عنه كل معصية و نسيان؛[2]

«خداي تعالی په دې بيان سره د پيغمبر له پاک ذاته هر ډول ګناه او هيره نفي کړله» که څه هم د پيغمبر د سهوې په هکله ځينې بحثونه او حديثونه شته دي او په دې اړه ځينې روايتونه نقل شوې دي خو د قاطعو عقلي او نقلي دليلونو په

---

۱. نجم، آيهٔ ۱ و ۲.

۲. مصنفات شيخ مفيد، المؤتمر العالمي الالفية الشيخ المفيد، ټوک۴، مخ۲۳، اول چاپ، ۱۴۱۳ق.

شتون کې د داسې روایتونو لپاره څه نه پاتې کیږي شیخ طوسي د دغه ډول روایتونو مضمون ته په اشارې سره فرمایي:

«لکنها في نظرنا ساقطة لقیام الدلیل العقلي القطعي علي عدم جواز السهو او النسیان علي المعصوم...»؛[1]

دا ډول روایتونه زمونږ په نزد د اعتبار له نظره ساقط دي او اعتبار نه لري ځکه چې مونږ په معصوم کې د هر ډول سهوې او هیرې د نه جایزوالي لپاره قطعي دلیلونه لرو.

په کتاب تهذیب کې فرمایي:

: «هذا مما تمنع العقول»؛[2]

«یعنې عقلونه دغه ډول حدیثونه نه مني»

د خداي تعالی معرفت او د انبیاوو پیژندل او د بعثت اهدافو ته پام د دغه ډول حدیثونو غیر واقعي والي روښانوي. شیخ صدوق فرمایي:

«من نفی عنهم العصمة في شيء من احوالهم فقد جهلهم...»[3]

«یعنې هر څوک چې د پیغمبرانو د حالاتو او ژوند په یوه برخه کې عصمت نفي کړي په تحقیق سره چې پیغمبران یې نه دي پیژندلې»

لکه څرنګه چې د عارفانو له نظره نبوت او عصمت د الهي خلافت پر مقام ولاړ دي. له دې مخې لازمه ده چې په انسان کې الهي صفات په بشپړه توګه ظهور پیدا کړي؛ یعنې دغه انسان باید د خداي د جمالي او جلالي صفاتو مظهر او بیلګه وي د ایت الله جوادي املي په وینا په دې مینځ کې خلیفة الله یوازیني کس دي چې مطلقه عصمت ته تجلي ورکولي شي.[4]

---

۱. الاستبصار، ۲ ـ ۱ټوک ،۳۲۷ ـ ۳۲۸ مخ ، بیروت دارالتعارف، ۱۴۱۲ق.

۲. تهذیب الاحکام، ۲ټوک، ۱۸۱مخ، تهران، دارالکتب الامیه، څلورم چاپ ، ۱۳۶۵ .

۳. بحار الانوار، ۱۱ټوک، ۷۲ مخ ، بیروت، مؤسسة الوفاء، څلورم چاپ.

۴. تفسیر موضوعي قرآن کریم، ۲۳۷ مخ.

## ۵. د انبیاوو د عصمت دلیلونه

د انبیاوو د عصمت په جاج کې مختلف عقلي او نقلي دلیلونه موجود دي چې دلته ورته اشاره کوو:

### الف) عقلي دلیل

په تجرید الاعتقاد کتاب کې د عصمت د دلیل په هکله داسې راغلې دي: «و یجب علي النبي العصمة، لیحصل الوثوق فیحصل الغرض... »؛[1]

د پیغمبر او نبي لپاره عصمت ضروري او واجب دي ځکه چې اطمینان حاصل شي او په نتیجه کې د بعثت غرض او هدف لاسته راشي

علامه حلي د محقق طوسي د عبارت په توضیح کې فرمایي:

هغه کسان چې پیغمبر ورته مبعوث شوي دي که په نبي کې دورغ او ګناه جایزه وګني دهغوي په کار کې به هم هر دروغ او معصیت جایز ګڼي په نتیجه کې به د هغه له اوامرو ګټه نه پورته کوي. دې دلیل ته په پام سره چې په ډیره لنډه خو بشپړه توګه دا مسله بیانوي د انبیاوو د عصمت موضوع د عقلي جاج او څیړنې په برخه کې هم یوه ضروري چاره ښکاري چې خلک د پیغمبر د خبرې په رښتیا والي او سم والي باور پیدا کړي او په هغوي کې د دورغو د احتمال په مهلکې کې له غورځیدو بچ شي.

### ب) نقلي دلیل

د قران په ډیرو ایتونو کې دا مسله په نظر راځي چې له ګناه او خطا د پیغمبرانو پاکوالي او عصمت یوه روښانه چاره ده. د بحث د لنډ والي لپاره یو څو ایتونه وړاندې کوو:

قران مجید فرمایي: ﴿وَ ما يَنْطِقُ عَنِ الْهَوى* إِنْ هُوَ إِلاَّ وَحْيٌ يُوحى﴾[2]؛
او پیغمبر هیڅکله د خپل نفس او خواهش له مخې څه نه وایي بلکه هر څه چې

---

۱. کشف المراد، ۱۵۵ ـ ۱۵۲ مخ، قم، مؤسسهٔ امام صادق(ع) چاپ اول، ۱۳۷۵.
۲. نجم، آیهٔ ۳ ـ ۴.

وايي يوازې د وحي له مخې دي چې په هغوي نازله شوې ده.

په دې اساس د پيغمبر شريعت هغه څه چې د وحي په توګه يې حاصل کړې دي او خلکو ته يې بيانوي هماغه څيز دي چې خداي په هغه نازل کړې دي يعنې پيغمبر په دغه کلام او دهغه په رسولو کې له ګناه او خطا بشپړ پاک دي.

هغه ايتونه چې دلالت کوي پيغمبران د وحي په اجرا کې له غلطۍ او تيروتنې پاک دي يعنې هم د وحي په اخستلو او پرې په پوهيدلو او هم په هغې په ساتلو او اجرا کولو کې عصمت لري ځينې يې دا دي:

﴿فَلا وَ رَبِّكَ لا يُؤْمِنُونَ حتى يُحَكِّمُوكَ فيما شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لا يَجِدُوا في أَنْفُسِهِمْ حَرَجاً مِمَّا قَضَيْتَ...﴾[1]؛ ستا په رب قسم چې هغوی به مومنان نه وي مګر دا چې په خپلو اختلافونو کې په تا فيصله وکړي او بيا ستا له فيصلې په خپلو زړونو کې خپګان ونه لري.

﴿وَ لَوْ لا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكَ وَ رَحْمَتُه... وَ أَنْزَلَ اللَّهُ عَلَيْكَ الْكِتابَ وَ الْحِكْمَةَ وَ عَلَّمَكَ ما لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ...﴾[2]؛

که دخدای فضل او رحمت پر تا نه واي ځينو کسانو پتيلې وه چې تا له نيغې لارې وغړوي ، خو دخدای په مهربانۍ هغوي ځانونه له سمې لارې ليرې کوي او تاته هيڅ تاوان نه رسوي او خداي تعالی تاته کتاب او حکمت درکړ او هغه څه يې چې ته پرې نه پوهيدې درونبودل.

ايت الله جوادي د دغو دوو ايتونو لاندې ليکي: د دغو دوو ايتونو نتيجه دا ده چې له يوې خوا د اسماني کتابونو له استولو د خلکو په مينځ کې دهغه علم پر اساس قضاوت کول دي چې خداي يې پيغمبر ته ښيي.

له بلې خوا په حقه قضاوت په دې پورې اړه لري چې پيغمبر په احکامو او موضوعاتو پوه وي؛ لکه څرنګه چې د نساء سورې ۱۱۳ ايت په دې خبره دلالت کوي.[3]

---

۱. نساء، آيهٔ ۶۵.

۲. نساء، آيهٔ ۱۱۳.

۳. تفسير موضوعي قرآن کريم، ۲۱۸ ـ ۲۱۹ مخونه.

علامه په المیزان کې د دغو دوو ایتونو لاندې لیکي:

هغه چاره چې عصمت دهغه په وسیله تحقق مومي ؛ یو ډول علم دے چې لرونکی په ګناه او خطا له اختـه کیدو منع کوي. په بله ژبه داسې علم دی چې د ضلالت او ګمراهۍ مخه نیسي. هلته چې وې فرمایل:

﴿وَ أَنْزَلَ اللَّهُ عَلَيْكَ الْكِتابَ وَ الْحِكْمَةَ﴾[1]

مطلب وحی کتاب او حکمت دی. او هغه یو ډول پیغمبر ته الهي تعلیم دی. خو دخدای دا خبره چې :

﴿وَ عَلَّمَكَ ما لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ﴾[2]

له دې علمه مطلب هغه علم نه دے چې د کتاب په وحي او حکمت سره وي ؛ ځکه چې د ایت مورد په پیښو او دعواوو کې د پیغمبر قضاوت دي چې د هغه په هکله به یې د پیغمبر نظر غوښته. نو له دغو دوو څیزونو د مقصد دوه ډوله علم دي : یو د وحي په وسیله تعلیم او بل په زړه د القا او خفي وحي له لارې تعلیم.[3]

په دې اساس پورتني ایت د اسلام پیغمبر په دوو علمونو سنبال ګڼي. هم هغه علم چې د حکم او قضا سرچینه او هم هغه علم چې د موضوعاتو د پیژندلو علم دي. نو د دغه ایت شان نزول یې داسې ذکر کړي دي چې دوو کسانو چې شخړه یې لرله پیغمبر ته خپل شکایت راوړ او هر یو هڅه کول چې ځان وژغوري او بې ګناه وښیي او تور په مقابل لوري وتړي. دلته وه چې ددغه ایت په نازلیدلو سره حق له باطله وپیژندل شو. په دې اساس د نوموړي او ځینو نورو ایتونو مطابق چې دلته ټول نه شو ذکر کولي خبره بلکل صفا او روښانه ده. دخداي نبیان معصوم دي په تیره بیا اولوالعزم پیغمبران او دهغوي په سر کې زمونږ ګران رسول حضرت محمد (ص) د عصمت له لوړې درجې برخمن دي. قران د پیغمبر اطاعت دخداي اطاعت ګڼي او فرمایي:

---

۱. نساء، آیهٔ ۱۱۳.

۲. هماغه.

۳. تفسیر المیزان، ټوک۵، مخ۷۷ ـ ۸۰، قم، مؤسسهٔ اسماعیلیان، دویم چاپ ، ۱۳۲۰.

﴿مَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطاعَ اللَّه﴾؛[1]

څوک چې د پیغمبر اطاعت وکړي بې له شکه چې د خداي اطاعت یې کړي دي.

فخر رازي د دغه ایت په ذیل کې وایي:

«من اقوی الدلائل علي انه معصوم في جمیع الاوامر و النَّواهي... و ایضاً وجب ان یکون معصوماً في جمیع افعاله»؛[2]

«دا ایت تر ټولو قوي دلیل دي په دې چې پیغمبر په ټولو اوامرو او نواهي کې معصوم دي.... او همداراز واجبه ده چې پیغمبر باید په ټولو فعلونو کې معصوم وي»

تر اوسه مو چې کوم عقلي او نقلي دلایل ذکر کړل له هغو دې نتیجې ته رسیږو چې پیغمبران په تیره بیا خاتم پیغمبر چې تر ټولو افضل دي مطلق عصمت لري. نو د دلیل اطلاق ته په پام سره باوري یوو چې عصمت په خپلې پراخې لمنې سره د انبیاوو په ټول ژوند کې شامل دي لکه څرنګه چې جمیل حمود د دغه ایت په ذیل کې

﴿وَ جَعَلَني نَبِيًّا وَ جَعَلَني مُبارَكا﴾[3]

چې له حضرت عیسی یې نقلوي وایي:

«فلو فرضنا إنّه غیرمعصوم في تشخیص الموضوعات... یستلزم هذا عدم کونه مبارکاً»؛[4]

که فرض کړو چې پیغمبر د موضوعاتو په تشخیص او د هغو په هکله د نظر په ورکولو کې معصوم نه دي نو د دې مطلب به داوي چې په دغه مورد کې مبارک نه دي.

---

۱. نساء، آیهٔ ۸۰.

۲. امام فخررازي، التفسیر الکبیر، ۹ ـ ۱۰ ټوک ، ۱۹۳ مخ ، بیروت، داراحیاء التراث العربي.

۳. مریم، آیهٔ ۳۰ و ۳۱.

۴. محمد جمیل حمود ، شبهة القاء المعصوم نفسه في التهلکة، ۱ټوک، ۳۲۰ مخ.

## ۲. د انا بشر مثلکم د ایت مفاد

د قطعي او عقلي دلیلونو په رڼا کې د پیغمبرانو د مطلق عصمت له بیانولو وروسته د انا بشر مثلکم ایت څیړو.

که چې دلته پوښتنه شوې ده چې ایا دغه ایت د هغو ایتونو مخصص دي چې مطلقا د پیغبمرانو عصمت ثابتوي ؛ په تیره بیا درسول الله مبارک چې د پوښتنه کوونکي مقصد هم همدغه دي. چې که فرضا دا سمه وي نو وویل شو چې پیغمبر یوازې د احکامو په معامله کې معصوم دي نه په نورو معاملو کې؟

دې پوښتنې ته په پام سره باید ووایو چې هغه څه چې د مطلقه عصمت له دلیلونو او ایتونو لاسته راځي ، رسول الله مبارک مطلق معصوم دي؛ هم د وحي په اخستلو او ورباندې په پوهیدلو کې او هم د هغې ساتلو او رسولو کې. او هم یې په اجرا او د خپل ژوند په چارو کې په دغو ټولو کې له عصمته برخمن دي. په دغه ایت کې )لکه څرنګه چې په کهف سورې او فصلت کې راغلې دي( او نورو ایتونو کې د تخصیص او تعمیم رابطه نه ده موجوده. چې په هغه په تمسک سره څوک د پیغمبر لپاره د تبعیض قایل شي.

علامه په المیزان کې د کهف سورې د دغه ایت په ذیل کې راوړې دي : دغه ایت د «انما» په کلمه سره چې د حصر د معنې استفاده ترې کیږي له نورو خلکو سره په شباهت او ورته والي کې د پیغمبر انحصار بیانوي؛یعنې پر دې څه زیات نه لري؛ یعنې هغه څه چې دوي دوي یې ګمان کاوه چې هر څوک د نبوت ادعا وکړي د خدایي او د غیبیه قدرت ادعا یې هم کړې ده. نو دوي له پیغمبره داسې څیزونه غوښتل چې بې له خدایه ورته بل چا نه شو ورکولي. پیغمبر د خداي په امر دغه څیزونه له ځانه نفي کوي او یوازې دا خبره ځانته ثابتوي چې پیغمبر دي او دخداي له خوا ورته وحي کیږي.[1]

په فصلت سوره کې عالمانو دغه ایه شریفه مشرکانو ته د ځواب په مقام کې

---

۱. تفسیر المیزان،۱۳ ټوک، ۴۰۵مخ.

ګڼلې ده؛ هلته چې فرمايلې يې دي:

﴿وَ قالُوا قُلُوبُنا في أَكِنَّةٍ مِمَّا تَدْعُونا إِلَيْه﴾[1]؛

يعنې زمونږ زړونه داسې دي چې هغه څه چې پیغمبر ورته مونږ غواړي په هغه نه پوهیږو او زمونږ په غوږونو کې د کوڼ توب درنې پردې پرتې دي چې هیڅ بلنه نه اوري زمونږ او ستا په مینځ کې داسې حجاب دي چې ستا لور ته زمونږ د درتللو مخه نیسي. نو ایت د هغوي په خواب کې فرمايي:زه هم ستاسو په شان انسان یم چې ستاسو په مینځ کې ژوند کوم او لکه څرنګه چې تاسو له یو بل سره ناسته پاسته او ژوند کوئ له تاسو سره خبرې کوم لکه څرنګه چې تاسو له یوه بل سره خبرې کوئ. زه له داسې جنسه نه یم چې له تاسو سره فرق ولري چې مثلا زما او ستاسو په مینځ کې حجاب او پرده وي..[2] یعنې زه ستاسو په شان یو انسان یم او ستاسو په شان خبرې کوم نو بیا څنګه زما په خبرو نه پوهیږئ؟ په دې اساس دغه ایت د نورو ایتونو د تخصص لپاره نه دي بلکه مقصد یې دا دي چې دمشرکانو ځینې بې ځایه ګمانونه ، خیالونه ، پلمې او د چټې خبرې رد کړي او رسول الله مبارک د یو داسې انسان په توګه معرفي کړي چې د خداي پیغمبر او د الهي وحي لرونکي دي.

نتیجه

پیبغمبران معصوم دي او د اسلام پیغمبر چې اوالعزم او تر ټولو افضل نبي دي مطلق عصمت لري. دا خبره له عقلي او نقلي دلیلونو لاسته راځي او په پراخې ساحې کې او مطلقا د پیغمبر عصمت ثابتوي. نو دغه ایت چې:

﴿أَنَا بَشَرٌ مِثْلُكُم﴾

له تخصیص سره هیڅ اړه نه لري ؛ شیخ صدوق په دې اړه فرمايي: ربطي به تخصیص ندارد؛ «إعتقادنا انهم موصوفون بالكمال... لا يوصفون في شيء من احوالهم ينقص و لاعصيان و لا جهل؛[3]

---

۱. فصلت، آيهٔ ۵.

۲. تفسير الميزان، ۱۷ ټوک ، ۳۲۱ مخ.

۳. شيخ مفيد ، پيشين، (مصنفات شيخ مفيد)، ۹۲ مخ.

زمونږ عقيده دا ده چې نبيان له هر اړخه کمال او بشپړتيا لري او په علم او کمال هم متصف دي. له لومړيو چارو تر اخره. د خپلو چارو په هيڅ برخه کې په نقص، نيمګړتيا او ګناه او جهل موصوف نه دي.

**د لاډير مطالعې لپاره**

۱. جعفر سبحاني، منشور جاويد، قم، دفتر انتشارات اسلامي، **۵**ټوک، ۴ـ۱۷مخ،

۲. محمدتقي مصباح يزدي، راهنماشناسي، تهران، اميرکبير، چاپخانه اول چاپ، **۱۳۷۵**، ۹۰ـ۱۰۴مخ.

۳. علي شيرواني، معارف اسلامي در آثار شهيد مطهري، قم، د اسلامي چارو او استادانو چارې، **۱۳۷۲**، **۲۷۲ـ۲۷۸**مخونه،

۴. محمدامين ارزګاني، پيامبر اعظم در نګاه عرفاني امام خميني، تهران، مؤسسه و تنظيم نشر آثار امام خميني، اول چاپ، **۱۳۸۲**، **۴۸ـ ۵۰**مخونه.

۵. محمد سعيدي‌مهر، آموزش کلام اسلامي، قم، مؤسسهٔ فرهنګي طه، اول چاپ، **۱۳۷۸**، **۷۰ـ ۸۰** مخونه.

**وروستے حديث:**

رسول الله مبارک (ص) فرمايي: تر ټولو سخته بلا او ازموينه د پيغمبرانو ازموينه ده او بيا دهغو کسانو چې پيغمبرانو ته ورته دي. هر کس د خپلې ديندارۍ په اندازه په بلا او ازميښت اخته کيږي.[1]

---

۱. نهج الفصاحة، ترجمه: ابراهيم احمديان، ۲۲ مخ.

# شفاعت د قرآن له نظره

پوښتنه: آیا شفاعت د بقرې سورت ۱۲۳ ایت سره ټکره نه لري؟

د پوښتنې بیان: ایا د پیغمبر(ص) او د معصومو امامانو(ع) شفاعت د بقرې سورت ۱۲۳ ایت سره، چې فرمايي: ﴿وَاتَّقُواْ يَوْماً لاَّ تَجْزِي نَفْسٌ عَن نَّفْسٍ شَيْئاً وَلاَ يُقْبَلُ مِنْهَا عَدْلٌ وَلاَ تَنفَعُهَا شَفَاعَةٌ وَلاَ هُمْ يُنصَرُونَ﴾ ټکره نه لري؟ اول دا چې که له دې نظره ورته وکتل شي چې د دې ایت وروسته او وړاندې ایتونو ته پام ونه شي او یوازې د ایت ظاهري معنی را واخستل شي؛ او دویمه دا چې یوازې هغه ایتونو ته پام وکړې شي چې شفاعت یوازې خدای سره خاصوي او هغه ایتونو ته پام ونه شي چې د خدای په اجازې سره د پیغمبر(ص) او د معصومو امامانو(ع) شفاعت جائز ګڼي؟

ځواب: په قیامت کښې د شفاعت مسئله خو ټول مسلمانان مني او هیڅ له دې انکار نه دے کړے. د بقرې سورت ۱۲۳ ایت هم شفاعت نه نفي کوي، په دوو دلیلونو سره:

۱. د هغوې د وړاندې او وروسته ایتونو په ګواهۍ سره، دا ایت هغه شفاعت یادوي چې یهودیان او بني اسرائیل یې د ځان لپاره باوري وو او دا تصور یې کاوۀ چې په هغه دنیا کښې به هم د دې دنیا په شان د دوستۍ په سبب د خدای له عذابه خلاص شي![1] نو د «واتقوا» ټکې په دې ایت کښې بني اسرائیلو ته خطاب دے. له

۱. محمد حسین طباطبایي؛ المیزان في تفسیر القرآن؛ ۱ ټوک ، ۱۵۵ مخ.

دې وړاندې ایت دا دے: {یا بني اسرائیل اذکروا نعمتي التي انعمت علیکم و اني فضلتکم علي العالمین}[1]؛ اے بني اسرائیلو زما هغه نعمت رایاد کړئ چې په تاسو مې لورلے دے (او همدارنګ یاد کړئ) په تحقیق سره چې ما تاسو ته (د خپل وخت) په نړیوالو باندې لوړاوې درکړ.

۲. دا ایت له خدایه پرته د بل چا شفاعت، چې کله بې د خدای له اجازته وي، نفي کوي. دې مبارک ایت ته په پام سرهدا ایت د ګناهګارانو د شفاعت نفي کولو دلیل نه شي جوړیدے.

سپړنه:

د بحث د لازیات روښانیدو لپاره ضروري ده چې څو مسلو ته پام وکړو:

## ۱. د شفاعت معنی

شفاعت په لغت کښې له «شَفَع» مادې اخستے شوے دے او بیلا بیلې معنې لري، لکه: د فرد په مقابله کښې جفت، زیاتول، غوښتل، مینځګولي کول او ملاتړ.[2] علامه طباطبایي فرمایي: شفاعت په اصل کښې له «شَفَع» یعنې جفت اخستے شوے دے. په حقیقت کښې شفاعت کوونکې د شفاعت غوښتونکي نیمګړې وسیلې سره یو ځای کیږي او یو زوج او جوړه جوړوي چې د هغې په وسیله هغه غرضونو ته چې خپلې نیمګړې وسیلې سره ورته نه شو رسیدې، ورسي.[3] دې ته په پام سرهشفاعت د سببیت بشپړوونکے دے. ځیرتیا سره دا په لاس راځي چې شفاعت د سببیت له مصداقونو دے چې د لومړي سبب او مسبب تر مینځ واسطه کیږي.

## ۲. د شفاعت ډولونه

الف) تکویني شفاعت: دا ډول شفاعت یوه عامه معنی لري چې ټولو

---

۱. بقره، ۱۲۲آیة.

۲. د لیکوالانو یو ټولې، مجمع اللغات، ۵۴۳ مخ ، د عربی فارسی ته لویې لغتي کتاب جامع نوین، احمد سیاح.

۳. المیزان، هماغه.

موجوداتو ته شامليږي؛ يعنې ټول مخلوقات د انسانانو لپاره د خدای د رحمت وسيله دي. چې دا په حقيقت کښې غرض ته د رسيدو لپاره زيات مرسته کوونکي ګڼل کيږي.

ب) تشريعي شفاعت: دا شفاعت هر هغې يوې وسيلې ته ويل کيږي چې د انسان نيغې لارې او د حقو شريعت ته سمه لارښوونه وکړي. دا ډول په خپله بيا څو ډوله لري چې د هغې ټولو بيانول دلته ضروري نه دي او يوازې دې مطلب ته اشاره کيږي چې له هغو يو ډول د مغفرت او بخښنې شفاعت دے چې په دې کتاب کښې يې مونږ بحث کوو. په مغفرت کښې شفاعت د ګناهونو، ناپاکو او ککړتياو د بخشش لپاره د وسيلې شونه ده. د دې د لا زياتې څېړنې لپاره چې په دې هکله په قران کښې راغلي ايتونو ته پام کوو چې ايا دا ايتونه د شفاعت تاييد کوي که نه.

## ۳. په قران کښې شفاعت

هغه ايتونه چې د شفاعت بحث په کښې شوے دے دوه ډوله دي: يو ډول هغه دي چې په کلي توګه شفاعت نفي کوي او بل ډول هغه دي چې شفاعت د خدای په حکم او اجازت سره ګڼي.

الف) د شفاعت نفي کوونکي آيتونه

﴿ام اتخذوا من دون الله شفعاء قل ا و لو كانوا لا يملكون شيئا و لا يعقلون قل لله الشفاعه جميعا﴾[1]؛ آيا هغوي له خدايه علاوه نور شفيعان نولي دي؟! هغوي ته ووايه: ايا له هغوي شفاعت غواړئ چې که څه هم د څه مالکان نه وي او څه درک او شعور نه لري؟ ووايه ټول شفاعت خدای لره دے.

﴿و اتقوا يوما لا تجزي نفس عن نفس شيئا و لا يقبل منها شفاعه و لا يوخذ منها عدل و لا هم ينصرون﴾[2]؛ له هغه ورځې ووېرېږئ چې هيڅوک له بله څه نه شي دفع کولے او نه له هغه شفاعت قلبيږي او نه ترې څه بدل قبيلږي او نه ورسره مرسته کيږي.

---

۱. زمر، ۴۳ او ۴۴ آيتونه.

۲. بقره، ۴۸آية.

ـ ﴿و اتقوا یوما لفا تجزي نفس عن نفس شیئا و لا یقبل منها عدل و لا تنفعها شفاعه و لا هم ینصرون﴾؛[1] له هغه ورځې وویرېږئ چې هیڅوک به له بله څه نه شي دفع کولے او نه به ترې په بدل کښې څه قبلیږي او شفاعت به هغه ته څه ګټه نه ورکوي او له یوۀ اړخه به هم ورسره مرسته نه کیږي.

ـ ﴿یا ایها الذین آمنوا انفقوا مما رزقناکم من قبل ان یأتي یوم لا بیع فیه و لا حلّة و لا شفاعة﴾؛[2] اےهغو کسانو چې ایمان مو راوړے دے! له هغه څه چې تاسو ته مو روزي درکړې ده د خدای په لاره کښې ورکړئ وړاندې له دې چې هغه ورځ راورسي چې نه په کښې خرڅول او اخستل شته، نه په کښې دوستي او شفاعت.

څه رنګ چې تاسو وینئ دا ټول ایتونه شفاعت نفي کوي چې وروستني درې ایتونه په ځرګنده توګه په قیامت کښې شفاعت نفي کوي.

ب) شفاعت ثابتوونکي آیاتونه

ـ ﴿ان ربکم الله الذي خلق السماوات و الأرض في ستة أیام ثم استوی علي العرش یدبر الأمر ما من شفیع الا من بعد اذنه﴾؛[3] ستاسو پروردګار، هغه خدای دے چې اسمانونه او ځمکه یې په شپږو ورځو کښې پیدا کړل؛ بیا په عرش شو او د کار تدبیر یې وکړ او د هغه له اجازته بغیر هیڅوک شفاعت کوونکے نشته.

ـ ﴿یومئذ لا تنفع الشفاعه الا من اذن له الرحمن و رضي له قولا﴾؛[4] په هغه ورځ به د چا شفاعت څه ګټه نه کوي یوازې د هغه چا چې رحمان خدای ورته اجازت ورکړې وي او د هغه په خبرو راضي وي.

ـ ﴿ان یوم الفصل میقاتهم اجمعین یوم لا یغني مولي عن مولي شیئا و لاهم ینصرون الا من رحم الله انه هو العزیز الرحیم﴾[5]؛ د بیلتون ورځ د ټولو د

---

۱. هماغه، ۱۲۳آیة.
۲. هماغه، ۲۵۴آیة.
۳. یونس، ۳آیة.
۴. طه، ۱۰۹آیة.
۵. دخان، ۴۲ – ۴۰آیتونه.

وعدې ورځ ده؛ هغه ورځ چې د ملګري ملګرتيا به ملګري ته څه ګټه نه رسوي او له يوې خوا به هم ورسره مرسته نه کيږي مګر هغه کس چې خدای وربانـدې رحمت وکړي، ځکه چې هغه عزيز او رحم کوونکے دے.

ـ ﴿و قالو اتخذ الرحمن ولدا سبحانه بل عباد مکرمون لا يسبقونه بالقول و هم بأمره يعملون يعلـم مـا بـين ايـديهم و مـا خلفهـم و لا يشفعون الا لِمـنَ ارتضي و هم من خشيته مشفقون﴾؛[1] هغوي وويل: خدای پاک د ځان لپاره بچے نيـولے دے. هغـه (لـه دې عيبـه) پـاک دے، هغـوي (پرښـتې) معـزز بنـدګان دي او هيڅکله په خبرو کښې په هغه نه وړاندې کيږي او د هغه په حکم عمل کوي هغه د هغوي په اوسنيو (عملونو) او تيرو خبر دے او هغوي بې د هغه چا لپاره چې خدای ترې راضي دے شفاعت نه کوي او د هغه له ويرې ويريږي.

د دويمې برخې ايتونه؛ لکه څه رنګ يې چې له ظاهره پيدا ده، په قيامت کښې شفاعت د خدای په حکم سره ثابتوي، نو کله چې دا دوه برخې ايتونه جمع کړو نو دا رنګ نتيجه اخستې شو: په قيامت کښې شفاعت يو کلي قانون لري. په دې طريقه چې هلته هر څوک له ځانه شفاعت نه شي کولې بلکې د خدای په اجازت سره به شفاعت کوي؛ يعني په شفاعت کښې اصل دا دے چې يوازې د خدای لپاره وي، خو په ځينو ځايونو کښې د خدای رحمت د دې سبب کيږي چې نور کسان، لکه پيغمبران او د خدای وليان د خدای په حکم او اجازت سره شفاعت وکړې شي.

دې تـه پـام پـه قيامـت کښـې د شـفاعت کولـو مسـله منلې شـوې ده. اسـلامي عالمانو او پوهانو هم دا خبره منلې ده او که څه اختلاف دے نو هغـه د شـفاعت پـه معنې کښې دے، نه په اصل شفاعت کښې، د مسـلمانانو تـر مينـځ يـوازې معتزلـه او خوارج، که څه هم اصل شفاعت قبلوي، خو د شفاعت په تفسير کښـې نـورو سـره اخـتلاف لـري؛ هغـوي داسـې ګمـان کـړې دے چـې شـفاعت د نيکـو او اطاعـت کوونکيو کسانو لپاره دے، نه د ګناهګارانو لپاره؛ يعنې د پيغمبر(ص) د شفاعت پـه نتيجـه کښـې يـوازې د نيکـو کسـانو نيکـۍ او درجـه زيـاتيږي، نـه دا چـې

---

۱. انبياء، ۲۸ - ۲۲ آيتونه.

ګناهګاران ورسره نجات بیامومي.[۱]

## د اسلام د ځینې عالمانو نظر

علامه طباطبايي د بقرې سورت د ۴۸ ایت په ذیل کښې د شفاعت نفي کوونکي ایتونه او د شفاعت ثابتوونکي ایتونه بیانوي او بیا داسې نتیجه اخلي: که څه هم ځینې ایتونه د شفاعت نفي کوونکي دي، خو که د شفاعت ثابت کوونکي ایتونو ته وګورو نو باید دا مسله ومنو چې د قران ایتونه اصل شفاعت بې له څه اشکاله مني؛ خو ځینې ایتونه په اصل کښې شفاعت یوازې خدای سره خاص ګڼي او له خدایه علاوه د بل چا شفاعت د خدای په رضایت سره ثابتوي.[۲]

فخر رازي د بقرې سورت د ۴۸ ایت په ذیل کښې شفاعت یو منلې شوې څیز ګڼي چې ټول مسلمانان ورباندې یوه خُله دي. خو د معتزله و نورو سره اختلاف یې د شفاعت په تفسیر کښې ګڼلے دے.[۳]

شیخ طوسي هم د دې ایت په ذیل کښې وایي: دا ایت کافرانو سره مربوط دے ځکه چې پیغمبر(ص) د کافرانو په حق کښې شفاعت کوي چې د هغه حضرت د شفاعت نتیجه د ګناهګارانو له عذابه د خلاصي سبب کیږي.[٤]

فتّال نیشابوري د دې ایت ﴿عسی ان یبعثك ربك مقاما محمودا﴾، په ذیل کښې مقام محمود د پیغمبر(ص) شفاعت سره تفسیر کړےدے او له پیغمبره(ص) یې یو روایت نقل کړے دے: «المقام الذي أشفع فیه لأمتي».[۵]

مرحوم طبرسي د بقرې سورت د ۴۸ ایت په ذیل کښې فرمايي: ټولو مسلمانانو دا منلې ده چې په قیامت کښې به د پیغمبر(ص) شفاعت منلې کیږي که څه هم د هغې په څه رنګ والي کښې د معتزله و او نورو تر مینځ اختلاف دے چې

---

۱. عبدالجباز، قاضي، شرح الاصول الخمسه، ۴۲۳ ـ ۴۲۵ مخونه؛ دکتر سمیع دغیم، موسوعه مصطلحات علم الکلام الإسلامي، ۱ټوک ، ۲۲۷مخ.
۲. علامه طباطبايي، هماغه، ۱۵۷ – ۱۵۵مخونه.
۳. امام محمد رازي، تفسیر کبیر، ۳ټوک، ۵۹مخ.
۴. شیخ طوسي؛ التبیان في تفسیر القرآن، ۱ټوک، ۲۱۳مخ، د بقرې سورت د ۴۸ ایت په ذیل کښې.
۵. نیشابوري، محمد بن فتّال، روضة الواعظین، ۵۴۹مخ.

معتزله وايي چې شفاعت د اطاعت کوونکيو لپاره دے او شيعه وايي چې د شفاعت غرض دا دےچې ګناهګارانو ته له عذابه نجات ورکړي. بيا وايي: نه يوازې د پيغمبر(ص) شفاعت بلکې د هغه د خاصو يارانو، معصومو امامانو(ع) او د نيکو او صالحو بندګانو شفاعت هم قبليږي.[۱]

ابوالفتوح رازي د بقرې سورت د ۴۸ ايت په ذيل کښې وايي: دا ايت کافرانو او جهوديانو سره مربوط دے په مسلمانانو کښې بې له معتزله وو نور ټول شفاعت مني بيا ځينې هغه ايتونه چې په قيامت کښې شفاعت ثابتوي راوړي.[۲]

ميمون بن محمد نسفي هم دې مطلب ته اشاره کړې ده او په قيامت کښې يې شفاعت يو منلې شوې څيز ګڼلے دےچې ټول مسلمانان يې مني.[۳]

حتی وهابيان چې ډېر عالمان هغوي د شفاعت منکر ګڼي، شفاعت په کلي توګه نه نفي کوي، بلکه د پيغمبر(ص) شفاعت د قيامت په ورځې د خدای په حکم او اجازت سره مني.[٤]

هغه ايتونو ته په پام سرهچې د شفاعت نفي کوونکي دي لکه د بقرې سورت ۱۲۳ ايت، هغه شفاعت ته په پام سرهنازله شوې چې هغه د خدای له اجازته بغير وي. نو شفاعت يو داسې منلې شوې اصل دے چې په هغې کښې څه شک او ترديد کول په اسلامي مسلو کښې شک کول دي.

## د لازياتې مطالعې لپاره سرچينې

۱. مرتضي مطهري، مجموعه آثار، ۱ټوک، ۴۵۳مخ.

۲. جعفر سبحاني، آيين وهابيت، له ۲۵۹مخه وروسته.

۳. علي اصغر رضواني، سلفي‌ګري وهابيت و پاسخ به شبهات، له ۴۵۸ مخه وروسته.

وروستے حديث

---

۱. طبرسي، فضل بن حسن، مجمع البيان، ټوک۱، ۲۲۳مخ.

۲. ابوالفتح رازي، روح الجنان، ټوک۱، ۱۲۴ – ۱۷۵ مخونه.

۳. نسفي، ميمون بن محمد، تبصره الأدله في اصول الدين، ۲ټوک، ۷۹۲مخ.

۴. امين، سيد محسن، کشف الإرتياب في اتباع محمد بن عبدالوهاب، ۱۹۲ مخ.

پیغمبر(ص): «مَنْ لَم یَقْبَل العُذرَ مِنْ سُتَنصّلٍ صادقاً کان او کاذباً لَمْ یَنلْ شفاعتي»؛ هر یو کس چې ورته ځوک یو عذر راوړي که رښتیا وي که دروغ هغه قبول نه کړي، نو زما له شفاعته بې برخې دے.[1]

---

۱. نهج‌الفصاحة، د ابراهیم احمدیان ترجمه، ۳۷۰مخ د شفاعت په بحث کښې.

# ایا شفاعت د خدای وحدانیت سره ټکر لري

پوښتنه: د پیغمبرانو او امامانو شفاعت د خدای له وحدانیت سره څنګه سمون لري؟

د پوښتنې سپړنه: لکه څنګه چې روښانه شوه د مسلمانانو په نزد شفاعت یو منلی شوی اصل دی. د قران له نظره د شفاعت په ځواب کښې وویل شول چې د خدای په اجازې سره پیغمبرانو، معصومو امامانو او... ته دا ختیار ورکړې شوې دی چې ګناهګار او خطاکار انسانان له هغوي شفاعت وغواړي. د وهابیانو او ابن تیمیه له نظره چې وروسته به وربانديې خبرې وشي، که څوک له پیغمبره، معصومو امامانو او... شفاعت وغواړي نو له مشرک کیږي ځکه چې پیغمبران او معصوم امامان یې له خدای سره سم کړي دي او دا خبره له توحید سره سمون نه لري.

ځواب: «شفاعت» د «شفیع» له مصدره دی، په لغت کښې د وساطت، مینځګړتوب او یوې مطلوبې نتیجې ته د رسیدلو لپاره له چا سره د یو ځای کیدلو په معنی دی[1]. د علم کلام په اصطلاح کښې شفاعت، د خدای د هغه بخشش او رحمت په معنی دی چې د انبیاو او اولیاو په وسیله ځینې بندګانو ته رسي.[2]

---

۱. راغب اصفهاني، مفردات الفاظ قرآن، ۴۵۷ و ۴۵۸ مخونه، د شفاعت په بحث کښې.
۲. علي‌رضا طاهري، فرهنګ اصطلاحات متقابل و متشابه، ۱۱۲ او ۱۱۷ مخونه.

د پيغمبر(ص) له وخت راهسې تر اوسه پورې د مسلمانانو طريقه همدا وه چې په ژوند كښې او له مرګه وروسته، له ربښتونكيو شفاعت كوونكيو شفاعت وغواړي اسلامي پوهانو يو كس هم تر اوسه پورې داسې غوښته له اسلامي اصولو او حكمونو سره مخالف نه ده ګڼلې، په پينځمې پيړۍ كښې ابن تيميه، له دې مسلې سره او همدارنګ له نورو ډېرو غقيدو سره مخالفت وكړ. له هغه درې پيړۍ وروسته محمد بن عبدالوهاب نجدي، يو ځل بيا د مخالفت بيرغ ورپاوۀ او د ابن تيميه مكتب يې ژوندې كړ.[1]

په خپله شفاعت وهابيان مني خو يوازې په ځينې حكمونو او خصوصياتو كښې بيل نظر لري، د وهابيانو له نظره شفاعت هاله صحيح دے چې انسان نيغ په نيغه له خدايه وغواړي چې پيغمبر او هغه كسان چې د شفاعت اجازت لري د انسان شفاعت وكړي.ابن تيميه وايي: "كه څوک ووايي: خداى ته د نزدې كيدو لپاره له پيغمبر غواړم چې زما شفيع شي، نو دا د مشركانو له كارونو دي". محمد بن عبدالوهاب وايي: "د شفاعت غوښته بايد يوازې له خدايه وي، نه له شافعانو، يعنې بايد وويل شي: خدايه! د قيامت په ورځ محمد(ص) زما شفيع وګرځوې"[2]

دغو مطلبونو ته په پام، ضروري ده چې له شفاعت سره اړوند روايتونو ته پام وكړې شي او حقيقي او غير حقيقي شفاعت وپيژندې شي چې له وحدانيت سره د شفاعت سمون څرګند شي.

له شفاعت سره تړلي ايتونه په اوو ډلو ويشلې شو او له هرې يوې ډلې يو ايت د بيلګې په طور ذكر كوو:

## ۱. د شفاعت مطلقا نفي كول

ځيني ايتونه، شفاعت مطلقا او په كلي توګه نفي كوي: «أَن يَأْتِيَ يَوْمٌ لاَّ بَيْعٌ فِيهِ وَلاَ خُلَّةٌ وَلاَ شَفَاعَةٌ وَالْكَافِرُونَ هُمُ الظَّالِمُونَ»[3] او داسې ورځ به راورسي چې

---

۱. جعفر سبحاني، آيين وهابيت، ۲۵۹ او ۲۲۱مخونه.

۲. علي اصغر رضواني، سلفيګري، وهابيت و پاسخ به شبهات، ۴۵۸ او ۴۵۹مخونه.

۳. بقره، ۲۵۴آية.

په هغې کښې به نه تجارت وي او نه به پکښې دوستي او نه شفاعت، او کافران ظالمان دي.»

په نورو ایتونو کښې له موجودو نښانو دا په لاس راځي چې په دغو ایتونو کې شفاعت مطلقا او په کلي توګه نه دے نفی شوے بلکه غرض یې د شفاعت ځینې برخه ده چې (باطل شفاعت) دے.

## ۲. د یهودیانو په نظر کښې شفاعت نفي کول

قرآن کریم فرمایي:

«وَاتَّقُواْ يَوْماً لاَّ تَجْزِي نَفْسٌ عَن نَّفْسٍ شَيْئاً وَلاَ يُقْبَلُ مِنْهَا شَفَاعَةٌ وَلاَ يُؤْخَذُ مِنْهَا عَدْلٌ وَلاَ هُمْ يُنصَرُونَ»؛[1]

له هغه ورځې وویریږئ چې هیچا ته به د بل په ځای سزا نه ورکول کیږي، نه به یې شفاعت قبلیږي، نه به ترې بدل اخستل کیږي او هغوي سره به مرسته نه کیږي.

د دې ایت مطلب، هغه شفاعت دے په کوم چې بني اسرائیلو د ځان لپاره عقیده لرله. هغوي به ویل: مونږ د پیغمبرانو زامن یو او زمونږ د ګناه بار چې هر څومره هم دروند وي نو زمونږ پلاران به زمونږ په حق کښې شفاعت کوي.

## ۳. له کافرانو د شفاعت نفي کول

د قران ایتونه په څرګنده وایي چې د قیامت په ورځ، د کافرې ډلې لپاره هیڅ شفاعت او شفاعت کوونکے نشته: «فَمَا تَنفَعُهُمْ شَفَاعَةُ الشَّافِعِين؛[2] د شافعانو شفاعت به هغوي ته څه ګټه نه ورکوي»

## ۴. له بتانو شفیع په جوړونکو باندې نیوکه

د قران ځینې ایتونه د بتانو په شفیع والي نیوکه کوي: «وَمَا نَرَى مَعَكُمْ

---

۱. بقره، ۴۸آیة.

۲. مدثر، ۴۸آیة؛ ر.ك: اعراف، ۵۳آیة؛ شعرا، ۱۰۱آیة.

شُفَعَاء كُمُ الَّذِينَ زَعَمْتُمْ أَنَّهُمْ فِيكُمْ شُرَكَاء لَقَد تَّقَطَّعَ بَيْنَكُم ؛[1] [د بتانو عبادت كوونكې يوې ډلې ته ويل كيږي:] او مونږ له تاسو سره ستاسو هغه شفيعان ولې نه وينو چې تاسو ګمان كاوۀ چې دا مونږ سره شريک دي ستاسو تر مينځ تړون پرې كړې شو.»

بت پالو به دا ګمان كاوۀ چې د جوړكړې شوو معبودانو او د لرګي، كاڼو او اوسپنې د بتانو په عبادت سره د هغوي پام ځان ته راواړوي چې د خداى په نزد د هغوي شفيعان شي.

## ۵. له خداى سره خاص شفاعت

د قران كريم ځينې ايتونه شفاعت له خداى سره خاص ګڼي او فرمايي: «قُل لِّلَّهِ الشَّفَاعَةُ جَمِيعاً لَّهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُون ؛[2] ووايه شفاعت ټول د خداى لپاره دے د هغه لپاره د اسمانونو او ځمكې باچاهي ده، بيا به تاسو هم هغه ته ورګرځئ»

## ۶. د خداى په حكم شفاعت

ځينې ايتونه د خداى اجازه د شفاعت لپاره مهم شرط ګڼي: «مَن ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلاَّ بِإِذْنِه ؛[3] څوک دے چې بې د هغه له اجازته شفاعت وكړي» يعنې يوازې هغه ډله شفاعت كولې شي چې خداى پاک ورته د شفاعت اجازت وركړې وي.

## ۷. د شفاعت كوونكيو خصوصيات

هغه ايتونه چې نه يوازې په كلي توګه د شافعانو په هكله خبر وركوي، بلكه د هغوي نښانې هم ښيي:

---

۱. انعام، ۹۴آية؛ ر.ك: يونس، ۱۸آية؛ زمر، ۴۳آية؛ يس، ۲۳آية.
۲. زمر، ۴۴آية؛ ر.ك: انعام، ۵۱آية، انعام، ۷۰آية؛ سجده، ۴آية.
۳. بقره، ۲۵۵آية؛ ر.ك: يونس، ۳آية؛ مريم، ۸۷آية؛ طه، ۱۰۹آية؛ سباء، ۲۳آية؛ زخرف، ۸۶آية.

«لَا يَسْبِقُونَهُ بِالْقَوْلِ وَهُم بِأَمْرِهِ يَعْمَلُونَ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يَشْفَعُونَ إِلَّا لِمَنِ ارْتَضَى؛[1]
هیڅ کله د خدای له خبرو نه وړاندې کیږي او د خدای په حکم عمل کوي. خدای پاک خبر دے له هغه څۀ چې په دوي وړاندې دي څه په دوي پسې دي او د هغه چا شفاعت کوي چې د خدای خوښ وي.

په کلي طور ویلي شو: هغه ایتونه چې د شفاعت انکار کوي، هغه شفاعت په مستقله توګه نفي کوي او هغه ایتونه چې شفاعت ثابتوي، اول هغه یوازې د خدای لپاره ثابتوي او نور ایتونه دا ښيي چې خدای پاک خپل دا حق حقیقي شافعانو ته ورکوي، چې د هغه په اجازت سره، شفاعت وکړي نو دې ته په پام سرهد خدای نه علاوه د بل چا شفاعت د هغه په اجازت سره قبلیږي او دا هغه خبره ده چې قران یې تاییدوي.[2]
د ویلو ده چې د شفاعت غوښته، دعا کول دي. قران له ښو خلکو د دعا غوښتلو وصیت کوي. نظام نیشابوري د دې ایت په تفسیر کښې چې وایي: «مَّن يَشْفَعْ شَفَاعَةً حَسَنَةً يَكُن لَّهُ نَصِيبٌ مِّنْهَا...؛[3] هر څوک چې د نیک کار د کولو سبب شي نو هغه ته به د هغې پوره برخه وي.» داسې وایي: د شفاعت حقیقت هماغه د مسلمانانو لپاره دعا کول دي.[4]
فخررازي هم شفاعت د خدای په دربار کښې په دعا سره تفسیر کړے دے. هغه د «وَيَسْتَغْفِرُونَ لِلَّذِينَ آمَنُوا رَبَّنَا وَسِعْتَ كُلَّ شَيْءٍ رَّحْمَةً»[5] په تفسیر کښې لیکلي: دا ایت په دې خبرې ګواه دے چې د عرش د حاملانو شفاعت، یوازې د ګناهګارو په هکله دے. نو دې ته په پام، شفاعت د فخررازي له نظره، د ګناهګار

---

۱. انبیاء، ۲۷ و ۲۸ آیة؛ ر.ك: نجم، ۲۲آیة؛ غافر، ۷آیة.
۲. جعفر، سبحاني، الالهیات علي الهدي الکتاب و السنة و العقل، ۳۳۸ – ۳۴۰مخونه.
۳. نساء، ۸۵آیة.
۴. محسن، امین، تاریخچۀ نقد و بررسي وهابيها، د سید ابراهیم سید علوي ترجمه، ۲۵۸مخ.
۵. غافر، ۷آیة.

په حق کښې د شفيع دعا کول دي.

د شفاعت غوښته، دعا غوښتل دي.[1] په حديثونو کښې راغلي دي د يو مسلمان د بل په حق کښې دعا کول، شفاعت د ے. ابن عباس له پيغمبر(ص) نقلوي: «کله چې يو مسلمان مړ شي او د هغه په جنازه کښې داسې څلويښت کسان چې مشرکان نه دي لمونځ وکړي، نو خداى پاک د هغه په حق کښې د هغوي شفاعت (دعا) قبلوي"»[2] په دې حديث کښې دعا کوونکے د شفيع په توګه سره ياد شوے دے.

د سنيانو د روايتونو پر اساس، مسلمانان به په يوۀ خاص وخت کښې امام ته يا نورو مسلمانانو ته ورتلل او له هغوي به يې غوښتل چې له خدايه د باران سوال وکړي. او دا رنګ غوښتنه بې له شفاعت غوښتلو بل څه نه دي.[3] محمد بن عبدالوهاب هم له ژوندي انسان د دعا غوښتنه جائز ګڼي.[4]

## ۸. واقعي او غير واقعي شفاعت

له باطل او غير واقعي شفاعت سره د واقعي شفاعت فرق دا دے چې واقعي شفاعت له خدايه شورو کيږي او په ګناهګار ختميږي او په غير واقعي او باطل شفاعت کښې د دې اپوټه فرض کيږي. په واقعي شفاعت کښې، مشفوع عنده، يعنى خداى پاک، د وسيلې يعنې د شفيع ټاکونکے د ے. او په باطل شفاعت کښې مشفوع له، يعنې ګناهګار، د شفيع ټاکونکے د ے يعنې ګناهګار ځان ته څوک شفيع ګرځوي، په غير واقعي شفاعت کښې چې نمونه يې په دنيا کښې موجوده ده، شفيع د ګناهګار له خوا د شفيع او وسيلې صفت اخستے د ے، ځکه چې هغه په خپله دا وسيله ټاکلې ده او شفاعت ته يې مجبوره کړې ده. په واقعي شفاعتونو کښې چې د هغې جاري کوونکي انبيا او د خداى اوليا دي، وسيله او شفيع والے د

۱. فخررازي، تفسير کبير، د سورة غافر د ۷ ايت لاندې.
۲. مسلم بن حجاج بن مسلم، قشيري نيشابوري، صحيح مسلم، ۲ټوک، ۶۲۵مخ.
۳. محمد بن اسماعيل، بخاري، صحيح بخاري، ۴ ټوک، ۹۸مخ.
۴. نجم‌الدين، طبسي، رويکرد عقلاني بر باورهاي وهابيت، ۲۸ و ۲۹مخونه.

خدای له خوا دي چې انبیا او ولیان یې وسیله گرځولي دي.[1]

## ۹. له وحدانیت سره د شفاعت د غوښتلو رابطه

که هر ډول غوښتنه او اطاعت شرک وي، نو د دې لازمه دا کیږي چې ټول خلک د حضرت ادم(ع) له وخته تر ننه پورې مشرکان او کافران وي، ځکه چې هر یو کس په خپل عمر کښې له خپل ځانه له اوچت مقامه غوښتنه کړې ده او یا یې له هغه اطاعت کړے دے. همیشه زامن، نوکران، کارگران او فوځیان، له خپل پلاره، مشره او افسره اطاعت کوي او له هغوي ځینې غوښتنې لري. نو دې ته په پام سرهله بل کسه هر ډول درخواست او غوښتنه عبادت نه دے. لکه څنگه چې هر یوه غوښتنه هم شرک نه دے، ځکه چې عبادت، د حاجتونو غوښتل، که په دې طریقه وي چې ډېرې خوارۍ او ذلت سره او خضوع سره وي او په دې نیت چې هغه شفیع په دنیا او اخرت کښې په مطلقه توگه د هر کار کوونکے دے. کله چې په دې طریقې بې له خدایه له بل چا غوښتنه وشي، نو دا شرک دے[2] له دې امله، علامه طباطبایي فرمایي: شفیع د شفاعت په مقام کښې درې څیزونه نه غواړي:

۱. له خدایه نه غواړي چې خپل مولویت او د بنده عبودیت په نظر کښې ونه ساتي او باطل یې کړي؛

۲. له خدایه نه غواړي چې له خپله حکمه نظر وگرځوي؛

۳. له خدایه نه غواړي چې د مجازات کلي قانون باطل کړي.

بلکه د مولا یو یا څو صفتونو لکه کرم، سخاوت او... چې د خدای پاک د بخشش او عفوې سبب کیږي، سره تمسک وکړي او د بنده هغه صفتونه چې ورسره مغفرت په لاس راځي لکه د بنده بې وسي، خواري، بدحالي... یاد کړي. او همدارنگ ځینې هغه صفتونه چې په په خپله په هغه (شفیع) کښې دي لکه خدای ته نزدیکت، د خدای په نزد د منزلت او مقام لرل او... وسیله وگرځوي او له خدایه وغواړي چې د شفاعت غوښتونکي له گناه تیر شي. خدای پاک د مغفرت لپاره دا

---

۱. مرتضي مطهري، عدل الهي، ۲۳۷ او ۲۳۸ مخونه.

۲. جعفر سبحاني، شفاعت در قلمرو عقل، قرآن و حدیث، ۲۷۳ او ۲۷۴ مخونه.

اسباب ښيي او کله چې دا اسباب ټول موجود شي نو مغفرت هم جاري کيږي.[1]

په بله وينا، لکه څه رنګ چې واجب الوجود په خپل ذات کښې د غير معلول نه دے، په خپلو صفتونو او کارونو کښې هم دا امکان نه لري چې له بل علته اثر قبول کړي. هغه يوازينې مؤثر دے او له هيڅ يوه څيزه اثر نه قبلوي. خداى پاک له مونږ غوښتي دي چې له دې وسيلو او سببونو ګټه واخلو او دا هيڅکله شرک نه دے، بلکه عين توحيد دے[2] که چرې دا کار شرک حسابيدے نو خلکو به د پيغمبر(ص) په ژوند کښې او د له هغه له وفاته وروسته له هغه حضرته شفاعت نه غوښته.[3]

## ۱۰. شفاعت عين وحدانيت

کله چې مونږ د توحيد په څيرتيا سره څيړنه وکړو او په هغې باندې شفاعت تطبيق کړو نو روښانيږي چې نه يوازې دا چې شفاعت له وحدانيت سره سمون لري بلکه شفاعت عين وحدانيت دے.

## د توحيد ډولونه

توحيد ذاتي: خداى پاک يو داسې ذات دے چې شريک او همتا نه لري او د هغه په مقابله کښې، په دوو خدايانو باندې باور کول په ذات کښې له خداى سره شريک ګڼل کيږي.

توحيد افعالي: په نړۍ کښې يوازې يو ذات اثر کوونکے دے او د هر يو موجود اثر د خداى له خوا دے، د اور سوزول، د تورې پريکول او...، دا ټول د خداى له خوا او د هغه په حکم دي.

توحيد عبادي: د خداى پاک له ذاته پرته بل څوک د عبادت او بندګۍ وړ نه دي. د نړۍ په موجوداتو کښې يو کس هم د عبادت وړتيا نه لري، بتان، کاڼې او... او تر دې حده چې پيغمبران او د خداى وليان چې د هستۍ د کمال اخري درجې ته

---

۱. محمدحسين طباطبايي، تفسير الميزان، ترجمه محمدباقر موسوي همداني، ۱ټوک، مخ ۲۴ مخ.
۲. مرتضي مطهري، عدل الهي، ۲۳۹ مخ.
۳. جعفر سبحاني، الالهيات علي الهدي الكتاب و السنة و العقل، ۳۵۷ او ۳۵۸ مخونه.

رسیدلي دي هغوي هم دا مقام نه لري چې عبادت او پرستش یې وشي.

د توحید قسمونو ته په پام سره، له واقعي او حقیقي شافعانو د شفاعت غوښتل، د توحید په درې واړو مرتبو کښې له توحید سره سه ټکره نه لري، ځکه چې له اولیاوو شفاعت غوښتل، د دوو خدایانو د جوړیدو سبب نه کیږي (ذاتي توحید) یا د دې سبب نه کیږي چې مونږ یو بل موجود په اثر او فیض رسولو کښې مستقل وګڼو (افعالي توحید) یا د بل چا بندګي قبوله کړو او د هغه عبادت وکړو (عبادي توحید).[1] له دې ځایه دا ویلې شو: شفاعت له یو توحید سره هم ټکره نه لري، ځکه چې د شفیع هغه رحمت بې د خدای له رحمته بل څه نه دے او د شفاعت او رحمت سبب هم له پروردګاره پرته د بل چا له خوا نه دے.[2]

دې ته په پام سره که شفاعت کوونکي، «اله» او واړه خدایان وګڼل شي، په دې طریقه چې هغوي د خدای له اجازته علاوه د شفاعت د مقام مالکان وي او د چا چې هم وغواړي شفاعت کولے شي، نو بې شکه د دوي دا غوښتنه له خدایه علاوه له بل چا ده او غوښتونکے یې مشرک دے.

خو که شفاعت کوونکي، د خدای مخلوق وګڼل شي چې د خدای پاک په خاص اجازت سره د یوې خاصې ډلې په هکله شفاعت کولې شي او بیا په ځینو شرطونو سره د هغه شفاعت وغوښتې شي نو بې شکه دا غوښته او درخواست له عادي کار سره څه فرق نه لري او دا عمل یې د توحید له پولې نه دے وتلے. نو دې ته په پام سره دا تصور کول چې د خدای له ولیانو شفاعت غوښتل په ظاهر کښې د مشرکانو کارونو ته ورته دے چې له خپلو تبانو به یې شفاعت غوښته، دا بې بنیاده او بې اساسه خبره ده، ځکه چې د یو موحد سړي د خدای د اولیاوو په هکله عقیده د کافر د خپلو بتانو په هکله له عقیدې سره بالکل بدله ده ځکه چې مشرکانو به بتان د شفاعت د مقام مالکان ګڼل چې په هره طریقه او د هر چا لپاره یې شفاعت کولے شو او دا مسله په بتانو باندې د خدایي باور و او شرک ګڼل کیده په داسې حال کښې چې مسلمانان د خدای د ولیانو په هکله د شفاعت د

---

۱. جعفر سبحاني، شفاعت در قلمرو عقل، قرآن و حدیث، ۲۸۰ او ۲۸۲ مخونه.

۲. مرتضي مطهري، عدل الهي، ۲۴۰ مخ.

مالکیت عقیده نه لري.[1] او همیشه شپه او ورځ دا وایي: «مَنْ ذَالَّذي يَشْفَعُ عِنْدَهُ اِلّا بِإِذْنِهِ».[2]

## نتیجه

شفاعت یوازې له خدای سره خاص دے. کله کله خدای پاک خپلو ولیانو او بندګانو ته په دوو سببو اجازت ورکوي چې له دې حقه ګټه واخلي:

لکه څه رنګه چې د خدای رحمت (که مادي وي که معنوي) په دې نړۍ کښې د اسبابو په وسیله مونږ ته رسي، لکه څه رنګ چې خدای پیغمبران د انسانانو د هدایت او نیکمرغۍ لپاره رالیږي، لمر پیدا کوي چې خپلو شغلو سره خلکو ته ژوند وکړي او...، همدارنګ د هغه مغفرت او بخشش هم د اسبابو، لکه د خدای د ولیانو په وسیله مونږ ته رسي او اصلي اثر کوونکے خدای پاک دے.

خدای پاک اولیاوو ته د شفاعت د مقام له ورکولو سره دا غوښتي دي چې د هغوي درناوې وکړي او د خدای ته د هغوي قربت او د هغوي د وجود ارزښت خلکو ته وښايي.[3]

### د لا زیاتې مطالعې لپاره نورې سرچینې

۱. مرتضي مطهري، عدل الهي، ۲۳۷مخ

۲. نجم الدین طبسي، رویکرد عقلاني بر باورهاي و هابیت ۲۸مخ

۳. محسن امیني، تاریخچه نقد و بررسي وهابي‌ها، د سید ابراهیم سید علوي ترجمه، ۲۸۵مخ

## اخرنې حدیث

پیغمبر(ص): کله چې عالم او په پل صراط تیریدونکي ما ته راورسي، نو تیریدونکي ته وایي: "جنت ته ننوځه او له خپل عبادته ګټه واخله". او عالم ته وایي: اوس ودریږه او چې د چا غواړې د هغه شفاعت وکړه، ځکه چې شفاعت د هر

---

۱. سبحاني، جعفر، تفسیر موضوعي، ۲ټوک، ۴۲۲، ۴۲۱، ۳۲۴ مخونه.

۲. بقره، ۲۵۵ آیة.

۳. شفاعت در قلمرو عقل، قرآن و حدیث، ۹۰ او ۹۱ مخونه.

کس لپاره قبول دے او په دې طریقه به د پیغمبرانو په مقام کښې ودرېږي.[1]

---

١. الفصاحة، ترجمه ابراهیم احمدیان، ٣٧٠مخ.

## د خدای له نه بدلیدونکو سنتونو سره د شفاعت رابطه

پوښتنه: آیا شفاعت د خدای له نه بدلیدونکیو سنتونو سره ټکره نه لري؟

د پوښتنې سپړنه: په دې نړۍ کښې په تکویني او تشریعي عالم کښې ځینې بدلون نه منونکي قانونونه دي چې په هغې کښې هیڅکله بدلون نه راځي او دا قانونونه لکه څه رنګ چې په تیر وخت کښې و همدارنګ په دې وخت او راتلونکي وخت کښې هم حاکم دي او قران دې قانونونو ته سنت الله ویلي دي لکه چې فرمایي:

﴿فَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّةِ اللهِ تَبْدِيلاً وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّةِ اللهِ تَحْوِيلاً﴾[1] «د خدای په سنتونو کښې به هیڅکله بَدلون ونه مومې او د خدای په سنتونو کښې به هیڅکله تغییر ونه وینې» د خدای له سنتونو څخه یو ګناهګارانو ته سزا ورکول دي او دا چې خدای پاک به د یو شان ګناهونو لپاره یو رنګ سزاګانې ورکوي. نو دې ته په پام سره ایا شفاعت د خدای له سنتونو سره څه ټکره لري؟ او ایا ګناهګارانو ته سزا نه ورکول د غرض او مقصد له مینځه تلل نه دي؟

ځواب

د خدای پاک مغفرت او لوی رحمت او د ګناهونو معافول د خدای د پیغمبرانو او اولیاوو د سوري لاندې چې په خاصو شرطونو سره ګناهګارانو ته هم شاملیږي په خپله د خدای له سنتونو یو سنت او د خدای له له نه بدلیدونکیو

1. فاطر، ۴۳آیة.

قانونونو یو قانون دی، نو دې ته په پام سره چې کله شفاعت په خپله د خدای له سنتونو شو نو څه رنګ کیدې شي چې د خدای له سنتونو سره ټکره ولري؟!!

سپړنه

دا خبره منلې شوې ده چې د خدای سنتونه نه بدلیدونکي دي

په دې خبرې کښې څه شک نشته چې د خدای سنتونه نه بدلیدونکي دي او دا صحیح خبره ده خو باید پام وکړو چې د خدای سنتونه د هغه په یوه صفت باندې نه دي ولاړ او خدای یوازې یو سنت نه لري بلکې خدای ډېرسنتونه لري چې هر یو په خپل ځاي بشپړ او د خدای له نورو صفتونو اخستې شوې او هغو ته شامل دے. د مسلې د لا زیات روښانیدو لپاره د عالمانو خبرو ته لږ پام کوو.

علامه طباطبایي په المیزان تفسیر کښې او ایت الله جوادي املي په خپل موضوعي تفسیر کښې په دې ځایونو کښې داسې فرمایي: په دې کښې څه شک نشته چې دخدای سنتونه یوشان او د هغه لاره نیغه لاره ده؛ خو دا یوهیږ او نه بدلیدونکي سنتونه د هغه له صفتونو یوازې په یوه صفت چې «د تشریع صفت» دے باندي نه دي ولاړ چې هیڅ یو حکم او جزا په کښې له خپله ځایه نه شي بدلیدې؛ بلکه دا صفت د هغه خدای په ټولو عالي صفتونو باندې ولاړ او قایم دے. نو دې ته په پام هره یوه پیښه د وجودي نظره د خدای پاک یوه یا څو صفتونو سره اړه لري چې د هغه عالي صفتونو په مناسبت چې کوم اختلاف په هغوي کښې رامینځ ته کیږي او دهغې څه غوښتنه وي نو هغه په وجود کښې راځي. لنډه دا چې د شفاعت واقع کیدل او د هغې په سبب د عقاب او سزا لرې کیدل، دې ته په پام سره چې د بیلا بیلو سببونو نتیجه ده لکه رحمت، مغفرت او د قضا حکم او حقدار ته د هغه حق رسول او صحیح قضاوت او فیصله کول، نو دا د خدای په جاري سنتونو کښې څه بدلون نه راولي.[1]

په حقیقت کښې نیوکه کوونکي دا تصور کړے دے چې عذاب ورکول او

---

۱. محمد حسین، علامه طباطبایی؛ المیزان؛ ۱ټوک، ۱۲۳مخ؛ النشر الاسلامی مؤسسه؛ شپږم چاپ ۱۴۲۱ ق؛ عبدالله جوادی آملی؛ تفسیر موضوعی قران کریم؛ ۵ټوک، معاد در قرآن، ۱۵۳-۱۵۴مخونه؛ اسراء خپرندویه؛ ۱۳۸۱.

سزا ورکول اصلي سنت دے خو د شفاعت له مخې بخښل او مغفرت په قانون کښې يوه استثنا ده په داسې حال کښې چې په دې کښې يو هم د بل په نسبت څه استثنا نه لري بلکې هر يو له قطعي سنتونو دے چې په خپل ځاي کښې جاري کيږي نو نه ده پکار چې يو د خداى سنت وګڼو او بل د خداى د سنت سره د مخالفت په معنى تفسير کړو؛ او په اصل کښې چې مونږ وايو د خداى سنت او طريقې نه بدليدونکي دي د دې مطلب دا نه دے چې خداى له يوۀ سنته زيات سنتونه نه لري په داسې حال کښې چې هغه په خپله ځان داسې معرفي کوي ﴿كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِي شَأْنٍ﴾؛[1] «هره ورځ د هغه لپاره يو کار او ځانته شان دے».

نو دې ته په پام سره د خداى هر يو کار او د هغه له تجلياتو هره يوه جلوه د هغه له صفتونو له يوۀ صفت سره تړلې ده.[2]

نو نتيجه يې دا شوه، که شفاعت د خداى له لوري ترسره کيږي او له چا عذاب او چتيږي نو د هغه له سنت سره څه ټکره نه لري او نه د هغه په طريقو کښې څه بدلون راځي، بلکې شفاعت د ځينو عواملو لکه رحمت، بخښښ، حکم، قضا او د حقدار د حق ساتلو نتيجه ده. که دا حق هغه پيغمبر(ص) يا امامانو(ع) ته ورکړي نو د سنت مخالف يې څه کار نه دے شوے.

د لازياتې مطالعې لپاره سرچينې

١. عبدالله جوادي آملي، تفسير موضوعي قرآن کريم، ۵ټوک، معاد در قرآن، ۱۵۳مخ.

٢. جعفر سبحاني، شفاعت د عقل، قرآن او حديث په حد کښې، ۹۰مخ.

٣. جعفر سبحاني، منشور جاويد، ۸ټوک، ۱۱۰مخ.

وروستے حديث:

پيغمبر(ص): ماته يې اختيار راکړ چې يا شفاعت وکړم يا مې نيم امت جنت ته لاړ شي. ما شفاعت خوښ کړ؛ ځکه چې حد يې ډېر دے و کنايش بيشتر است. ايا تاسو دا فکر کوئ چې شفاعت يوازې د پرهيزګارو مؤمنانو لپاره دے؟ نه، بلکې

---

١. الرحمن، ۲۹آية.

٢. جعفر سبحانى، منشور جاويد؛ ۸ټوک، ۱۱۰مخ؛ دارالقرآن کريم؛ ۱۴۱۰ق.

د هغه ګناهګارو لپاره دے چې په ګناه ککړ شوي دي.[1]

---

١. الفصاحة، د ابراهیم احمدیان ترجمه، ۳۷۰مخ.

# معراج او نوي علمونه

پوښتنه: ایا د پیغمبر(ص) معراج د نویو علمونو له نظره ممکن کار دے؟

د پوښتنې سپړنه: د پیغمبر(ص) د معراج پیښه یوه داسې پیښه ده چې ټولو مسلمانو هغه منلې او قران مجید د هغې په هکله په څرګنده وینا کړې ده. له نویو علمونو او انساني عقل سره د معراج د پیښې د نه برابریدلو شک او پوښتنه هغه وخت ذهن ته راځي کله چې ورته د معجزې او خارق العاده شونې علاوه وکتل شي؛ ځکه چې په فضایي سفر کښې ډیر خنډونه او مشکلات مخې ته راځي او د دغو خنډونو په شتون او د امکاناتو او الاتو په نه شتون سره څنګه کیدې شي چې هغه حضرت اسمان ته تلے وي؟

ځواب:

د دې لپاره چې د دې ځواب مونږ ته په ښه طریقه روښانه شي لومړې باید د معراج پیژندګلي وشي.

## ۱. د معراج مطلب

۱. په لغت کښې: معراج په لغت کښې د عروج له مادې اخستې شوے دے چې د پورته د تللو په معنې دے. په هغه شپه چې دعا پورته ځي هغې ته «لیلۀ

المعراج»[1] ويل کيږي. نو دې ته په پام د معراج حقيقت په ځمکه او اسمان کښې سيل کول او ګرځيدل دي.

۲. په اصطلاح کښې: په اصطلاح کښې معراج په اسمانونو کښې د پيغمبر(ص) سفر ته ويل کيږي. د روايتونو پر اساس د پيغمبر(ص) معراج په دوو مرحلو کښې شوے و:

الف) له مسجدالحرامه تر مسجدالاقصی د پيغمبر(ص) تګ او بيرته راتګ چې د سوره اسراء په لومړي ايت کښې دې پيښې ته داسې اشاره شوې ده: «سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَي بِعَبْدِهِ لَيلًا مِنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَي الْمَسْجِدِ الْأَقْصَي.»[2] دې برخې ته په اصطلاح کښې او د تاريخونو په کتابونو کښې «اسراء» ويل کيږي.

ب) دويمه برخه له مسجدالاقصی اسمانونو ته تلل دي. د روايتونو له مخې پيغمبر(ص) په دې لاره کښې له پيغمبرانو سره ليدل او خبرې کړي دي او جنت او دوزخ او د خدای لوی نښانې يې ليدلي دي چې دې برخې ته يې په اصطلاح کښې «معراج» ويل کيږي.[3]

## ۲. د معراج کيسه

د خدای د رسول(ص) د معراج کيسه په قران کښې په دوو سورتونو «اسراء» او «نجم» کښې په لنډه توګه بيان شوې ده. خو د ايتونو او روايتونو له مخې لنډه کيسه داسې ده: مشهوره دا ده چې دا د شپې تګ د هغه حضرت په اخرنو ورځو کښې په مکې کښې د پاتې کيدو په وخت کښې پيښ شو.[4] خو دا چې دا سفر د کال په کومو شپو کښې وو په دې هکله له مونږ سره متواتر او دقيق حديث نشته. علامه په بحار الانوار کښې درې قوله بيانوي: د ربيع الاول د مياشتې په ۱۷ نيټه

---

۱. راغب اصفهاني، حسين، المفردات، د نشر الکتاب دفتر، ۱۴۰۴ق، ۳۲۹مخ.

۲. اسراء: ۱ايت.

۳. مکارم شيرازی، ناصر، تفسيرنمونه، ټوک۲۲، تهران، دارالکتب الإسلامية، ۱۳۷۴، ۵۰۴-۵۰۵مخونه.

۴. رسولي محلاتي، سيد هاشم، زندګانی حضرت محمد، تهران، د اسلام کلتور د نشر دفتر، ۱۳۷۴، ۱۹۲مخ.

یا د رجب د میاشتې په اووه ویشتمه نیټه او په یو بل روایت کښې د روژې د میاشتې په ۱۷ نیټه.[1] مشهوره دا ده چې هغه شپه د خدای رسول د ابوطالب د لور ام هانې په کور کښې و او له هغه ځایه معراج ته لاړ او هغه ټوله موده چې هغه پکښې مسجد الاقصی او اسمانونو ته لاړ او راغے له یوې شپې زیاته موده نه وه.

د خدای له رسوله(ص) روایت شوے دے چې ویې فرمایل: زهٔ د ام هانې په کور کښې د خوب او ویښې په حالت کښې وم چې جبرائیل ماته راغے او ویې ویل: اے محمده! پاځه. زهٔ پاځیدم او زما لاس یې ونیوهٔ او زمزم ته یې بوتلم. یوې پرښتې ته یې وویل: د زمزم او کوثر له اوبو څینې اوبه راوړه چې محمد وضو وکړي. پرښتې اوبه راوړې ما وضو وکړه بیا د جبرائیل په حکم مسجد الحرام ته ننوتم. بیا جبرائیل زما لاس ونیوهٔ او له جماته یې وباسلم. کله چې بهر وتلم، د جمات په دروازې مې براق ولید. جبرائیل وویل: سپور شه. دا هغه سورلي ده چې ابراهیم(ع) به په هغې باندې د خدای د کور زیارت ته تله. زهٔ په هغې سپور شوم او هغې زهٔ مسجد الاقصی ته او له هغه ځایه یې اسمانونو ته بوتلم او هلته مې ډېر عجائب ولیدل او د پیدایښت له رازونو خبر شوم او بیا زهٔ هغه براق مکې ته راستون کړم.[2]

په روایتونو کښې راغلي دي براق په څو ځایونو کښې ودرید او پیغمبر(ص) لمونځ وکړ: یو په مدینه کښې، دویم د کوفې په جومات کښې، بل په طور سینا او بیت اللحم کښې چې د حضرت عیسی(ع) د زوکړې ځای دے بیا پیغمبر(ص) مسجد الاقصی ته ورسیده او هلته یې لمونځ وکړ او له هغه ځایه اسمانونو ته

---

۱ . مجلسي، بحارالانوار، ټوک۱۸، ( بیروت، مؤسسةالوفا، ۱۴۰۳ه.ق)، ۳۰۲مخ.

۲ . ر.ک: طباطبایي، سید محمد حسین، المیزان في تفسیر القرآن، ټوک۱۳، قم، د اسلامی خپرندویو دفتر، پینځم وار، ۱۴۱۷، ۳۲مخ او حسنی أبوالمکارم، محمود بن محمد، دقائق التأویل و حقائق التنزیل، تهران، میراث مکتوب خپرندویه، ۱۳۸۱المریز کال، ۳۹۳-۳۷۹مخونه.

۳ . ر.ک: مجلسي، بحارالانوار، ۱۸ټوک، ( بیروت، مؤسسةالوفا، ۱۴۰۳ق، باب اثبات المعراج – سیرة النبویة، ابن هشام، مترجم: سید هاشم رسولي، بې تاریخه، اسلامیه کتاب خرڅوونکې، ۱۳۴۸، ۲۲۱- ۲۵۲مخونه.

ابن هشام په خپلې سيرې کښې د معراج د حديث لاندې له ام هاني نقلوي: د خداى رسول په هغه شپه زما په کور کښې و ، د ماښوتن لمونځ يې وکړ او ويده شو. مونږ هم له هغه سره ويده شو ، سهار نږدې و چې مونږ يې راويښ کړو او د سهار لمونځ يې وکړ او مونږ هم له هغه سره لمونځ وکړ بيا يې ماته مخ کړ او ويې فرمايل: اے ام هاني! لکه څنګه چې تاسو وليدل ما د ماښوتن لمونځ تاسو سره په دې ځمکه وکړ، بيا بيت المقدس ته لاړم او هلته مو څو لمنځونه وکړل. او لکه څه رنګ چې تاسو ګورئ د سهار لمونځ مې بيا له تاسو سره وکړ.

دا خبره يې وکړه او پاځيد چې لاړ شي، ما لاس کړ او لمن مې ونيوله او ورته مې وويل: اے د خداى رسوله کومه خبره چې دې مونږ ته وکړه نورو ته يې مه کوه ځکه چې تا به دروغجن وګڼي او تا ته به ازار درکړي، ويې فرمايل: قسم په خداى هغوي ته به يې هم وايم!

ام هاني وايي: ما خپلې وينځې ته چې د حبشې وه، وويل: د خداى رسول(ص) پسې شه، او وګوره چې خلک يې خبره اوري که نه او بيا راشه ماته يې ووايه. هغه وينځه لاړه او کله چې بيرته راغله ويې ويل: کله چې د خداى رسول(ص) خلکو ته خپله کيسه وکړه نو په حيراتيا سره ترې خلکو پوښتنه وکړه: ستا د رښتياوالي نښه څه ده او مونږ ته له کومه ځايه پته ولګي چې ته رښتيا وايې؟

هغه حضرت وفرمايل: د دې نښه هغه قافله او کاروان دے چې زۀ کله شام ته تلم نو په لاره کښې مې په پلانې ځاى کښې وليد چې اوښان يې د وريځو د اوازونو له سببه ترهيدل چې يو يې تښتيدلې و او ما هغوي ته د هغه اوښ ځاى وښود چې ما شام ته د تللو په وخت هغه ليدلے و د بيرته راتلو په وخت هم په ضجنان (د مکې ښار سره ۲۵ کلوميټره کښې) پلانکي کاروان سره مخامخ شوم چې ټول ويده وو او د اوبو لوښې يې خپلو سرونو ته ايخې و او سرونه يې ورله پټ کړي و او پلانکې کاروان به اوس د تنعيم له درې مکې ته رانننوځي او نښه يې دا ده چې وړاندې يې خاورين رنګ اوښ دے او په هغې باندې دواړو اړخو ته بار دے چې يو اړخ يې تور دے. کله چې خلکو دا خبرې واوريدې نو د تنعيم درې په لور لاړل او کاروان يې له هماغه نښو سره وليد چې پيغمبر(ص) ښودلې وې چې د

تنعـیم لـه دريِ راننـوت او کلـه چې هغـه بـل کـاروان مکې تـه راغـے او د اوښـانو د ترهیدو خبره او د یو اوښ د ورکیدو خبره یې ورنه وپوښـتله نو هغـوي یې تصدیق وکړ.[1]

نو د معراج په مسئله کښې څه شک او تردید نشته. علامه طباطبایي پـه دې هکله لیکي: «اسراء» او «معراج» پـه حقیقت کښې هغـه مسلې دي چې د هغـو د انکار څه لاره نشته ځکه چې قران د هغې په هکله په تفصیل سره خبرې کړي دي او د هغـې پـه هکلـه شـیعه او سـني او معصـومو امامـانو(ع) د پیغمبـر(ص) متـواتر روایتونه نقل کړي دي.[2] دلته یې مونږ یو څو بیلګې بیانوو او په هغې بسنه کوو:

الف آیت: ﴿سُبْحان الَّـذِي أسْـرى بِعَبْـده لَـيْلاً مِـنَ المَسْـجِدِ الْحَـرام إلـى الْمَسجِدِ الْأقْصَى الَّذي بارَكْنا حَوْلَهُ لِنُرِيَهُ مِنْ آياتِنا إنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْبصير﴾؛

پـاک دے هغـه ذات چې خپـل بنده یـې پـه یـوه شـپه کښـې لـه مسـجدالحرامه مسجدالاقصی ته چې ګیرچاپیر مو له برکته ډک کړے دے، بوتلـه د دې لپاره چې هغـه تـه لـه خپلـو نښـانو وښـایو بیشـکه چې هغه(خدای) ښـه اوریـدونکې او ښـه لیدونکې دے.

ب) او جعفر صادق(ع) په دې هکله فرمایي: «لیس من شیعتنا مـن انکـر اربعـهٔ اشـیاء: المعـراج والمسـألهٔ فـي القبـر و خلق الجنـهٔ و النار،والشـفاعهٔ؛[3] هغـه کـس زمـونږ لـه شـیعو نـه دے چې د څلورو څیزونـو انکـار وکړي: معـراج، پـه قبـر کښـې پوښتنه، د جنت او دوزخ پیدا ایښت او شفاعت.

ج) حضـرت امـام رضـا فرمـایي: «مـن کـذب بـالمعراج فقـد کـذب رسـول‌الله؛[4]

---

۱. ابن هشام، السیرة النبویة، ترجمه: م. سید هاشم رسولي، تهران، کتابچي خپرندویه، پینځم چاپ، ۱۳۷۵ش، ۱ټوک، ۲۵۲مخ.

۲. طباطبایي، محمدحسین، د المیزان ترجمه، ۱۳ټوک، مترجم: سیر محمدباقر موسوي همداني، تهـران د علامـه طباطبـایي کلتـوري او علمـي فاونډیشـن، ۱۳۶۳، ۵۳مـخ، او رك: محمـود زمخشري، الکشاف، ۲ټوک، بیروت، دارالکتب العربي، ۶۴۷مخ، او طبرسي فضل بن حسن مجمع البیان، ۲ټوک، تهران ناصر خسرو خپرندویه، دریم چاپ، ۱۳۷۲ش. ۲۰۹ او بحارالانوار، ۱۸ټوک، هماغه ۲۸۹مخ.

۳. بحارالانوار ۱۸ټوک هماغه ۳۱۲مخ.

۴. بحارالانوار۱۸ټوک هماغه ۳۱۲مخ، ۲۳حدیث.

ځوک چې د معراج له کیسې انکار وکړي په حقیقت کښې یې پیغمبر(ص) دروغ ګڼلی دی»

## ۳. معراج بدني که روحاني؟

د معراج په هکله دا پوښتنه هم شوې ده چې ایا د پیغمبر(ص) معراج روحاني و که بدني او جسماني؟ د دې لپاره چې دا خبره هم زمونږ له بحث سره اړه لري ځکه چې ډېر اشکال او نیوکې د جسماني او بدني معراج په هکله شوې دي نو په دې هکله څو لیدتوګې بیانوو:

۱. دا سیل او معراج روحاني و. جهمیه فرقه باوري ده چې معراج روحاني و او د یو خوب په شکل و.[۱] کومو کسانو چې دا لیدتوګه قبوله کړې ده د خپلې دعوې د ثابتولو لپاره یې دوه دلیلونه راوړي دي:

الف) جسماني معراج د انسان له عقل سره سمون نه لري. ځکه چې اسلامي متکلمین او فلسفیان په دې باور دي چې: اول دا چې، درون بدن د پاس په لور حرکت نه شي کولی او په سپک جسم (یعنې فضا) باندې نه شي اودریدلی او د اسمان په لور د هغې اوچتیدل او عروج محال دی. دویم دا چې که جسماني معراج ومنو نو په اسمان کښې ځیرې کیدل او بیا بندیدل (خرق و التیام) لازم راځي په داسې حال کښې چې په قوي او فلسفي دلیلونو سره په اسمانونو کښې خرق التیام جایز نه دي. دریمه دا چې په عالمونو کښې د یو جسم سیل کول او اوچتیدل لویې وخت ته اړمن دی، په داسې حال کښې چې د معراج موده دومره اوږده نه وه، بلکې ځینې خو دا وایي چې له یوې شیبې زیاته نه وه او دا په خپله د معراج په ورحاني والي دلیل دی.[۲]

اسلامي متکلمین او عالمان د فلسفیانو په ځواب کښې وایي: چې د هغه حضرت معراج جسماني و او په همدې بدن سره یې په ټولو عالمونو کښې سیل کړی دی تر دې چې کرسۍ او عرش ته رسیدلی چې د هغوي په عقیدې دا اتم او

---

۱. ابن شهرآشوب، مناقب، النجف الاشرف، مطبعة الحیدریة، ۱۳۷۲هـ ق، ۱ټوک، ۱۵۳مخ.
۲. ر.ك: ابن‌سینا، شیخ الرئیس، معراج‌نامه، رشت، ۱۳۵۲هـ ق، ۱۸مخ.

نهم اسمان دے او د اسمانونو ټول موجودات یې هم لیدلي دي، او هغه نیوکې چې فلسفیانو کړې دي، چې که معراج جسماني وي نو خرق او التیام ترې لازم راځي، دا نیوکه له دې ځایه پیدا شوې ده چې هغوي دا تصور کاوه چې اسمان جسم دے که پیغمبر(ص) په جسم سره اسمان ته تلے وي نو باید چې اسمان چودلےوي او بیا بند شوے وي او دا خبره عقل نه مني[1] په داسې حال کښې چې په نوې علم (ساینس) کښې ثابته شوې ده چې اسمان جسم نه دے.

ب) په اسلامي سرچینو کښې داسې روایتونه شته چې هغه وایي چې دا معراج روحاني و: لکه: له یعقوب بن عتبه روایت شوےدے: «کانت رؤیا من الله صادقة؛[2] دا کار په خوب کښې واقع شوے دے» همدارنګ په یو روایت کښې له بي بي عایشې راغلي دي: «ما فقد جسد رسول اللهﷺ ولکن الله أسري بروحه؛[3] قسم په خدای چې د پیغمبر(ص) بدن زمونږ له منځه نه و تلې بلکې د هغه روح اسمانونو ته تلےو.» خو دا روایت، اول دا چې سیاسي ګټه یې لرله او د هغه جنجال د چپ کولو لپاره و چې د معراج په هکله د ځینو تر مینځ شورو شوے و[4] دویمه دا چې دا مطلب له هغه روایتونو سره مخالف دے چې له دواړو فریقو نقل شوي دي. او دریمه دا چې عایشه د پیغمبر(ص) د اسراء د پیښې په وخت یا پیدا شوې نه وه او یا یوازې یوه ماشومه وه او په کلونو وروسته به د پیغمبر(ص) د ماندینې په توګه د هغه حضرت کور ته راغله. لکه څه رنګ چې ابن حجر عسقلاني، چې یو اهل سنت پوهاند دے، لیکي: عایشه د رسول الله مبارک له بعثته څلور یا پینځه کاله وروسته وزیږیده او د نهه کالو په عمر کښې چې د هجرت اول یا دویم کال و د پیغمبر(ص) په نکاح کښې راغله. نو دې ته په پام چې د اسراء پیښه د بعثت په دویم یا دریم کال پیښه شوې ده نو عایشه په هغه وخت کښې لا نه وه زیږیدلې مګر

---

۱. ر.ک: تفسیر نمونه، ۱۲ټوک، هماغه، ۱۲مخ او د المیزان ترجمه، ۱۳ټوک، هماغه، ۵۴مخ.

۲. ابن کثیر، الحافظ ابي الفداء، البدایة والنهایة،۳ټوک، بیروت، داراحیاءالتراث العربي، ۱۴۰۸ق، ۱۴۱مخ.

۳. هماغه.

۴. تفسیر نمونه، ۱۲ټوک، هماغه، ۱۵- ۱۲مخ.

دا چې وو ایو چې هغې له ځانه اجتهاد کړے دے.[1]

۲ له مکې تر بیت المقدسه پورې د هغوي سفر جسماني او اسمان او ملکوت ته سفر یې روحاني و[2] دا نظر د مرحوم شیخ احمد احسائي لارویانو چې په شیخیه باندې مشهور دي، وړاندې کړے دے. هغوي باوري دي، پیغمبر(ص) د بدن هغه ځلور عنصرونه چې مخکښان باوري وو چې دا ځلور عناصر اصلي دي، یې په خپل ځای کښې پرېښي و او هور قلیایي بدن چې مثال بدن دے له هغې سره یې په اسمانونو کښې سفر کړے دے.[3] زیدیې او معتزلې فرقې هم دا نظر قبول کړےدے او ویلې یې دي، د پیغمبر معراج تر بیت المقدس پورې روحاني او جسماني و ځکه چې په ایت کښې راغلي دي «الي المسجد الاقصي» او له هغې وروسته اسمانونو ته د هغه حضرت سفر روحاني و.[4]

۳. دا سفر او معراج ته تلل جسماني او په ویښه وو[5] د اسلامي متکلمانو، عالمانو او پوهانو تر مینځ دا خبره مشهوره ده چې دا سفر په حقیقت کښې او جسماني سفر و او دا د اسلام له منلې شوې خبرو ده. او همدا لیدتوګه د معراج په هکله صحیح ده او څرګند ایتونه او روایتونه هم په دې خبرې ګواهي ورکوي. لکه څه رنګ چې د شیعو لوی فقیه او مفسر مرحوم طبرسي په خپل تفسیر «مجمع البیان» کښې لیکلي چې د عالمانو په دې خبره اتفاق دے چې معراج جسماني و.[6]

همدارنګ د شیعو لوړ رتبه محدث علامه مجلسي(ره) او د اهل سنت مشهور مفسر، فخر رازي باوري دي: څېړاندي په دې باور دي چې د قران کریم په دلالت سره او د شیعه او سنیانو په متواترو روایتونو سره خدای پاک د پیغمبر(ص) روح

---

۱. پیشوایي، مهدي، دفتر نشر معارف، شپږم چاپ، ۱۳۸۲، ۱۳۳مخ.

۲. خاني رضا، حشمت الله ریاضي، ترجمة بیان السعادة فی مقامات العبادة، ۸ټوک، تهران او د پیام‌نور پوهنتون خپرندویه، ۱۳۷۲، ۲۲۳مخ.

۳. صدر المتألهین، د فلسفې درې رسالې، قم، دفتر تبلیغات اسلامي، دریم چاپ، ۱۳۸۷هـ ش، ۵۹مخ.

۴. ر. ك: مناقب ۱ټوک ۱۷۷مخ.

۵. خاني رضا، حشمت‌الله ریاضي، د بیان السعادة في مقامات العبادة ترجمه، ۸ټوک، تهران او د پیام‌نور پوهنتون خپرندویه، ۱۳۷۲، ۲۲۳مخ.

۶. مجمع البیان، ۷ټوک، ۳۹۵مخ.

او بدن له مکې مسجد الاقصی ته او له هغه ځایه یې اسمانونو ته بوتلۀ او د دې مطلب انکار کول یا تاویلول، چې روحاني مطلب ترې واخستې شي یا په خوب کښې په لیدلو سره تاویل شي، دا د ایمان او یقین د کمزورۍ نښه.[1]

## ۴. د جسماني معراج دلیلونه

د جسماني معراج لپاره زیات دلیلونه شته چې د لنډوالي په سبب دلته یو څو دلیلونه راوړو:

۱. د «عبد» ټکې په {سبحان الذي أسري بعبده} ایت کښې «اسری بعبده» یعنې خپل بنده یې بوتلۀ. دا عبارت په څرګنده په جسماني او بدني معراج باندې دلالت کوي، ځکه چې د «عبد» ټکې یو داسې ټکې دے چې په هغه انسان باندې چې له بدنه او روحه جوړ دے دلالت کوي[2] نو له دې ایته دا ګټه اخستې شي چې دا سفر په ویښه او جسماني و؛ کله چې ویل کیږي؟ فلانکې کس مو فلاني ځای ته بوتله، یعنې هغه مو هماغه جسم او روح سره بوتلۀ، نه دا چې په خوب او خیال کښې یې بوتلې وي؛ خو دا چې کله د دې په خلاف یوه قرینه (اشاره) وي.

آیت‌الله سبحاني د دې خبرې په تایید کښې چې معراج جسماني و فرمایي: قریشو چې کله د پیغمبر(ص) د معراج او مسجدالاقصی او اسمانونو ته د هغه د تللو خبره واریده نو ډېر خپه شول او هغه یې دروغجن وګاڼه، د قریشو په محفلونو کښې د معراج خبره چلیده. که چرې دا خبره یو خوب و نو بیا قریشو ولې هغه حضرت دروغجن ګاڼۀ او جنجال یې جوړاوۀ؛ ځکه چې که څوک داسې ووایي چې ما په شپو کښې یوه شپه په خوب کښې داسې خوب ولید، نو دا خو د اختلاف سبب نه جوړیږي.[3] نو له دې چې قریشو دومره شور جوړ کړےو دا

---

۱. بحارالانوار، د مؤسسه الوفاء چاپ، بیروت، ۱۸ټوک، ۲۸۹مخ فخر رازي، مفاتیح الغیب، ۵ټوک، ۵۴۰ـ۵۴۲مخونه.

۲. تفسیر نمونه، ۱۲ ټوک، ۹ مخ.

۳. آیت‌الله جعفر سبحاني، فروغ ابدیت، د اسلامي تبلیغاتو د دفتر خپرندویه، قم چاپ نهم، ۱۳۷۳، ۱ټوک، ۳۸۲مخ.

معلومیږي چې دا معراج جسماني و او پیغمبر(ص) په خپله هم د جسماني والي دعوا لرله.

۲. د «سبحان الذي» ټکي د سوره اسراء په سر کښې راغلے دے، دا سې حکايت کوي چې دا پیښه يوه معجزه وه چې خدای پاک د خلکو د انکار نه کولو لپاره ځان له هر عیب او نقصه پاک وګڼه، ګني د روح سفر چې بدن ورسره نه وي او له مادي محدوديتونو خلاص وي، داسې ټکو ته اړتيا نه لري.

۳. په سوره «النجم» کښې د «رؤيت» ټکي راوړې شوے دے: «ما زاغَ البَصَرُ و ما طَغي، لَقَد رَأَي مِن آياتِ رَبِّهِ الكُبري.»[1]؛ د پیغمبر(ص) سترګو څه غلطي او انحراف نه دے کړے هغه د خپل خدای لويې نښې وليدې. دا دواړه ايتونه په ډېره ښه طريقه دا مطلب رسوي چې دا ليدل په خوب او د مکاشفې په حالت کښې نه وو بلکې په جسماني او د ويښتيا په حالت کښې وو.

۴. زمخشري په خپل تفسير کښې يو حديث نقل کړےدے چې د هغې په يوې برخې کښې داسې راغلي دي: «وقد عرج به إلي السماء في تلک الليلة، ... و أنه لقي الأنبياء و بلغ البيت المعمور و سدرة المنتهي؛ په داسې حال کښې چې په دغه شپه کښې هغه اسمان ته اوچت کړې شوے و او د اسمان عجايب هغه ته وښودل شول او له نبيانو سره يې ليدنه وکړه او تر بيت المأمور او سدره المنتهى يې سفر وکړ.»[2] په دې حديث کښې «عرج» يعنې اسمان ته ختل د هغه جسماني وو ؛ له دې ځايه معلوميږي هغه روايتونه چې هغه يوازې په روحاني والي دلالت کوي هغه له دې سببه چې د قران کريم د ظاهر مخالف دي، ورباندې باور نه شي کيدې.

ځواب

د معراج د کیسې او د هغې د دليلونو له بيانولو وروسته مونږ دې اعتراض ته څو ځوابونه ورکولې شو:

۱. دا قطعي او يقيني خبره ده چې د معراج مسله يوه عامه پیښه نه وه، بلکې

---

۱. نجم، ۱۷ او ۱۸.

۲. محمود زمخشري، الکشاف، بيروت، دارالکتاب العربي، چاپ سوم، ۱۴۰۷ق، ټوک۲، مخ۶۴۷.

د پیغمبر(ص) له معجزو یوه معجزه وه او دې ته په پام سره چې معجزه په هغه څه کېښې نه کیږي چې عقلاً محال وي، نو معراج د عقل له مخې امکان لري او محال نه دے او له نویو علمونو سره هم ضدیت نه لري.[1] ځکه اوس چې کله انسان له پرمختللي علمونو سره دا توان پیدا کړےدےچې یوه وسیله جوړه کړي او ډېر زر ورسره له یوۀ ځایه بل ځای ته لاړ شي او د ځمکې له جاذبې او راکښونکي طاقته ځان وباسي، نو ایا دا ممکنه نه ده چې خدای پاک پیغمبر(ص) ته داسې سپرلۍ ورکړي چې له دې سفر سره مناسبت ولري او له هر ډول خطرو په امان کښې مقصد ته ورسي؟

۲. د پیغمبر(ص) معراج هغه لومړنۍ مسله نه وه چې خارق العاده وي بلکې د دې غوندې پیښې له تیرو پیغمبرانو سره هم پیښې شوي دي؛ لکه سلیمان(ع) ته د باد اختیار ورکول چې سلیمان یې په خپل اختیار هر چرته بوتلې شي او همدارنګ د عیسی(ع) د خدای په لور اوچتیدل لکه چې قران مجید فرمایي: «مَا قَتَلُوهُ وَمَا صَلَبُوهُ وَلَكِن شُبِّهَ لَهُمْ وَإِنَّ الَّذِينَ اخْتَلَفُواْ فِيهِ لَفِي شَكٍّ مِّنْهُ مَا لَهُم بِهِ مِنْ عِلْمٍ إِلاَّ اتِّبَاعَ الظَّنِّ وَمَا قَتَلُوهُ يَقِينًا؛ بَل رَّفَعَهُ اللّهُ إِلَيْهِ»؛[2] هغه يې هيڅکله نه دے وژلے او په صليب يې نه دے کړے بلکې خبره هغوي ته ګډه وډه شوه او بيشکه کومو کسانو چې د هغه په هکله اختلاف کړےدے هغوي په شک دي او د هغه په هکله ورته څه علم نه و يوازې د خپلو ګمانونو پيروي يې کوله او په يقين سره چې مسيح يې نه دے وژلے بلکې خدای هغه خپل لور ته بوتلۀ.»

نو کله چې د قران له نظره د حضرت عيسی(ع) اسمانونو ته بوتلل، د حضرت سليمان(ع) د باد په وسيله په ډېر لږ وخت کښې له يوۀ ځايه بل ځاي ته تلل يو منلې شوې خبره ده، نو عقل په ښه طريقه دې ته رسي چې[3] د پيغمبر(ص) د شپې معراج ته تلل هم معقول څيز دی او عقل دې ته هم رسي او پوهيږي او هيڅوک د دې

---

۱. رسولی محلاتي، سيد هاشم، زندګانی حضرت محمد، تهران، د اسلام کلتور د خپروني دفتر، ۱۳۷۴، ۱۹۲مخ.
۲. نساء: ۱۵۷- ۱۵۸.
۳. بحار الانوار، ۱۸ټوک، ۲۸۵مخ.

انکار نه شي کولی.

۳. د اسلام له نظره په دې عالم کښې ډېر رازونه او حیرانوونکي څیزونه شته چې نوي علمونه تراوسه د هغې ځینې برخو ته ورسیدل، چې یو یې په اسمانونو کښې د ژوندي موجوداتو شتون دے چې د ۱۴۰۰ کاله وړاندې د قران ایتونو او اسلامي روایتونو دې خبرې ته اشاره کړې ده، په داسې حال کښې چې انساني علم اوس دې ته ورسید، مثلا د فضا مجلې په خپلې ۲ ګڼې کښې چې په **۱۳۵۱/۱/۵** لمریز کال کښې چاپ شوې په یوې مقالې کښې چې عنوان یې "د پالومار ترتیونونه" دي، د پاسني جهان عظمت دا رنګ بیانوي: "تر څو چې یې د پالومار د تروتیونونو دوربینونه نه وو جوړ کړې، نو د هغه دنیا پراختیا زمونږ په نظر کښې له پینځه سوو نوري کالو زیاته نه وه، خو دې دروبین زمونږ د نړۍ پراخیتا زرو ملیونو نوري کلونو ته ورسوله، یوه عظیمه، هیروونکې او تیاره فضا په نظر راځې چې په هغې کښې هیڅ نه شي لیدې، یعنې رڼا له هغې نه شي تیریدی چې د تروتیونونو د دوربین مخ متاثر کړي. بې شکه په هغه تیرو کښې په هیروونکې او تیاره فضا کښې په سلګونو ملیونه کهکشانونه شته او زمونږ چې کومه نړۍ ده د هغه کهکشانونو د جاذبې په سبب ساتل کیږي. دغه ټوله دنیا چې مونږ ته په نظر راځې په هغې کښې په زرګونو ملیونه کهکشانونه دي، نو زمونږ دا دنیا په هغې کښې له یوې ذرې زیاته نه ده او تر اوسه مونږ دا اطمینان نه لرو چې له دې هاخوا یوه بله دنیا نه وي."[1]

یوازې د لمر منظومې په کهکشان کښې چې له لوړو زرګونو کهکشانونو یو کهکشان دی، په دې کښې په سلګونو ملیونه لمرونه او پړقیدونکي ستوري شته چې په هغوي کښې د پوهانو د حساب مطابق، د اوسیدو لپاره په ملیونو ستوري چې پکښې په میلیاردونو ژوندي موجودات وي، شته دي، دا د ننني فضايي پوهانو د اعتراف یوه بیلګه وه چې وايي په ځینې پاسنیو ستوریو کښې ژوندي موجودات شته.[2] خو څوارلس سوه کاله وړاندې چې د فضا علم او د دنیا لوی

---

۱. تفسیر نمونه، ۱ټوک، ۱۲۹مخ.

۲. دواني، علي، تاریخ اسلام از آغاز تا هجرت، قم، د اسلامي خپرندویې دفتر، ۱۳۷۳، (تتمه

تروتيونونه لا نه وي جوړې په هغه وخت کښې قران د دې په هکله خبر ورکړی دی او فرمايي:

الف) «وَ لِلَّهِ يَسْجُدُ ما فِي السَّماواتِ وَ ما فِي الْأَرْضِ مِنْ دابَّةٍ وَ الْمَلائِكَةُ؛[1] هغه څه چې په اسمانونو کښې دی او هغه څه چې په ځمکې کښې دي له خوزيدونکيو او همدارنګ پرښتې دخدای لپاره سجده کوي.

ب) «وَ مِنْ آياتِهِ خَلْقُ السَّماواتِ وَ الْأَرْضِ وَ ما بَثَّ فِيهِما مِنْ دابَّةٍ؛[2] او د هغه د طاقت له نښو د اسمانونو او ځمکې پيدايښت او هغه خوزيدونکي چې په دې کښې خپاره دي»

ج. امام علي(ع) فرمايلي دي: «دغه ستوري چې په اسمانونو کښې دي د ځمکې د ښارونو په شان ښارونه دي»[3]

۴. د ټيکنالوجۍ د وخت د پوهانو له نظره، دا علمي فرضيه منلې شوې ده چې د زمکې د جاذبې چپې په ډېره لږه موده کښې د نړۍ له يوې خوا بلې خوا ته بدليدی شي او خپل اثر کولے شي. کله چې په دې باور چې د هستۍ د بشپړتيا په حرکتونو کښې ځينې داسې منظومې شته چې د نور له رفتاره هم تيز له مرکزه او د قطب له عالم ليرې کيږي. او کله چې د عقل لپاره دا رنګ له عقله د بهرو څيزونو منل محال نه وي او عقل يې مني نو د معراج منل هم د عقل له مخې څه منع نه لري او د نوي وخت اصولو سره سمون لري او توجيه کيدې شي.[4]

۵. په فضايي سفرونو کښې ډېر موانع او خنډونه دي چې دا دي:

الف. د ځمکې د جاذبې طاقت چې له هغې د تښتيدو لپاره په يو ساعت کښې لږ تر لږه څلويښت زره کيلو ميټره سرعت ضروري دے

---

کتاب)، ۲۲مخ.

۱ . نحل: ۴۹.

۲ . شوري: ۲۹.

۳ . نمازي شاهرودي، شيخ علي، مستدرک سفينة البحار، ۹ټوک، قم، مؤسسة النشر الاسلامي، ۱۴۱۹ق، ۲۰۰مخ.

۴ . محمد رضا ايزدپور، «معراج پيامبر(ص) در ديدګاه عقل و وحي و آثار تربيتي آن»، کوثر فصلنامه، ۲۸ګڼه، ۱۳۸۵.

ب. د ځمکې له حده بهر اکسیجن نشته او له هغې نه علاوه انسان ژوندې نه شي پاتې کیدے.

ج. هغه خطرناکې شغلې چې د ځمکې له حده بهر موجودې دي، لکه د کیهان شغلې او د ماورا بنفش شغلې او د ایکس وړانګې. دا شغلې کله چې د انسان به بدن باندې په کم مقدار کښې راشي نو د انسان بدن ته تاوان رسوي.

له دې ټولو مشکلاتو او ستونزو سره سره بیا هم انسان د خپل علم په طاقت سره په دې بریالے شوے دے او د اسمانونو ستورو ته یې سفر کړے دےاو دا خبره د معراج واقع کیدل یو ممکن څیز ښیي.

۲. که څه هم په تیر وخت کښې د معراج د مسلې منل ګران وو خو اوسنی انسان د خپل تفکر او علم په طاقت سره دا ثابته کړه چې معراج څه عقلي محال څیز نه دے. ځکه چې انسان له فضایي راکټ جوړولو سره په سرعت سره د ځمکې له حده وتلې شي او په مخصوصو جامو سره ځان له بیله بیلو شغلو، چې د ځمکې له حده بهر دي، ساتلے شي. اوسني انسان په خپل طاقت او پوهې سره داسې راکټونه جوړ کړې دي چې له ځمکې ګیر چاپیر واټن په یو ساعت او لسو مینټو کښې ووهي، په داسې حال کښې که سل کاله وړاندې چا دا ویلې وې چې یوه ورځ به داسې کار وشي نو خلکو به هغه ته لیونې ویل او کیدې شي د ګالیله په شان چې د ځمکې غونډوالے یې کشف کړه، هغه به یې پانسي کاوۀ او یا به یې بندي کاوۀ.[1]

کله چې انسان په خپل محدود طاقت سره هغه څه چې په ظاهر کښې محال او ناممکن ښکاري، ممکن کولې شي، نو ایا پیغمبر(ص) د خدای په حکم دا کار نه شي کولے؟ بیشکه چې د خدای طاقت د انسان له طاقت ډیر زیات دے او لکه څه رنګ خدای د موسی همسا په یو لوی مار بدله کړه، په داسې حال کښې چې د هغه وخت د انسان په طاقت کښې دا کار نه و، نو خدای هر یو خارق العاده کار ممکنولے شي.

---

۱. زندګانی حضرت محمد، ۱۹۲مخ.

۷. دي ته په پام سره چې د نړۍ بیلا بیل مذهبونه او تقریبا ټول دینونه، په دنیا کښې د شیطان موجودیت او د انسانانو په زړونو کښې د هغه وسوسې اچول قبلوي، نو عقل حکم کوي چې کله شیطان ته، چې د خدای له درباره شړې شوې و خدای دا طاقت ورکړے دے نو د هغه پیغمبر(ص) په معراج کښې څه شک نه شو کولے چې د خدای له ټولو لوی پیغمبر وي.[1]

نتیجه

نوي علم ته په پام سره، که څه هم د معراج تصور په تیره زمانه کښې مشکله خبره وه خو په دې زمانه کښې څه مشکله نه ده. نو دې ته په پام سره کله چې د معراج خبره په قطعي دلیلونه سره ثابه شوه، نو ټول به هغه مني. له نیکه مرغه په اسلامي سرچینو کښې د دې مسلې د واقع کیدو قطعي دلیلونه موجود دي چې خدای پاک د معراج په شپه خپل پیغمبر(ص) په یوه تیزه سورلۍ باندې سپور کړ او اسمانونو ته یې بوتله او له خطرو یې وساتۀ.

د لا زیاتې مطالعې لپاره سرچینې

۱. سید هاشم رسولي محلاتي، د حضرت محمد(ص)ژوند، تهران، د نشر فرهنګ اسلامي دفتر، ۱۳۷۴هـ ش.

۲. شیخ الرئیس، معراج نامه، رشت، ۱۳۵۲هـ ش.

۳. علي دواني، د اسلام تاریخ له اوله تر هجرته، د کتابچې تتمه.

وروستے حدیث

پیغمبر اسلام: د معراج په شپه مې یوه داسې ډله ولیده چې خپل مخونه یې په خپلو نوکونو څیرل، جبرائیل وویل: دا هغه کسان دي چې د خلکو غیبت به یې کاوه.[2]

---

۱. بحارالانوار،۱۸ټوک، ۲۸۵مخ.

۲. اطیب البیان تفسیر، ۱ټوک، ۳۳۲مخ.

# د معراج د آسمان مطلب

دا پوښتنه واضحه نه ده، دا پوښتنه اول ځل چا کړې ده. پوښتنه: د معراج په مسله کښې د اسمان څه مطلب دے؟ که له اسمانه مراد يوه نامحدوده فضا وي چې د ځمکې او لمر تر مينځ ده، نو د دې تر مينځ د معراج په نامه څه څيز نشته او که مطلب يې، له لمره پورته وي او خداى پاک د هغې په اووم چت وي نو دا ډول چتونه هم نشته.

سريزه

ځمکه او اسمان، د پيدا ښت د عالم له پولو څنې پولې دي چې انسان د علم له پرمختګ سره سره، تر اوسه پورې د هغې د رازونو له خبريدو عاجز دے. مفسرانو د اسمان په هکله د ايتونو لاندې په تفصيل سره بحثونه کړي دي او مونږ د هغې ځينې برخو ته اشاره کوو، چې په دې پوه شو چې هغه اسمان چې پيغمبر(ص) ورته د معراج په شپه تلې و هغه کوم يو اسمان دے.

ځواب

دا پوښتنه په ظاهر کښې داسې ښکاري چې له نويو شبهو او نيوکو وي چې د معراج په هکله شوي دي، ځواب ته د رسيدلو لپاره ضروري ده چې اول د اسمان او د اوو اسمانونو او د هغه اسمان چې پيغمبر(ص) هغې ته تلے و ايتونو او روايتونو ته پام سره معنى وکړو.

## ۱. د اسمان مطلب

«سماء» په لغت کښې، له «سمو» مادې اخستې شوې چې د لوړاوي په معنې دے او د هر يو ځيز اسمان د هغه ځيز لپاسه ځيز ته وايي.[۱] تر دې چې ځينې لغت ليکونکي وايي چې هر يو لوړ ځيز د خپل ټيټ ځيز په مقابله کښې اسمان دے او هر يو لاندينې ځيز د خپل لوړ ځيز په مقابله کښې ځمکه ده.[۲] په اسلامي دايرة المعارف کښې له دې وروسته چې دا يې بيان کړي چې "اسمان هغه ظاهري ګنبد دے چې د ځمکې اوسيدونکي يې په هر ځاى کښې په خپل سر باندې لپاسه ويني" له ابن منظوره نقل شوي دي: په عربى کښې د اسمان مترادف ټکې سماء دى او معنى يې هغه ځيز دے چې اوچت وي، لکه چت يا چوپال.[۳]

علامه طبرسي په مجمع البيان کښې فرمايي: «مشهوره دا ده چې سماء هر يو هغه ځيز ته وايي چې ستا لپاسه وي يا يې په تا باندې سيورې کړے وي، او د کور سماء د هغې چت دے. وريځو او باران ته هم سماء ويل کيږي.»[٤] په نوي فيزيکس کښې اسمان يعنې: «يو نابود (معدوم) ځيز چې د ګنبد په شکل دے چې ځمونږ لپاره د ستورو او سيارو د ليدلو لاره هواروي.»[٥]

د «سماء» او «آسمان» ټکې په قران کښې په مفرده توګه «السماء» او جمع «السموات» له ۳۱۰ ځلو زيات راغلےدے خو په ټولو ځايونو کښې په يوې معنى او مصداق نه دے راغلے. په ټول کښې اسمان په قران کښې په دوو مفهومونو مادي او معنوي کښې استعمال شوےدے، ځينې ځايونه يې دا دي:

۱. د اوچت په معنى: دا معنى له لغوي معنې سره سمه ده او له دې ايته هم اخستې کيږي:

«كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَفَرْعُهَا فِي السَّمَاءِ؛[٦] ښه خبره د ښې

۱. حسن مصطفوي، التحقيق في کلمات القرآن الکريم، ۵ټوک، ۲۱۹مخ.
۲. حسين راغب اصفهاني، المفردات، ۴۲۷مخ، د سماء ټکي لاندې.
۳. احمد تفضلي، دايرة المعارف اسلامي، د اسمان ټکي لاندې.
۴. فضل بن حسن طبرسى، مجمع البيان، ۱۴۸مخ.
۵. ر.ک: بينات، سال دوم، ۸شميره، منې۱۳۷۴، ۸۲ او ۸۷ مخونه.
۶. ابراهيم، ۲۴آية.

ونې په شان ده چې جرړې يې په ځمکه کښې ثابتې او څانګې يې اسمان کښې دي»

د اوسنۍ زمانې ځينې مفسرانو دا معنی راوړې ده[1] خو ځينې نور انديال په دې باور دي چې:

«په قران کښې سماء د «اوچت» او د لوړاوي لپاره استعماليږي او ممکنه ده چې په مجازي حالت کښې يا د مسامحې لپاره په قران کښې استعمال شوې وي. ځکه چې د «اوچت» خو جمع نه شو جوړولې او اوچتوالې خو ډېرښت او جمع نه مني په داسې حال کښې چې سماء په ډيرو ځايو کښې جمع «السموات» استعمال شوے دے.[2] نو «سبع سموات» په دې معنې نه شي کيدے.

۲. د ځمکې ګير چاپير حد: هغه ځای کښې چې پکښې وريځې دي او په هغې کښې هوا ده: «وَنَزَّلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً مُبَارَكًا؛[3] او له اسمانه مو مبارکې اوبه نازلې کړې»

۳. د ستورو او سيارو ځای: «تَبَارَكَ الَّذِي جَعَلَ فِي السَّمَاءِ بُرُوجًا وَجَعَلَ فِيهَا سِرَاجًا وَقَمَرًا مُنِيرًا؛[4] برکتمن دے هغه ذات چې په اسمان کښې يې برجونه جوړ کړل او په هغې کښې يې ډيوه (لمر) او روښانه سپوږمۍ جوړه کړه.»

۴. د قرب او حضور مقام چې د عالم د کارونو د تدبير ځای دے: ځينې مفسرانو، لکه علامه طباطبای(رح) په څو ځينو ځايونو کښې «سماء» همدې معنې ته ګرځولے دے.[5] له هغو ځينې ايتونه چې په دې معنې دلالت کوي: «يُدَبِّرُ الْأَمْرَ مِنَ السَّمَاءِ إِلَى الْأَرْضِ؛[6] او (خدای) هغه دے چې د نړۍ چارې له اسمانه تر ځمکې تدبيروي.»

۵. يو عالي او حقيقي موجود: ځينې د ليدتوګې خاوندان وايي: اسمان لکه

---

۱. ناصر مکارم شيرازي، تفسيرنمونه، ۱ټوک، ۱۲۵ او ۱۲۷مخونه.
۲. محمد تقي مصباح يزدي، معارف قرآن (۳-۱)، ۲۳۴مخ.
۳. ق سورت، ۹آية.
۴. فرقان، ۲۱آية.
۵. ر.ک: علامه طباطبايي، الميزان في تفسير القرآن، ۱۲و ۱۹ټوکونه، ۲۴۷ او ۳۲۷مخونه.
۶. سجده، ۵آية.

ځنګه چې په قران کښې د مادي اسمان په معنی استعمال شوے دے لکه سموات سبع، د وجود په مرتبې کښې د لوړاوي او عالي موجود په معنې استعمال شوے دے چې هماغه معنوي سماء او له مادې او ټولې هستۍ نه د اوچت عالم په معنی دے چې له هغه لوړې مرتبې نازلیږي.[1] په د دې ایت: «وَ فِي السَّماءِ رِزْقُکُمْ وَ ما تُوعَدُون»[2] او ستاسو روزي او هغه څه چې تاسو ته یې وعده درکړې کیږي په اسمان کښې دي»

ډېر احتمال دا دےچې سماء د هغه عالم په معنی دے چې له مادي او معنوي عالمه اوچت دے او له ایتونو داسې په لاس راځي چې څه هم په دې مادي عالم کښې موجود دي، له هغه عالمه چې له مادې اوچت دےنازلیږي.[3]: «وَ إِنْ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا عِنْدَنا خَزائِنُهُ وَ ما نُنَزِّلُهُ إِلَّا بِقَدَرٍ مَعْلُومٍ»[4] د هر یو څیز خزانې له مونږ سره دي او مونږ یې یوازې په معلومه اندازه نازلوو.»

دې ته په پام سره، اسمان په لغت کښې، په نوي علم او قران کښې په یوه معنی نه دے استعمال شوې او په بیلا بیلو معنو استعمال شوے دے.

## ۲. اووه اسمانونه

په ټول قران کښې اته ځله «سبع سموات» ټکې راغلے دے. په دغه ټکو کښې چې ځیر شو[5] نو پوهیږو چې دغه ټول اوۀ اسمانونه په خپلو کښې په منیځ کښې

---

۱. محمد تقي مصباح یزدي، معارف قرآن ۲۳۴- ۲۳۶ مخونه.
۲. ذاریات، ۲۲آیة.
۳. معارف قرآن، ۲ټوک، ۲۳۶مخ.
۴. حجر، ۲۱آیة.
۵. «الّذي خَلَقَ سَبْعَ سَموَاتٍ طِبَاقًا مَا تَرَی فِي خَلْقِ الرّحْمَنِ مِنْ تَفَاوُتٍ فَارْجِعِ الْبَصَرَ هَلْ تَرَی مِنْ فُطُورٍ؛ هغه کس چې اووه اسمانونه یې چې د اووو منظمو چتونو سره پیدا کړل د رحمن خدای په خلقت کښې به څه تفاوت ونه مومې نو د عقل په سترګو وګوره ایا څه سستي او خلل پکښې وینې» (ملک، ۳آیة)؛
«أَلَمْ تَرَوْا كَيْفَ خَلَقَ اللّهُ سَبْعَ سَمَوَاتٍ طِبَاقًا؛ آیا تاسو نه دي لیدلي چې خدای پاک څه اووه اسمانونه طبقې طبقې پیدا کړي دي» (نوح، ۱۵آیة)
«هُوَ الّذِي خَلَقَ لَكُمْ مَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعاً ثُمّ اسْتَوَى إِلَى السّمَاءِ فَسَوّاهُنّ سَبْعَ سَمَوَاتٍ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ؛ (بقره، ۲۹آیة)؛

داسې دي لکه د پیازو د دوو پوستکو تر مینځ هغه نرۍ پرده؛ ځکه چې ډېرو تفسیر لیکونکیو د «طباقاً» ټکي معنی هغه چتونه کړي چې په یو بل لپاسه وي[1].
نو ایتونو ته په پام، دا ټول چتونه له یوۀ چته چې د ګیس دے پیدا شوي دي: «ثُمَّ اسْتَوى إِلَى السَّماءِ وَ هِيَ دُخانٌ؛[2] خدای پاک د ځمکې له پیدا ایښته وروسته په اسمان بوخت شو په داسې حال کښې چې لوړې او براس و» یعنې خدای پاک لومړنۍ کرې له ګیسه جوړې کړې،[3] ځکه چې سماء په هغه حال کښې (له ځمکې جوړیدو وړاندې) لوړې او پنډ ګیس و او ورو ورو نرې شو او اووه اسمانونه ترې جوړ شول.[4] په ټول کښې ویلے شو چې د اووه اسمانونه په هکله دوه احتماله لرو:
الف) دا احتمال شته چې له «سبع سموات» مطلب د ځمکې د راکښلو حد دے. د قران په ځینې ایتونو کښې، چې د اوو اسمانونو ذکر په کښې دے او چت په چت یې یاد کړي دي، دې ته اشاره شوې: «اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ سَبْعَ سَمَوَاتٍ وَمِنَ الْأَرْضِ مِثْلَهُنَّ ...؛[5] خدای هماغه کس دے چې اووه اسمانونه او د هغې په شان اووه ځمکې یې جوړې کړې»
ځمکه پیژندونکیو پوهانو، د ځمکې چتونه د کار او ذمه وارۍ له مخې په اووه چتونو کښې تقسیم کړي دي:
۱. تروپوسفر: تروپو، د متغیر او اسفِر په معنې، د ګول او دائرې او سیمې په معنی دے. د دې چت اوچتوالې په استوا کښې، شپاړس کلومیټره او په قطب کښې لس کلومیټره دے. په همدې برخې کښې وریځې جوړیږي او د ځمکې هوا او موسم ټاکل کیږي.
۲. استراتوسفر: دا چت د تروپوسفر له پاسه شورو کیږي او د ځمکې تر ۳۲ کیلومیټرو پورې دوام لري چې په هغې کښې همیشه تیز بادونه وي.

---

«تُسَبِّحُ لَهُ السَّمَوَاتُ السَّبْعُ وَالْأَرْضُ؛ (اسراء، ۴۴آیة).
۱. ر.ک: المیزان، ۱۰ټوک، ۱۵۰مخ.
۲. فصلت، ۱۱آیة.
۳. مجمع البیان، ۹ټوک، ۸مخ.
۴. ابوالفضل داور پناه، انوار العرفان، ۵ټوک، ۸۳مخ.
۵. طلاق، ۱۲آیة.

۳. اوزونسفر: په دې چت کښې د دویم چت څه نه څه برخه راغلې ده او د هغې لوړاوې له شلو کلومیټرو تر پنځوسو کلومیټرو ټاکل شوې دی. په دې چت کښې یو ډول اکسیجن شته چې هغه ته اوزون ویل کیږي. دا چت د نورو چتونو په نسبت ګرم دی او د ګرمۍ درجه یې تقریبا تر صفره رسي او سبب یې دا دی چې اوزون د لمر ماورای بنفش شغلې جذبوي.

۴. مزوسفر: په دې چت کښې، اسماني اجرام چې له فضا راځي، د ډېر سپیده لرلو په سبب له فضا سره د لګیدو له امله ګرمیږي او سوزي او د هغوي ایره ځمکې ته رسي.

۵. یونوسفر: دا چت یو عجیبه او له رازونو ډکه برخه ده چې د هوا د نریوالي له مخې د خلا په شان ده د ځمکې له پنځوسو کلومیټرو اوچتوالي شورو کیږي او تر درې سوو یا شپږو سوو کلومیټرو لپاسه ده. په دې برخه کښې یو ژوندې څیز هم د لمر له ماورای بنفش له شغلو او کیهاني شغلو او شهابونو (کاڼو) بچ نه شي پاتې کیدی مګر په هغو وسیلو سره چې فضایي راکټونه یې لري.[1]

۶. ترموسفر: په دې چت کښې د هوا ذرې بارداري کیږي (الکټریکي بار اخلي).

۷. اکسوسفر: په دې چت کښې ذرې د لاندیني چت په نسبت ډېرې کمې دي او په همدې دلیل، هغې ته تند حرکت ورکوي، همدارنګ په هغو کښې ځینو ته د ځمکې له کششه د بهر وتلو امکان ورکوي.[2]

ب. ځیني نورو پوهان وایي: هغه اووه اسمانونه چې پیغمبر(ص) یې د معراج په شپه سیل کړې و، هغه د ځمکې چتونه نه دي، بلکه اول او شپږم اسمان څه بل څه دي چې مونږ یې له جزئیاتو نه یو خبر. هغوي د خپلې خبرې د ثابتولو لپاره په څو څیزونو سره دلیل راوړی دی: چې سبع سموات او د اووه عدد د شمیرې لپاره وګڼو، نو مفهوم یې د اوو اسمانونو شول دي. د صافات سورت شپږم ایت ته

---

۱. سید علي اکبر قرشي، قاموس قرآن، ۳ټوک، ۳۳۴مخ.
۲. هماغه؛ سید علي اکبر قرشي، تفسیر احسن الحدیث، ۱ټوک، ۸۳مخ؛ یعقوب جعفري، کوثر، ۱ټوک، ۱۱۲مخ.

په پام سره چې فرمايي: «إِنَّا زَيَّنَّا السَّماءَ الدُّنْيا بِزِينَةٍ الْكَواكِبِ؛ مونږ نږدې اسمان [اول آسمان] په ستورو سره ښکلې کړ» او فصلت سورت دولسم ايت: «وَزَيَّنَّا السَّماءَ الدُّنْيا بِمَصابِيحَ؛[1] مونږ کوزني اسمان ته د ستورو په ډيوې سره ښکلا ورکړه»

روښانيږي چې کوم څه مونږ وينو او د انسان علم او پوهه تر هغې رسي، هغه ټول په لومړني اسمان کښې دي او له دې ستورو علاوه شپږ عالمونه نور دي چې زمونږ د علم لاس ورته نه رسي.[2]

له دې ايته په ښه طريقه ګټه اخستل کيږي چې کوم څه مونږ وينو او د ستورو جهان ترې جوړ دے، هغه په لومړي اسمان کښې دي او له هغې پرته، شپږ نور اسمانونه دي چې تر اوسه پورې مونږ د هغې په هکله علم نه لرو.[3]

هغه شپږ نور اسمانونه مونږ نه دي پيژندلي، خو دا امکان شته چې په راتلونکي وخت کښې له هغې پرده اوچته شي، ځکه چې د انسان نيمګړے علم هرڅومره چې پرمختګ کوي د پيدا ايښت نوي نوي عجايب ورته په لاس ورځي.

کوم څه چې بيان شو دې ته په پام سره مونږ داسې ځواب ورکولې شو:

۱. هغه اسمان چې پيغمبر(ص) ورته د معراج په شپه تلے و، په يقين سره هغه د ځمکې ګير چاپير چتونه او طبقې نه وې. نيوکه خو هاله کيدې شي چې مونږ د پيغمبر(ص) سيل د ځمکو په چتونو کښې وګڼو. ځکه چې د پيغمبر(ص) معراج، د څو اسمانونو په هکله خبر ورکوي او داسې څرګنديږي چې دغه اسمانونه د ځمکې د کشش له حده بهر دي. لکه څنګه چې ځينې تفسير کوونکي دا باور لري چې د دې نړۍ له اسمانه علاوه نور شپږ اسمانونه هم شته.[4]

۲. د پيغمبر(ص) لخوا اسمانونو او اوم اسمان ته ختل د خلقت له رازونو يو راز او خدايي معجزا ده. مونږ له اووه اسمانونو چې په قران کښې بيان شوي دي

---

۱. فصلت، ۱۲آية.
۲. تفسير نمونه، ۲۴ټوک، ۲۲۱مخ.
۳. هماغه، ۱ ټوک، ۱۲۷ او ۱۲۸ مخونه.
۴. ر.ک: الميزان في تفسير القرآن، ۱۷ټوک، ۳۷۰مخ.

يوازې د دې دنيا اسمان وينو او له دې نه يو خبر چې له دې ځمکې او کهکشانونو علاوه ګومره داسې ستورې او ځمکې شته چې د انسان پوهه ورته نه رسي او کله چې له يو ګيز نه يو خبر نو د هغې مطلب دا نه دے چې هغه ګيز نشته.[1]

۳. اوسني انسان، له خپل ټول علمي پرمختګ سره سره، دا دعوا نه شي کولې چې په شمسي منظومې کښې موجود ستورې، هغه يوازيني موجود ګيزونه دي چې انسان ورته رسيدلے دے او له هغې پرته بل ګه نشته. نو ګنګه کيدې شي چې له دې اسمانه پرته د بل اسمان له موجوديته انکار وکړي.

**نتيجه**

کوم ګه چې بيان شو له هغې مونږ دې نتيجې ته رسو چې د معراج په مسئلې کښې له اسمانه مطلب، هغه چتونه او طبقې نه دي چې د ځمکې او لمر تر مينځ موجود دي، بلکه مطلب يې د اسمانونو چتونه دي چې مونږ يې يوازې د دې دنيا له چته خبر يو. انسان د علم د کمي او ناتوانۍ له سببه تراوسه پورې هغه شپږو اسمانونو ته نه دے رسيدلے. په دې خبرې باندې له ټولو لوی دليل هغه کشفيات دي چې د نجوم په علم کښې شوي دي. انسان دا حق نه لري چې کوم ګيز په خپلو مادي سترګو سره نه شي ليدلے د هغې انکار وکړي؛ ځکه چې د انسان علم او پوهه محدوده ده او په دې کمې پوهې سره د بې نهايتۍ انکار نه دے پکار.

**د لازياتې مطالعې لپاره سرچينې**


قريشي، سيد علي‌اکبر، قاموس قرآن، تهران، دارالکتب الاسلاميه، ۱۳۷۱هـ

مصباح يزدي، محمدتقي، معارف قرآن (۳ ـ ۱)، قم، د امام خميني(ره) د زده کړې او ګيړنو مؤسسه، ۱۳۸۴هـ.

طباطبائي، سيد محمدحسين، الميزان في تفسير القرآن، ج۱۲ و۱۹، قم د اسلامي خپرندويو دفتر، ۱۴۱۷هـ ق.


**وروستے حديث**

---

[1] هماغه.

امام صادق(ع) فرمايي: «په دې ايت (والسماء والطارق) كښې له سماء مطلب اميرالمؤمنين(ع) دے او له طارق مطلب هغه روح دے چې له امامانو سره دے او هغوي په نيكو علمونو ټينګ ساتي د خداى له خوا له امامانو(ع) سره ننښه او څه چې په شپه او ورځ كښې كيږي له هغې يې خبروي...[1]

---

١. تفسير شريف لاهيجي، ۴ټوک، ۷۵۷مخ.

## په نبيانو باندې د معصومو امامانو(ع) لوړاوې

پوښتنه: شيعه ولې معصوم امامان(ع) له نبيانو لوړ ګڼي؟

### د پوښتنې وضاحت

دا پوښتنه له هغه پوښتنو ده چې په دين کښې ډير اهميت لري چې له تيرو زمانو رامينځ ته شوې وه، او په اوس وخت او راتلونکي وخت کښې به هم پوښتل کيږي. که څه هم د دې پوښتنې له پيدا کيدو وړاندې د پيغمبر(ص) په حديثونو کښې داسې ښې شته چې ورسره خپله دعوا ثابتولې شو. ابن ابی الحديد ليکلي: "د فضيلت دا عقيده يوه زړه عقيده ده چې ډېر اصحاب او تابعان په دې عقيدې وو"[1] په دې طريقه معلوميږي چې دا عقيده څه نوې عقيده نه ده او د اسلام له لومړيو تر اوسه پورې شته. له همدې سببه د شيعو لويو عالمانو د امامانو د فضيلتونو په بيانولو کښې ټکنې شوې نه دي. د شيعو لوړ شخصيتونه لکه شيخ مفيد، شيخ طوسي، علامه حلي (يوسف بن مطهر)، علامه مجلسي او اوسني فقيهانو په خپلو کتابونو کښې د دې اعتقاد دليلونه بيان کړي دي. په دې څيړنه کښې دا هڅه کوو چې د هغې ځينې دليلونه ډېره په لنډه طريقه بيان کړو.

ځواب:

---

۱. ابن ابي الحديد معتزلي، شرح نهج البلاغة، د آية الله مرعشي کتابتون خپرندويه قم، چاپ ۱۴۰۴ هـ ق، ۲۰ټوک، ۲۲۱مخ، «و القول بالتفضيل قول قديم قد قال به کثير من الصحابة و التابعين»

## ۱. د امامانو په لوړاوي باندې قراني دليلونه

چې په ټولو انسانانو، حتی نبيانو بې زمونږ له پيغمبره (حضرت محمد بن عبدالله(ص) لوړاوې لري.

د شيعه و عالمانو او د سنيانو ځينې فرقو، د امامانو د لوړاوي په تيره بيا د حضرت علي(ع) د لوړاوي لپاره د قران ډير ايتونه راوړي دي چې دلته يې ځينو ته شاره کوو:

### الف) د ابراهيم(ع) د امامت ايت

قرآن کريم فرمايي:

﴿وَ إِذِ ابْتَلي إِبْراهيمَ رَبُّهُ بِكَلِماتٍ فَأَتَمَّهُنَّ قالَ إِنّي جاعِلُكَ لِلنّاسِ إِماماً قالَ وَ مِنْ ذُرِّيَّتي قالَ لا يَنالُ عَهْدِي الظّالِمينَ﴾[1]

[ياد کړه هغه وخت] کله چې خدای ابراهيم په بيلا بيلو وسيلو سره وازمويه نو هغه په ښې طريقه دا ازموينې پوره کړې. خدای هغه ته وفرمايل: ته مې د خلکو لپاره امام او مشر جوړ کړې، ابراهيم ورته وويل: زما له نسله به هم (امامان وګرځوې) خدای وفرمايل: زمان دا عهد ظالمانو ته نه رسي (او ستا په اولاد کښې به امامت يوازې هغه کسانو ته رسي چې پاک او معصوم وي اود دې مقام وړ وي)[2]

دا ايت په دې طريقه دلالت کوي چې د حضرت ابراهيم(ع) ژوند له لويو ازميښتونو سره مخامخ و چې دا ايت يې په دې ازميښتونو کښې د بريالي توب وخت بيانوي. هغه ازميښت چې د ابراهيم لوړاوې او مقام يې په بشپړه توګه ثابت او د هغه ارزښت يې څرګند کړ. هغه حضرت چې کله په دې ازميښتونو کښې بريالې شو، نو خدای پاک بايد هغه ته انعام ورکړي، نو ويې فرمايل: "ما ته د خلکو لپاره امام او مشر جوړ کړې" د ابراهيم(ع) ازميښتونه دا وو:

۱. د ابراهيم(ع) له خوا خپل زوې د قربانۍ لپاره بوتلل او هغه په رښتيا د خدای په اطاعت کښې د قربانې لپاره تيارول او د شيطان وسوسه کول، چې

---

۱. البقره، ۱۲۴آيهٔ.

۲. د آيتونو ترجمه، د آية الله ناصر مکارم شيرازي له ترجمې راخستې شوي دي.

هیڅکله یې ابراهیم له خپلې ارادې ایسار نه کړ.

۲. خپل ښځه او بچې د مکې وچې او غیر ابادې زمکې ته بوتلل، په داسې ځای کښې چې یو کس هم نه اوسیده، خو ابراهیم بیا هم د خدای د حکم د منلو لپاره دا کار وکړ.

۳. د بابل د بت برستو په وړاندې د هغه ودریدل او د بتانو ماتول او له تاریخي محاکمې سره په میړنتیا سره مقابله کول.

۴. په اور کښې اچول کیدل چې په دوي کښې هر یو لوی او ګران ازمیښت و، خو هغه د خپل ایمان په طاقت په هغه ټولو ازمیښتونو کښې بریالې شو او دا یې ثابته کړه چې د امامت د مقام وړتیا لري.

په کوم ایت کښې چې بحث شورو دے له هغې په لنډه توګه داسې پوهیږو: د امامت هغه مقام چې ابراهیم علیه السلام ته په ټولو ازموینو کښې له بریالۍ وروسته ورکړې شوې و، د نبوت او رسالت له مقامه لوړ و. د امامت مقام هغه مقام دے چې له دې لوړ دے او حتی له نبوت او رسالته هم لوړ دے، او دا هماغه مقام دے چې ابراهیم علیه السلام ته له ازموینې ورکړې شو. او له ایته دا ګټه هم اخستې شو چې امام (د خلکو د ژوند په ټولو اړخونو کښې معصوم لاربښود) باید د خدای له اړخه وټاکل شي ځکه چې:

اول: امامت یو خدایي عهد او تړون دے او دا څرګنده ده چې خدای باید داسې کس وټاکي چې له هغه سره یې تړون وي.

دویم: هغه کسان چې زیاتې یې کړې دے او د هغوي په ژوند کښې توره مخینه موجوده ده، که هغه په ځان باندې ظلم وي یا په بل چا او تر دې چې یو ګړۍ یې هم بت پالي کړې وي، هغه د امامت وړتیا نه لري او په اصطلاح کښې باید ووایو چې امام باید په خپل ټول عمر کښې معصوم وي.

ایا بې له خدایه یې بل څوک له دې صفتونو خبریدې شي؟ او که په دې تله مونږ د پیغمبر(ص) ځای ناستې وټاکو، نو بې له امیرالمؤمنین علي علیه السلامه

بل ځوک نه شي کیدی[۱]؛ ځکه چې امام علي علیه السلام د خدای له خوا ټاکلې شوې امام دے. نو له همدې سببه له ټولو مخلوقاتو چې نبیان دي هم پکښې دي لوړ دے.

ب) د مباهله ایت

﴿فَمَنْ حَاجَّكَ فيهِ مِنْ بَعْدِ ما جاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ فَقُلْ تَعالَوْا نَدْعُ أَبْناءَنا وَ أَبْناءَكُمْ وَ نِساءَنا وَ نِساءَكُمْ وَ أَنْفُسَنا وَ أَنْفُسَكُمْ ثُمَّ نَبْتَهِلْ فَنَجْعَلْ لَعْنَتَ اللَّهِ عَلَي الْكاذِبينَ﴾[۲]

نو ځوک چې له تا سره په دې مسئله کښې تا ته د علم له راتللو نه پس هم، بحث (جګړه) وکړي نو ووایه: راشئ مونږ خپل زامن او تاسو خپل زامن، مونږ خپلې ښځې او تاسو خپلې ښځې مونږ خپل نفسونه (چې زمونږ د ځان په ځاي دي) او تاسو خپل نفسونه، راوبولو بیا (خداي ته) دعا او زاري وکړو او په دروغجنو به د خدای لعنت وکړو

د دلیل سبب

د (أَنْفُسَنا) ټکي مطلب یوازې حضرت علي علیه السلام دےاو جایزه نه ده چې مطلب یې په خپله پیغمبر(ص) وي؛ ځکه چې هغه حضرت په خپله د مباهلې بلونکې و. نو دې ته په پام سره جایزه نه ده چې انسان په خپله ځان ته بلنه ورکړي، بلکې د بلنې مطلب دا دے چې باید نورو ته بلنه ورکړي[۳] پر دې اساس اول دا چې: امام علي(ع) د پیغمبر(ص) ځان دے. دویم دا چې پیغمبر(ص) له ټولو نبیانو افضل دے. دریم دا چې: امام علي(ع) له نبیانو افضل دے. څلورم دا چې: ټول امامان له نبیانو بې زمونږ له نبي افضل دي او کله چې قولونه بیانیږي نو معلومه به شي چې دا ایت څه رنګ دلالت کوي چې حضرت علي(ع) بې زمونږ له نبي په ټولو نبیانو

۱. تفسیر نمونه، ۱ټوک، ۴۴۴مخ.
۲. آلعمران، ۲۱آیهٔ.
۳. محمد جواد نجفي خمیني، تفسیر آسان، اول چاپ، ۱۳۹۸ هـ ق، اسلامیه خپرندویه، تهران، ۲ټوک، ۳۰۹مخ.

لوړاوې لري او کله چې د حضرت علي عليه السلام لوړاوي ثابت شو نو د نورو امامانو لوړاوې په خپله ثابتيږي د شيعه ډېرو عالمانو دا ايت په دې طريقه تحليل کړےدے.

## ۲. روايي دليلونه

ځينې هغه روايتونه چې هغه په خليفه ګانو حتی په نبيانو او نورو خلکو باندې د اميرالمؤمنين علی(ع) لوړاوې ښيي، ډېرې هغه خبرې او حديثونه دي چې عالمانو ورسره د خپلې دعوې د ثابتولو لپاره دليل راوړےدے؛ لکه د منزلت حديث، ولايت، اخوت، محبت، وصيت، د مارغه د سور کيدو، ژمنې او نور... حديثونه چې دلته يې يوازې دوه بيلګې بيانوو.

### الف) لومړی برخه په خلکو باندې د امام علي عليه السلام د لوړاوي دليلونه

اول: د مارغه حديث

«رَوَي أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ قَالَ أُهْدِيَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ طَيْرٌ فَقَالَ اللَّهُمَّ ائْتِنِي بِأَحَبِّ خَلْقِكَ إِلَيْكَ يَأْكُلُ مَعِي مِنْ هَذَا الطَّيْرِ»[۱] علامه حلي ليکي: دا روايت له هغه روايتونو دے چې د تواتر حد ته رسي او د خاصه او عامه (شيعه او سني) تر مينځ مشهور دے. انس بن مالک وويل: يو سور کړې مارغه چا پيغمبر(ص) ته ډالۍ کړه، هغه حضرت لاس په دعا شو او ويې فرمايل: خدايه ماته هغه څوک راوله چې ستا تر ټولو زيات خوښ وي چې ماسره دا سور کړې مارغه وخوري انس چې پوهيده چې د پيغمبر(ص) دعا ضرور قبليږي وايي: په زړه کښې مې دا خواهش و چې هغه کس له انصارو وي، له همدې سببه مې وويل: خدايه دا کس له انصارو وګرځوه! خو د پيغمبر(ص) دعا سره سم حضرت علي عليه السلام راغےاو د ننوتلو اجازت يې وغوښته، ومې ويل د خدای رسول(ص) په څه کار بوخت دے هغه ستون شه او لږ وخت وروسته بيا راغے. دې ځل مې بيا ورته هماغه خبره وکړه

---

۱. علامه حلي، کشف اليقين في فضائل أمير المؤمنين(ع)، اول چاپ، ۱۴۱۱هـ ق، د ارشاد د وزارت خپرندويه، تهران، ۲۸۹مخ.

او ومې ويل: د خدای رسول(ص) په څه کار بوخت دے. په دريم ځل چې هغه راغے، د خدای رسول(ص) وفرمايل: ور خلاص کړه. ور مې خلاص کړ. علي(ع) راغے. د خدای رسول وپوښتل: انس سره ستا خبره څه وه؟ ويې ويل: اے د خدای رسوله! دا دريم ځل دے چې د راتلو په غرض ستا د کور تر وره راغلم خو انس هر ځل ويل چې د خدای رسول په څه کار بوخت دے او له راننوتلو يې منعې کړم.

پيغمبر(ص) زۀ وغوښتم: د دې منعې کولو سبب يې له ما وپوښته چې د هغه له ننوتلو دې ولې منعه وکړه؟ ومې ويل: اے د خدای رسوله! ځکه چې ستا دعا مې اوريدلې وه او پوهيدم چې ستا دعا قبليږي، نو دا مې خوښه وه چې د خدای هغه محبوب بنده زمونږ له قبيلې او انصارو وي. د خدای رسول(ص) وفرمايل: «إِنَّ الرَّجُلَ قَدْ يُحِبُّ قَوْمَهُ إِنَّ الرَّجُلَ يُحِبُّ قَوْمُه» هو! هر کس خپلو خپلوانو ته خوږ وي او دا خبره يې بيا ځلې وکړه.

له دې روايته پوهيږو چې حضرت علي(ع) د خدای له ټولو خوښ بنده دے او د هغې لاندينۍ برخه په دې دلالت کوي چې پيغمبر(ص) هم لکه د نورو خلکو له خپلوانو سره مينه لري. نو کله چې يو کس خدای او رسول ته خوښ وي نو دا منلې شوې خبره ده چې له ټولو انسانانو او له تيرو نبيانو به لوړ وي.

په متواتره توګه د خدای له علي(ع) نقل شوي دي چې همدا خبر يې د شورا په ورځ چې په خپل کور کښې يې ورونه بند وو او عمر وفات شوې و، په خپل فضيلت کښې د دليل په توګه بيان کړې و او فرمايل يې:

أَنْشُدُكُمْ بِاللَّهِ هَلْ فِيكُمْ أَحَدٌ قَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ اللَّهُمَّ ائْتِنِي بِأَحَبِّ خَلْقِكَ إِلَيْكَ يَأْكُلْ مِعَي مِنْ هَذَا الطَّائِرِ فَجَاءَ أَحَدٌ غَيْرِي فَقَالُوا اللَّهُمَّ لَا فَقَالَ اللَّهُمَّ اشْهَدْ

ستاسو دې په خدای قسم وي ايا ستاسو تر مينځ داسې څوک شته چې د هغه په هکله د خدای رسول فرمايلي وي، خدايه ستا تر ټولو خوږ بنده ماته راوله چې ما سره دا سور کړې مارغه وخوري. ايا بې له ما بل څوک راغلل. ټولو وويل: مونږ خدای شاهد نيسو چې نه. ويې فرمايل: خدايه ته ګواه اوسه چې ټولو حاضرانو د دې خبرې په رښتياوالي اعتراف وکړ.

او علي(ع) هيڅ کله په باطلو باندې استدلال نه کوي.[1] د هغه حضرت له دليله دا معلومېږي چې د ضرورت په وخت په هغوی د پيغمبر(ص) په خبرو دليل راوړه.

دوم: د محبت حديث

«قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلی الله علیه و آله وَ الَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لأُعْطِيَنَّ الرَّايَةَ رَجُلاً يُحِبُّ اللَّهَ وَ رَسُولَهُ وَ يُحِبُّهُ اللَّهُ وَ رَسُولُهُ لَيْسَ بِفَرَّارٍ يَفْتَحُ اللَّهُ عَلَي يَدِهِ وَ أَرْسَلَ إِلَيَّ وَ أَنَا أَرْمَدُ وَ تَفَلَ فِي عَيْنِي وَ قَالَ اللَّهُمَّ اكْفِهِ أَذَي الْحَرِّ وَ الْبَرْدِ فَمَا وَجَدْتُ بَعْدَهُ حَرّاً وَ لا بَرْداً»[2] قسم په خدای بيرغ به د هغه چا په لاس کښې ورکوم چې خدای او رسول يې خوښ دي او د خدای او د هغه د رسول هغه خوښ دے. هغه هيڅ کله له جنګه نه تښتي. خدای پاک به د يهوديانو دا قلا د هغه په لاس خلاصوي او يو کس يې په ما پسې راوليږۀ او زما په سترګو درد و او د خپلې خُلې مبارکې لاړې يې زما په سترګو ومږلې او ويې فرمايل: خدايه هغه د ګرمۍ او ساړه له ازاره ساته. له دې وروسته هيڅکله ګرمۍ او ساړه نه يم ازار کړې او د سترګو په درد نه يم اخته شوې.

په ځينو روايتونو کښې د سبا ټکې راغلې دے دا په داسې حال کښې دي چې له ابوبکر وروسته يې عمر د خيبر قلا د فتحې لپاره ليږلے و. کله چې هغه هم بريالې نه شو او وتښتيد، نو هغه حضرت دا ژمنه وکړه.

ابن هشام دا حديث د حضرت علي(ع) په فضيلت کښې نقلوي او ليکي:

سلمة بن عمرو اکوع وويل: يوه ورځ د خدای رسول د جنګ بيرغ چې سپين بيرغ و د ابوبکر په لاس کښې ورکړ او هغه يې د خيبر د قلا د فتحې لپاره وليږۀ، خو هغه څه ونه کړې شو او قلا يې فتح نه کړه او بيرته راستون شو. د خدای رسول وفرمايل: سبا به بيرغ د هغه چا په لاس کښې ورکوم چې له خدای او د هغه رسول سره مينه لري او خدای او د هغه رسول له هغه سره مينه لري هغه به دا قلا فتح

---

۱. شيخ مفيد، الفصول المختارة، اول چاپ، ۱۴۱۳ هـ ق، د شيخ مفيد سمينار خپرندويه، قم ۹۷مخ،

۲. شيخ طبرسي، إعلام الوري بأعلام الهدي، دريم چاپ ۱۳۹۰ هـ ق، اسلاميه خپرندويه، تهران، ۱۸۵مخ.

کوي او هيڅ کله (د دښمن په وړاندې) نه تښتي (او کله چې بله ورځ شوه) حضرت علی يې راوباله، علی(ع) په هغه ورځ د سترګو درد درلود پيغمبر(ص) وربانديې د خپلې مبارکې خُلې اوبه ومږلې او بيا يې وفرمايل: «خُذْ هَذِهِ الرَّايَةَ فَامْضِ بِهَا حَتّي يَفْتَحَ اللّهُ عَلَيْك» دا بيرغ ونيسه او وړاندې لاړ شه چې خدای درته قلا خلاصه کړي.[1]

پر دې اساس د خپلې دعوې د ثابتولو لپاره دا رنګ استدلال کولې شو: امام علی(ع) د خدای له ټولو زيات خوښ کس دی، د خدای له ټولو زيات خوښ په خلکو کښې له ټولو لوړ بنده دی، نو امام علی(ع) له ټولو لوړ بنده ده او دې ته په پام چې امامان(ع) ټول له يوۀ نوره دي نو امامان هم تر ټولو له لوړو بندګانو دي.

ب) دويمه برخه: په خلکو باندې د نورو امامانو(ع) د لوړاوي دليلونه

په دې بله برخه کښې، هغه حديثونه دي چې په خلکو، بې زمونږ له رسوله(ص) د نورو امامانو لوړاوې بيانوي.

علامه مجلسي په بحار الانوار ۲۲ټوک، ۲باب، ۲۲۷مخ، کښې "د امامانو لوړاوې، په نبيانو، په ټولو خلکو، له پرښتو د هغو لپاره ژمنه اخستل او دا چې ټول خلک او اولوالعزم پيغمبران دې درجې ته ونه رسيدل مګر د هغوي د مينې په واسطه، ۸۸ روايتونه يې نقل کړي دي چې دلته يې يو څو روايتونو باندې بسنه کوو.

۱. په *عيون اخبار الرضا* کښې راغلي دي چې امام رضا(ع) له خپلو پلار نيکونو نقل کړي چې له پيغمبر(ص) نقلوي: «اے علی ته او ستا بچي د خدای خوښ کړي مخلوق يئ،أَنْتَ يَا عَلِيُّ وَ وُلْدُكَ خِيَرَةُ اللَّهِ مِنْ خَلْقِه».[2]

۲. په خصا کتاب کښې لولو چې جعفر بن محمد له خپل پلاره او هغوي له خپلو پلار نيکونو له علی عليه السلام او هغوي له پيغمبر(ص) نقلوي ، چې ويې

۱. عبدالملك بن هشام الحميري المعافري، السيرة النبوية، تحقيق مصطفي السقا و ابراهيم الأبياري و عبد الحفيظ شلبي، بيروت، دار المعرفة، بي تا، ۲ټوک، ۳۳۴مخ.
۲. شيخ صدوق، عيون أخبار الرضا، جهان خپرندويه، ۱۳۷۸ هـ ق، ۲ټوک، ۵۸مخ، ۲۱۸حديث.

فرمايل:

اے علی خدای پاک دنيا ته پام وکړاو د جهان په ټولو سړيو کښې يې زۀ خوښ کړم، د دويم ځل لپاره يې بيا پام وکړ او ته يې د ټول جهان په سړيو کښې خوښ کړې، د دريم ځل لپاره يې پام وکړ، د جهان په سړيو کښې يې امامان خوښ کړل، د څلورم ځل لپاره يې پام وکړ، فاطمه زهرا سلام الله عليها يې د ټول جهان په ښځو کښې خوښه کړه.

يَا عَلِيُّ إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَ جَلَّ أَشْرَفَ عَلَي الدُّنْيَا فَاخْتَارَنِي مِنْهَا عَلَي رِجَالِ الْعَالَمِينَ ثُمَّ اطَّلَعَ الثَّانِيَةَ فَاخْتَارَكَ عَلَي رِجَالِ الْعَالَمِينَ بَعْدِي ثُمَّ اطَّلَعَ الثَّالِثَةَ فَاخْتَارَ الْأَئِمَّةَ مِنْ وُلْدِكَ عَلَي رِجَالِ الْعَالَمِينَ بَعْدَكَ ثُمَّ اطَّلَعَ الرَّابِعَةَ فَاخْتَارَ فَاطِمَةَ عَلَي نِسَاءِ الْعَالَمِينَ»[1]

۳. حضرت امام رضا عليه السلام له خپل پلار نيکونو له پيغمبره(ص) نقلوي:

"حسن او حسين له ما وروسته او له خپل مور پلار وروسته په ځمکه کښې تر ټولو غوره کسان دي او د هغوي مور د دنيا په مخ تر ټولو غوره ښځه ده؛الْحَسَنُ وَ الْحُسَيْنُ خَيْرُ أَهْلِ الْأَرْضِ بَعْدِي وَ بَعْدَ أَبِيهِمَا وَ أُمُّهُمَا أَفْضَلُ نِسَاءِ أَهْلِ الْأَرْضِ.[2]

۴. په هغه تفسير کښې امام حسن عسکري(ع) ته يې نسبت ورکړے شوے دے راغلي دي چې حضرت موسی(ع) خدای ته وويل:

خدايه! که محمد ستا په نزد تر ټولو نړيوالو نزدې دے، نو د پيغمبر(ص) په زوزاد کښې زما له زوزاده زيات څوک نزدې شته؟ خدای پاک وفرمايل: موسی! ولې تا ته پته نشته چې د پيغمبر(ص) د ال لوړاوې د ټولو پيغمبرانو په ال باندې داسې دے لکه د محمد لوړاوې په ټولو پيغمبرانو باندې؟

يَا رَبِّ فَإِنْ كَانَ مُحَمَّدٌ أَكْرَمَ عِنْدَكَ مِنْ جَمِيعِ خَلْقِكَ فَهَلْ فِي آلِ الْأَنْبِيَاءِ أَكْرَمُ مِنْ آلِي قَالَ اللَّهُ جَلَّ جَلَالُهُ يَا مُوسَي أَ مَا عَلِمْتَ أَنَّ فَضْلَ آلِ مُحَمَّدٍ عَلَي جَمِيعِ آلِ النَّبِيِّينَ كَفَضْلِ مُحَمَّدٍ عَلَي جَمِيعِ الْمُرْسَلِين[3]

---

۱. شيخ صدوق، الخصال، جامعه مدرسين خپرندويه قم، چاپ کال۱۴۰۳ هـ ق، ۱ټوک، ۹۲مخ.
۲. عيون اخبار الرضا(ع)، وړانديني، ۲۲۲مخ.
۳. امام حسن عسکري(ع)، تفسير امام عسکري(ع)، مدرسه امام مهدي(عج) خپرندويه قم، چاپ کال ۱۴۰۹ هـ ق، ۱۱مخ.

۵. حذیفة بن اسید په یوه روایت کښې وایي:

پیغمبر(ص) وفرمایل: د یوۀ پیغمبر پیغمبري په اظله عالم کښې نه ده بشپړه شوې مګر دا چې هغه ته وړاندې شوې ده او زما ولایت او زما د اهلبیتو ولایت او د هغوي تمثال د پیغمبرانو لپاره مجسم شوي دي او هغوي د هغوي په ولایت او اطاعت اقرار کړې دے.

مَا تَكَامَلَتِ النُّبُوَّةُ لِنَبِيٍّ فِي الْأَظِلَّةِ حَتَّى عُرِضَتْ عَلَيْهِ وَلَايَتِي وَ وَلَايَةُ أَهْلِ بَيْتِي وَ مُثِّلُوا لَهُ فَأَقَرُّوا بِطَاعَتِهِمْ وَ وَلَايَتِهِم

همدارنګ عبد الاعلي په یوه روایت کښې وایي: امام صادق(ع) وفرمایل: "یو پیغمبر هم د پیغمبرۍ مقام ته نه دے رسیدلے، مګر زمونږ د حق په پیژندګلو او په نورو باندې د زمونږ د لوړاوي په پیژندګلو؛ مَا نُبِّئَ نَبِيٌّ قَطُّ إِلَّا بِمَعْرِفَةِ حَقِّنَا وَ بِفَضْلِنَا عَلَى مَنْ سِوَانَا[1]

کوم څه چې بیان شو، دا له هغه څه یوه ذره دي چې شیعو په خپلو کتابونو کښې نقل کړي دي او څوک چې یې کتل غواړي نو اصلي سرچینو ته دې رجوع وکړي. نو د دا رنګ دلیلونو په سبب شیعه امامان په نبیانو لوړ ګڼي.

## ۳. په نبیانو باندې د امامانو د لوړاوي په هکله د عالمانو لیدتوګې

### الف) د علامه حلي نظر

علامه حلي په *کشف المراد* کښې لیکي:

> ټول روحي او بدني کمالونه په دوي کښې په هر یو کښې موجود دي او په دوي کښې هر یو لکه څه رنګ چې په خپله کامل دي، د نورو هم کمال ته رسوونکي دي. او دا دلالت کوي په دې چې په دوي کښې هر یو په ټولو باندې د مشرۍ وړ دے؛ ځکه په دوي کښې هر یو په خپل وخت کښې په نورو ټولو باندې فضیلت لري، او د عقل په حکم مفضول په فاضل باندې وړاندې کول بد دي.[2]

---

۱. محمد بن حسن بن فروخ صفار، بصائر الدرجات، د آیة الله مرعشي د کتابتون خپرندویه قم، ۱۴۰۴ هـ ق، ۵۱مخ.

۲. العلامه الحلي، کشف المراد في شرح تجرید العتقاد، جامعه مدرسین حوزه علمیه قم، یوولسم

نو د دې دليل چې امامان بايد په نورو خلکو په حکومت او مشرۍ کښې وړاندې وي، هماغه دے چې دوي په خپل وخت کښې په نورو فضيلت لري او د هغوي په وخت کښې له هغوي سره برابري منتفي ده.

## ب) د نراقي ليدتوګه

د انيس المؤحدين ليکوال، د امامت په برخه کښې، د امامانو د افضليت قايل شوے دے او ليکلي يې دي چې د دوي د امامت ثابتيدل له هر يوۀ څيز زياته روښانه ده. که هغه د حديثونو او نصوصو له مخې وي چې د فريقينو په واسطه نقل شوي دي او که د هغو د عصمت له مخې وي او د هغوي افضليت که د کرامتونو د څرګنديدو له مخې وي. په هغه ځاى کښې چې د افضليت له مخې د امامانو د امامت د ثابتولو په برخې کښې ليکي: "او د افضليت له لارې معلومه ده چې په دوي کښې هر يو په خپله زمانه کښې، د خپلې زمانې په ټولو خلکو افضل وو او په دې معنې باندې ټول مسلمانان يوه خُله دي او څوک يې انکار نه کوي چې څه دليل ته اړتيا ولري".[1]

## ج) په احتجاج کتاب کښې د احمد طبرسي ليدتوګه

د «رساله باهره در فضل عترت طاهره» ليکوال وايي: «أَنَّ الْمَعْرِفَةَ بِهِمْ كَالْمَعْرِفَةِ بِهِ تَعَالَي فِي أَنَّهَا إِيمَانٌ وَ إِسْلامٌ وَ أَنَّ الْجَهْلَ بِهِمْ وَ الشَّكَّ فِيهِمْ كَالْجَهْلِ بِهِ وَ الشَّكِّ فِيهِ فِي أَنَّهُ كُفْرُ وَ خُرُوجٌ مِنَ الْإِيمَانِ»له هغه مطلبونو چې په خلکو باندې د امامانو لوړاوې بيانوي دا دے چې په حقيقت کښې خداى زۀ هدايت کړې يم په دې چې د هغوي پيژندګلو د خداى پاک د پيژندګلو په شان ده، ځکه چې پيژندګلو د ايمان او اسلام له پيژندګلو عبارت دے او دا چې له هغوي جاهلول او د هغوي په هکله ترديد کول داسې دےلکه د خداى په هکله جهل او ترديد دے؛ ځکه چې دا جهل کفر او له ايمانه خارجيدو ته رسي. بيا يې د ټولو

---

چاپ ۱۴۲۷ هـ ق، ۵۴۰مخ.

۱. محمد مهدي نراقي، انيس الموحدين، الزاء خپرندويه، بي جا، اول چاپ، ۱۳۲۳هـ ش، ۲۱۵ او ۲۲۰مخونه.

شیعو او سنیانو په اجماع سره دلیل راوړے دے چې د هغوي افضلیت ورسره ثابتوي او وایي: بې له شافعي مذهبو هیڅوک د دې خبرې منکر نه دي او وړاندې وایي خدای پاک ټولو زړونو ته الهام کړے دے او د هغوي د مقام لوړاوي او جلال او مرتبه یې د ټولو په روحونو کښې (سره د عقیدې او مذهب د اختلافه) اچولے دے.[1] د امامانو پیژندګلو د خدای د پیژندګلو په شان ده، خو د نبیانو پیژندګلو داسې نه ده، نو له دې روښانیږي چې امامان په نبیانو لوړاوي لري.

## د) په بحار کښې د علامه مجلسي لیدتوګه

په بحار کښې، په ټولو خلکو او نبیانو باندې د امامانو لوړاوې او دا چې د هغوي لپاره یې له ټولو خلکو، ملائیکو او اولوالعزم پیغمبرانو (چې دې مرتبې ته نه دي رسیدلي مګر د هغوي په محبت سره) ژمنه اخستې ده، راغلي دي:

قَالَ مُوسَي يَا رَبِّ اجْعَلْنِي مِنْ أُمَّتِهِ فَقَالَ لَهُ يَا مُوسَي أَنْتَ مِنْ أُمَّتِهِ إِذَا عَرَفْتَ مَنْزِلَتَهُ وَ مَنْزِلَةَ أَهْلِ بَيْتِهِ إِنَّ مَثَلَهُ وَ مَثَلَ أَهْلِ بَيْتِهِ فِيمَنْ خَلَقْتُ كَمَثَلِ الْفِرْدَوْسِ فِي الْجِنَانِ لَا يَنْتَشِرُ وَرَقُهَا وَ لا يَتَغَيَّرُ طَعْمُهَا فَمَنْ عَرَفَهُمْ وَ عَرَفَ حَقَّهُمْ جَعَلْتُ لَهُ عِنْدَ الْجَهْلِ عِلْماً وَ عِنْدَ الظُّلْمَةِ نُوراً أُجِيبُهُ قَبْلَ أَنْ يَدْعُوَنِي وَ أُعْطِيَهُ قَبْلَ أَنْ يَسْأَلَنِي[2]

حفص له امام صادق علیه السلامه نقلوي:

> حضرت موسي وفرمایل: خدایه ما د محمد (ص) له امته وګرځوه! خدای پاک وفرمایل: ته د هغه له امته یې کله چې د هغه او د هغه د کورنۍ مقام او منزلت وپیژنې؛ ځکه چې په مخلوقاتو کښې د هغه او د هغه د کورنۍ مثال داسې دے لکه فردوس چې د بهشت په نسبت وي چې د ونو پاڼې یې نه غورځیږي او خوند یې نه بدلیږي، څوک چې د هغوي له مقام او حقه خبر وي، نو د نه پوهیدو په وخت یې لارښود یو او په تیارو کښې ورته رڼا ورکوو؛ وړاندې له دې چې وغواړي غوښتې یې پوره کوو او هغه ته عطا کوو له دې وړاندې چې وغواړي.

---

۱. احمد بن علي طبرسي، الإحتجاج علي أهل اللجاج، مرتضي خپرندویه، مشهد، اول چاپ، ۱۴۰۳، ۲ټوک، ۵۰۲مخ،

۲. بحار الأنوار، مؤسسة الوفاء بیروت – لبنان، چاپ کال ۱۴۰۴ هـ ق، ۲ټوک، ۲۸مخ.

هـ) په شواهد التنزيل کښې د حسکاني ليدتوګه

حسکاني په *شواهد التنزيل* کښې ليکي: جابر بن عبد اللّه انصاري وايي پيغمبر(ص) فرمايي:

انّ اللّه جعل عليّاً و زوجته و ابنائه حجج اللّه علي خلقه و هم ابواب العلم في امّتي من اهتدي بهم هدي الي صراط مستقيم[1]

خدای پاک علی علیه السلام او د هغه ښځه او بچي په خلکو باندې خپل حجت ګرځولي دي او هغوي د امت لپاره د علم دروازې دي. څوک چې د هغوي په واسطه د هدايت په لټه کښې وي نو نيغې لارې ته هدايتيږي.

دا روايت چې د اهل سنتو په يو مهم کتاب کښې راغلے دے، ډېر په روښانه توګه زمونږ په دعوې يعنې په خلکو باندې د امامانو په لوړاوي باندې دلالت کوي، ځکه چې هغوي په خلکو باندې د خدای حجت دي.

لنډيز

عالمانو په نبيانو باندې د امامانو د فضيلت لپاره ډېر ايتونه راوړي دي او د ابراهيم د امامت ايت او د مباهلې ايت له ټولو زيات روښانه دي؟ همدارنګ پيغمبر(ص) په بيلا بيلو ځايونو کښې د اميرالمؤمنين صفتونه بيان کړي دي او په ډېرو روايتونو کښې يې هغه حضرت د حق او د عملونو تله، د خدای له ټولو خوښ او له ټولو اصحابو زيات فضيلت لروونکې ښودلے دے، همدارنګ په بيلا بيلو روايتونو کښې چې زمونږ په کتابونو کښې له پيغمبر(ص) موجود دي داسې ټکي شته دي چې د امامانو لوړاوي په ښه طريقه ثابتوي. شيعو عالمانو هم دغو ايتونو او روايتونو ته په پام سره چې ځينې يې د اهل سنتو په کتابونو کښې هم موجود دي، دا خپله ذمه واري ګڼلې ده چې په تفصيل سره د هغه حضرت د شخصيت په هکله خبرې وکړي او د هغوي ځلانده څيره راتلونکيو ته وښايي. په دې هکله ډېر بحثونه د کلام په کتابونو کښې ليکل شوي دي او دا رنګ موضوعات په کښې په ښه طريقه روښانه شوي دي.

د لا زياتې مطالعې لپاره سرچينې

---

١ . عبيد الله بن احمد حسکاني، شواهد التنزيل لقواعد التفضيل، سازمان چاپ او وزارت ارشاد اسلامي خپرندويه، تهران، اول چاپ، ۱۴۱۱ هـ ق، ۱ټوک، ۷۲مخ، ۸۹حديث.

۱. محمد جواد نجفي خميني، ***تفسیرآسان***، ، اسلامیه خپرندویه، تهران. (فارسي)، ۲ټوک، لومړی چاپ، ۱۳۹۸ هـ ق

۲. شیخ طبرسي، ***إعلام الوري بأعلام الهدي***، اسلامیه خپرندویه، تهران. (ترجمه فارسي) ، دریم چاپ، ۱۳۹۰ هـ ق

۳. شیخ مفید ، ***تفضیل أمیرالمؤمنین(ع)***، شیخ مفید نړیوال سمینار خپرندویه، قم، ۱۴۱۳هق.

۴. موسي خسروي، ***بخش امامت- د بحارالانوار د اووم ټوک ژباړه***، اسلامیه خپرندویه تهران، دویم چاپ، ۱۳۲۳هـ ش.

۵. محمد مهدي نراقي، ***شهاب ثاقب در امامت***، د نراقیین د درناوي سمینار، ۱۳۸۰.

وروستی حدیث

پیغمبر(ص) په یو حدیث کښې امیرالمؤمنین ته وفرمایل: اے علي درې بیلګې د ایمان حقیقت دي: په تنګلاسی کښې بخښنه، له خپلې خوا خلکو ته انصاف ورکول او علم غوارې ته علم وربخښل.[1]

---

۱. بحارالانوار، ۷۴ټوک، ۴۴مخ.

# د امام علي علیه السلام عصمت او په خطا باندې د اعتراف مسله

پوښتنه: امام علي علیه السلام فرمایلي دي: «ځان له دې لوړ نه ګڼم چې خطا او غلطي ونه کړم...»[1] آیا دا خبره د هغوي له عصمت او پاکۍ سره سمون لري؟

ځواب

د امامانو عصمت په تېره بیا د امام علی(ع) عصمت د شیعو پوهانو تر مېنځ منلې شوې او قطعي دي. علامه حلي په کتاب الالفین کښې په دې هکله په تفصیل سره زر نکتې بیان کړې دي له قرانه ډېر ایتونه، لکه د تطهیر ایت ۱۲۴ سوره بقره[2] او د دې غوندې نور د امامانو په عصمت دلالت کوي او همدارنګ ډېر روایتونه شته چې د اهلبیتو عصمت بیانوي.

په خطا باندې د امام علی(ع) اعتراف په دې معنې نه دے چې د ګناهونو او محرماتو مرتکب شي، او د عصمت له مقام سره ټکره ولري. ځکه چې هغه حضرت د خدای پاک په پیژندګلو او خدای ته د نزدې والي له مخې په یو داسې لوړ مقام کښې دے چې خپل عبودیت او بندګي د هغه لایزال خدای د لوړ مقام وړ نه ګڼي؛ له همدې سببه، کله کله معصوم د ترک اولی لپاره هم ځان خطاکار ګڼي او له

1. فإنّي لست في نفسي بفوق أن أخطيء و لا آمن ذالک من فعلي الا أن یکفي‌الله من نفسي؛ محمد دشتي،د نهج البلاغې ترجمه، ۴۴۴مخ، ۲۱۲خطبه.
2. {و اذابتلی ابراهیم ربه ... .}.

خدایه بخښنه غواړي چې دا کار د هغه له عصمت سره څه ټکره نه لري. البته دا پوښتنه نوې پوښتنه نه ده چې زمونږ له زمانې سره خاصه وي. دا بحث په ***کشف الغمه***[1] کتاب کښې مرحوم اربلي او د نهج‌البلاغه په شرحو کښې لکه د ابن ابي‌الحدید[2] په شرحه او د ***نهج البلاغې په ترجمې***[3] چې مرحوم دشتي لیکلې ده هم بیان شوې دے او لکه څه رنګ چې پکار وو د دې پوښتنې ځواب ورکړې شوې دے.

له همدې سببه کله چې مونږ د امامانو (ع) په نسبت د ګناه او خطا معنی وکړو نو دې نتیجې ته به رسیږو چې په ګناه باندې د هغوي اعتراف زمونږ په ګناه باندې له اعتراف سره فرق لري او د هغوي اعتراف له عصمت سره څه ټکره نه لري.

## ۱. خطا او د ګناه مرتبې

هره یوه خطا ګناه نه ده؛ له همدې سببه یې په فارسۍ کښې د «خطا» معنی «اشتباه» کړې ده. خو ځینې خطاګانې ګناه دي. له همدې سببه دا جمله صحیح نه ده "خطا هغه ګناه ده چې قصدا نه وې شوې یعنې په غلطې او بې پامۍ سره شوې وي"[4]، ځکه چې تکلیف (فرض) هله راځي کله چې دې ورته پام وي په عملونو کښې سهو او هیریدل تکلیفي حکم نه لري. که یو پاک انسان په غلطۍ سره د اوبو په ځای شراب وڅښي، د هغه دا عمل ګناه نه حسابیږي. ځینې روایتونه، له نبیانو او امامانو هر ډول خطا نفي کوي.[5]

ګناه څو ډوله ده: قانوني یا شرعي (چې د ګناه کومه مشهوره معنی ده). زمونږ د اعتقاد مطابق ټول معصومین(ع) له داسې ګناه پاک دي.

اخلاقي ګناه، یعنې د ښو اخلاقو مخالفت، که څه هم د شرعې له نظره حرام نه وي. اخلاقي ګناه د خلکو د حالت مطابق مختلفه وي؛ مثلا په لارو کوڅو کښې د

---

۱. کشف الغمه، علي بن عیسي الاربلي، ۳ټوک، ۴۳مخ، دارالکتب الاسلامیه، ۱۴۱۰ق.
۲. شرح نهج البلاغه، ابن ابي الحدید، ۱۱ټوک، ۱ او ۷مخونه، محمد ابوالفضل ابراهیم چاپ، قم.
۳. نهج البلاغه، د محمد دشتي ترجمه، ۴۴۴مخ، ۲۱۲خطبه
۴. فرهنګ فارسي عمید، حسن عمید، د خطاء ټکي په ذیل کښې.
۵. بحارالانوار، ټوک۱۷، ۱۰۸ او ۱۰۹ مخونه.

اوبو يا شربت وغيره څښل، دا کار د ځينې کسانو په نظر کښې څه عيب نه دے، خو ممکنه ده داسې کار د ځينې کسانو لپاره د اخلاقو مخالفت وګڼل شي او څوک چې دا کار وکړي په هغه بد وويل شي. دې ته په پام چې معصومين(ع) د نورو خلکو لپاره بيلګه دي نو بايد له داسې عمله (ترک اولی) هم لېرې وي.

## ۲. د محبت په مقام کښې ګناه

د محبت او مينې مقام ځينې لوازم لري که چرې يو محب په دوي کښې په يوه باندې هم عمل ونه کړي او ورنه غافل شي، نو دا کار د ځان لپاره له لويو ګناهونو ګڼي او پرله پسې د هغه لپاره توبه او استغفار کوي.[۱] لکه څنګه چې نبيانو او امامانو به تل توبه او استغفار کاوه، مرحوم اردبيلي يو له هغه کسانو دې چې په دې حقيقت باندې يې ټينګار کړې دے او په دې کښې ځيريدو سره او د امام موسی کاظم(ع) د وينا په برکت ډېرو ښو پايلو ته رسيدلے دے.[۲]

هغه ګناه چې معصومين(ع) له هغې د تيښتې لار نه لري او د هغې د جبران کولو لپاره ژړا او فرياد کوي، هغه د خدای په حرامو اخته کيدل نه دي، بلکې د خپلو خطاګانو لپاره يې يوه بله تله په نظر کښې ساتلې ده، هغوي د ځان لپاره هغه څه ګناه ګڼي چې نور خلک ترې په اسانۍ سره تيريږي؛ مثلاً داسې ډېر کسان شته چې په خپل فرض لمونځ قضا کيدو باندې ورله څه خپګان نه ورځي خو داسې پرهيزګاران هم کم نه و چې د مستحب لمونځ په قضا کيدو به يې ژړا او فرياد کاوه او دا لړۍ همداراز دوام لري او هيڅ کله نه ختميږي. دخدای د لارويانو په زړونو کښې چې د خدای مينه او پيژندګلو يې څومره زياتيږي نو په خپلو اوږو دومره زيات بوج او ذمه واري محسوسوي او له وړاندې نه زيات په خپلې خطا (لکه څه رنګ چې خدای لايق دے په عبادت نه کولو) پوهيږي. مرحوم اردبيلي له يو بل اړخه د معصومينو(ع) د ګناه احساس کولو ته نظر کړے دے: "پيغمبران او امامان(ع) د خدای په لارې کښې يوه لوړه مرتبه کښې وو او هر کله چې له دې

---

۱. تفسير الميزان، ۲ټوک، ۳۷۳مخ.
۲. کشف الغمه، الاربلي، ۳ټوک، ۴۳مخ.

مرتبې لړ هم ښکته کېدل لکه د ضرورت له مخې خوړل، څښل، مېرمنو سره يوځای کېدل يا د ټولنې کارونه او مسلې هوارول، نو دا به يې د ځان لپاره يوه لويه ګناه ګڼله. او استغفار او توبه به يې کوله چې داسې پرهيز د خدای خاصو مينه والو او نږدې کسانو سره ښايي. په همدې اساس پيغمبر(ص) فرمايي: «حسنات الابرار سيئات المقربين»[1]. کېدې شي چې ځينې عملونه چې د ښو خلکو لپاره ښه عمل وي خو د مقربينو لپاره بد وي.

نو دې ته پام سره هغه ګناهونه چې معصومين(ع) له هغې ځان ساتي، هغه عملونه دي چې د فقهې په ژبه کښې حرام ګڼل شوي دي. البته د داسې عمل پرېښودل چې د فقهې په ژبه واجب ګڼل شوې وي هغه هم ګناه ده خو د ګناه او خطا دا ټکي چې په عربۍ کښې «ذنب» او «عصيان» دے د دې د استعمال پولې لويې دي او «ترک اولی» ته هم شاملېږي او د داسې خطا او ګناه انجام کول له عصمت سره څه منافات نه لري.

امام(ع) وفرمايل: «فإنّي لست في نفسي بفوق أن أخطئ و لا آمن ذلک من فعلي، الا أن يكفي الله من نفسي ما هو أملک به مني فإنّما أنا و انتم عبيد مملوكون لربّ لا ربّ غيره، يملک منا ما لانملک من انفسنا؛[2] ځان له دې اوچت نه ګڼم چې غلطي ونه کړم او له هغې ځان په امن کښې نه ګڼم، مګر دا چې خدای ما وساتي. نو مونږ او تاسو د خدای بندګان او مريان يو چې له تا پرته بل پروردګار نشته. هغه زمونږ مالک دے او مونږ په خپل نفس څه اختيار نه لرو».

د امام علی(ع) دا خبره هم له عصمت سره څه ټکره نه لري، ځکه چې هغو قيدونو ته په پام سره چې کوم دلته راوړي شوي دي لکه د «في نفسي» قيد چې بې د خدای له مرستې له داسې خطا بچېدل ناممکن دي. سره د دې جملې چې فرمايي: "مګر دا چې خدای له ما سره په دې کار کښې کفايت او بسنه وکړي" دا خبره يې په ډېره روښانه توګه بيان کړې ده او عصمت يې د خدای له لورې يو

---

١. هماغه، ۴۵مخ.

٢. محمد دشتي، ترجمه نهج البلاغه، ۴۴۴مخ، ۲۱۲خطبه.

توفیق ګڼلی دی.[1] یعنې هغه حضرت فرمایي، که یوازې زۀ او زما نفس وې، نو خطا او غلطي به مې کوله، خو خدای پاک تل زما لاس نیولی او نیسي، له همدې سببه خطا او اشتباه نه کوم.

مرحوم محمد دشتي، وایي: «کوم څه چې امام علی(ع) وفرمایل: بې د خدای له مرستې، له خطا بچ نه یم، دا په خپله عصمت ثابتوي.»[2]

د عصمت دا معنی نه ده چې د خدای له تاییداتو دې بې نیازه وي. خدای پاک په قران کریم کښې پیغمبر(ص) ته وفرمایل: "که ته مې ثابت قدم نه وې ساتلې نو نژدې وه چې هرومرو دې د هغوي په لور ګروهنه پیدا کړې وای."[3]

پیغمبر(ص) خپل انساني او بشري طبیعت سره د مشرکانو د وسوسو قبلیدلو ته نژدې شوې و خو د خدای په تایید سره خدای هغه وساتلو او ویې ژغوره. حضرت یوسف(ع) هم فرمایي: بې د خدای له رحمته بدو ته د بلونکي نفس له پنجې نه شوم خلاصیدې: ﴿و ما ابري ءنفسي ان النفس لاماره بالسوء الا مارحم ربي﴾؛[4] زۀ ځان له عیبه بري نه وینم؛ ځکه چې د انسان نفس تل هغه خطا او بدی ته بلي، مګر هغه کسان چې زما خدای وربانډې رحم کړي وي.

**نتیجه**

د معصومو امامانو عصمت د شیعه مذهب له منلو شویو عقیدو دی او څه شک په کښې نشته. په خطا باندې د حضرت علی(ع) اعتراف په دې معنی نه دی چې معصیت یې کړې وي، ځکه چې هره یوه خطا د عصمت له مقام سره ناسازه نه ده؛ ځکه چې ځینې داسې خطا ګانې او معصیتونه دي چې معصوم بله چاره نه لري چې ترسره یې کړي. چې هغه د هغوي په نسبت ګناه ګڼل کیږي.

عصمت د خدای په توفیقاتو سره ترلاسه کیږي. امام علی(ع) له خدای سره د خپل نژدې والي او پیژندګلو په سبب خپله بندګي د هغه د مقام وړ نه ګڼله له

1. شرح نهج البلاغه ابن ابي الحدید، ۱۱ټوک، ۱۰۷مخ.
2. هماغه، ۴۴۸مخ.
3. اسراء، ۷۴آیة.
4. ابراهیم، ۱۱آیة.

همدې سببه يې د ترک اولی لپاره هم استغفار کړے دے.

د لا زياتې مطالعې لپاره سرچينې:

۱. ***الالفين في امامه مولانا امير المؤمنين علي بن ابيطالب***ؑ، علامه جمال الدين الحلي.

۲. ***امامت و شفاعت***، علي اكبر ناصري.

۳. په قران كښې ***امامت او د امامانو عصمت***، رضا كاردان.

وروستے حديث:

ابن عباس له پيغمبر(ص) روايت كوي: «ان علي و الحسن و الحسين و تسعة من ولد الحسين مطهرون معصومون؛[1] علي، حسن، حسين او د حسين نهه بچي پاک او معصوم دي».

---

۱. سليمان قندوزي، ينابيع الموده، ۱۱۵مخ.

## د پیغمبر(ص) له خوا د ځای ناستي په توګه د علی(ع) ټاکل

پوښتنه: ایا د پیغمبر(ص) لـه خـوا د علـي(ع) ټاکـل د خلیفـه او ځـای ناسـتي پـه توګه وو یا هغه یې د یو ښه کس په توګه وښوده.

سریزه

د امام علی(ع) د خلافت او جانشینۍ بحث د پیغمبر(ص) لـه وختـه موجـود و. هغه حضرت(ص) هیڅکله دومره مهمه مسله مبهمه نه ده پریښې؛ د هغه حضرت لـه وفاته وروسته چې د خلافت او ځای ناستي والي مسله عملي او د اجرا مرحلې تـه ورسیده، نو په دومره څرګندې خبرې کښې د ځینې عواملو پـه سبب اختلاف پیدا شو او د مسلمانانو تر مینځ په دې هکله بـیلا بیلې عقیـدې او بـیلا بیلـې پوښـتنې پیدا شوې چې تر اوسه پورې هغه بحثونه شورو دي او په دې هکله ډېر کتابونـه هم لیکلي شوي دي.

معصـومو امامـانو(ع) او پوهـانو، د قـران کـریم پـه ایتونـو او د پیغمبـر(ص) حدیثونو او پـه مطمئنـو تـاریخي شـهادتونو سره هیڅکلـه هـم د دې پـه هکلـه چې څومره پوښتنې شوي دي بې ځوابه یې نه دي پریښې او په ښه روښـانه طریقـه یـې دا بحث کړےدے او له همدې سببه په دې هکله پوښـتنې، نیـوکې او د هغـې ځوابونـه په څو مخونو کښې بیانوو.

ځواب: دغه پوښتنه په دوو برخو کښې ده، یوه د پیغمبر(ص) له خوا د علـي(ع) د خلیفه په توګه ټاکل او دویمه د حضرت علی(ع) وړتیا چې هغـه د دې مقـام وړتیـا

لرله؟ د دې پوښتنې په ځواب کښې درې احتمالونه موجود دي:

۱. د پوښتنې دواړه برخې نه دي واقع شوې؛

۲. د پوښتنې يوه برخه واقع شوې ده؛

۳. د پوښتنې دواړه برخې واقع شوي دي؛

حقيقت دا دے چې د خداى رسول(ص) اميرالمؤمنين(ع) له ځانه وروسته هم د خليفه په توګه ټاکلې او هم يې د يو وړتيا لرونکي او غوره کس په توګه ښودلےدے. نو راځئ چې په دې دواړو باندې په لنډه توګه خبرې وکړو:

## ۱. د يو وړتيا لرونکي او غوره کس په توګه د امام علی(ع) معرفي کول.

امام علي(ع) داسې شخصيت او بيلګې لري چې نور کسان يې له لرلو بې برخې دي؛ له همدې سببه د حضرت علی(ع) له ټولو فضيلتونو او مناقبو خبريدل يوازې د خداى او د هغه د رسول لپاره ممکن ده. لکه څه رنګ چې پيغمبر(ص) د هغه په شان کښې وفرمايل: "اے علی! بې له خدايه او ما بل څوک ستا حقيقي پيژندګلو نه لري.[1]

### الف) امام علی تر ټولو ښه انسان

امام علي(ع) د خداى د رسول(ص) په کلام کښې تر ټولو ښه انسان ښودلے شوے دے. پيغمبر(ص) وفرمايل: "علی(ع) له ټولو ښه انسان دے او څوک چې په دې کښې شک وکړي هغه کافر دے.[2]

---

۱. محمدباقر مجلسي، بحارالانوار، ۳۹ټوک، ۸۴مخ..

۲. علاءالدين علي المتقي بن حسام الدين متقي هندي، كنزالعمال، تحقيق، شيخ بكري حياني، ۱۱ټوک، ۲۲۵مخ، ۳۳۰۴۵حديث؛ علي بن عيسي اربلي، كشف الغمة في معرفة الأئمة، ۱ټوک، ۱۵۵مخ.

**ب) امام علي(ع) تر ټولو عالم کس**

امام علی(ع) تر ټولو عالم کس او د امت له ټولو ښه قاضي دے. د خدای رسول(ص) وفرمایل: "له وروسته زما د امت تر ټولو عالم کس د ابوطالب زوې علي(ع) دے".[1] او همدارنګ یې وفرمایل: "د ابوطالب زوې علی، تر ټولو خلکو زیات په خدای په رسول باندې عالم دے. تر ټولو زیات له کلمه ویونکو سره مینه کوي او د هغوي درناوے کوي".[2] پیغمبر(ص) د حضرت علی(ع) د قضاوت په هکله فرمایي: "علی له ما وروسته زما د امت تر ټولو ښه قاضي او ښه عالم دے."[3]

**ج) حق له علی(ع) سره**

د امیرالمؤمنین(ع) او حقو تر مینځ بیلتون ممکن نه دے، د خدای رسول فرمایي: "علی له حقو سره او حق له علی سره دي او یو له بله به نه جدا کیږي تر دې چې د قیامت په ورځ د حوض(کوثر) غاړې ته ما ته راورسیږي»[4]

**د) قرآن له علي(ع) سره**

د امیرالمؤمنین(ع) او د قران تر مینځ بیلتون ممکن نه دے. پیغمبر(ص) وفرمایل: "علی له قران سره او قران له علی سره دے او هیڅکله له یوه بله نه جدا

---

۱. علاءالدین علي المتقي بن حسام الدین متقي هندي، هماغه، ۲۱۵مخ، ۳۲۹۷۷حدیث؛ موفق بن احمد خوارزمي، المناقب، تحقیق: شیخ مالک محمودي، ۸۲مخ؛ ابراهیم بن محمد جویني حمویني، فرائد السمطین في فضائل المرتضي والبتول والسبطین ولأئمة من ذریتهم، تحقیق: محمد باقر محمودي، ۱ټوک، ۹۷مخ؛ علي بن عیسي اربلي، هماغه، ۱ټوک، ۱۱۱مخ.

۲. علاء الدین بن علي متقي هندي، هماغه، ۱۱ټوک، ۲۲۵مخ، ۳۲۹۸۰حدیث.

۳. محمد بن علي صدوق، الامالي، .۴۴۰مخ، ۲۰حدیث؛ موفق بن احمد خوارزمي، هماغه، ۸۱مخ؛ ۶۲حدیث؛ محمدبن محمد حاکم نیشابور؛ المستدرک علي الصحیحین؛ تحقیق؛ دکتر یوسف مرعشلي؛ بیروت: دارالمعرفة، ۱۴۲ق؛ ۳،ټوک، ۱۳۵مخ؛ احمد بن عبدالله طبري؛ زخائر العقبي في مناقب ذوي القربي، ۸۳مخ؛ ابن سعد ، الطبقات الکبري، ۲ټوک، ۳۳۸مخ؛ علي بن عیسي اربلي، هماغه، ۱ټوک، ۱۱۱مخ.

۴. ابوالقاسم علي بن الحسن ابن عساکر، تاریخ دمشق (ترجمة الامام علي بن ابي طالب(ع))، تحقیق، محمد باقر محمودي، ۳ټوک، ۱۱۷مخ؛ قاضي نورالله تستري، الصوارم المهرقة في نقد الصواعق المحرقة، تحقیق، سید جلال الدین المحدث، ۱۴۸مخ؛ شیخ سلیمان بن شیخ ابراهیم قندوزي حنفي، ینابع الموة، تصحیح وتعلیق: علاء الدین اعلمي، ۱ټوک، ۱۰۴مخ.

کیږي تر دې چې د حوض په خوا کښې ما ته راشي".[۱]

### هـ) د علی(ع) مینه د پیژندګلو معیار او تله

د خدای د رسول(ص) لـه نظـره د امیرالـمؤمنین ملګرتیـا د مـؤمن او منـافق د پیژندګلو معیار او تله ده. فرمایي: "اے علی! مؤمن بـه تـا دښـمن نـه ګڼي او منـافق به له تاسره مینه او ملګرتیا نه کوي".[۲]

### و) علي(ع) په علم کښې

کـه څوک غـواړي چې د خدای د رسـول(ص) د علـم ښـار تـه ننوځي نـو بایـد د امیرالمؤمنین له دروازې ننوځي. د خدای پیغمبر(ص) وفرمایـل: "زۀ د علـم ښـار او علـی يې ور دے. نـو څـوک چې علـم غـواړي بایـد د هغـې لـه دروازې راننـوځي".[۳] همدارنګ يې وفرمایل: "زۀ د حکمت سرای یم او علی يې ور دے".[٤]

۱. هماغه؛ ۱ټوک، ۱۰۴مخ؛ جلال الدین عبدالرحمن بن ابي‌بکر سیوطي، الجامع الصغیر، ۲ټوک، ۱۷۷مخ.

۲. ابن ابي الحدید، شرح نهج البلاغه، تحقیق: محمد ابوالفضل ابراهیم، ۱۸ ټوک، ۱۷۳مخ؛ شیخ سلیمان بن شیخ ابراهیم قندوزي حنفي، هماغه، ۱ټوک، ۵۲مخ؛ احمد بن حنبل، مسند احمد؛ ۱ټوک، ۸۴مخ؛ احمد بن شعیب نسائي، سنن نسائي، ۲ټوک، ۱۱۲مخ؛، سلیمان بن احمد طبراني، المعجم الکبیر، تحقیق: حمدي عبدالمجید سلفي، ۲ټوک، ۳۲۱مخ؛ محمد بن عیسي ترمذي، سنن ترمذي، تحقیق: عبدالوهاب عبداللطیف؛ ۵ټوک، ۳۰۲مخ؛ شهاب الدین ابي الفضل احمد بن علي بن حجر عسقلاني، لسان المیزان، ۲ ټوک، ۴۴۲مخ.

۳. علاء الدین علي المتقي بن حسام الدین متقي هندي، هماغه، ۱۱ټوک، ۲۱۵مخ، ۳۲۹۷۹حدیث؛ شیخ سلیمان بن شیخ ابراهیم قندوزي حنفي، هماغه، ۱ټوک، ۸۴مخ؛ موفق بن احمد خوارزمي، هماغه، ۲۰۰مخ؛ شیخ جعفر الغطاء کاشف الغطاء، کشف الغطاء، ۱ټوک، ۱۱مخ؛ محمد بن علي شیخ صدوق؛ هماغه؛ ۵۲۱مخ؛ امین الاسلام فضل بن حسن طبرسي، اعلام الوري، ۱۵۹مخ؛ سلیمان بن احمد طبراني، هماغه، ۱۱ټوک، ۵۵مخ؛ شهاب الدین ابي الفضل احمد بن علي بن حجر ابن حجر عسقلاني؛ هماغه؛ ۱ټوک، ۱۹۷مخ؛ قاضي نورالله تستري، هماغه، ۱۳۲مخ؛ جلال الدین عبدالرحمن بن ابي‌بکر سیوطي، هماغه، ۱ټوک، ۴۱۵مخ؛ علي بن عیسي اربلي، هماغه، ۱۱۱مخ.

۴. متقي هندي، هماغه، ۱۱ټوک، ۲۰۰مخ، ۳۲۸۸۹حدیث؛ قندوزي حنفي، هماغه، ۱ټوک، ۸۴مخ؛ ابن حجر عسقلاني، هماغه، ۴ټوک، ۱۴۴مخ؛ خوارزمي، هماغه، ۸۳مخ؛ حاکم نیشابوري، هماغه، ۳ټوک، ۱۲۲مخ؛ تستري، هماغه، ۱۳۳مخ؛ سیوطي، هماغه، ۱ټوک،

### ز) علی د فضیلتونو لرونکے

امیرالمؤمنین د ټول عالم له ادمه تر خاتم پورې د فضیلتونو لرونکے دے. په ولیانو کښې غوره، د رسولانو او د خدای د ټولو مخلوقاتو وارث دے. پیغمبر(ص) وفرمایل: "څوک چې وغواړي چې ادم ته په علم کښې، نوح ته په تقوا کښې، ابراهیم ته په صبر کښې، موسی ته په هیبت کښې او عیسی ته په عبادت کښې وګوري نو باید د ابوطالب زوي علی(ع) ته دې وګوري".[1]

### ح) د حضرت علی(ع) بې شمیره صفتونه

د حضرت علی(ع) صفتونه او فضیلتونه د شمیرلو وړ نه دي؛ د خدای رسول(ص) وفرمایل: "که ټولې ونې قلم شي، ټول دریابونه رنګ، پیریان حساب کوونکي، ټول انسانان لیکونکي شي نو بیا هم د حضرت علی(ع) د فضیلتونو د شمارلو توان نه لري".[2]

## ۲. د ځای ناستي په توګه د امام علی(ع) ټاکل

پیغمبر(ص) په بیلا بیلو ځایونو کښې حضرت علی(ع) د خپل ځای ناستي په توګه ټاکلے دے چې په لنډه توګه یې بیانوو.

### الف) علي(ع) وارث او ځای ناستې

پیغمبر(ص) د بعثت په دریم کال، د دې ایت له نازلیدو وروسته ﴿وَ أَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الأَقْرَبِينَ﴾؛ خپل نزدې خپلوان دې وویروه[3] د عبدالمطلب اولاد چې څلویښت کسان وو راوبلل، دویمه ورځ یې د ډوډۍ خوړلو وروسته هغوي ته وفرمایل: په تاسو کښې کوم یو کس زما ملګرتیا کوي او په ما ایمان راوړي چې له ما وروسته زما ورور او ځای ناستې شي؟ امیر المؤمنین پاڅید او ویې فرمایل:

---

۴۱۵مخ، ۲۷۰۵حدیث؛ ترمذي، هماغه، ۵ټوک، ۳۰۱مخ؛ اربلي، هماغه، ۱ټوک، ۱۱۱مخ.

۱. اربلي، هماغه، ۱ټوک، ۱۱۱مخ.

۲. قندوزي حنفي، هماغه، ۱ټوک، ۱۴۴مخ؛ ابن حجر عسقلاني، هماغه، ۵ټوک، ۲۲مخ.

۳. شعراء، ۲۱۴آیة.

اے د خدای رسوله! زهٔ حاضر یم یې چې له تا سره په دې لاره کښې مرسته وکړم؛ پیغمبر(ص) وفرمایل: کښینه. پیغمبر(ص) بیا خپله خبره وکړه؛ او بې له علی(ع) بل چا څه ځواب ورنه کړ؛ پیغمبر(ص) وفرمایل: کښینه. پیغمبر(ص) په دریم ځل بیا خپله خبره وکړه؛ دې ځل هم یوازې علی پاڅیده او د پیغمبر(ص) د ملګرتیا لپاره یې خپل چمتووالے څرګند کړې. دغه وخت پیغمبر(ص) وفرمایل: "دا علی زما ورور، وصي، وارث او له ما وروسته په تاسو کښې زما ځای ناستې دے.[1]

## ب) په مدینه کښې علی(ع) د پیغمبر(ص) ځای ناستې

کله چې پیغمبر(ص) د تبوک غزا ته تله نو په مدینه کښې یې امیرالمؤمنین خپل ځای ناستې وټاکه. امام علی(ع) وفرمایل: "ایا ما د ماشومانو او ښځو تر مینځ پریږدې؟" پیغمبر(ص) وفرمایل: "ایا په دې نه یې خوښ چې ته ماته داسې شې لکه چې هارون موسی ته و، خو دا چې له ما وروسته بل پیغمبر نشته؟"[2]

---

۱. د لا زیاتې خبرتیا لپاره وګورئ: علامة امیني، الغدیر؛ محمد بن جریر طبري، تاریخ طبري، ۲ ټوک، ۶۲ و ۶۳ مخونه؛ علي بن ابي الکرم محمد ابن اثیر، الکامل في التاریخ، ۲ ټوک، ۴۱ او ۴۲ مخونه؛ احمد بن حنبل، هماغه، ۱ټوک، ۱۱۱مخ؛ شهاب الدین بن حجر ابن حجر عسقلاني، د فتح الباري شرح صحیح بخاري سریزه، ۸ټوک، ۱۱۴مخ؛ جارالله محمود بن عمر زمخشري خوارزمي، الکشاف عن حقائق التنزیل و عیون الاقاویل في وجوه التأویل، ۱ټوک، ۳۴۷مخ؛ متقي هندي، هماغه، ۱۳ټوک، ۱۳۱مخ، ۳۶۴۱۹حدیث؛ نورالدین علي بن ابي بکر هیثمي، مجمع الزوائد و منبع الفوائد ،۸ ټوک، ۳۰۲مخ؛ احمد بن عبدالله طبري، هماغه، ۷۱مخ؛ قندوزي حنفي، هماغه، ۱ټوک، ۳۱۲مخ؛ ابن ابي الحدید ، هماغه، ۱۳ټوک، ۲۱۰مخ.

له څېړنه دا معلومیږي چې د یوم الدار حدیث معنوي تواتر لري، ځکه چې د متن له مخې په ټولو سرچنیو کښې یوشان نه دے.

۲. احمد بن حنبل، هماغه، ۱ټوک، ۱۷۷مخ؛ محمد بن اسماعیل بخاري، صحیح بخاري، ۳ټوک، ۵۸مخ؛ قندوزي حنفي، هماغه، ۱ټوک، ۵۹مخ، مسلم بن الحجاج نیشابوري، صحیح مسلم، ۷ټوک، ۱۲۰مخ؛ محمد بن اسحاق ابن هشام، سیرة ابن هشام، څېړنه: محمد محي الدین عبدالحمید ، ۴ټوک، ۹۴۷مخ؛ نورالدین علي بن ابي بکر هیثمي، هماغه، ۹ټوک، ۱۰۹مخ؛ متقي هندي، هماغه، ۱۳ټوک، ۱۰۲مخ، ۳۶۳۴۵حدیث؛ حاکم نیشابوري، هماغه، ۳ټوک، ۱۰۹مخ؛ شمس الدین محمد بن احمد ذهبي، سیراعلام النبلاء، څېړنه: شعیب الأرنؤوط و حسین الاسد ، ۱ټوک، ۱۴۲مخ؛ سیوطي، هماغه، ۲ټوک، ۱۷۷مخ؛ خوارزمي، هماغه، ۱۹۹مخ؛ احمد بن عبدالله طبري، هماغه، ۸۷مخ؛ ترمذي، هماغه، ۵ټوک، ۳۰۲مخ؛ احمد بن یحیي بلاذري، انساب الاشراف، ۱ټوک، ۲۱۷مخ.

ج) په غدير کښې علی(ع) د پيغمبر(ص) ځای ناستې

دا ايت ﴿الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَ أَتمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتي وَ رَضِيتُ لَكُمُ الاسلَمَ دِيناً﴾[1] په دې ايت کښې ټول مفسران په يوه خله دي چې دا ايت د اخرني حج په موقع د پيغمبر(ص) لـه وفاته څو مياشتې وړانـدې نـازل شـوے و. لـه دې وروسته چې کافران يې د دې دين له خرابولو نهيلې کړل او ويې فرمايل: ﴿الْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِن دِينِكُمْ فَلا تخْشَوْهُمْ وَ اخْشَوْنِ﴾[2]؛ په دې خبرې ټينګار کوي چې نن ستاسو دين بشپړ شو او خپل نعمت مې په تاسو پوره کړ.

هغو ډېرو روايتونو ته په پام سره چې د دې ايت په شان نزول کښې راغلي دي، دا روښانيږي چې د دين بشپړتيا د کافرانو نهيلی سره سمه وه او دا کار د ځای ناستي په ټاکلو سره و چې پيغمبر(ص) د خدای له اړخه علی(ص) د خپل ځای ناستي په توګه وټاکه؛ ځکه چې د اسلام دښمنان په تمه وو چې د پيغمبر(ص) له وفاته وروسته، دې ته په پام سره چې د هغه نارينه اولاد نشته، اسلام به بې له مشره پاتې شي او کمزورې به شي، خو د ځای ناستي په ټاکلو سره د اسلام دين بشپړ شو او د خدای نعمت په خلکو پوره شو.[3]

پيغمبر(ص) له اخرني حجه د راوپسيدو په وخت ټول حجيان په يو ځای کښې چې نامه يې "غدير" وه جمع کړل او يوه تفصيلي خطبه يې ولوسته او علی(ع) يې د ټولو لپاره د ځای ناستي په توګه وټاکه او ټولو له هغه حضرت سره بيعت هم وکړ.

علامه اميني په الغدير کتاب کښې د غدير دا حديث له ۱۱۰ صحابيانو او ۸۴ تابعينو او ۳۶۰ مشهورو پوهانو نقل کړے دے او دا يې د تاريخ له متواترو پيښو ګڼلے، داسې چې په سند کښې يې څه شک نه شته.

نور حديثونه

۱. په يو روايت کښې د اهل سنت له مشرانو لکه حمويني راغلي دي چې ابوبکر او عمر له دې وروسته چې امام علي(ع) د مسلمانانو د مشر په توګه وټاکل

---

۱. مائده، ۳آية.

۲. هماغه.

۳. محمد تقي مصباح يزدي، آموزش عقايد، ۳۱۲مخ.

شو له پیغمبره(ص) پوښتنه وکړه چې ایا دا ولایت یوازې له علي(ع) سره خاص دے؟ پیغمبر(ص) یې په ځواب کښې وویل: "خاص دے له علي سره او زما له وصیانو سره د قیامت تر ورځې پورې". پوښتنه وشوه ستا وصیان څوک دي؟ هغه حضرت وفرمایل: "علي زما په امت کښې له ما وروسته زما ورور، وارث، او ځای ناستې دے او د هر یو مؤمن ولي دے. له هغه وروسته زما زوې حسن او بیا مې حسین زوې او بیا د حسین اولاد په یوه بل پسې دي چې قران له هغوي سره او هغوي له قران سره دي، هیڅکله به له یوه بله نه جدا کیږي تر دې چې د ډنډ (حوض کوثر) په غاړه ماته راورسي".[1]

د دې حدیث مطابق، پیغمبر(ص) د لومړي او دویم خلیفه په ځواب کښې په څرګنده د حضرت علي او د امامانو(ع) د ځای ناستي توب خبره کړې ده.

۲. کله چې دا ایت ﴿یا أَیُّهَا الَّـذِینَ آمَنـو آ اَطیعُـوالله وَاَطیعُوالرَّسُـولَ وَاُولـي الْأَمْرِ مِنْکُمْ﴾[2] نازل شو او په بې له څه شرطه د اولوالامر پیروي واجب شوه او د هغوي اطاعت او د رسول اطاعت سره یو شان وګڼل شو، جابر بن عبدالله انصاري د خدای له رسوله(ص) پوښتنه وکړه: «اولواالامر» چې اطاعت یې واجب دے کوم کسان دي؟ پیغمبر(ص) ورته په ځواب کښې وفرمایل: "اے جابره! هغه زما ځای ناستي او د مسلمانانو پیشوایان دي چې لومړې یې د ابوطالب زوې علي او له هغه وروسته حسن او ورپسې حسین او بیا علي بن حسین او بیا محمد بن علي چې په تورات کښې ورته باقر ویلې شوي دي؟ اے جابره! په راتلونکي وخت کښې به ته هغه وګورې او کله چې یې وګورې نو زما سلام ورته ورسوه او له هغه وروسته به جعفر بن محمد او بیا موسی بن جعفر او بیا علي بن موسی او بیا محمد بن علي او بیا علي بن محمد او بیا حسن بن علي او له هغه وروسته به زما په نامه او زما په لقب، د ځمکې په مخ د خدای حجت او په بندګانو کښې د خدای

---

۱. جویني حمویني، هماغه، ۲ټوک، ۲۲مخ؛ ابوالمکارم سید هاشم بن سید سلیمان بحراني، غایة المرام وحجة الخصام في تبیین الامام من طریق الخاص والعام، څیړنه: سید علي عاشور، ۱ټوک، ۱۴۰۱ او ۳۹مخونه.
۲. نساء، ۵۹آیة.

باقي پاتې د حسن بن علي زوي وي..."[1] په دې حديث کښې هم د امام علي او د امامانو(ع) خلافت او امامت بيان شوې او بيا له هغوي وروسته د يو يو امام نامه اخستې شوې ده.

۳. پيغمبر(ص) د شعبان په مشهوره خطبه کښې د اميرالمؤمنين ځای ناستي توب او خلافت په څرګنده بيان کړےدے: "خدای پاک زۀ او ته له يوه نوره پيدا کړو او خوښ يې کړو، بيا يې زۀ د نبوت لپاره او ته يې د امامت لپاره وټاکلې، څوک چې ستا له امامته انکار وکړي، نو هغه زما د نبوت انکار کړے دے. اے علي! ته زما وصي او وارث او زما د بچو پلار او د زما د لور خاوند يې، ستا حکم زما حکم دے او ستا منع زما منعه ده. قسم مې دې په هغه خدای وي چې زۀ يې نبي او له ټولو ښه نيکي کوونکې جوړ کړے يم، بې شکه چې ته په خلکو باندې د خدای حجت يې او د خدای د رازونو امين يې او د خدای په بندګانو باندې د خدای خليفه يې".[2]

د دې خطبې پر اساس، د حضرت علي(ع) د جانشينۍ او خلافته انکار د پيغمبر(ص) د نبوت انکار دے. د امام علي(ع) امر او نهي د پيغمبر(ص) امر او نهي دي. دا حديث هم د حضرت علي(ع) په خلافت او ځای ناستي باندې په څرګنده دلالت کوي.

### نتيجه

د فريقينو په معتبرو کتابونو کښې تحقيق او څېړنه دا ښيي چې پيغمبر(ص) اميرالمؤمنين(ع) د يو غوره او وړتيا لرونکي کس او له خپل ځانه وروسته د اسلامي امت لپاره د خليفه په توګه ټاکلےدے. د پيغمبر(ص) له خوا د مسلمانانو لپاره د امام علي(ع) د خليفه په توګه ټاکل يو منطقي کار و ځکه چې هغه کس چې د خدای له رسول(ص) وروسته يې د دې کار وړتيا لرله، هغه يوازې امام علي(ع) او

---

۱. سيد هاشم بن سيد سليمان بحراني، هماغه، ۳ټوک، ۱۱۳مخ؛ قندوزي حنفي، هماغه، ۳ټوک، ۳۹۹مخ؛ اربلي، هماغه، ۳ټوک، ۳۱۲مخ؛ محمد بن حسن حرعاملي، اثباة الهداة بالنصوص والمعجزات، ۳ټوک، ۱۲۳مخ.

۲. قندوزي حنفي، هماغه، ۱ټوک، ۲۳مخ.

د هغه پاک اولاد دي چې په بیلا بیلو وختونو کښې د پیغمبر(ص) له خوا ښودل شوي دي.

البته د خدای د رسول له خوا د امام علی(ع) د خلیفه او غوره کس په توګه ښودل او د هغهٔ ځانګړو فضیلتونو بیانول په دې معنې نه دي چې خلک هم د هغه حضرت له ټولو فضیلتونو خبر نه وو. د هغه حضرت حقیقي پیژندګلو خو یوازې د خدای او د هغه د رسول(ص) لپاره ممکنه ده. امام علی(ع) د پیغمبر(ص) په وخت کښې په خپل عمل سره په بیلا بیلو وختونو کښې ټولو ته خپله وړتیا وښودله. خو پیغمبر(ص) د دې لپاره چې مخالفانو ته د هغه په خلافت باندې د نیوکې څه ځای پاتې نه شي هغه یې په بیلا بیلو ځایونو کښې خلکو ته وښوده او معرفي یې کړ.

### د لا زیاتې مطالعې لپاره سرچینې


۱. عبدالصالح انتصاري، غدیر خم او د اهل سنت له کتابونو د هغې د پوښتنو ځوابونه، قم، داوري خپرندوې اداره، ۱۳۸۱، ۱،۲ټوک.

۲. علامه اميني، الغدیر، د محمد تقي واحدي ترجمه، قم، بنیاد بعثت، ۱۳۸۲، ۱ټوک.

۳. محمد باقر انصاري، اسرار غدیر، قم، تک خپرندویه، ۱۴۲۷ق.


### وروستے حدیث

امام علي(ع): «الامامهٔ نظام الأمهٔ؛ امامت د امت نظام دے»[1]

۱. غررالحکم، ۱۰۹۵.

# د لمر راګرځول او د امام علی(ع) فضیلت

پوښتنه

پوښتنه: وخت «متصرم الوجود» دے؛ يعنې چې کله تير شو هغه بيرته نه راګرځي. له بلې خوا ډېر روايتونه لرو چې نبي او امام ته وايي چې لمونځ په لومړي وخت کښې کوئ؛ نو دې ته په پام سره، اول دا چې «ردالشمس» "د لمر راګرځول" څه رنګ ممکن دي؟ دويم دا چې کله چې د حضرت علی(ع) لمونځ قضا شو نو ردالشمس د هغه په فضيلت باندې څه رنګ دلالت کوي؟

ځواب

دا پوښتنه دوه برخې لري:

١. د لمر د بيرته راګرځيدو په کيسه کښې شک

٢. د امام علی(ع) په فضيلت باندې د دې کيسې دلالت

د لومړۍ برخې ځواب: چې له معجزې او ولايت تکويني سره اړه لري. له دې وړاندې چې اصل ځواب ورکړو ضروري ده چې د بحث په بنيادي ټکو رڼا واچوو:

الف) معجزه: معجزه له «عجز» اخستے شوے ده چې د ناتوان او د هر څيز د شاته پاتې کيدو يا د پاتې راتللو په معنی ده.[1] د پيغمبرانو او وصيانو معجزې دومره پخې او طاقتورې دي چې که څوک وغواړي له هغو سره مقابله وکړي، نو

١. «عجز الانسان، مؤخره، العجز أصله تأخر عن الشيء»، راغب، اصفهاني، مفردات، طليعة النّور، دوم وار، ١۴٢٧ق، ۵۴٧مخ.

ناتوانه کېږي، نو له همدې سببه خارق العاده کارونو ته معجزه ويل کېږي.
معجزه او کرامات د نفس له تاثير سره اړه لري. د معجزې خاوندان د خدای په حکم د هغه د ورکړې شوي طاقت په وسيله دومره طاقتور نفس لري چې په ټولو غالبيږي. هغه مبداء او سرچينه چې د نبيانو په نفسونو کښې موجوده ده هغه له مادي څيزونو نه ده، ځکه مونږ که هر يو مادي څيز فرض کړو، نو ممکنه ده چې له هغې زيات طاقتور کس پيدا شي.[1]
معجزه او کرامت په دې معنی نه دی چې د فطرت قانون ورسره خراب شي. معجزې داسې علتونه او اسباب لري چې هغه له طبيعته پورته او بهر دي يا له داسې طبيعته دي چې پيژندلي شوي نه دي، خو په دې معنې نه چې که هغه علتونه کشف شي نو د معجزې اړخ يې له منځه ځي؛ بلکه په دې نظر سره چې معجزې داسې علتونه لري چې په هغې څوک غالبيدې نه شي او هغه ماتې نه خوري.[2]
معجزې او خارق العاده کارونه د عقل له مخې محال نه دي؛ ځکه چې د ډېرو عاقلانو عقلونه په سلګونو کالو د هغه معجزو په وړاندې تسليم و او هغه يې منلي دا معجزات په اصل کښې هغه څيزونه دي چې د طبيعت عادي جريان د هغې انکار نه کوي؛ لکه د يو مړ کس ژوندي کيدل او د ژوندي کس مړيدل.
د عادي طبيعت او معجراتو تر مينځ فرق دا دے که په طبيعت کښې مړکيدل او ژوندي کيدل، د خاصو سببونو معلول دے چې په خاصو زماني او مکاني شرائطو سره ترسره کيږي، خو په معجزو کښې هغه اسباب او شرائط په خاص زمان او مکان کښې نه شي ليدل کيدې.[3]
او دا خبره چې د پيغمبرانو او وليانو معجزې د خدای په حکم سره دی، له

---

۱. محمد حسين طباطبائي، الميزان، ترجمه ناصر مکارم، دويم وار، ۱۳۶۴، بنياد علمي و فکري علامه طباطبائي، ۱ټوک، ۱۰۰مخ.
۲. الميزان هماغه، مخ ۱۰۲، ناصر مکارم شيرازي و همکاران، پيام قرآن، پينځم وار، ۱۳۸۱، تهران، دارالکتب الاسلامية، ۷ټوک ۲۷۲ مخ.
۳. الميزان، هماغه، ۹۲ و ۹۳مخ.

توحید سره څه ټکره نه لري.[1]

ب) تکویني ولایت: «ولایت» چې «تکویني ولایت» په جملې کښې راغلے که واو يې په زبر سره وو ایو نو د مینې په معنی د ےاو که واو يې په زیر سره وو ایو نو د نزدې والي او مسلط شونې، تصرف او تدبیر په معنی د ے.[2] سلطنت او تصرف خدای ته د نزدې کیدو نتیجه ده. هر څوک چې خدای ته زیات نزدې وي، خدای هغه ته د عالم په چارو کښې د تسلط او تصرف زیات طاقت ورکوي. له همدې سببه پیغمبران او د خدای ولیان ډېر طاقت او تسلط او تصرف لري.

«تکوین» په «تکویني ولایت» کښې، په لغت کښې د یو نوي څیز د ایجادولو په معنی د ے.[3] او د متکلمینو په اصطلاح کښې د یو داسې څیز ایجادول چې له اوله ماده لري؛ د ابداع په اپوټه چې له نیشت نه د یو څیز پیدا کول دی. تکویني ولایت، له معجزې سره سم د ے. په زړې اصطلاح کښې د معجزې ټکې استعمالیدۀ او په نوي اصطلاح کښې د تکویني ولایت ټکې ویل کیږي.[4] ولایت په ټول کښې په دوه ډوله ویشل کیږي: یو تکویني ولایت چې هغې ته اشاره وشوه.

بل تشریعي ولایت چې هماغه دخدای قانوني سرپرستي او حاکمیت د ے چې کله کله په محدود توګه لکه په ماشوم باندې د پلار او نیکه ولایت او کله کله په پراخه توګه لکه د اسلامي حاکم په هغه ټولو څیزونو باندې ولایت چې له حکومت سره تړلي وي او همدارنګ د اسلامي هیواد چلول. تشریعي ولایت په پراخه توګه له پیغمبرانو او د خدای له وصیانو سره خاص د ے چې په خپله دوه برخې لري یو سیاسي مشر او بله دیني مرجعیت.

د تکویني ولایت یو ډول د خلقت په چارو کښې تصرف کول دي، لکه دا چې خدای پاک خپل یو بنده یا پرښتې ته دا توان ورکړي چې ځینې سببونه پیدا کړي

---

۱. پیام قرآن، هماغه، ۲۷۲ – ۲۸۱مخ.
۲. طریحي، مجمع‌البحرین، ۴ټوک، ۵۵۳ مخ؛ ابن منظور، لسان العرب، ۱ټوک، ۴۰۱مخ.
۳. ابن منظور، لسان العرب، ۱۲ټوک، ۱۹۲مخ.
۴. کاظم الحائري، الامامه و القیادة المجتمع، ۱۱۹مخ.

یا یې ختم کړي. دا کار څه محال نه دے، ځکه چې خدای قدرت لرونکے دے او چا ته چې وغواړي دا قدرت ورکوي. لکه څه رنګ چې پرښتو ته د عالم په ځینو چارو کښې د تصرف او لاس وهنې طاقت ورکړے دے همدارنګ یې انسان ته هم دا توان ورکړے دے.[1]

د لمر ګرځولو کیسه هم د تکویني ولایت په ترڅ کښې ده. د لمر راختل او غورځیدل د ځمکې د حرکت په سبب دي. څوک چې تکویني ولایت ولري، نو دا توان لري چې د ځمکې دا حرکت لږ وروسته کړي چې دغه وخت د مائیګر د لمانځه وخت شي. تکویني ولایت په لاندینیو دلیلونو سره ثابتیدې شي:

## ۱. د تکامل د قانون مقتضی او غوښته

د عالم ټولې چارې د خپل شان مطابق د تکامل او بشپړتیا په لاره روانې دي؛ په تیره بیا انسان چې د بشپړتیا تر ټولو زیاته وړتیا لري؛ بلکه دا عالم او ټول موجودات د انسان د کمال لپاره پیدا کړې شوي دي، لکه څه رنګ چې قران مجید فرمایي:

﴿هوالذي خلق لکم ما في الارض جمیعاً﴾؛ او هغه دے چې هغه څه چې په ځمکه کښې دي، ستاسو لپاره یې پیدا کړي دي.

او په قدسي حدیث کښې فرمایي:

«خلقت الاشیاء لاجلك وخلقتك لاجلي»؛ ټول عالم مې ستا لپاره او ته مې د ځان لپاره پیدا کړې.

لکه څه رنګ چې انسان ورو ورو کمال ته رسي، - چې د ټولو انسانانو زیات کامل انسان خاتم الانبیاء او د هغه معصوم ځای ناستي دي - همدارنګ د شریعت کمال او نبوت او امامت هم هغه ته ورو ورو په لاس ورځي. د ټولو شریعتونو زیات کامل دین او شریعت د اسلام شریعت دے او له ټولو نبوتونو کامل نبوت د

---

۱. ناصر مکارم شیرازي و همکاران، پیام قرآن، ۹ټوک، ۱۲۱ – ۱۲۳ مخونه؛ ولایت په فیض کښې د واسطې په معنې او په مطلوبو کارونو کښې د دعا د قبلیدو په معنی او همدارنګ د تکویني ولایت له مصداقونو دے چې د لا ډیرې مطالعې لپاره پیام قران کتاب ۹ټوک، ۱۲۱ مخونو وروسته وګورئ.

پیغمبر(ص) نبوت دے.[1] او د کامل نبوت او امامت غوښتنه دا ده چې تکویني ولایت ولري. ځکه چې د ولایت او امامت د ثابتولو یوه لاره د معجزې ثرګندونه او د تکویني ولایت د کارونو ترسره کول دي. کامل انسان د ځمکې په مخ د خدای خلیفه او د خدای د صفتونو ثرګندوونکے دے. خارق العاده کارونه د خدای په حکم او هغه طاقت سره چې خدای خپل پیغمبر او وصي ته ورکړے دے، ترسره کوي. او د ردالشمس (د لمر ګرځولو) کیسه هم د تکویني ولایت له کارونو یو کار و؛ له همدې سببه د لمر راګرځول یو ممکن کار دے.

## ۲. د حکمت غوښتنه (اقتضاء)

د خدای حکمت هم دا غوښتنه لري چې مقدس ذاتونه دې تکویني ولایت ولري؛ ځکه چې هغوي د خدای د دین چلوونکي دي او باید داسې مقام ولري چې د خدای په دین کښې د شک څه ځای پاتې نه شي.

## ۳. د لومړیتوب غوښتنه

د لومړیتوب غوښتنه دا ده چې کله اصف بن برخیا (په هغه کمې پوهې سره چې له کتابه یې لرله) هغه رنګ تکویني ولایت ولري، نو پیغمبر(ص) او د هغه اهلبیت(ع) چې د کتاب بشپړ او کامل علم لري باید په بشپړه توګه تکویني ولایت ولري، نو دې ته په پام سرهد لمر د راګرځولو خبره د تکویني ولایت له لارې هم ممکنه ده.

## ۴. د آیتونو او روایتونو غوښتنه

د لمر د راګرځولو تر ټولو ثرګند دلیل دا دے چې تکویني ولایت واقع شوے دے؛ لکه څه رنګ چې قراني ایتونه د دې بیلګې بیان کړي دي؛ چې ځینې یې:

---

۱. علامرضا باقري نجفي، انوارالهدایة في مباحث الاماة والولایة، ۴۲۱ - ۴۲۲مخونه.

**الف) د حضرت یوسف(ع) د پلار په نظر راوستلو کښې تصرف**

﴿إذهبوا بقميصي هذا فألقوه علي وجه أبي يأت بصيراً﴾[1]؛ زما دا قميص يوسئ او د پلار په مخ مې واچوئ، نو نظر به يې روغ شي، ﴿فلمّا أن جاء البشير القاه علي وجهه فارّتد بصيراً﴾؛[2] نو کله چې ځيرې ورکوونکے راورسيد، هغه قميص يې دهغه په مخ واچاوۀ، نو ناڅاپه د هغه نظر روغ شو.

په دې پيښه کښې، تکويني ولايت د عالم په چارو د تصرف او لاس وهنې په معنې دے او د پلار د نظر واپس راتللو کښې د يوسف(ع) طاقت اثر لرلو، که چرې دا کار د خداې د ارادې معلول وې، نو د قميص ليږلو څه دليل نه جوړيدۀ؛ بلکه چې دعا يې کړې وې نو روغ شوې به و، نو واقعي سبب يې هماغه د يوسف اراده وه او قميص يوه ساده وسيله وه چې هغه حضرت ترې ګټه واخسته.

**ب) د حضرت عيسی تصرف:**

﴿انّي أخلق لکم من الطين کهيئة الطير فانفخ فيه فيکون طيراً باذن الله و أبريء الاکمه والابرص وأحي الموتي باذن الله﴾؛ [3] ما ستاسو د پروردګار له خوا نښه راوړې ده، ما ستاسو لپاره له خټو د مرغۍ مجسمه جوړه کړه، نو په هغې کښې پو کوم، نو د خدای په حکم به هغه يوه مرغۍ شي او مادرزاد ړوند او برګي لرونکي ته شفا ورکوم او د خدای په حکم مړي ژوندي کوم.

په دې ځای کښې هغه حضرت ځان د دې کارونو کوونکے ښيي. له اذنه مطلب لفظي اجازت نه دے؛ بلکې باطني اذن او اجازت دے، يعنې خدای داسې کمال او طاقت ورکړے چې دا رنګ کارونه ورسره کولې شي.

**ج) د سپوږمۍ د دوه ټوټې کولو معجزه:**

﴿اقتربت الساعة وأنشق القمر وان يرو آية يعرضون ويقولوا سحر

---

۱. يوسف، ۹۳آيۀ.
۲. هماغه، ۹۶آيۀ.
۳. آل عمران، ۴۹آيۀ.

مستمر﴾؛[1]

قیامت نږدې شو او سپوږمۍ وچوده او کله چې د خدای یوه نښه ویني، نو مخ تاوهي او وایي دا دوام داره جادو دے.

د سپوږمۍ دا چودیدل د قیامت د وخت هغه چودیدل نه دي؛ ځکه چې دویم ایت په دې هکله د مشرکانو اعتراض او نیوکې بیانوي. او روایتونه هم په دې ټینګار کوي. تفسیر کوونکي دا ایت په دې دنیا کښې د سپوږمۍ د چودیدلو په هکله ګڼي.[2] د لمر د راګرځولو کیسه هم د دې له مصداقونو ده.

د فریقینو د روایتونو مطابق د لمر راګرځیدو کیسه دوه ځله شوې ده:

اول ځل د پیغمبر(ص) په ژوند کښې وشوه. امام علی(ع) د له خدای رسول(ص) سره و. د همیشه په شان کله چې په پیغمبر(ص) وحي نازله شوه، نو د پیغمبر(ص) وجود درون شو او د مجبورۍ له مخې یې د امیرالمؤمنین په زانګون باندې خپل سر کیښود او سر یې اوچت نه کړ تر دې چې لمر پریوت او امیرالمؤمنین(ع) (له دې سببه چې د پیغمبر(ص) سر یې په ځمکه نه شو کیښودے) د ماځیګر لمونځ د ناستې په حالت کښې وکړ. کله چې د خدای رسول(ص) خپل حالت ته راغی نو امیرالمؤمنین(ع) ته یې وفرمایل: د ماځیګر لمونځ دې قضا شو؟ ویې فرمایل: ستاسو په سبب او دهغه حالت په سبب چې د وحي د اوریدو په سبب په تاسو راغلے و. نو دا مې نه شو کولے چې ستاسو سر په ځمکه کیږدم نو په ناسته مې په هماغه حالت کښې لمونځ وکړ.

په ارشاد کتاب کښې د مفید (رح) په نقل، پیغمبر(ص) علی(ع) ته حکم وکړ چې دعا وکړي او له خدایه وغواړي چې لمر ورته راستون کړي (د ځمکې وضعي حرکت) چې د ماځیګر د لمانځه وخت شي؟ خدای پاک هم په دې سبب چې د خدای او د هغه په اطاعت کښې د هغه دعا قبلوي نو د ځمکې وضعي حرکت یې ودراوۀ او د ماځیګر وخت شو او حضرت علی(ع) لمونځ وکړ بیا ځمکه د لمر پریوته حالت

---

۱. قمر، ۱و ۲آیهٔ.

۲. مجمع البیان، ۵ټوک، ۱۸۲مخ ؛ مفاتیح الغیب، طبع نخستین مصر، ۸ټوک، ۷۴۸مخ ، د سوره قمر لاندې.

ته لاړه.[1]

د نورو په نقل، چې يو يې ابن مغازلي په المناقب کتاب کښې دے: چې وايي پيغمبر(ص) دعا وکړه او ويې فرمايل: علی ستا او ستا د رسول په اطاعت کښې و، او لمونځ يې د ولاړې په حالت کښې ادا نه کړ، نو لمر راوګرځوه (د ځمکې وضعي حرکت)! راوي وايي: ما لکه څه رنګ چې مې د لمر غورځيدل ليدلي وو، دهغه حضرت له دعا وروسته مې وليدل چې لمر بيا څرګند شو او د ماځيګر په وخت کښې ودريد؟ نو حضرت علی(ع) خپل لمونځ وکړ او بيا لمر پريوت.[2]

دويم ځل ردالشمس د پيغمبر(ص) له وفاته وروسته (کوفی سره نزدې) په بابل ښار کښې، وشو. امام علی(ع) له فراته تيريدهٔ، په داسې حال کښې چې ډيرو ملګرو يې خپل څاروي او د کور سامانونه له اوبو تيرول، هغه حضرت له يوې ډلې سره د ماځيګر لمونځ وکړ او تر اوسه پورې يې ټول ملګري او دوستان له اوبو نه وو تير شوي چې لمر پريوت او د ډېرو لمونځ قضا شو او په هغه حضرت پسې د جَمعې د لمانځه فضيلت يې هم له لاسه ورکړ. په خپلو کښې يې په دې هکله خبرې وکړې او کله چې هغه حضرت د هغوي خبرې واوريدې، خدای ته يې دعا وکړه چې لمر بيرته راستون کړي چې ټول ملګري يې له هغه حضرت سره د جمعې لمونځ وکړي. خدای د هغه دعا قبوله کړه او لمر بيا راوګرځيد تر هغه ځايه چې د ماځيګر د لمانځه وخت و او کله چې ټولو لمونځ ختم کړ، بيا پريوت.[3]

دې ته په پام سره، د تکويني ولايت کومې بيلګې چې په قران او روايتونو کښې بيان شوي دي، هغه د ردالشمس په کيسې باندې څرګند دليل دی.

د دويمې برخې ځواب

د دويمې برخې پوښتنه دا ده چې په نبي او امام باندې خو په اول وخت کښې

---

۱. شيخ مفيد، ارشاد، ۱ټوک، **۳۴۵**مخ له اهل‌البيت ډيجيټل کتابونه اخستل شوې.

۲. تاريخ دمشق، ۲ټوک، ۲۸۲ – **۳۰۵**مخونه، کفايت الطالب، ۳۸۰مخ؛ المناقب للخوارزمي، **۳۰۲**مخ؛ تذکرة الخواص، **۵۵**مخ؛ ابن مغازلي، المناقب، له اهل‌البيت ډيجيټل کتابتونه اخستل شوې.

۳. محمد بن نعمان مفيد، الارشاد هاشم رسولي محلاتي ترجمه او شرحه، تهران، د اسلام کلتور خپرندويه، ۱۳۷۸، ۲ټوک، **۵۰۴** – **۵۰۲** مخونه، له اهل‌البيت ډيجيټل کتابتونه اخستل شوې.

لمونځ واجب دے. کله چې د حضرت علی(ع) لمونځ قضا کیږي، نو د لمر د راستنیدو کیسه د هغه په فضیلت باندې څه رنګ ګواهي ورکوي؟

اول دا چې د مرحوم مفید د روایت مطابق، هغه حضرت خپل لمونځ په وخت او په ناسته ادا کړې و او قضا شوې نه و او د ردالشمس له پیښې وروسته یې بیا په ولاړه لمونځ وکړ. دویمه دا چې نبوت اصل دے او لمونځ فرع. نو دې ته په پام سره د نبوت د مقام درناوے د لمانځه تر درناوي زیات دے، وویل شول چې د وحي د نازلیدو په وخت به په پیغمبر(ص) باندې د درنیدو حالت راتله او ورته به د تکیې د ځای ضرورت و. کله چې یې خپل مبارک سر د حضرت علی(ع) په زانګون باندې کیښود، نو هغه حضرت دا نه شو کولې چې د هغوي سر په ځمکه کیږدي چې په ولاړه لمونځ وکړي. له همدې سببه هغه حضرت لمونځ په ناسته وکړ او د نبوت د مقام درناوے یې وکړ. دریمه دا چې د ردالشمس پیښه د هغه حضرت په فضیلت دلالت کوي، که دا ردالشمس د هغه حضرت په دعا وي او که د پیغمبر(ص) په دعا، که د حضرت علی(ع) د دعا نتیجه وي نو د تکویني ولایت یو مصداق دے چې د نفس د کمال نتیجه ده، لکه څه رنګ چې بیان شول. که د پیغمبر(ص) د دعا نتیجه وي بیا هم د هغه حضرت په فضیلت دلالت کوي، ځکه چې پیغمبر(ص) د هغه حضرت لپاره دعا وکړه او خدای پاک د حضرت علی(ص) په حق کښې د خپل پیغمبر(ص) دعا قبوله کړه، او دا له حضرت علی(ع) سره د خدای او د پیغمبر(ص) مینه څرګندوي.

### نتیجه

ایتونو او روایتونو ته په پام سره، د ردالشمس پیښه ممکنه ده او پیښه شوې هم ده اود تکویني ولایت له اثراتو ده. قران مجید د تکویني ولایت بیلګې بیان کړې دي. د ردالشمس پیښه د تکویني ولایت نتیجه ده او د حضرت علی(ع) په فضیلت باندې دلالت کوي؛ ځکه چې د نفس د بشپړتیا او تکامل نتیجه ده. نفس ته د خدای د نزدې والي په اثر دا طاقت ورکول کیږي چې د عالم په څیزونو کښې اثر کوي. معجزې او کرامتونه د نفس د لوړاوي له طاقته پیدا کیږي. دا ټولې معجزې او کرامتونه د نفس له لوړې درجې سرچینه اخلي. د ولایت ټولې مرحلې

خدای پاک د نزدیکت نتیجه ده. حدیث قدسي دا حقیقت بیانوي: یو بنده هم ماته په داسې وسیلې نه دې نزدې شوې چې هغه وسیله ماته زما له فریضو زیاته ګرانه وي. بیشکه چې زما بنده د هغه نافله لمونځونو او سنتو په وسیله ماته نزدې کیږي، چې ما نه دي فرض کړې خو هغوي یې زما د مینې په سبب ترسره کوي چې زۀ هم ورسره مینه وکړم. نو کله چې زما محبوب شول، نو زۀ د هغوي هغه غوږونه جوړیږم چې ورسره اوري، او د هغوي هغه سترګې جوړیږم چې وررسره ګوري، دهغوي هغه ژبه جوړیږم چې ورسره خبرې کوي، د هغوي هغه لاس جوړیږم چې په هغې سره کار کوي.[1] که د ردالشمس کیسه د پیغمبر(ص) د دعا نتیجه وي نو دا هم د حضرت علی(ع) په فضیلت باندې دلالت کوي، ځکه چې دعلی(ع) په حق کښې د پیغمبر(ص) د دعا قبلیدل دي. د حضرت علی(ع) لمونځ هم قضا نه شو، بلکه د پیغمبر(ص) د عزت لپاره چې د نبوت د مقام خاوند و، هغه لمونځ یې په ناسته وکړ او بیا یې په دویم ځل په ولاړه وکړ.

د زیاتو لوستلو لپاره کتابونه

محمدحسین طباطبائي، تفسیر المیزان، ۱ټوک، ۱۰۰مخ.

ناصر مکارم شیرازي و ملګري، پیام قرآن، ۸ټوک ۲۷۲مخ؛ ۹ټوک، له۱۲۱مخه وروسته.

مرتضي مطهري، ولاءها و ولایتها، ۷۲مخ.

وروستے حدیث

امام علي(ع): بیشکه چې زۀ ستاسو تر مینځ په تیارو کښې د هغه روښانه څراغ په شان یم چې څوک هم د هغې خوا ته راشي نو د هغې له نوره رڼا اخستې شي.[2]

---

۱. شرح اصول کافي، ۹ټوک، ۴۲۴مخ، له اهل‌البیت د یجیټل کتابتونه اخستل شوې: «قال الله عزّوجلّ: ما تقرّب إلي عبد بشيء أحبّ إلي ممّا إفترضت علیه وإنّه لیتقرّب إلي بالنافلة حتّي أحببته کنت سمعه الّذي یسمع به و بصره الّذي یبصر به و لسانه الّذي ینطق به و یده الّذي یبطش بها. إن دعاني أجبته وإن سألني أعطیته»

۲. غررالحکم، ۳۸۸۳.

# نړیوال عدالت د امام مهدی(عج) په انتظار

پوښتنه: ولې نړیوال عدالت اجرا کول د پیغمبر او علي په ذمه نه شول او د امام زمان په غاړه شول؟

ځواب: خدای پاک د انسان له پیدائیښته، د هدایت لپاره پیغمبران رالیږلي او رهبری او مشر ته اړتیا یې د انسان په وجود کښې ایښې ده. خدای پاک باید انسان په هره زمانه کښې، تر اخري زمانې پورې وساتي، د پیغمبرانو رالیږل اوله پیغمبره وروسته د امامانو ټاکل، د تکامل د لارې د بشپړتیا لپاره دي.[1]

خدای پاک د هرې زمانې له شرطونو سره سم، د هر یو امت لپاره پیغمبران رالیږلي دي، خو یو پیغمبر هم د خپلو پروګرامو په جاري کولو کښې په کامله توګه کامیاب نه و او د یو نړیوال عدل د حکومت په جوړولو کښې کامیاب نه شو، ځکه چې ټول خلک د عدل د حکومت منلو ته تیار نه و. کله به چې د خدای پیغمبرانو خلک د یو خدای عبادت ته بلل نو د هغوي له انکار او مخالفت سره به مخامخیدل، په تیره بیا د مشرانو او شته منو کسانو له مخالفت سره چې په خپل مال او عیش نوش کښې مست و[2] یا په خپل مال مقام او علم باندې مغرور و[3] نو د

---

۱. آیة الله العظمی مکارم شیرازي، پنجاه درس اصول عقائد، مدرسة الامام امیرالمؤمنین(ع)، ۱۳۷۷، ۱۵۴-۱۲۲ مخونه؛ محمد تقي مصباح یزدي، آموزش عقائد، د اسلامي تبلیغاتو سازمان، ۲-۱ ټوک، ۲۲۲-۲۲۷ مخونه.

۲. ابراهیم: ۹؛ مؤمنون: ۴۴.

۳. غافر: ۸۳؛ قصص:۷۸؛زمر: ۴۹.

پیغمبرانو له بلنې سره به یې په سخته مقابله کوله او ډېر زیاتې ډلې به یې په ځان پسې کړې وې او د حقو له منلو به یې منعې کولې.[1] له همدې سببه د ټولنې ډېرو کمو کسانو د پیغمبرانو خبره منله او ایمان به یې راوړهٔ[2].

ډېر کم به داسې کیدل چې یوه ټولنه په صحیح عقیدو سره او د عدل په اصولو او د خدای او د پیغمبرانو په لاره جوړه شي، لکه څه رنګ چې د سلیمان پیغمبر په زمانه کښې وشول، که څه هم د پیغمبرانو ځینې ښوونې به د ټولنې په کلتور کښې راغلې او خلکو به ومنلې، نو دې ته په پام سره د پیغمبرانو د بعثت لومړنے غرض د انسان د بشپړتیا او پرمختګ لپاره د لارې ایستل و چې دا په الهي وحي سره وشول. د نبیانو له غرضونو یو د چمتو کسانو د عقلاني پرمختګ او روحي او معنوي تربیت سره مرسته کول وو. ټولو نبیانو کوشش و چې یوه ایډیل توحیدي ټولنه جوړه کړي او په ټوله ځمکه کښې عدالت خپور کړي او هر یو پیغمبر د خپل توان تر حده او د خپلې زمانې مطابق، په دې لارې کښې ګامونه پورته کړي دي او ځینو په کښې د خپل توان تر حده په خاص جغرافیایي حدونو او یوه خاصه زمانه کښې خدایي حکومتونه جوړ کړي دي خو د یو نبي لپاره هم په ټوله نړۍ کښې د نړیوال عدل حکومت د راوستو موقع په لاس ورنه رغله خو دا موقع په لاس نه ورتلل او د نړیوال عدل د حکومت نه جوړول په دې معنی نه دي چې د خدای ښوونې ورته نه وې رسیدلې، ځکه چې د خدای غرض دا دے چې خلکو ته داسې ښوونې ورسي چې په خپل اختیار سره هغوي د خدای په لور روان شي: ﴿لئلایکون للناس علي الله حجة بعد الرسل﴾ د حق دین په قبلولو او د الهي پیغمبرانو په پیروي کولو کښې په خلکو باندې څه الزام او جبر نشته.

پیغمبر(ص) د خدای د اخرنی استازي په توګه او امام علي(ع) او له هغه حضرته وروسته امامان(ع) چې د هغوي ذمه واري هم د نړیوال عدل په لور د خلکو بلل وو، د خلکو د روحي او فکري شرطونو د نه پوره کیدو په سبب د نړیوال عدل حکومت رانه وستے شو، ځکه چې د خلکو عقلي او فکري پوهه دې حد ته نه وه

---

۱. احزاب:۲۷؛ سباء: ۳۱ـ۳۳.

۲. هود: ۲۷ـ ۳۲.

رسیدلې چې په هغوي کښې د عدل د حکومت د قبلولو توان پیدا شي. په حقیقت کښې انسان د یو داسې ماشوم په شان دے چې پوهې ته اړتیا لري چې خپل اخرني رُشد ته ورسیږي او درجه په درجه باید دا مرحلې تیرې کړي. همدا سبب و چې الهي رهبرانو د شرطونو د نه پوره کیدو په سبب د نړیوال عدل حکومت قائم نه کړې شو او په دې کښې د هغوي څه نقص نه و. بلکه مشکل دا و چې په خلکو کښې هغه شرطونه نه وو او هغوي دې ته تیار نه وو. د اسلامي روایتونو پر اساس، د اسلامي عدل د حکومت قبلول او د خلکو فکري تحول او بدلون، په دې پورې تړلې دے چې ټولنه فکري او کلتوري تیاري او د عقلونو بشپړتیا او... ولري چې دا ټول شرطونه به د امام عصر د ظهور په وخت کښې پوره شوي وي‌ے ځینې موارد دا دي:

## ۱. ټولنیز چمتوالے

د امام زمان(عج) د ظهور له شرطونو یو شرط د ټولنې او نړۍ چمتوالے دے.[۱]

د امام زمان(عج) له ظهوره وړاندې به په ځمکه کښې بې عدالتي او ظلم زیات شي، د هیوادونو او قومونو تر مینځ به لوی لوی جنګونه وشي او ځمکه به له مړو ډکه شي، امام صادق(ع) فرمايي: «امام زمان(عج) به تر هغه وخته پورې ظهور نه کوي چې په دریو کښې دوه برخې خلک مړه نه شي. پوښتنه وشوه: نو څومره کسان به پاتې وي؟ وې فرمایل: ایا په دې نه یې راضي چې په دریو کښې یوه برخه پاتې شي؟»[۲]

په هغه وخت کښې به مالي او ځاني امنیت له منځه لاړ شي، لارې او سړکونه به ناامن شي، ویره به په ټولو انسانانو کښې خپره شي.[۳]

ناڅاپه او د بې وخته مرګونه به په ټولنه کښې زیات شي. امام علي(ع) فرمايي: «د امام مهدي(عج) د ظهور لپاره نښې دي، چې له هغې ځنې نړیوالې

---

۱. آیة الله مکارم شیرازي، مهدي انقلاب بزرګ، قم، هدف مطبوعاتي خپرندویه، ۸۳مخ.
۲. محمد باقر مجلسي، بحار الانوار، بیروت، مؤسسة الوفا، ۵۲ټوک، ۲۰۷مخ، ۴۴حدیث.
۳. هماغه، ۱۴۵مخ.

وژني، ناڅاپه، ناخوښۍ او په یو بل پسې مرګونه او د طاعون خپریدل دي.»[1]

د روایتونو پر اساس، په هغه زمانه کښې به بې ګناه ماشومان د ظالمو مشرانو له لاسه په سخت ظلم سره وژل کیږي.[2] او وژونکې ناروغۍ (کیدې شي د مړیو د بوی یا د کیمیایي وسلو په سبب) به زیاتې شي.[3] په داسې سختو حالاتو کښې به د انسانانو ټولنه په نهیلۍ اخته شي او مرګ به د انسان لپاره د خدای یوه ښه ډالۍ ګڼل کیږي او د خلکو یوازینۍ ارمان به د هغوي د ژوند ختمیدل وي. په هغه وخت کښې به خلک د یو بل د حقونو د پامال کیدو په سبب د مرګ ارمان کوي.[4]

په داسې حالاتو کښې چې د خلکو پام به د خدای په لور واوړي شي او یو نړیوال انقلاب او بدلون ته به تیار شي او په ټوله نړۍ کښې به دا اسماني غږ تر غوږو کیږي. ای د دنیا خلکو! د ظالمانو د باچاهۍ وخت ختم شو او مهدي ظهور وکړ. دا اسماني غږ به د خلکو په مړو بدنونو کښې یو نوې روح واچوي او له عشق او ایمان او خوشحالۍ سره به یو نوې ژوند پیل شي.

نو دې ته په پام سره د امام زمان(عج) د ظهور له شرطونو یو شرط د ټولنې تیاریدل او چمتووالې دې چې خلک باید په نړۍ کښې له موجود ظالمانه نظامه تنګ شي او د دې مادي ژوند تریخوالې داسې وڅکي چې نهیلي په ټولو انسانانو کښې خپره شي او خلک یو ایماني انقلاب ته تیار شي. نو په داسې حالاتو کښې به امام زمان(عج) ظهور کوي.

## ۲. فکري او کلتوري چمتووالې:

د امام زمان(عج) د ظهور له شرطونو یو شرط، د انساني ټولنې کلتوري او فکري چمتووالې دې.[5] البته د فکر د سطحې دې مرحلې ته رسیدل، هغه وخت

---

۱ . حسین بن حمدان حسیني حصیني، الهدایة الکبري، مؤسسة البلاغ، ۳۱مخ.
۲ . شیخ محمد رضا طبسي نجفي، الشیعة والرجعة، نجف ۱۳۸۵ق، ۱ټوک، ۱۵۵مخ.
۳ . هماغه.
۴ . محمد باقر مجلسي، بحارالانوار، ۵۲ټوک، ۳۴۸مخ.
۵ . آیة الله مکارم شیرازي، مهدي انقلاب بزرگ، ۸۲مخ.

کیدې شي چې خلک په خپل عمل کښې نسل، بیلا بیلو جغرافیایي سیمو، جوړ کړې پولو، ژبې او نورو... ته پام ونه کړي او د نمر د رڼا، د تاندوونکې هوا، او باران لرونکیو ورځیو او د نورو طبیعي قدرتونو په شان، پولو او حدونو ته څه پام ونه کړي او ټوله نړۍ یو هیواد وګڼي[1]. نسل پرسستي، ملي ګروهنه او... قدرت نه لري چې د بشري ټولنې یو مشکل هم حل کړي. بشري ټولنه باید د فکري او کلتوري نظره د معنویت او توحیدي اخلاقو پر اساس پرمختګ وکړي چې امام زمان(عج) ظهور وکړي.

## ۳. صنعتي او علمي چمتووالې:

د امام د ظهور له شرطونو یو بل شرط علمي او صنعتي چمتووالے دے. آیةالله مکارم شیرازي فرمايي: "د یو نړیوال نظام د ایجادولو او د هغې د قابو کولو لپاره ځینې داسې وسیلې پکار دي چې ډېرې ماډرن او جدیدې وي چې د هغې په وسیله دا توان ولري چې په لږ وخت کښې ټوله نړۍ د سترګو لاندې وساتلې شي، او له ټولو ځایونو خبرداري واخستے شي، او ضروري څیزونه ورسره له یوه ځایه بل ځای ته یوړې شي، ضروري پیغامونه، اطلاعات او اعلانونه ورسره په یو لنډ وخت کښې د نړۍ ټولو سیمو ته ورسولې شي... که د نړۍ له یوې خوا تر بلې خوا د یو پیغام رسولو لپاره یو کال وخت پکار وي نو پر نړۍ څنګه حکومت کیدے او عدالت په هر ځای کښې څنګه جاري کیدې شي؟"[2]

په دې هکله ځینې حدیثونه شته چې له بیلا بیلو اړخونو یې دې مسلې ته کتلي دي. بې شکه چې د هغه حضرت د وخت له ټیکنالوجي به د دې وخت له ټیکنالوجۍ سره ډېر فرق ولري دا زمانه په بې دینیۍ اخته شوې ده. د هغه حضرت په وخت کښې به داسې نه وي چې حاکم به ټیکنالوجۍ محدودیت لري بلکه د هغه د حکومت حدونه په له دې ډېر پراخ وي چې اوسنې انسان یې درک کړي.

د حدیثونو پر اساس، د ظهور په وخت کښې به، د صنعت او ټکنالوجۍ د

١ . هماغه، ٨٢مخ.
٢. هماغه، ٨۴مخ.

بشپړتیا په سبب، ټوله نړۍ د یو ښار په شان وي، د لویدیځ خلک به د ختیځ خلک ویني او د هغوي خبرې به اوري. امام صادق(ع) فرمايي: "د امام زمان(عج) په زمانه کښې به یو ایماندار سړے چې په ختیځ کښې ژوند کوي خپل ورور چې په لویدیځ کښې ژوند کوي ویني".[1]

آیـةالله مکـارم فرمـايي: "د ټیکنـالوجۍ او صـنعت مخپرتـګ، پـه تیـره بیـا د ټرانسپورټ او ارتباطي صنعت به په هغه زمانه کښې داسې وي چې د نړۍ لویې سیمې به داسې شي لکه یو بل سره نزدې دوه ښارونه؛ او لویدیځ او ختیځ به د کور په شان شي، د زمان او مکان مشکل به مکمل حل شي... کیدې شي په دې کښې ځینې څیزونه د هغه وخت د یو صنعتي غورځنګ له مخې وي، خو نتیجه دا ده چې یـو ډول علمـي چمتـووالې بایـد د ظهـور پـه درشـل کښـې ترسـره شـي."[2] "د پرمختللو صنعتونو وجود، نه یوازې دا چې د نړیوال عادلانه حکومت خنډ نه دي بلکې له دې پرته هغه نړیوال حکومت ته رسیدل محال دي."[3]

## ۴. د علم او پوهې پراختیا

دیـن پالنـه بـه د هغـه حضرت پـه زمانـه کښـې لـه علم او سـاینس سره یـو ځـای پراختیا مومي او د هغه وخت انسان به، دینداري له علمي پرمختګ سره په ټکر کښـې نـه ګڼـي، انرجي او لـه لمر عـلاوه لـه نورو انرجو ګټه اخسـتل،[4] تیـزې او زر رسیدونکې وسیلې[5]، اواز او تصویر په شهودي او حضوري توګه بـه پـه ټول عـالم کښې کارول کیږي[6] هر یو څیز به د لاس د تلي غوندې د انسان مخې تـه وي او هغـه حضرت به په ټول عالم باندې حکومت کوي[7] نیکان خلک به مکمل ازاد او بدان بـه

---

۱. محمد باقر مجلسي، بحارالانوار، ۵۲ټوک، ۳۹۱مخ.
۲. مهدي انقلاب بزرگ، ۲۴۵مخ.
۳. هماغه، ۸۴-۸۵ مخ.
۴. بحارالانوار، ۵۲ټوک، ۳۳۷مخ.
۵. هماغه، ۳۲۱مخ.
۶. هماغه، ۳۹۱مخ.
۷. هماغه، ۳۲۸مخ.

په حدونو کښې وي[1] دا هر څه به د هغه حضرت په حکومت کښې ترسره کیږي او انسان به د هغه په شان حکومت نه وي لیدلې.

البته دا دومره پرمختګ به په معجزې سره نه وي بلکې دا پرمختګ به د ظهور د وخت د علم د بشپړتیا په سبب وي، ځکه چې په دې عالم کښې د انسان ژوند باید د هغو سنتونو او قاعدو مطابق وي چې په طبیعت باندې حاکمې دي، نه په معجزې سره چې هغه یو استثنایي شیز دے او په ضروري وختونو کښې ترسره کیږي. دې ته په پام سره د هغه حضرت د ظهور په وخت کښې به علم او ټیکنالوجي بشپړتیا او تکامل پیدا کوي.

امام صادق(ع) فرمایي: "علم او پوهه اووه ویشت ټکي دي او ټول هغه شیزونه چې پیغمبرانو راوړي دي یوازې دوه حرفه دي او خلک تر اوسه بې له هغه دوو نورو ته نه دي رسیدلي او کله چې زمونږ قایم قیام وکړي نو نور پینځه ویشت ټکي به بهر راوباسي او هغه به د خلکو تر مینځ خپاره کړي او هغه دوه ټکي به هم ورسره کړي او ټول به اووه ویشت ټکي د خلکو تر مینځ خپاره کړي"[2] له دې روایته ګټه اخلو چې انسان که څه هم د علم او پوهې له نظره پرمختګ وکړي، د امام مهدي(عج) په وخت کښې به په یو ځل دولس برابره پرمختګ وکړي. په لږ غوندې فکر سره پوهیږو چې د هغه حضرت په زمانه کښې به څومره پرمختللې علم او حیرانوونکي ترقي وي.

## ۵. د عقلونو بشپړتیا:

خلک باید له عقلي نظره یوې لوړې مرتبې ته ورسي چې هغه حضرت ظهور وکړي. امام باقر(ع) فرمایي: «د امام زمان(عج) د ظهور په زمانه کښې به خدای پاک د خپل رحمت لاس د ټولو بندګانو په سر کیږدي چې په دې طریقه د خلکو ذهنونه متمرکز شي او بشپړتیا پیدا کړي.»[3]

---

١ . هماغه، ٣٩٠مخ.
٢ . هماغه، ٣٣٢مخ، ٢٧باب ، ٧٣حدیث.
٣. هماغه، ٥٢ټوک، ٣٢٨مخ.

د زماني امام(عج) به اسلامي حکمونه په پوره توګه جاري کوي او همدا به د خلکو د فکري پرمختګ سبب کيږي او د پيغمبر(ص) مطلب چې فرمايي: «زهٔ د دې لپاره مبعوث شوې يم چې د خلکو اخلاق کمال ته ورسوم»[1]، به سر ته ورسي. د امام زمان(عج) حکومت به د عقلونو د پراختيا او بشپړتيا، ويښتيا او د انسانانو د پټو استعدادونو د سر ته رسيدا سبب شي. انسان به د خدای په رحمت سره او له ډېرو اوږدو تجربو وروسته په دې پوه شي چې انساني تدبيرونه د انساني ټولنې د مشکلاتو د حل کولو لپاره کافي نه دي. له همدې سببه به ټول خلک ښه په رضا د امام انقلاب ومني او هغه ته به هرکلې ووايي.

## ۲. اخلاقي او معنوي بشپړتيا:

د حديثونو مطابق د امام زمان(عج) په وخت کښې به اخلاقي او معنوي بشپړتيا ترسره شي. محدثينو دا جمله له پيغمبر(ص) نقلوي چې د امام مهدي(عج) له بيلګو يوه بيلګه د عدل خپريدل او د ظلم او جور ختميدل دي. دا جمله «يملأ الله الارض قسطاً و عدلاً» د دې بشپړتيا بيانوونکې ده.

پيغمبر(ص) فرمايي: "کله چې امام مهدي(عج) قيام وکړي نو خدای به غنا او بې نيازي د خپلو بندګانو په زړونو کښې کيږدوي، په دا رنګ چې هغه حضرت به اعلان وکړي چې څوک هم مال او دولت ته اړمن وي رادې شي، خو څوک به نه راوړاندې کيږي"[2] د حديث په دې جملې کښې عباد ټکې راغلے دے چې دا بيانوي چې ټول انسانان به په هغه زمانه کښې له روحي نظره بدل شوي وي چې له ظهوره وړاندې داسې نه وو.

روايتونه، د امام(عج) د ظهور د وخت نړۍ يوه متمدنه او د علمي صنعتي، اخلاقي او معنوي او عقلي پرمختګ په اخري حد کښې، معرفي کوي چې د علم او صنعت له اوسني پرمختګ سره په فرسنګونو فاصله لري. البته له دې زماني

---

۱. ميرزا حسين نوري طبرسي، مستدرك الوسائل، قم، مؤسسة آل البيت لاحياء التراث، ۲ټوک، ۲۸۲مخ.
۲. بحارالانوار، ۵۲ټوک، ۳۳۷مخ، ۲۷باب، ۷۷حديث.

سره د امام زمان(عج) د وخت د پرمختګ اصلي فرق دا دے چې زمونږ په وخت کښې د علم او صنعت پرمختګ د انساني ټولنې د اخلاقو او کلتور د غورځیدو سبب دے که څه هم د سائنس له نظره یې ترقي کړې ده، له انسانیته جدا شوي او په فساد او تباهۍ او د یو بل په وژلو اخته دي خو د امام(عج) په زمانه کښې به دا خبرې بلکل اپوټه وي؛ یعنې انسانان به که څه هم د علم او صنعت په اخرنۍ درجه کښې وي خو په هماغه اندازه به انساني بشپړتیا او اخلاقو ته نزدې وي.

نتیجه:

د یو هراړخیز عادلانه حکومت د شرطونو پوره کیدل چې د علم، صنعت، عقل، معنویت، اخلاقو او... د بشپړتیا سبب شي، د پیغمبرانو او د ټولو امامانو په وخت کښې ممکن نه وو. دا شرطونه به یوازې د امام عصر(عج) په وخت کښې پوره شي. له همدې سببه یو له هغه سببونو چې خلک به د امام(عج) حکومت قبلوي د انساني ټولنې او نړۍ هغه بد حالت دے چې د بې رحمه جنګونو او وینو تویولو وروسته به پیدا کیږي. د نړۍ خلک باید له ظلم زیاتي او موجوده نظامونو ستړي شي په دا شان چې مایوسي او ناهیلي به هر لور ته خپره شي چې خلک یو ایماني انقلاب ته تیار شي. په داسې حالاتو کښې به امام زمان (عج) ظهور کوي. نسل پالنه او ملي ګروهنه او داسې نور به د انساني ټولنې د مشکلاتو د حل توان نه لري. له دې علاوه د انسان ټولنه باید له فکري او کلتوري نظره د معنویت او توحیدي اخلاق پر اساس پرمختګ وکړي او د صنعت او ټکنالوجۍ له نظره باید چمتو وي چې د هغه حضرت ظهور، نړیوال عدل حکومت، د علمونو پرمختګ او د انساني ټولنې معنوي او اخلاقي بشپړتیا ووینې. لکه حمزه بابا وایي:

بې رنګه بهار دے وچ د زړه ګلزار دے

اے د زماني امامه تا ته انتظار دے

د لا زیاتې مطالعې لپاره سرچینې

آیة الله مکارم شیرازي، مهدي لوی انقلاب، ۸۳مخ.

سید اسد الله هاشمي شهیدي، د حضرت مهدی(عج) ظهور د اسلام او نړیوالو مذهبونو له نظره، ۹۹مخ.

## وروستے حدیث

پیغمبر(ص) فرمایي: "کله چې امام مهدي(عج) قیام وکړي نو خدای به غنا او بې نیازي د خپلو بندګانو په زړونو کښې واچوي، په دا رنګ چې هغه حضرت به اعلان وکړي چې څوک هم مال او دولت ته اړمن وي رادې شي، خو څوک به نه راوړاندې کیږي"[1]

---

۱. بحارالانوار، ۵۲ټوک، ۳۳۷مخ، ۲۷باب، ۷۷حدیث.

# د اروا پیژندنې له نظره په ژوند کښې د انتظار رول

پوښتنه: د اروا پیژندنې له نظره په ژوند کښې د انتظار څه رول دے؟

ځواب: انتظار د اروا پیژندنې له نظره، د منتظرانو په ژوند کښې ډېر لوی رول لري چې لاندې یې ځینو ته اشاره کوو:

## ۱. د برې هیله

انتظار د هیلې او امید په معنی دے[۱] راتلونکې ښه وخت ته هیله منیدل، د طبیعت د نظام کلي بهیر او د تاریخ تکاملي تړ او په یو روښانه راتلوونکې وخت اطمینان، په روایتونو کښې د فرج او ظهور په معنې بیان شوے. د فرج انتظار، له اسلامي کلي اصولو یعنې د خدای له لطف او رحمت او د یأس او نهیلۍ له حرام والي، راوتے دے لکه چې قران مجید فرمایي: ﴿وَ لاَتَيْأَسُوا مِـن رَّوْحِ اللَّـهِ إِنَّـهُ لاَ يَيْأَسُ مِن رَوْحِ اللَّهِ إِلَّا الْقَوْمُ الْكَافِرُونَ﴾[۲] د خدای له رحمته مه نهیلې کېږئ ځکه چې یوازې کافران د خدای له رحمته نهلیې کیږي.

د خدای رحمت او لطف ته هیله د امام علی(ع) د کلام په رڼا کښې داسې بیان شوې: «د فرج انتظار کوئ او د خدای له رحمت او لطفه مه نهیلې کیږئ، ځکه چې

---

۱ .سید اسدالله هاشمي شهیدي، ظهور حضرت مهدي(ع) اسلام او د نړۍ د مذهبونو له نظره، ۲,۴مخ.

۲. یوسف، ۸۷آیة.

د خدای په وړاندې له ټولو ښه کار د فرج انتظار دی.»[1] دې ته په پام سره، د ایتونو او روایتونو پر اساس، خدای پاک مسلمانانو او مستضعفانو ته د بریالیتوب وعده ورکړې ده. دا وعده د غیبت په وخت کښې د منتظر انسان په فردي او ټولنیز ژوند کښې اساسي رول لري، ځه چې منتظران په دې هیلې چې حق به په باطل بریالي کیږي د خپلې ټولنې جوړونه او سمونه کوي او د مشکلاتو او ظلم او زیاتي په وړاندې ودریږي. د بریالي توب حتمي وعده د منتظران لپاره روحي او رواني چمتووالی راولي.[2] دې ته په پام سره منتظرانو په ټول تاریخ کښې په ښې روحیې او لږو امکاناتوؤ وسلې او وسایلو سره دا توان لرلی دی چې له پرمختللو وسله والو سره مقابله وکړي او هغوي ته ماتې ورکړي.

د شهنشاه د ظالم نظام په مقابله کښې د امام خمیني(رح) په مشرۍ کښې د ایران د اسلامي انقلاب برې، صدام سره په اته کلن تپلي شوي جنګ کښې د ایران برې، په ایټمي انرجۍ کښې ډېره کامیابي، د اسرائیل د پوځ په وړاندې د لبنان د حزب الله برې، د امام مهدي(ع) د عقیدې په ترڅ کښې وو.

د دنیا مستکبرین په علم، صنعت او ټکنالوجۍ او پوځي سازو سامان کښې ځان له مسلمانانو لوړ ګڼي. بیا هم، له روحي او رواني نظره د مسلمانانو په وړاندې ماتې خوړونکي دي او هیڅ کله د مقابلې توان نه لري. له همدې سببه ویلیام هنوي انتظار د ژوند سبب ګڼلی دی او وایي: "که دا انتظار نه وي نو انسان به د شمعې په شان ورو ورو مړیدۀ یا به بې مطلبه ژوند ته به ګروهنه کوله»[3]

## ۲. د استکبار د هیبت او شان ماتیدل

د دیني زده کړو پر اساس، استکبار د تاریخ یو واقعیت دی چې د انسان له پیدا ایښته موجود و؛ لکه فرعون، نمرود، ابولهب او ابوجهل چې د مستضعفانو دښمنان وو.

---

۱. بحارالانوار، ۵۲ټوک، ۱۲۳مخ.

۲. یوسف مدن، سیکولوجیه الانتظار، ۱۲۲مخ.

۳. جلال ستاري، اسطوره در جهان، ۲۲۸مخ، د ایران هویت په نقل، له سامانیانو تر قاجاریانو.

نن سبا، د مستکبرانو نظامي او ټيکنالوجي لوړاوې، د دنيا د مستکبرانو د جرات او د مستضعفانو د ضعف او کمزورۍ سبب شوې ده. ډېر اسلامي هيوادونه د خداى قطعي او نه بې لوظه کيدوونکې وعدې ته پام نه کوي او د مستکبرانو له امکاناتو او پرمختللو وسلو متاثر شوي دي او پوښتنه کوي: امام مهدي(عج) به تورې سره د اوسنۍ نړۍ داسې پرمختللې وسلو سره څۀ رنګ مقابله کوي؟ د دې پوښتنې ځواب، لاندې ټکو ته په پام سره روښانيږي:

١. په ايتونو او روايتونو کښې د برۍ او د ظهور وعده، د مسلمانانو د روحي او معنوي طاقت د زياتيدو سبب کيږي اود اسلام لارويان ورسره لا زيات طاقور کيږي او د مستکبرانو رعب او هيبت ورسره ختميږي، لکه څه رنګ چې خداى پاک د اصحاب کهب په وړاندې د استکبار رعب او هيبت ختم کړ.[1]

آية‌الله صافي فرمايي: "همدا وعدې وې چې مسلمانان يې په لويو پيښو لکه د بني اميه، سليبي جنګونو او نورو په وړاندې ودرول او اخر يې مسلمانان د هغوي په مقابله کښې جهاد ته وهڅول. هغه وعدې چې د هغې تصديق منلي شوي ديني او تاريخي حقيقتونو مکمل ثابت کړےدے، تل دا بشارت ورکوي چې اسلام به هيڅ کله له منځه لاړ نه شي او ځينې حکومتونه لکه د بني اميه او بني عباسو او د نورو رژيم سياسي ظالمانو حکومتونه هيڅکله په حقه نه دي او د دوي په وړاندې په شاتګ نه دے پکار، بايد له خپلو مورچو او پولو حفاظت وکړو چې هغه ښه وخت او د حقو او عدالت مطلق حکومت راورسي."[2]

٢. د دنيا د مستکبرانو روحيه، که څه هم پرمختللې وسلې او ټکنالوجي لري، د مسلمانانو په وړاندې ضعيفه او کمزورې ده او په روحي او رواني توګه يې ماتې خوړلې ده او له هغوي يې د ولاړتيا توان اخستے دے. امام صادق(ع) فرمايي: «کله چې زمونږ د امر وخت (د مهدي حکومت) راورسي خداى پاک به زمونږ د شيعو له زړونو ويره اوچته کړي او د هغوي د دښمنانو په زړه کښې به يې واچوي. هغه وخت کښې زمونږ په شيعو کښې هر يو له بله زيات ميړنې او زړه ور

١. يوسف مدن، وړاندينۍ سرچينه، ١٩٥مخ.
٢. لطف‌الله صافي ګلپايګاني، امامت او مهدويت، ٢ټوک ، ٣٧١مخ.

شي.»[1]

د روايتونو مطابق، د حضرت مهدي(عج) د ظهور په وخت به د شيعو له وجوده سستي او ضعف ليري کړې شي او د هغوي زړونه به د وسپنې په شان مزبوت شي.[2] په شيعو کښې به هر کس د شير په شان زړه ور او له نيزې به زيات ځيرونکې وي او دښمنان به په پښو سره وهي او لاسونو سره به يې مړه کوي.[3]

روايتونو ته په پام سره، د جنګ پرمختللي امکانات به امام مهدي(عج) سره وي، خو د دښمنانو له نظره به پټ وي او د دښمنانانو جنګي او دفاعي سامان به د امام مهدي(عج) د سامان مقابله نه شي کولې. امام صادق(ع) فرمايي: «د امام مهدي ملګري که دومره فوځيانو سره چې د ختيځه تر لويځه وي، سره په جنګ شي نو هغوي به بې ځنډه نابودوي او د دښمن وسلې به په هغوي باندې څه اثر نه کوي.»[4] بې شکه چې د هغه حضرت وسلې به د هغه وخت د وسلو په مقابله کښې ډېرې بدلې وي. په روايتونو کښې د «سيف» ټکي له وسلې کنايه ده او مطلب يې يوازې توره نه ده. د روايتونو مطابق د امام مهدي(عج) د فوځيانو وسلې به د وسپنې وي، خو داسې به وي چې که په يوۀ غرۀ هم ورشي نو هغه به دوه ټوټې کوي.[5] هغه حضرت او ملګري به يې د هغه وخت له ټولو پرمختللې وسلې لري. د خدای رسول(ص) فرمايي: «له تاسو وروسته به داسې قومونه راشي چې ځمکه به يې د پښو لاندې غوټه شي او دنيا به ورته وغوړيږي... ځمکه به د سترګو په رپ کښې د هغوي د پښو لاندې تيريږي».[6] هغه حضرت سره به د فرښتو، مؤمنانو او همدارنګ د دښمنانانو په زړونو کښې د رعب او ويرې په سبب مرسته کيږي.[7] دې ته په پام:

۱. بحارالانوار، ۵۲ټوک، ۳۳۲مخ.
۲. هماغه، ۳۱۷مخ.
۳. هماغه، ۳۱۸مخ.
۴. محمد بن الحسن بن فروخ صفار قمي، بصاير الدرجات، ۱۴۱مخ.
۵. هماغه.
۶. ابوشجاع شيروية بن شهدار بن شيرويه ديلمي، فردوس الاخبار، ۲ټوک، ۴۴۹مخ.
۷. بحارالانوار، ۵۲ټوک ، ۳۳۲مخ.

۱. هغه ویره چې د امام مهدي(عج) له ظهوره وړاندې د منتظرانو په زړونو کښې راغلې وي، له ظهوره وروسته به د مسلمانانو له عقلونو وباسلې شي.
۲. د امام مهدي(ع) ظهور سره به د مستکبرانو په زړونو کښې رعب او ویره پیدا شي او د ولاړتیا هر توان به له هغوي واخستې شي.
۳. د خدای قطعي زیرو او بشارتونو ته په پام سره، د عزت او لوړاوي روح به په منتظرانو کښې پیدا شي او دې باور او یقین ته به ورسي چې هغوي داسې پوځیان او طاقت لري چې هیڅ یو طاقت ورته نه شي رسیدے. هغوي به داسې لوړې روحیې سره د یوې شیبې لپاره هم د مستکبرانو په وړاندې له ولاړتیا لاس نه اخلي، ځکه چې هغوي ته پته ده چې د اصحاب کهف سره چې څه وشول هغه به امام مهدي(عج) سره هم کیږي.

## ۳. د منتظرانو درناوې او د مستکبرانو سپکاوې

ځینې روایتونو د غیبت په وخت د منتظرانو شخصیت ستایلے دے. امام سجاد(ع) فرمایي: «د غیبت د زمانې هغه خلک چې د هغه امامت مني او د هغوي د ظهور په انتظار وي د هرې زمانې له خلکو لوړ دي ځکه چې خدای پاک هغوي ته دومره عقل او پوهه ورکړې ده چې د هغوي په نزد د امام غیبت د هغه د حضور د وخت په شان شوے دے. خدای پاک د هغه وخت کسان د هغه مجاهدینو په شان ګرځولي دي چې د خدای د رسول(ص) په حضور کښې توره وهي. هغوي حقیقي مخلصان او واقعي شیعه او په ښکاره او پټه د خدای دین ته بلونکي دي.»[۱]
د غیبت د وخت د خلکو لپاره انتظار، د پیغمبر(ص) له نظره له ټولو ښه عمل ګڼل شوے دے:
«د فرج انتظار عبادت دے او د خدای پاک په نزد زما د امت له ټولو زیات ارزښت لرونکے عمل د ظهور انتظار کول دي.»[۲]
ډیرو روایتونو، مستکبران او منحرفان بې عزته کړي دي او د هغوي عیبونه

۱. بحارالانوار، ۵۲ټوک، ۱۲۲مخ.
۲. هماغه.

يې بيان کړي دي. امام صادق(ع) فرمايي: «مستکبران به (د قيامت په ورځ) د ميږو په شکل وي خلک به هغوي د پښو لاندې کوي تر دې چې خداى د هغوي له حسابه خلاص شي.»[1] امام علي(ع) هم فرمايي: «پلار مې د بهترينو کنيزانو له بچي (امام زمانه) قربان شه. [ظالمان او بدکاران به] خوار او ذليل کړي او په هغوي به د زهرو جام وڅښوي او د تورې په وسيله به هغوي سره ډېر جنګونه وکړي.»[2] د دې دوو ډوله روايتونو مثبت اثار د منتظرانو په ژوند او روح او روان کښې دا دي:

۱. د مستکبرانو په وړاندې د منتظرانو معنوي طاقت او توان زياتيدل.

۲. د منتظرانو روحي او رواني طاقت مزبوتيدل

۳. مستکبرانو سره په معامله کښې د منتظرانو طاقت او لوړاوې ساتل.

د مستکبرانو له سپکاوي مطلب د هغوي ذلت او خواري ده چې که څه هم دومره پرمختللې امکانات او وسله لري بيا هم د هغوي سپکاوې بيانيږي او د منتظرانو ستاينه کيږي دا د مستضعفانو په روح او روان کښې د ژوند په بيلا بيلو برخو کښې د توان سريزه پيدا کوي او د ماتې له خطره يې ساتي.

## ۴. د ټولنيزو بې لاريو په وړاندې ولاړتيا

د انتظار د عقيدې يوه ګټه د ټولنيزو بې لاريو په وړاندې د منتظرانو ودريدل دي په بري باندې ايمان لرل او د نړۍ په غوړيدو باندې عقيده لري، ډېر تربيتي اثرات لري. په روايتونو کښې راغلي دي: «هر څوک چې زمونږ د قائم د غيبت په وخت کښې زمونږ په ولايت باندې باقي پاتې شي خداى پاک به هغه ته د بدر او احد د زرو شهيدانو برابر اجر ورکړي.»[3]

د پيغمبر(ص) په وينا کښې راغلي دي: «له تاسو وروسته به داسې خلک راشي چې په هغوي کښې به يو کس ستاسو د پنځوسو برابر اجر لري؛ وويل شول: اے د خداى رسوله! مونږ په بدر، احد او حنين کښې تاسو سره وو او قران زمونږ

---

۱. شيخ کليني، اصول کافي، ۲ټوک ، باب الکبر، ۳۱۱مخ ، ۱۱حديث.
۲. محمد بن ابراهيم بن جعفر الکاتب النعماني، غيبت نعماني، ۲۲۹مخ.
۳. ري شهري، ميزان الحکمه، ۱ټوک ، ۲۸۲مخ.

تر مینځ نازل شو! حضرت(ص) وفرمایل: که هغه څه چې د هغوي په سر به راځي، ستاسو په سر راشي نو تاسو د هغوي په شان صبر نه کوئ.»[1]

آیة الله صافي په دې باور دے: «انتظار، د چا لپاره د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د پرېښودو او د ضعف او سستۍ او مسامحې لپاره عذر نه جوړیږي او چپتیا او بې حرکتۍ او موجوده حالاتو ته تسلیمیدل او مایوسي او نهیلي ورسره توجیه نه شي کیدے. دا انتظار، حرکت، نهضت، فداکاري، د انحراف ختمول او بیرته تړ او ارتداد سره مقابله ده. حرکت او نتظار د یوبل تر څنګ دي او یو تربله نه جدا کیږي. انتظار د حرکت سبب او حرکت ورکوونکے دے.» دې ته پام سره په داسې انتظار باندې عقیده لرل چې هغه ولاړ نه وي، د دې سبب کیږي چې د اسلامي نړۍ مجاهدان د دنیا د ټولو مستکبرانو په وړاندې ودریدې شي او په زړه کښې هیڅ تزلزل نه راولي او د حقو د حکومت جوړولو لپاره یو تربله وړاندې کیږي.[2]

## ۵. د هیلې او نهیلۍ تله

ډېر روایتونه داسې دي چې د ظهور، او د مسلمانانو د مرستې او برې په هکله خبر ورکوي. پیغمبر(ص) فرمایي: «ای خلکو! تاسو ته د ظهور زیرې درکړې شوے دے او بیشکه چې د خدای وعدې سره مخالفت نه کیږي او حکم یې نه رد کیږي او هغه (خدای) له هر څه خبر دے او بې شکه چې برې او ګټه نزدې ده.»[3]

د روایتونو پر اساس، د اوږد غیبت په وخت کښې په بیله توګه په اخره زمانه کښې، لویې لویې بې لارۍ رامنځ ته کیږي. امام علی(ع) فرمایي:"څمکه د ظلم او زیاتي ډکه شي، تر دې حده چې څوک به د خدای نامه په ژبه نه شي اخستې مګر په پټه! دغه وخت کښې به خدای پاک یو نیک قوم راولي چې څمکه به د عدل او

---

۱. هماغه، ۲۸۱مخ.
۲. لطف‌الله صافي ګلپایګاني، وړاندینۍ، ۳۸۵ او ۳۸۷ مخونه.
۳.کامل سلیمان، وړاندینۍ سرچینه، ۲۲۲مخ.

انصافه ډکه کړي."[1]

د پیغمبر(ص) له رحلته وروسته به فتنې پراخه شي او ډېر لوړ حد ته به ورسي. پیغمبر(ص) فرمایي: "په انسانانو به یو داسې وخت راشي چې انسانان به په هغه وخت کښې د مرګ هیله کوي."[2]

نن سبا بې لارۍ او د مسلمانانو ستونزې او د اسلام طاقت او انسجام په نظر راځي. مسلمانان طاقت او اسلامي اتحاد ته هیله منیږي او له بې لاریو او ستونزو په تکلیف کښې دي او له هغو نهیلي کیږي. هغه روایتونه چې د مسلمانانو او منتظرانو د بري زیرې ورکوي او د انتظار په فضیلت کښې دي او منتظرانو ته د بدلې ورکولو خبره کوي هغه د انتظار کوونکي په شخصیت کښې د هیلې او نهیلې تر مینځ تعادل او برابري راولي، چې د اوږد غیبت په وخت کښې هغه روحي او رواني کمزورۍ چې تر اوسه پورې د ذمه وارۍ نه قبلولو لپاره خنډ جوړیدې، ختمې کړي او د مستکبرانو په زړونو کښې رعب او ویره پیدا کړي.

د لا زیاتې مطالعې لپاره سرچینې

لطف‌الله صافي ګلپایګاني، امامت او مهدویت، ۲ټوک، ۳۷۰مخ.

سید اسدالله هاشمي شهیدي، د اسلام او نړیوالو مذهبونو له نظره د امام مهدي ظهور، له۲مخه وروسته.

علي رضا، په فردي او ټولنیز ژوند کښې د انتظار اغیزې، له ۲مخه وروسته.

وروستے حدیث

د امام زمان(عج) د ظهور په وخت کښې به خدای پاک خپل د رحمت لاس د خپلو بندګانو په سر راکاږي او په دې طریقه به د خلکو عقلونه متمرکز شي او بشپړتیا به پیدا کړي.[3]

---

۱. هماغه، ۴۹۴مخ.
۲. احمد بن حنبل، المسند، ۲ټوک، ۲۳۲مخ.
۳. بحارالانوار، ۵۲ټوک، ۳۲۸مخ.

# د صحیح انتظار ضرورتونه

پوښتنه: صحیح او رغنده انتظار کوم ډول انتظار دے؟

ځواب: صحیح او رغنده انتظار «د خدای په نزد نر ټولوښه عمل»[1] او «تر ټولو ښه عبادت دے».[2] منتظر انسان «د هرې زمانې له انسانانو زیات پوه دے».[3]

صحیح او جوړوونکے انتظار ډېر ډولونه لري چې د څو بیلګو په بیانولو یې بسنه کوو:

## ۱. د حرکت عامل

انتظار د هیلې او امید په معنې دے[4] بې شکه چې امید او هیله د انسان په ژوند کښې د حرکت لپاره ډېر مؤثر عوامل دي. د دې امیدوارۍ بنیاد او بنسټ د راتلونکي وخت لپاره د انسان ښه هیله او د خدای پاک هغه حتمي وعده ده چې په قران مجید کښې یې د مستضعفانو او کمزورو د کامیابۍ وعده ورکړې ده. قران مجید فرمایي: «مونږ غوښتل چې د ځمکې په مستضعفانو منت وکړو او هغوي د

۱. بحارالانوار، **۵۲**ټوک، **۱۲۲**مخ.

۲. معجم احادیث الامام المهدي(عج)، د مؤسسه المعارف الاسلامي لیکلې شوې او خپور شوې، **۱**ټوک، **۲۲۸**مخ.

۳. لطف الله صافي ګلپایګاني، منتخب الاثر في الامام الثاني عشر، **۲**ټوک، **۲۴**مخ، **۱**حدیث.

۴. سید اسدالله هاشمي شهیدي، ظهور حضرت مهدي(عج)د اسلام او نړیوالو مذهبونو له نظره، **۲۰۴**مخ.

ځمکې مشران او وارثان جوړ کړو»[1] او همدارنګ فرمايي: «مونږ له توراته وروسته په زبور کښې داسې وليکل چې په راتلونکي وخت کښې نيکان د ځمکې وارثان وي.»[2]

معصومو امامانو به هم خلک اميدوارۍ او انتظار ته تشويقول او له نهيلۍ او مايوسۍ يې ويرول. امام علي(ع) فرمايلي دي: «د فرج انتظار کوئ او د خداى له لطف او رحمته مه نهيلې کيږئ.»[3]

که يو خداى منونکي مظلومان او غازيان د هيلې او اميد طاقت بخښونکے عنصر له خپل ژونده وباسي نو د جهاد لپاره به يې هيڅ توان پاتې نه شي ځکه چې په داسې لارې کښې زور کول چې د هغې اخري سر شک ته رسي دا به ورته يو غير عقلي کار ښکاره شي.[4]

قران مجيد فرمايي: "د خداى له رحمته مه نهيلې کيږئ، ځکه چې يوازې د کافرانو ډله د خداى له رحمته نهيلې کيږي.»[5]

ياس او نااميدي تر ټولو لوى دام دے چې ابليس د انساني فضيلتونو او د حيثيتونود ختمولو لپاره د انسانانو په لاره کښې ايښے دے.

نااميدي يعنې د انسان د پيدايښت له سره خداى پاملي کول، هغه راز چې د بشپړتيا د څرخې د لارې وهل دي.

نااميدي يعني وداع با سرّ الاسرارِ آفرينشِ آدمي که همان پيمودن چرخهٔ تکامل است.

رغنده انتظار، د اميد او هيلې يو داسې څراغ دے چې د منتظر انسان په زړه کښې بليږي او هغه د جهاد، حرکت، پاڅون، ايثار او شهادت لپاره تياروي. له همدې سببه انتظار له حرکت سره پيوند او نزدې اړيکې لري، ځکه چې حرکت د

---

۱. قصص، ۴آية.
۲. انبياء، ۱۰۵ و ۱۰۲ آيتونه.
۳. بحارالانوار، ۵۲ټوک، ۱۲۳مخ.
۴. دکتر محمد جواد باهنر د اسلامي انقلاب کلتور، ۳۴۲ تا ۳۴۹مخونه.
۵. يوسف، ۸۷آية.

انتظار له پايلو او انتظار حرکت ته لور ورکوونکے دے.[1]

## ۲. اصلاح غوښتل او له ظلم سره مقابله

منتظر انسان بايد د خپل ځان او ټولنې د اصلاح او د عدالت راوستلو او د ظلم د لرې کولو لپاره هڅه وکړي. د نړيوال اصلاح کوونکي منتظر بايد په خپله صالح او مصلح وي.

په ديني ښوونو کښې له اخلاقي، سياسي او ټولنيزو فسادونو سره مقابله د امربالمعروف او نهی عن المنکر په چوکاټ کښې په ډېر ټينګار سره بيان شوې ده.

د ښو کارونو حکم کول او له بدو منعې کول د اسلامي فقهې له نظره د ټولو ذمه واري ده. د دې ذمه وارۍ تر سره کوونکي ته مصلح ويل کيږي.

قران مجيد فرمايي: «تاسو له ټولو ښه امت يئ چې خلکو ته څرګند شوي يئ چې د ښو کارونو حکم کوئ او له بدو منعې کوئ او په خدای باندې ايمان لرئ.»[2]

د خدای رسول وفرمايل: «بايد د ښو کارونو حکم وکړئ او له بدو منعې کړئ ګني خدای به ستاسو بد کسان ستاسو په نيکو او پاکو کسانو بريالي کړي او ستاسو د ښو کسانو دعا به نه قبلوي.»[3]

د امام مهدي(عج) خوشحالي هم په دې کښې ده چې ښه کارونه عملي شي او بد کارونه پريښودل شي. دې ته په پام سره منتظر انسان په تيره بيا ځوانان مسلمانان زلميان، بايد په دې هکله بې پامي ونه کړي. د ظهور په وخت کښې به امام مهدي(عج) له ټولو لوی کس وي چې د ښو کارونو حکم کوي او له بدو به منعې کول کوي؛ منتظره ټولنه هم يقيناً د هغه حضرت خوشحالي غواړي او د هغه پيروي کوي او د خدای د حکمونو د جاري کولو لپاره بايد سستي او بې پامي له ځانه ليرې کړي.

---

۱. انتظار،فصلنامه، د مهدويت تخصصي مرکز، دويم کال، ۲ شميره، زمستان ۱۳۸۱، ۶۹ مخ.
۲. آل عمران، ۱۱۰آية.
۳. صادق احسان‌بخش، آثار الصادقين، ۱ټوک، ۱۲۵مخ، ۲۲حديث.

### ۳. د ایمان څوکیدار

د انتظار په وخت کښې له لویو ذمه وارو یوه ذمه واري، د دین او د عقیدتي پولو ساتل دي. باید د ایمان او یقین نور د خلکو په زړونو کښې محفوظ پاتې شي او د ځوانانو زړونه د حقو باورونو ته تیار شي او ایمان د هغوي د وجود برخه شي او د وینې په شان د هغوي ټول وجود ګرم کړي چې د هغوي د ژوند ملغره شي.

د غیبت په وخت کښې باید د پټو او ځرګندو شیطانانو د شبهو او نیوکو په وړاندې ودریږو او هغه له عقلونو پاکې کړو. د دیني باورونو ساتل، پراختیا او د پیژندګلو ظهور سره په نږدې وخت کښې ګټه ور، بلکې ضروري دي، ځکه چې یوازې هغه کسان له ظهوره وړاندې پیښنو کښې نه غرقیږي چې صحیح باورونه او عمل لري. باید د امام مهدي(عج) د ظهور تر وخته صحیح عقیده او نیک عملونه د منتظرانو تر مینځ وساتل شي، په حدیثونو کښې هم د غیبت په وخت کښې د ایمان اهمیت بیان شوے دے.

د خدای رسول(ص) وفرمایل: «تاسو زما اصحاب یئ، خو زما ورونه هغه کسان دي چې په اخره زمانه کښې به راځي هغوي به زما په نبوت او دین باندې ایمان راوړي که څه هم زۀ یې نه یم لیدلې... په هغوي کښې به هر یو کس خپل باوري او دین په ډېرو سختیو کښې داسې ساتي لکه چې یو کس د مغیلان له ازغو ډک لرګي څخه په توره شپه کښې پوستکې لیرې کوي. هغه مؤمنان په تیرو کښې رڼې ډېوې دي خدای به هغوي د اخرې زمانې د تورو شخړو نه ساتي.»[1]

امام زین العابدین(ع)، ابوخالد کابلي ته وفرمایل: «اے ابوخالده! هغه کسان چې د غیبت په وخت کښې به وي او منتظر او عقیده لروونکي به وي د ټولو وختونو له خلکو غوره دي، ځکه چې خدای پاک هغوي ته عقل، پوهه او د پیژندګلو داسې توان وکړے دے چې د غیبت وخت هغوي ته د حضور د وخت په شان دے. دا خلک خدای د اسلام د لومړیو فوځیانو غوندې ګرځولي دي؛ د هغه فوځیانو په شان چې د پیغمبر په څنګ کښې به یې توره وهله او جنګ به یې کاوۀ.

---

۱. بحارالانوار، هماغه ۱۲۴مخ.

هغوي حقيقي مخلصان او شيعه دي او هغوي (په پټه او ښکاره) خلک د خدای دين ته بلي.»[1] دا ايمان او باور بايد د ظهور تر وخته ترو تازه پاتې شي.

## ۴. د شيعه و د باقي پاتې کيدو او ولاړتيا سبب

رغنده انتظار، د مقاومت او ولاړتيا له لويو سببونو دے او مسلمانان په بيله توګه شيعه د ظلمونو او فسادونو په وړاندې مزبوت او پر ځای ثابت ساتي چې د اسلامي دښمنانو په وړاندې ولاړتيا وکړي او په خپله عقيده کښې ټينګ پاتې شي او دا د شيعو لپاره يوه لويه روحي پانګه ده.[2]

جيمز دارمستر، د فرانس مشهور ختيځ پوهاند او ژب پوهان هم انتظار د شيعه و د باقي پاتې کيدو او ولاړيتا سبب ګڼلے دے: «په حله کښې چې بغداد سره نږدې ده به هره ورځ د ماځيګر له لمانځه وروسته سل کسان ښکاره تورو سره تلل او د ښار له حاکمه به يې يو زين شوې اس ستناوۀ او ... فرياد به يې کاوۀ چې اے د زمانې امامه(عج) بهر راوځه.» هغه وايي:

«يو قوم چې داسې احساساتو سره لوی شوې وي، هغوي مړه کولې شي خو خپل مطيع او لاروېې يې نه شي ګرځولې.»[3]

د شيعو د فخر په ډک تاريخ کښې، د ظلمو په وړاندې د شيعو د ودريدو له ټولو لوی سبب د حضرت امام مهدی(عج) د ظهور عقيده وه. آيةالله صافي فرمايي: «د خدای د رسول(ص) له وفاته او د اميرالمؤمنين او امام حسين عليهما السلام له شهادته وروسته تر اوسه پورې، د باطل په خلاف د شيعو او مسلمانانو د ټولو غوندونو او حرکتونو جرړه، هماغه په انتظار باندې ټولنيز باور او د باطل په خلاف د حقو تر بري، ولاړتيا وه.»[4]

---

۱. هماغه، ۲۵ټوک، ۱۲۲مخ.
۲. د حضرت مهدي ظهور د اسلام د نړيوالو مذهبونو له نظره، وړاندينۍ، ۲۲۴مخ.
۳. دارمستر، مهدي د اسلام له اوله تر ۱۳ هجرۍ، د محسن جهان سوز ژباړه، ۳۹ و ۷۹مخ.
۴. امامت و مهدويت، ۱ټوک، ۳۵۳مخ.

## ۵. عدالت سره پسلیدل

منتظران باید ځان د عدالت، تقوا او پرهیزګارۍ په ګانه ښکلي کړي. استاد حکیمي وايي: «د امام مهدي انتظار کوونکي چې د نړیوال عدل حکومت په انتظار دي، باید همیشه د عدل او عدل غوښتې بیلګه وي.»[1] قرآن مجید فرمایي: «لکه څه رنګ چې د تقوا او پرهیزګارۍ حق دے د خداي (د حکمونو نه منلو) ځان وساتئ.»[2] که یو کس له ګناه په لیرې کیدو او د تقوا په اختیارولو سره په ځان کښې د عدل ملکه پیدا کړې شي او د نفس د قوتونو تر مینځ د عدالت په ایجادولو سره اخلاقي ژوند په خپل وجود کښې راولي، نو هغه وخت دا توان لري چې د ظهور او د مطلق عدل د راتلو په وخت کښې ځان د نوي مهدوي توحید ماحول سره سم کړي.

### د لازیاتې مطالعې لپاره سرچینې

۱. ډاکټر علي قائمي، انتظار د ولاړتیا او حرکت سبب، قم شفق.

۲. د انتظار د لیکوالانو ځینې غونډه په تفکر کښې، قم، د حضرت مهدي(عج)کلتوري فاونډیشن.

۳. مهدویت او د فرج انتظار (تبلیغیانو سره خاص) د اسلامي تبلیغاتو سازمان، د شعبان د میاشتې پینځلسمه ۱۴۱۲ق.

### وروستے حدیث

پیغمبر(ص) فرمایي: «څوک چې په داسې حال کښې مړ شي چې د خپلې زمانې امام ونه پیژني نو هغه د جاهلیت په مرګ مړ دے.»[3]

---

۱. حکیمي، خورشید مغرب، ۲۷۲مخ.

۲. مائده، ۸آیة.

۳. شیخ صدوق، کمال الدین و تمام النعمه، تصحیح و تعلیق علي اکبر غفاري، ۲ټوک، ۴۰۹مخ، ۳۸باب، ۹حدیث.

# د انتظار نښه

پوښتنه

په شیعو کښې د انتظار نښه او بیلګه څه ده؟

ځواب

اول د «نماد یا بیلګې» معنی کوو. نماد د سواد په وزن دے یعنې ظاهر شو او څرګند شو. دا ټکې د ظاهرولو او څرګندولو په معنې هم استعمال شوےدے.[1] دې ته په پام سره نماد هغه علامت او نښې ته وايي چې د يو څيز څه رنګوالې او ماهيت ښيي. لکه څه رنګ چې ټول مفهومونه لکه سياسي، ټولنيز، اخلاقي او اعتقادي هله د څرګنديدو او ظهور مرحلې ته رسي چې نښې يې څرګندې شي. نو انتظار هم په شيعو کښې د يو ارزښت لرونکي مفهوم او د ځان جوړنې او د ټولنې د اصلاح او دعا او غوښتې او همدارنګ د هغو خبرونو د عزت چې امام زمان(عج) سره نسبت لري، په توګه څرګند شوې دے، په لاندې برخه کښې په دې هکله لنډ غوندې توضيح ورکوو.

## ۱. د نفس اصلاح

د انتظار تر ټولو لويه نښه، تقوا او د نيکو اخلاقو لرل دي. امام باقر(ع) فرمايي: "تقوا اختيار کړئ او د انتظار درووند بار د تقوا او پرهيزګارۍ او د خداى

۱. محمدحسين بن خلف تبريزي، برهان قاطع، ۴ټوک ، ۲۱۲۷مخ.

په ډېر اطاعت او عبادت سره خپل منزل ته ورسوئ.[1]

امام زمان(عج) د غیبت په زمانه کښې خپل انتظار کوونکي نیکو اخلاقو او نیکو عملونو ته غوښتي دي: "په تاسو کښې هر یو کس باید هغه څه وکړي چې هغه زمونږ د ملګرتیا سبب کیږي او له هر هغه څه ځان وساتي چې زمونږ د ناخوښۍ سبب کیږي، ځکه چې زمونږ حکم به ناڅاپه رارسي او بیا به په هغه زمانه کښې توبه او بیرته ستنیدل چاته څه ګټه نه ورکوي او له ګناه پښېماني به ښوک زمونږ له عذابه نه شي ژغورلې.[2]

نیک اخلاق لرل، که څه هم د انتظار کوونکیو له مهمو دندو وارو دي، د انتظار له بهترینو ښو هم ګڼل شوي دي. امام صادق(ع) فرمایي: "د چا چې دا خوښه وي چې هغه دې د امام زمان(ع) په یارانو کښې وګڼل شي باید د انتظار په زمانه کښې دې د نیکو اسلامي اخلاقو څرګندوونکے وي. داسې کس که د امام له ظهوره وړاندې مړ شي، نو د هغه جزا د هغه کسانو په شان ده چې هغه حضرت یې لیدلې وي او ورته رسیدلے وي.[3]

## ۲. د ټولنې اصلاح

د ټولنې اصلاح هم د انتظار له مهمو ښو ده. انتظار کوونکي د دې نه علاوه چې ځان سم کړي باید د ټولنې د سمیدو، د عدالت د راوستلو او د ظلم او زیاتي د ختمولو لپاره هم هلې ځلې وکړي یعنې هغه کس چې د نړیوال اصلاح کوونکي په انتظار دے باید هم په خپله نیک وي او هم اصلاح کوونکې وي.

د خدای رسول(ص) د امربالمعروف او نهي عن المنکر د بیانولو په وخت فرمایي: "باید امر بالمعروف او نهي عن المنکر وکړئ ګني خدای به له ټولو بد او شریر کسان ستاسو په نیکو او پاکو کسان بریالي کړي او ستاسو د ښو کسانو

---

۱. بحارالانوار، ۵۲ټوک، ۱۴۰مخ، ۵۱حدیث.
۲. هماغه، ۱۴۰مخ، ۱۵حدیث.
۳. هماغه، ۱۴۰مخ، ۵۰حدیث.

دعا به نه قبلوي."[1]

د حضرت مهدي(عج) رضا او خوشحالي هم په دې کښې ده چې معروف او نيکو ته بلل عملي شي او منکر او بد څيزونه پريښودلې شي. نو دې ته په پام سره منتظر کس بايد د خپلې ټولنې د اصلاح لپاره کوشش وکړي او په دې لاره کښې د خپل امام په لاره لاړ شي ځکه چې د ظهور په وخت کښې به هغه حضرت(عج) به له ټولو لوی امربالمعروف او نهي عن المنکر کوونکے وي. منتظره ټولنه هغې ټولنې ته ويل کيږي چې د حضرت مهدي(عج) خوشحالي غواړي او د هغه پيروي کوي او د خدای د حکمونو د قائمولو لپاره کوشش کوي.

## ۳. دعا او راز و نياز

۱. دعاي ندبه: دا دعا په شيعو کښې د انتظار له څرګندو نښو وه او تر اوسه پورې ده. د صاحب الزمان(عج) انتظار کوونکيو په ټول تاريخ کښې د خپل زړه سوے په دې دعا سره درمل کړے دے. په حقيقت کښې دعای ندبه په نړۍ کښې د پيغمبرانو او وليانو د راتللو يو لنډ تاريخ دے؛ هغه لړۍ چې له حضرت ادمه(ع) شورو کيږي او د خدای تر اخرني حجته، حضرت مهدي(عج) به دوام لري.

کوم کس چې له دې دعا سره مينه پيدا کړي او د زړه له کومې د پيغمبر(ص) د ځای ناستو مظلوميت وپيژني، نو په زړه کښې يې د ولايت د مينې اور بليږي او د هغه ټول وجود د خدای حجت ته د اړمينډو احساس کوي. د دعای ندبې لوستونکے، د هغه بدې پيښې ويښ ته رسي چې د خدای د اخريني حجت د غيبت په سبب انساني ټولنې ته راپيښه شوې ده او د هغه مصيبت د لوی والي پته ورته لګي چې د امام معصوم له وجوده د محروميدو په سبب په انسانانو نازل شوے دے. او بې له دې بله لار نه ويني چې ندبه او ژړا وکړي او په خپل بد حال باندې ژړا او فرياد وکړي.

خو دا ژړا او فرياد، په هغه ټولو کسانو باندې نيوکه ده چې د اخرني امام د غيبت اسباب يې رامينځ ته کړي دي او دا دعا د امام (عج) بيا راتللو ته يو ډول د

۱. صادق احسان بخش، آثار الصادقين، ۱ټوک، ۱۲۵مخ ، ۲۲حديث.

چمتووالي اعلان د ے. دعای ندبه امام صادق(ع) خپلو ملگرو ته وښودله[1] او هغوي ته يې وفرمايل چې دا دعا په څلورو اخترونو (وړوکي او لويي اختر، د غدير او د جمعې په ورځ) لولئ. همدارنگ د امام صادق(ع) په حکم سره مونږ دا ذمه واري لرو چې د غيبت په زمانه کښې د دې دعا په وسيله امام زمان(عج) ته د زړه رازونه بيان کړو[2] او له خدايه د هغه د ظهور لپاره دعا وکړو.

۲. د هغه حضرت د سلامتۍ او په ظهور کښې د بيړې لپاره دعا: د انتظار له ښو يوه ښه د امام زمان(عج) د سلامتيا او د هغه په ظهور کښې د بيړې (تعجيل) لپاره دعا ده. امام صادق(ع) فرمايي: "کوم يو کس چې د سهار او ماسپښين له لمانځه وروسته ووايي: اے خدايه! په محمد اود هغه په کورنۍ درود ووايه او د هغوي په ظهور کښې بيړه وکړه، نو نه به مړيږي تر دې چې قائم (امام زمان) ووينې.[3] د امام زمان د ظهور لپاره دعا د هغه زمانې له فتنو د ژغوريدو سبب کيږي. لکه څه رنگ چې امام حسن عسکري(ع) فرمايي: قسم په خدای! امام مهدي به داسې غيبت ولري او په هغه وخت کښې به هغه کسان له هلاکته ژغورل کيږي چې خدای هغوي د امام په قول ثابت لرلي وي او د هغه حضرت د ظهور د بيړې لپاره د دعا کولو توفيق ورکړې وي.[4] امام زمان(عج) په يو توقيع کښې اسحاق بن يعقوب ته وايي، شيعه د فرج (ظهور) لپاره دعا ته وبوله: "د ظهور د بيړې لپاره زياته دعا کوئ ځکه چې ستاسو پراخي په ظهور کښې ده".[5]

نو دې ته په پام سره د هغه حضر ت د ظهور د بيړې لپاره دعا، که څه د هغه د حکم اطاعت د ے، د خپلو کارونو د پراخۍ لاره مو هم ده. انتظار کوونکي د دې نه علاوه چې د هغه حضرت د ظهور د بيړې لپاره دعا وکړي بايد د سلامتيا لپاره يې هم دعا وکړي، ځکه چې زمونږ دعا له هغه حضرت سره د مينې ښه ده او د هغه

---

۱. سيدبن طاووس، مصباح الزائر، ۴۵۳مخ.
۲. شيخ عباس قمي، مفاتيح الجنان، دعاي ندبه.
۳. بحارالانوار، ۸۲ټوک، ۷۷مخ، ۱۱حديث.
۴. لطف الله صافي گلپايگاني، منتخب الاثر في الامام الثاني عشر، ۲۸۸مخ، ۵حديث.
۵. ابومنصورطبرسي، الاحتجاج، ۲ټوک، ۵۴۵مخ.

حضرت د حق ادا کول دي[1] او د دې نه علاوه د دنیا او اخرت پکښې اتیا ګټې دي.[2]

## ۴. د حضرت ولي عصر(عج) سره د منسوبو ځایونو درناوے

له امام زمان(عج) سره ډېر ځایونه منسوب دي چې هر یو یې نن د انتظار د نښو په شکل کښې راغلے دے. انتظار کوونکیو شیعو ته تاکید شوے دے چې دې ځایونو ته راټول شي او په نړۍ کښې بدل حال او د هغه حضرت د اوږد غیبت په هکله له هغه حضرت سره غمرازي وکړي اود هغه حضرت د ظهور د بیړې لپاره دعا وکړي. ځینې ځایونه چې له هغه حضرت سره نسبت لري په لنډه توګه دلته بیانیږي:

۱. د کوفې جمات: د کوفې جمات یو پاک ځای او د انتظار له نښو دے. دا پاک جمات به د ظهور په وخت د امام زمان(عج) تبلیغاتي مرکز وي. لکه څه رنګ چې به یوه زمانه کښې د اهلبیتو(ع) د کورنۍ مینه وال د امیرالمؤمنین وینا ته راټولیدلو او د هغه حضرت له وینا به یې ګټه اخسته، د ظهور په وخت به هم د هغه حضرت مینه وال د کوفې په لوی جمات کښې راټولیږي او د نور د اخرني امام له خبرو به ګټه اخلي. دا حقیقت د امام صادق(ع) په حدیثونو کښې راغلے دے: «داسې ښکاري لکه چې قائم(عج) ته ګورم چې د کوفې په منبرناست دے او ۳۱۳ ملګري یې ګیر چاپیر دي چې د خدای په بندګانو کښې د خدای بیرغوال او مشران دي[3] امام باقر(ع) هم دې تاریخي پیښې ته په یوه بله وینا اشاره کوي: «مهدي(عج) به کوفې ته ننوځي، درې ډلې به چې په خپلو کښې په جنګ وي په یو صف کښې راغونډیږي. هغه به منبر ته خیژي، خطبه به لولي او خلک به یې په مینه کښې دومره ژاړي چې د هغه په خبرو به نه پوهیږي».[4]

۱. سید محمد تقي اصفهاني، وظیفة الامام في غیبة الامام، **۵۵** مخ.
۲. سید محمد تقي اصفهاني، مکیال المکارم، ترجمه سید مهدي حائري، **۲** ټوک، ۷۱ او **۷۲** مخ.
۳. بحارالانوار، **۵۲** ټوک، **۳۲۲** مخ.
۴. ابي الحسن علي بن عیسي بن ابي الفتح الاربیلي، کشف الغمة، **۲** ټوک، **۴۲۳** مخ.

د کوفې په جمات کښې د عبادت فضیلت: امام باقر(ع)د کوفې د جمات په فضیلت کښې فرمايي: «که چرې خلک له هغه فضیلته چې د کوفې په جمات کښې دے خبر واې، نو له لیرې لیرې به يې بارونه تړل او د هغه په لور به تلل [بیا يې وفرمایل:] په هغه جمات کښې يو فرض لمونځ کول له يو حج کولو سره سم دے او په هغې کښې يو نافله لمونځ کول له يوې عمرې سره سم دے».[1] همدرانګ يې وفرمایل: «د کوفې په جمات کښې يو فرض لمونځ د يو قبول شوي حج او يو مستحب لمونځ پکښې د يوې قبولې شوې عمرې برابر دے».[2]

۲. د سهلې جمات: دا جمات د کوفې له جمات وروسته مهم جمات دے. (په عراق کښې) دا جمات د کوفې له جماته شمال لویځ اړخ ته دے او د انتظار له ښنو یوه ښنه ګڼل کيږي د امام زمان(عج) د ظهور انتظار کوونکي د سهلې جمات ته چې د هغه حضرت کور دے، راځي او له خدایه د هغه حضرت د ظهور لپاره دعا کوي. د سهلې په جمات کښې يو ځای دے چې د هغه حضرت په مقام باندې مشهور دے چې په هغه ځای کښې د هغه حضرت د زیارت لوستل مناسب دي. د زیارتونو په ځینې کتابونو کښې نقل شوي دي چې ښايي په دې ځای کښې په ولاړه او د فریاد په حالت کښې زیارت وکړې شي: «سلام الله الکامل التام الشامل العام و... .»[3]

امام صادق(ع) وفرمایل: «دا سې ښکاري لکه چې هغه حضرت له خپلې کورنۍ سره د سهلې په جمات کښې وینم». بیا يې وفرمایل: «يو پيغمبر هم نه دے تير شوې مګر دا چې د سهلې په جمات کښې يې لمونځ کړې دے». د هغه حضرت(ع) يو ملګري ابوبصير وويل: «آیا امام قائم(عج) به همیشه په دې جمات کښې وي؟» ويې فرمایل: «هو د سهلې جمات د امام قایم(عج) کور دے».[4]

د صالحانو، عالمانو او د هغه حضرت د شیعو چې د هغوي دیدار به يې له

---

۱. جعفر بن محمد بن قولویه، کامل الزیارات، د جواد ذهني تهراني ترجمه، ۷۰۳مخ.
۲. هماغه، ۷۴مخ، ۵حدیث.
۳. شیخ عباس قمي، مفاتیح الجنان.
۴. بحارالانوار، ۴ټوک، ۴۳۲مخ.

خدایه غوښته، طریقه دا وه چې ځینې به پکښې ځلویښت شب جمعې د کوفې سهلې جمات ته راتلل او یا به د چهارشنبې په شپه د شپه روڼولو لپاره د سهلې جمات ته راتلل او خدای ته به یې ژړا او فریاد او عبادت کاوۀ چې له هغه حضرت سره ملاقات یې نصیب شي[1] او له هغه حضرت سره رازو نیاز او د زړه خبرې وکړي.

۳. د جمکران جمات: د جمکران جمات په قم ښار کښې د کاشان په لاره کښې دے. دا لوی مقام د هغه حضرت د خاص پام وړ ځای دے. امام زمان(عج) په خپله له شیعو غوښتي دي چې دې ځای ته لاړ شي او د هغې درناو، وکړي هغه حضرت حسن بن مُثله ته وفرمایل: «خلکو ته ووایه چې دې ځای (د جمکران جمات) ته مایل شي او د هغې درناوې وکړي...» بیا د جمکران جمات د تحیت لمونځ او د امام زمان(ع) لمونځ یې هغه ته ورزده کړ او ویې فرمایل: «څوک چې دا دوه لمونځونه وکړي د هغه چا په شان دے لکه چې په کعبه کښې یې لمونځ کړےوي».[2]

له ډېره وخته د هغه حضرت منتظران او عاشقان له ټول اسلامي ایرانه او د ټولې اسلامي نړۍ د چهارشنبې په شپه، په لمدو سترګو او د اهلبیتو(ع) له مینې په ډکو زړونو سره د جمکران جمات ته راځي او هلته د جمات لمونځ او د امام زمان(ع) لمونځ ادا کوي او لاس په دعا کیږي او د هغه حضرت د غیبت د اوږد والي اود شیعو د مظلومیت او د نړۍ د بد حال په هکله ورته د زړه درد بیانوي او د اسلامي نړۍ د بد حال او مشکلاتو د حل کیدو او د بیمارانو د روغتیا لپاره له هغه حضرت سره توسل کوي اود هغه د ظهور د بیړې لپاره هغه حضرت ته دعا کوي.

۴. د صعصعه جمات: دا جمات هم د کوفې له جماتونو یو جمات شریف دے. د حضرت قایم(عج) د انتظار کوونکیو یوې ډلې هغه حضرت په دې جمات کښې ولید چې دوه رکعته لمونځ یې وکړ او دا دعا یې وکړه: «اللهم یا ذالمن السابغة

---

۱. شیخ عباس قمي، مفاتیح الجنان.
۲. میرزا حسین طبرسي نوري، نجم الثاقب، ۲۱۲مخ.

والآلاء الوازعة...». له دې عمله دا معلومیږي چې دا دعا له دې جمات سره خاص ده او د دې جمات له عملونو ده، لکه د سهلې جمات د عملونو په شان او نور... خو له دې سببه چې هغه حضرت دا دعا ولوسته نو دا احتمال شته چې دا دعا د رجب د ورځو له دعاګانو وي له همدې سببه د دعاګانو په کتابونو کښې دا دعا د رجب د میاشتې په دعاګانو کښې بیان شوې ده.[1] د صعصعې جمات ته هم د هغه حضرت منتظران راځي او لاس په دعا کیږي او د خپل غایب امام په جدایۍ کښې ژړا کوي او د هغه حضرت د ظهور د بیړې لپاره دعا کوي.

د لازیاتې مطالعې لپاره سرچینې

۱. علي‌اکبر مهدي‌پور، با دعاي ندبه در پگاه جمعه

۲. حسین کریمي بیدګلي، فرهنګ موعود، ۲۲۳مخ

وروستے حدیث

د فرج د بیړې لپاره زیاته دعا کوې ځکه چې ستاسو خلاصے په فرج کښې دے.[2]

۱. مفاتیح الجنان، د ۲څپرکي په اخر کښې؛ حسین کریمي بیدګلي، د موعود کلتور، ۲۲۲ او ۲۲۳مخ.

۲. ابومنصور طبرسي، الاحتجاج، ۲ټوک، ۵۴۵مخ.